صداقت خپرندويه ټولنه

# د ځوانۍ ساتنه

دريم چاپ له سمونو سره

## صِيانة الشباب والنسوان عن اعمال
## قوم لوط و فتنة المردان

له بد نظرۍ، تناسلي ګناوو او لوطي عملونو څخه
د ځان ساتني په هکله بشپړ لارښود کتاب

ليکنه او څېړنه
مفتي فضل الرحمان فيضون



مفتي فضل الرحمٰن فيضون
Mufti Fadulrehman Faydoun
390

# د ځوانی ساتنه

(صِيانة الشّباب والنّسوان عن أعمال قوم لُوطاً وفِتنة المُردان)

دريم چاپ: له سمونو سره

له بدنظرۍ، تناسلي ګناهونو او لُوطي عملونو څخه د ځان ژغورني
په هکله بشپړ لارښوود کتاب

ليکنه او څېړنه

مفتي فضل الرّحمٰن "فيضون"

بن شيخ الحديث حضرت مولانا محمد لعل مكي

**Published by**
Sadaqat Book Publishing Institution
Kandahar-Afghanistan
2020

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ځوانۍ ساتنه


**لیکنه او څېړنه: مفتي فضل الرحمن فیضون**

**درېیم چاپ: ۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.**

**خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه**

**چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرونو لړ: (۱۰۰)**

**د تر لاسه کولو ځایونه:**

---

**صداقت خپرندویه ټولنه**-کندهار

اوله ناحیه، نوی سړک- کریم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com – ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

**کندهار:** صداقت خپرندویه ټولنه- ارګ بازار- قلم او کتاب مارکېټ / **۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴**

**کابل:** صداقت خپرندویه ټولنه، کوټه سنګي مینه یار مارکېټ او اکسوس کتاب پلورنځی.

**هلمند:** تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه.

**غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.



**ټول حقوق په خپرندوی اړه لري.**

# ډالۍ

❖ زما دمور او پلار په نامه چي له زوکړي تر ځوانۍ يې په ديني خدمتونو کي مصروفه کړم ! تر دې چي د علم ډګر ته يې راورسولم او په الهي دين سره يې زما پالنه وکړله !

❖ بيا د هغو ځوانانو په نامه چي د خپلو ځوانيو يې ښه پوره ساتنه کړې ده ؛ منحوس عمل لواطت، زنا، موټ وهني او نورو کرغېړنو عملو ته يې د نفرت په نظر کتلي دي او خپل ټول وخت يې په طالب علمۍ، يا جهاد، يا دعوت إلى الله تعالى او يا داسي بل ديني خدمت کي سپارلی دی .

❖ او د هغو مېرمنو په نامه چي خپلو شرمګاهو لره ښه پوره ساتونکي او د خپلو خاوندانو امانت او عزت ښه په کلکه خونديکوي .

د داسي ځوانانو او مېرمنو ژوندون دي تل ترتله آباد وي

په درنښت

"فيضون" بنده

## د پوهانو خبري

◈ هغه ځوان چې زما پر تقدير [دښو او بدو ] ايمان لري، زما پر فيصلې راضي وي، زما پر رُوزي قناعت لرونکی وي او زما لپاره د خپل شهوت پرېښوونکی وي ؛ نو هغه زما په نېز د ځينو فريشتو په شان دی . (قُدسي حديث)

◈ الله ﷻ ته تر ټولو خوښه توبه د ځوان توبه ده.
(حضرت مُحمّد ﷺ)

◈ نن د ځوان لپاره تر ټولو غوره وسيله د الله ﷻ په لاره کې هڅه کول دي . (ملا مُحمّد عُمر طيّب الله ثراه )

◈ د ځوان لپاره فارغ أوسېدل تر ټولو چټل کار دی.
(ابن جبرين رحمة الله عليه)

◈ ځواني امانت ده ؛ نو دا ښه امانت مه ضايع کوئ!. ( يو بُزرگ)

◈ د ځوانی عبادت سره زر دي . (پښتو متل)

◈ که نن انسان له بې ځايه بانډارو، چټلياتو، انټرنيټي پټو، بې هوده فلمونو، کېمرييزه موبايل او بې کاره مجلو څخه ځان وژغوري ؛ نو هغه به له ډېرو ګناهونو څخه په ساتنه کي ژوند تېر کړي . (فيضون)

## له ګرانو لوستونکو څخه يوه لنډه هيله

السّلام عليکم ورحمة الله وبرکاته، أمّا بعد :

له ټولو لوستونکو څخه زه دا هيله لرم ! چي په دې کتاب کي کومه يوه غلطي په نظر ورسي ؛ هغه دي هم هلته اصلاح کړي، غلطي که اعرابي وي، يا د متن وي، يا معنوي وي او يا داسي بله غلطي وي څه فرق نه لري ؛ بس اصلاح دي يې يا په ذهن کي او يا په قلم سره وکړي او ما ته دي د زړه له موخي معافي وکړي ؛ ځکه هر انسان د هيري او خطا خاوند دی، هيڅ يو انسان داسي نسته چي خطا دي نه ځني کيږي .

پوهان وايي : " بنده معنا مانده " او بل دا چي څرنګه يو څوک دا نه غواړي چي د ده په عيب باندي بل يو پوه سي ؛ نو بايد چي د بل مسلمان انسان لپاره هم دا نه وغواړي چي د ده عيب ونورو ته ښکاره سي .

پښتانه څومره يو ښه متل ويلی دی، وايي : " بنده راسه د خدای خپل سه ! لکه پر ځان داسي پر بل سه ! " .

او د مسلمان پر عيب پرده اچول نه يوائې داسي چي هغه خوشاله کوي، بلکي د ده د خپلو عيبونو د دې لامل ګرځي چي الله ربّ العزت به يې ورپټ کړي، يا په دې دُنيا کي او يا په آخرت کي ؛ مُبارک عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي : (مَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ فِيْ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ)، يعني : څوک چي د يو مسلمان عيب ورپټ کړي ؛ نو الله جلّ جلاله به يې په دُنيا او آخرت کي پرده وکړي .

نور بحث نه اوږدوم ! د هوښيار لپاره صرف اشاره هم کافي ده ؛ والسّلام .

"فيضون"

بسم الله الرحمن الرحيم

أَعَزّ مَكَانٍ فِيْ الدُّنْيَا سَرْجُ سَابحٍ * وَخَيْرُ الجَلِيْسِ فِيْ الزَّمَانِ كِتَابٌ (شعر)

ډېر د درناوي ځای په دنيا کي د تېز آس زين دی او په زمانه کي غوره ملګری کتاب دی .

الشَّبَابُ شُعْبَةٌ مِنَ الجُنُونِ (اثر)

ځواني دلېنتوب يو ښاخ دی .

## د رسول الله ﷺ دعاء

(اللّٰهُمَّ أَرِنِيْ الأَشْيَاءَ ؛ كَمَا هِيَ !)

اې لويه څښتته ! موږ د دې وړ وګرځوه چي شيان لکه څنګه چي دي ؛ هغسي يې وپېژنو !

دا دعاء د يو شي د تحقيق معلوملو لپاره ويل کيږي او ډېره مجربه ده .

## په مطالعه کي د ذهن تېزولو لپاره مجربه دعاء

هر وخت تر مطالعې مخکي دا دعاء درې واره واياست :

(اللّٰهُمَّ أَخرِجْنِيْ مِن ظُلُمَاتِ الوَهْمِ. وَأَكرِمْنِيْ بِنُورِ الفَهْمِ. وَافتَحْ عَلَيّ أَبوَابَ فَضْلِكَ. وَانشُرْ عَلَيّ خَزَائِنَ عُلومِكَ) .

اې لويه څښتنه ! ما د توهم له تارکيو څخه وباسه ! د پوهې په ځلا مي عزتمند کړه ! ستا د فضل دروازې او د علومو خزانې راباندې خلاصې کړه ! آمين .

## هغه شيان چي دماغ بشپړ کوي او حافظې ته قوت ورکوي

١- پينځه وخته لمونځ په خپل وخت کي ادا کول سره له دې چي له ګناهونو څخه به ډډه هم کوي .

٢- سهار او ماښام سيابندی ميسواک وهل، په تېره د لمانځه او د قرآن کريم د تلاوت لپاره وهل ډېره ګټه کوي .

۳- په اندازه اوبه چیښل او ډوډۍ خوړل .

٤- د دیني کتابو او رسالو مطالعه په مناسبه توګه کول .

٥- د مور او پلار سره ښه سلوک کول .

٦- سهار او ماښام په اوداسه کي تېرول .

۷- ښه اخلاق کول .

۸- ښه مناسب پر دماغ برابر سهار وختي خوشبویي لګول .

۹- د دماغ د کمزورتیا پر مهال دا دعاء درې، یا یوولس ځله ویل :

(اللّٰهُمَّ قَوِّ دِمَاغِيْ !) یعني : اې لویه څښتنه ! زما دماغ ته قوت ورکړې آمین .

۱۰- هره ورځ، که وس نه وي ؛ نو په هره میاشت کي درې، درې ورځي درې کاچوغي اصلي شات په نهاره څټل .

۱۱- هر سهار وختي په نهاره په وړې نس باندي یوویشت ۲۱ دانې سره کشمش خوړل .

۱۲- او تر هر فرضي لمانځه وروسته چي سلام ګرځوې ! نو پر خپل تندي راسته لاس ایږده او یوولس ځله دا د الله تعالی نوم وایه ! : (یَا قَوِيُّ !)، یعني : اې قوت ورکوونکې ذاته !

دا شیان په تجربه ثابت سوي دي چي دماغ بشپړ کوي او بل اړخ ته دا ټوله په خپلو ځایو کي عبادتونه دي او عبادتونه ثواب هم لري .

## تر مطالعې مخکي د کتبي اخیستلو لپاره مجربه ماثوره دعاء

تر مطالعې مخکي دا دعاء ووایه : (اللّٰهُمَّ عَلِّمْنِيْ مَا يَنفَعُنِيْ، وَانفَعْنِيْ بِمَا عَلَّمْتَنِيْ !) .

اې لویه څښتنه ! ما ته داسي څه راوښیه چي ما ته ګټه ورسوي او په هغه څه ګټه راورسوې چي تا راښوولي دي . آمین

(اللّٰهُمَّ اجْعَل هَذَا الكِتَابَ نَافِعًا يَا نَافِعُ ! يَا نَافِعُ ! يَا نَافِعُ !)

اې لویه څښتنه ! دا کتاب ګټور وګرځوه اې ګټه ورکوونکې ! اې ګټه ورکوونکې ! اې ګټه ورکوونکې ! آمین، یا ربّ العالمین .

فهرست

د مفتي سيّد عبد الرّحيم "حُسيني" صاحب لاسليک (تقريظ) ........... ۹
د مولوي محمّد ياسين "فهيم" صاحب تقريظ ........................ ۱۱
د مفتي عصمت الله "برهان" صاحب تقريظ ........................ ۱۴
د مولوي عبد الرّحمن "صميم" صاحب تقريظ ........................ ۱۵
د شيخ مولوي أطيع الله صاحب تقريظ ........................ ۱۷
د مفتي مولوي عبد الرازق "راشد" صاحب تقريظ ........................ ۱۹
د مفتي حبيب الله "حنيف" صاحب تقريظ ........................ ۲۰
د کتاب خصوصيات (ځانگړتياوي) ........................ ۲۲
دکتاب ليکلو سبب (لامل) ........................ ۲۵
سريزه (مقدمه) ........................ ۲۹
لومړۍ برخه ........................ ۳۲
بد نظري څه ته وايئ ؟ ........................ ۳۲
د نظر څو ډولونه دئ ؟ ........................ ۳۳
د بدنظرۍ د بدوالي په هکله آياتونه، حديثونه او څه نور ........... ۳۶
الله ﷻ د نظر ټيټ ساتلو امر کړی دی ........................ ۳۶
بد نظري د شيطان لعين له غشو څخه يو غشی دی ........................ ۳۸
هغه سترگه چي بدنظري نه کوي نو هغه به اُور نه مسح کوي ........... ۴۰
لغړزني ته په شهوت سره کتل منع دي ........................ ۴۰
بدنظري کول د زنا کولو په شان دي ........................ ۴۲
د شپږو شيانو پر ساتنه د جنت ضمانت ........................ ۴۳
پر بد نظري کوونکي د الله ﷻ لعنت دی ........................ ۴۵

د بدنظرۍ په هکله د حضرت داوُد عَلَيْهِ السَّلَامُ وينا ........................ ۴۶
د بدنظرۍ په هکله د حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ وينا ........................ ۴۶
د بدنظرۍ په هکله د حضرت سرّي سقطي رَحِمَهُ الله وينا ........................ ۴۷
له بدنظرۍ څخه د ځينو بزرگانو تقوى ........................ ۴۷
له بدنظرۍ څخه د پرهېز په هکله د امام أبو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تقوى ۴۹
لغړزنو ته په شهوت سره کتل، يعني: بدنظري کول حرام دي ........ ۵۰
لغړزنو ته کتل د ابليس لعين له غشوجالونو څخه دي ........................ ۵۱
لغړزنو ته کتل او شناخت ورسره کول د قرآن شريف ........................ ۵۲
د هيرېدو او له بام څخه د ځان رالوېدو لامل جوړېږي........................ ۵۲
مُسلمان بايد د لغړزنو له شناخته ځان وساتي ........................ ۵۵
مُسلمان بايد له لغړزني سره په يوه خونه کي شپه تېره نه کړي ........ ۵۸
له لغړزنو سره شناخت کول د فتنې لامل گرځي ........................ ۵۹
پلار بايد خپل بچيان له بدو ملگرو څخه راوگرځوي ........................ ۶۱
له لغړزنو او کشرانو سره ناسته او ولاړه مکروه ده ........................ ۶۲
له لغړزنو څخه د ناستي او ولاړي مُمانعت ........................ ۶۴
د ماړه له زامنو سره چي ښايسته وي ناسته او ولاړه نه ښايي ........................ ۶۴
لغړزنی هلک د ځوان لپاره تر اويا پيغلو بدتر دی........................ ۶۵
د ځوان لپاره لغړزنی د يو درينده حيثيت لري ........................ ۶۶
د لغړزنو په شوق به له الهي قربه ترټلی انسان اخته کيږي ........................ ۶۶
له لغړزني سره اوولس ۱۷ شيطانان دي ........................ ۶۷
له لغړزني څخه د يوې مچي اخيستلو سخت وبال ........................ ۶۸
د بدنظرۍ د مسئلو او د پاته نورو موضوعگانو مُهمي نتيجې........................ ۷۱
دويمه برخه ........................ ۷۴

موټ وهنه څه ته وايئ ؟ ........................ ۷۴
موټ وهل ځنګه پيل سو ؟........................ ۷۵
د موټ وهلو بدوالی........................ ۷۶
موټ وهونکی ملعون دی ........................ ۷۷
موټ وهونکی به د قيامت په ورځ ........................۷۹
د الله تعالی له رحمته او کلامه محرومه وي ........................۷۹
يو اُمت د موټ وهلو په سبب هلاک (پوپناه) سو ........................۷۹
موټ وهونکی به د قيامت په ورځ په سخت عذاب کي راګير وي ... ۸۰
د موټ وهونکي لاس به د قيامت په ورځ بلارب وي ........................۸۰
د موټ وهلو تاوانونه ........................ ۸۴
ايا موټ وهنه يو مهال روايښت لرئ ؟ ........................ ۸۷
(په مکمله توګه) ........................۸۹
د موټ وهني د مسئلو او پاته نورو موضوعګانو مهمي نتيجې..........۸۹
درېيمه برخه ........................۹۲
زنا څه ته وايئ ؟ ........................۹۲
زنا ځنګه پيل سوه ؟ ........................۹۳
په لنډه توګه د زنا بدوالی........................۹۴
زنا کار ته دنياوي سزاوي........................۹۸
زنا کار ته اُخروي سزاوي ........................ ۱۰۱
الله تعالی زِنا ولئ ناروا کړې ده ؟ ........................ ۱۰۳
(په مکمله توګه) ........................ ۱۰۶
د زنا د مسئلو او پاته نورو موضوعګانو مهمي نتيجې ........................ ۱۰۶
څلورمه برخه ........................۱۱۲

لواطت څه ته وايئ ؟ ........................................ ۱۱۲
لواطت له کوم وخت څخه پیل سوی دئ ؟ ........................ ۱۱۲
د لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ نسب او شجره (پښتلیک) ........................ ۱۱۳
د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ کیسه ........................................ ۱۱۴
قوم لوط اوس چیري دئ ؟ ........................................ ۱۲۱
(بحر میت) کوم دریاب دئ ؟ ........................................ ۱۲۲
د قوم لوط آخر پای (انجام) ........................................ ۱۲۳
د قرآن شریف په رڼا کي د لواطت بدوالی ........................ ۱۲۴
د الله جَلَّ جَلَالُهُ پر قوم لوط او د هغوی پر عمل نیوکي ........................ ۱۲۴
په قرآن کریم کي هغه کوم ........................................ ۱۲۸
سورتونه او آیاتونه دئ ؟ چي د لواطت بدوالی پکي ذِکر دی ........ ۱۲۸
د حدیثو په رڼا کي د لواطت بدوالی ........................................ ۱۲۹
الله جَلَّ جَلَالُهُ لوطي له خپل فراخ رحمته ترټلی دی ........................ ۱۲۹
لواطت کولو والا ملعون دی ........................................ ۱۳۰
د مُبارک عَلَیْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ پر لوطیانو بېره ........................ ۱۳۱
له خپلي ښځي سره لواطت کولو والا ملعون دی ........................ ۱۳۱
لواطت کوونکي نارینه او مساحقت کوونکي ........................ ۱۳۲
ښځي د الهي سزا په تمه ورځي او شپې سبا کوي ........................ ۱۳۲
د نن وخت پر لواطت کوونکو نارینه ؤ او ........................ ۱۳۳
مساحقت کوونکو ښځو د ډبرو د باران اورېدلو بېره ده ........................ ۱۳۳
په آخره زمانه کي به ځیني لوطیان خپل عمل روا ګڼي ........................ ۱۳۵
د مخلوق په ناولي لواطت کولو لوی ........................................ ۱۳۶
عرش لړزیږي او فریښتې خفه کیږي ........................................ ۱۳۶

الله ﷻ د لوطیانو هیڅ پرواه هم نه لري ...................... ۱۳۷
چیري چي یې خوښه وي ؛ هم هلته یې هلاکوي ...................... ۱۳۷
تر آسمانو را لاندي په ټول مخلوق کي ...................... ۱۳۹
اووه کسان د الله تعالی په لعنت پوښلي دي ...................... ۱۳۹
په ټول مخلوق کي تر لوطي بل سخت ملعون نسته ...................... ۱۴۰
څلور کسان د الله تعالی په غضب کي ورځي اوشپې سبا کوي ...... ۱۴۱
لواطت، زنا او داسي فحاشي کارونه د مرگ لامل گرځي ...................... ۱۴۲
نږدې ده چي آسمانونه د لواطت له کړني راشوه سي ...................... ۱۴۴
د (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ) گواهي د لوطي او مساحقې لپاره نه قبلیږي ........ ۱۴۵
د آثارو په رڼا کي د لواطت بدوالی ...................... ۱۴۶
آسمان، مځکه، کور او بام ټوله د لوطي ختمېدو ته تیار دي ........... ۱۴۶
له لغړزني سره په شهوت بازۍ کول د لواطت یو ښاخ دی ........... ۱۴۷
لوطي له جنابته (ناولتیا) څخه په توبه ایستلو پاکیږي ...................... ۱۴۸
لواطت کول کُفر ته ورته گناه ده ...................... ۱۵۰
د الله ﷻ دوست لوطي نه سي جوړېدلای ...................... ۱۵۱
د لواطت کولو یو سخت تاوان ...................... ۱۵۲
د قبر په ژوند کي د لواطت کولو سخت تاوان ...................... ۱۵۳
الله ﷻ ته ډېر ناخوښ او ابلیس لعین ته ډېر خوښ عمل لواطت دی ۱۵۵
د لواطت په عمل سرکوزی او گدا هم بد ښکاره کیږي ...................... ۱۵۷
د امامانو او بزرگانو د اقوالو په رڼا کي د لواطت بدوالی ...................... ۱۵۸
لوطیان پر درې ډوله دي ...................... ۱۵۸
پوه انسان که څه هم جره وي ؛ نو له لواطت څخه کرکه کوي ........ ۱۵۹

د لواطت عمل کول ؛ گويا د تاريکيو په درياب کي د ځان ډوبول دي
۱۶۰ ..........................................................................
د لواطت عمل کول د بد بچي زيږېدو لامل گرځي .................. ۱۶۰
د لواطت عمل کول د لاعلاجه ناروغۍ لامل گرځي ........................۱۶۱
د لواطت د بدوالي په هکله زما يو اِلهام ! ................................. ۱۶۲
د لواطت په عمل کي هيڅ خير نسته .......................................۱۶۴
لواطت کوونکي ته دنياوي سزاوي ............................................۱۶۵
د مذاهبو اربعه ؤ په رڼا کي د فاعل او مفعول به سزاوي ............... ۱۶۹
د لواطت کولو جِسماني او رُوحاني تاوانونه ............................... ۱۷۱
لواطت کوونکي ته اخروي سزاوي ........................................... ۱۷۲
په آخرت کي د لواطت کولو سخته سزا ....................................۱۷۳
اووه کسان به دوږخ ته اوله پلا ورننوځي ......................................۱۷۴
د قيامت په ورځ به لوطي له قوم لوط سره راپورته کيږي..................۱۷۶
د قيامت په سخته ورځ به د لوطي له ضايع سوو منيو څخه ...........۱۷۷
بې سره هلکوان جوړ سي او پر ده به د ظلم گواهي ادا کوي .........۱۷۷
د جنت بوی به د لوطي تر سږمو هم نه سي ...............................۱۷۹
له هلک څخه د يوې مچي اخيستلو په آخرت کي سخت وبال .....۱۷۹
په دوږخ کي به لوطي ته پړمخي عذاب ورکول کيږي ................... ۱۸۰
د جنت پر غاليو ناسته او ولاړه پر مفعول حرامه ده ......................۱۸۰
ربّ العِزت لوطي په قبر کي قوم لوط ته ورلېږي ............................ ۱۸۱
الله تعالی به د قيامت په ورځ لواطت کوونکي ............................۱۸۲
او لواطت ورسره کېدونکي ته ډېر سخت په غصه وي ...................۱۸۲
د قيامت په ورځ به لوطي او ملوط ..........................................۱۸۳

د خپل شرمنده عمل پر حالت راپورته سي ............................ ۱۸۳
د قیامت په ورځ به لوطي او ملوط دوږخ ته جوړه سره ځي .......... ۱۸۳
د قیامت په ورځ به لوطیان د بزوګیانو او سرکوزانو په بڼه راپورته سي ۱۸۴
لوطي له جنابته بې له توبې نه سي پاکېدلای .............................. ۱۸۴
ملوط به په قبر کي د شیطان په بڼه مسخه کیږي.......................... ۱۸۵
لوطي به په قبر کي د سرکوزي په بڼه مسخه کیږي ........................ ۱۸۵
په آخرت کي د مُساحقې او مُساحقت ورسره کېدونکي ښځي سزا. ۱۸۶
لوطي او ملوط بې له توبې له جنابته نه سي پاکېدلای ................... ۱۸۷
په دوږخ کي به د لوطي او ملوط ځانګړي اندامونه په اور سره بدلیږي .... ۱۸۸
د قیامت په ورځ به د لوطیانو هیڅ مرستیال نه وي ........................ ۱۸۹
د قیامت په ورځ به د لوطیانو ډېره بده بدبويي ځي ......................... ۱۸۹
د لوطیانو او مساحقیانو پر حال افسوس دی !................................. ۱۹۰
ایا له خپلي ښځي سره لواطت کول روا دئ ؟ ............................... ۱۹۱
د لوط علیه السلام د قوم او د لواطت په اړوند نور بد عملونه ............ ۱۹۴
د لواطت، مُساحقت، زنا او موټ وهلو لاملونه ............................... ۲۰۲
ایا په جنت کي د لواطت شهوت پوره کېدلای سئ ؟......................... ۲۰۵
د لواطت د حراموالي حکمتونه ................................................. ۲۰۹
د الله جل جلاله غیرت او د لواطت حُرمت .................................... ۲۱۱
د لواطت عمل د طبیبانو او ساینس پوهانو په اند ............................ ۲۱۳
له لواطت سره په زړه کي مینه درلودل لویه ګناه ده ........................ ۲۱۵
له لواطت څخه په زړه کي کرکه کول ثواب لرئ ؟ .......................... ۲۱۶
زنا او لواطت نن سبا ولې ورځ په ورځ زیاتیږئ ؟ .......................... ۲۱۷
د اوسنیو ځوانانو لپاره څه کول په کار دئ ؟................................. ۲۲۱

د شهوت قابو کولو لپاره مختلفي مجربي نسخې ...................... ۲۲۳
د سُرعت انزال، اِحتلام او جِریان لپاره رُوحاني نسخې .................۲۳۰
د غیر فِطري عمل لواطت پرستۍ علاج ........................... ۲۳۵
(په مکمله توګه) ................................................ ۲۳۸
د لواطت د مسئلو او د پاته نورو موضوعګانو مُهمي نتیجې ..........۲۳۸
پینځمه برخه .................................................... ۲۵۰
د شرابو او د عامو نشییزو توکو بدوالی ........................... ۲۵۰
لکه : سګرېټ، بیړۍ، نسوار، چرس، اپین او داسي نور ...................۲۵۰
د شرابو پرېښودلو لپاره یوه رُوحاني نسخه .............................۲۵۲
د عامو نشییزو توکو بدوالی ........................................ ۲۵۴
لکه : سګرېټ، بیړۍ، نسوار، چرس، اپین او داسي نور ................ ۲۵۴
د نشییزو توکو نړیوالي ناخوالي او زیانونه ..........................۲۶۱
د نشییزو توکو پرېښودلو لپاره مختلفي طریقې او نسخې ............. ۲۶۳
(په مکمله توګه) ................................................ ۲۶۶
د نشییزو توکو د مسئلو او پاته نورو موضوعګانو مُهمي نتیجې ...... ۲۶۶
شپږمه برخه ..................................................... ۲۷۲
د حرام خوړلو بدوالی ............................................ ۲۷۲
د حرامو په هکله څو مُهمي خبري، لارښووني او یادوني ............ ۲۷۵
(په مکمله توګه) ................................................۲۸۱
د حرام خوردنۍ د مسئلو او د پاته نورو موضوعګانو مهمي نتیجې .۲۸۱
اوومه برخه .....................................................۲۸۸
د کِتاب د برخو تتمه ............................................. ۲۸۸
عبرتناکه کیسې ................................................... ۲۸۸

لومړی : له لواطت سره اړوند عبرتناکې کیسې ........................ ۲۸۸
دویم : له زنا سره اړوند یوه عبرتناکه نبوي کیسه ........................ ۲۹۳
دریيم : له شرابو سره اړوند دوې عبرتناکې کیسې ........................ ۲۹۴
د کیسو غرض او مطلب ........................ ۲۹۶
د لواطت تعبیر ........................ ۲۹۶
د ځوانۍ ارزښت ........................ ۲۹۹
د ځوانۍ عبادت سره زر دي ........................ ۳۰۰
د ځوانۍ، یا پیغلتانه ساتنه ........................ ۳۰۴
د ځوانانو لپاره خوږې خبرې ........................ ۳۰۸
(مل پانه) ........................ ۳۱۲
د گټورو خبرو سوغات، یا غوره ویناوې ........................ ۳۱۲
ځیني خلگ وايي : کتابونه ورځ په ورځ زیاتیږي او گټه یې نسته ... ۳۱۲
ځیني خلگ فقیر او مسکین ته شی نه ورکوي ........................ ۳۱۴
ځیني خلگ له الهي بیرې محرومه دي او په خپلو نېکیو مغروره دي ۳۱۵
ځیني خلگ بېله تحقیقه حُکم کوي ........................ ۳۱۶
پر لاره، یا سړک او یا داسې بل ځای سپین کاغذ غورځول بې ادبي ده
........................ ۳۱۷
د ماخوستن تر لمانځه وروسته مجلس کول ........................ ۳۱۸
د ځوانانو لپاره یو جامع او گټور نصیحت ........................ ۳۲۰
ځلوېښت ملغلرې په ډول د وصیت نامې ........................ ۳۲۴
لاس لپه کوم ! ........................ ۳۲۷
حوالې او مراجع ........................ ۳۲۹

# د مفتي سيّد عبد الرّحيم "حُسيني" صاحب لاسليک (تقريظ)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحَمْدُ لله رَبّ العَالَمِيْناً والصّلاة والسّلام علیٰ رسُوله محمّداً وعلیٰ آله وصحبهاً وعلیٰ کُلّ مَن تَبِعَهُم بإحسانٍ إلیٰ يوم الدّين .

وبَعْدُ :

دا کتاب " د ځوانۍ ساتنه " چي د يو ځوان ليکوال نباغلي مولوي فضل الرحمن فيضون صاحب سلمه الله تعالی ليکنه او څېړنه ده . زمامخ ته پروت (سبا به ستا مخ ته پروت وي) دئ ؛ د څو ځايونو د سرسره کي مطالعې، په لړليک باندي يې د نظر او د ده له محتوی څخه دا خبري راڅرګنده شوې چي :
دا کتاب او ټولګه د عصري او نننې ځينو هر وخت پيښبو ګناوو تذکرې ؛ په هغو باندي آخرتي وعيدونه ؛ په قرآن او حديث کي د هغوی د ډډې امرونه ؛ د دې علاجونه او نور ډېر څه ته وقف شوی دئ او جِناب مؤلف صاحب تر ډېره حده پکي بريالی شوی دئ .
د کتاب کتابي ژبه روانه او خوږه، هره خبره يې اِستنادي، لهجه يې نرمه او حکمتي او ترتيب يې طبعي او منطقي دئ .
درنو ځوانانو ! دا کتاب وګورئ ! مطالعه يې کړئ ! په ځانو باندي يې عرض کړئ که دالله تعالی په فضل او کرم له دې روحاني ناروغيو څخه خلاص ياست

؛ خو د الله تعالی شکر ادا کړئ او همدغسي ثابت قدمه و اوسئ، الله تعالی دي ستاسي نوره هم ساتنه وکړي آمین .
او که چیري له دغو ګناوو څخه یوه درپکښې وي (نو د نا اُمیدۍ خبره نه ده)، هره ناجوړي درملنه لري ؛ د ګناوو درملنه استغفار دئ، استغفار وباسه ! او د توبې لار خپله کړه ! نو فوراً به داسي له ګناوو څخه صفا شې لکه تا چي هیڅ نه وي کړي .
د الله پاک یو فضل دئ چي توبه د ګناوو لپاره داسي ده لکه د مار د چیچل شوي لپاره تارياق .
نور نو تاسي او دا مو کتاب !
په پای کي یو ځل بیا له ښاغلي فیضون صاحب سلمه الله تعالی څخه منته کوم چي د وخت یو ضرورت یې د دې کتاب په لیکلو سره پوره کړ ؛ و أجره علی الله تعالیٰ .
نور نو د محترم لیکوال قلم ګړندی غواړو، چي نور څه هم په دې علمي ډګر کي وکړي .

والسّلام

سیّد عبد الرّحیم "حُسیني" قندهاري

۱۰/ ربیع الأول / ۱٤۳۸ هـ

# د مولوي محمّد یاسین "فهیم" صاحب تقریظ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله ربّ العالمين ؛ حمد الشّاكرين .

الصّلاة والسّلام علىٰ سيّد الأنبياء والمُرسلين ؛ سيّدنا ونبيّنا وشفيعنا ومولانا مُحمّدٍ وعلىٰ آله وأصحابه الطّيبين الطّاهرين .

قدرمنو لسوتونکو دژوند له لارې د مطالعې مینوالو !

السّلام علیکم ورحمة الله وبرکاته : ستاسو روغتیا او خوشالي د پاک رب نه غوارم ! په دې هیله چي د صحت او عافیت جامې پر تن ولرئ ! او خوشالي مو په برخه وي .

ګرانو لوستونکو ! تاسو ته به معلومه شوې وي چي ځواني د لوی متعال څښتن ﷻ له لوري امانت ده او دا امانت اوس تولو ځوانانو ته ورکول شوی دی . او د دې امانت ساتل ؛ روزل ؛ په شرعي چوکاټ کي کارول او داسي د هر اړخ لحاظ او مراعات يې ساتل پر مور او تاسو ټولو واجب او لازم دي .

متعال څښتن ﷻ په خپل مقدس کتاب قرآن عظیم الشان کي دوه ځایه په ډاګه د هغو کسانو په دې عنوان ستاینه کړې چي دوی د خپل تنکي عمر وحلې ساتي او فرمایي : ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴾[1] او هغه کسان [نارینه او ښځینه] چي دوی خپلو شرمګاهو لره ساتونکي دي، بیا یې هغه کسان یاد کړي چي دوی د امانت ساتنه کوي او فرمایي : ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ

---

[1] د المعارج سورت، ۲۹ آیت .

او هم دغسي آیت د المؤمنون په سورت کي ۵ شمېره آیت دی !.

رَٰعُونَ﴿٣٢﴾﴾[1] او هغه کسان چي دوی امانتونو خپلو لره او وعدو خپلو لره ساتونکي دي، ﴿وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَـٰدَٰتِهِمْ قَآئِمُونَ﴿٣٣﴾﴾[2] او هغه کسان چي هم دوی په شاهدي خپلي باندي سم ولاړ وي [او شاهدي نه پټوي]، ﴿وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ﴿٣٤﴾﴾[3] او هغه کسان چي هم دوی پر لمانځه خپل باندي ساتنه کوي [په خپلو وختونو کي] ؛ نو تر دې وروسته له دوی ټولو سره يې د جنت ژمنه کړې ده او فرمايي : ﴿أُو۟لَـٰٓئِكَ فِى جَنَّـٰتٍ مُّكْرَمُونَ﴿٣٥﴾﴾[4]، بېشکه دغه کسان به [چي موصوف په دغو صفاتو سره وي نارينه وي، که ښځينه] په جنتونو کي وي عزتمن کړای شوي . او دا راز رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي : چي د قيامت په ورځ به انسان تر هغې له ځمکي خپل قدم پورته نه کړي تر څو چي د څلورو پوښتنو ځواب ورنه کړي : (عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ ؟). د عمر به يې پوښتنه کيږي چي خپل عمر يې په څه کي تېر کړئ؟، (وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ ؟) او دا چي خپله ځواني يې په څه شی کي ځړه کړې ده ؟، (وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ. وفِيمَا أَنْفَقَهُ ؟) او دا چي مال يې له کومه ځايه لاس ته راوړئ او په کوم ځای (څه) کي يې لګولئ ؟ او – څلورم – (عَنْ عِلْمِهِ مَا ذَا عَمِلَ فِيهِ ؟) [5] دا چي په خپل علم يې څومره عمل کړی دئ ؟ نو راشئ مسلمانانو دې ستر حديث ته ځير شئ ! چي د خپلي ځوانۍ ساتنه وکړئ !

---

[1] د المعارج سورت، ۳۲ آيت .

او هم دغسي آيت د المؤمنون په سورت کي ۸ شمېره آيت دی .

[2] د المعارج سورت، ۳۳ آيت .

[3] د المعارج سورت، ۳۴ آيت . او هم دغسي آيت د المؤمنون په سورت کي ۹ شمېره آيت دی .

[4] د المعارج سورت، ۳۵ آيت .

[5] حديث بيهقي په شعب الإيمان کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۱۶۴۸) او ترمذي په خپل السّنن کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۲۴۱۷) او (صحيح) دی لکه څرنګه چي علامه الباني ويلي .

ځواني په دين کي مصرف کړئ ! د دين په خدمت کي يې مصرف کړئ ! په ځواني کي ځان د دين او اسلام خادمان وګرځوئ ! .

درنو ځوانانو خپلي ځوانۍ په خپلو لاسونو مه بربادوئ ! د ځوانۍ چاپيريال بايد د قرآن او سنتو په رڼا کي راولئ ! مطلب دا چي د ځوانۍ په اړه کوم ارزښت، حدود او هدايات په قرآن، يا حديثو، يا د صحابه وو په اقوالو کي راغلي ؛ دا ټول بايد په نظر کي ولرئ ! او ډډه تري و نه کړئ ! او د دې آياتونو، حديثونو، اقوالو په هکله ما دا (د ځوانۍ ساتنه) په نامه کتاب د خپلو زياتو مصروفيتونو باوجود څه نا څه وکوت چي په دې هکله صريح قرآني آيتونه پکي راغلي ؛ د رسول الله ﷺ له پنده ډک احاديث پکي بيان شوي او داسي نوري ډيري ارزښتناکه ويناوي او بيانونه پکي چاڼ شوي دي ؛ نو په دې مانا دا يو ټولنيز او سوليز کتاب دی .

له هر زلمي (ځوانه) د زړه له تله هيله کوم ! چي دا کتاب پيدا کړئ ؛ ښه يې مطالعه کړئ ؛ ځان پري پوه کړي ؛ عملي کرښي يې وازمويئ او خپله ديني ګټه تري واخلئ ؛ ځکه په دې سره به يې دنيا او آخرت ښايسته او سمسور شي .

الله تعالى دي ليکوال فضل الرحمن فيضون بن مولوي شيخ الحديث حضرت مولانا محمّد لعل مکّي صاحب ته پوره اجر ورکړي .

الله تعالى دي يې د ټول اُمت محمّدي د ځوانانو لپاره د خير او هدايت ذريعه وګرځوي . آمين

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ .

وَصَلَّى اللهُ عَلَىٰ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَىٰ آلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ .

بنده : مولوي محمّد ياسين "فهيم" زيّد مجده

## د مفتي عصمت الله "برهان" صاحب تقريظ

### دلوران الله ﷻ په سپېڅلي نامه

د خپل ګران قدرمن وروو محترم فيضون صاحب با ارزښته ټولګه "د ځوانۍ ساتنه" مي تر سراسري کتني لاندي راغله، که د نن عصر ساينس او ټيکنالوجي ډګر ته پاملرنه وکړو ؛ نو په تأسُف سره ويلای شو ! چي د دې پر ځای د اسلامي او پښتني ټولني ځوان قشر له دې وسائلو څخه سالمه استفاده کړې وای ؛ خو بر عکس په ټولنه کي يې مَنفي تاثرات تر سترګو کيږي .

شاهد علت به يې دا وي چي زموږ د ټولني علماء کرامو دغه ميډيائي نظام له خپلو خدماتو څخه بې برخه کړی دی ؛ ځکه د کايناتو حقيقي خالق په ټولو وسائلو کي د خير او شر دواړه صفات ايښي دي . د پښتني ټولني ځوان قشر چي له اسلامي تعليماتو او سالمي تربيې څخه يتيم قِشر په بې رحمانه ټولګه د اغيارو او باطل پرستو د فحاشی شوم خور جال مِيډيائي شبکو نصب شوؤ دامونو ته په منګلو کي ورکړل او د نړيوال ميډيائي يرغل طوفان دغه قيمتي ملغلري د خپلو اسلامي ټولنو له علماء کرامو څخه فراره او نابلده کړل .

په همدغه طوفاني دوران کي د محترم فيضون صاحب دغه ټولګه د ستايني وړ ده. متعال خدای ﷻ دي د پښتني ټولنو بادر که علماء کرامو ته له دغه ميډيائي نظام څخه د سالمي استفادې لپاره د ځوان قِشر په همدغه عنکبوتي شبکه کي د قلم، ژبي او قدم د اوچتلو نه ستړي کېدونکي هلي ځلي وړ په برخه کړي ؛ نو د محترم فيضون صاحب دغه هڅه هم د همدغه يرغل وړوکی جواب دی او د دغه کتاب له هر ځوان لوستونکی څخه هيله کوم ! چي د کتاب ښايسته مطالب په خپلو انټرنيټي صفحاتو کي د عامو ځوانانو د استفادې لپاره نشر ته وسپاري تر څو له کتاب څخه ليري ځوانان هم تري مستفيد شي . والسّلام

مفتي عصمت الله "برهان"

# د مولوي عبد الرّحمن "صميم " صاحب تقريظ

د متعال څښتن ﷻ د ستر وياړلي په نامه

متعال خدای هر څه ته ښوونه کړې ؛ وهر څه ته يې روزنه ور کړې او هر څه ته يې پاملرنه کړې .

موږ انساني ټولنه په وياړ دا وايو ! چي الله ربّ العزت په دې سفلي کايناتو او ځيزونو کي انسانانو ته پر نورو مخلوقاتو او ژوو ډېر غټ فضيلت ور کړی .

او د دې فضيلت مصداق په انسان کي هغه مهال روښانه کيږي چي کله دی د خپل حقيقي څښتن ﷻ اوامر ومني او هم د ده له نواهيو او نافرمانيو څخه ځان راوګرځوي .

دا خبره دي ښکاره وي چي زموږ په ننني ټولنه کي د شهوت لاملونه بيخي زيات سوي او ځوانانو مو په بېلابېلو تناسلي ګناهونو لګيا دي . که ووايم ! په ټولنه کي که په سل فيصده ۱۰۰ ٪ کي نوي فيصده خلګ په دې ګناهونو اخته وي ؛ نو هم ليري نه ده او دا و هر انسان ته ښه معلومه ده .

مطلب دا چي د دې تناسلي ګناهونو په پوهېدلو او د هغوی د سزاګانو په خبرېدلو سره و انسان ته له هغوی څخه د ځان ژغورلو لاره پيدا کيږي ؛ نو د دې ګناهونو د پېژندلو، سزاګانو او داسي نورو ځانګړيو مالوماتو لپاره دا ستاسو په لاس کي غوړېدلی "د ځوانۍ ساتنه" په نامه کتاب ډېر ښه رول لوبوي او دا کتاب چي څرنګه يې نوم دی ؛ همدغسي يې محتوا ده ؛ د درېيم چاپ په لړ کي راروان دی چي تر چاپ وروسته لاس په لاس رسيږي او ختميږي .

په باوري توګه زموږ د ټولني ټولو هغو وګړو ته چي په تناسلي ګناهونو ککړ وي، يا يې ورته پټي ارادې ساتلي وي ؛ د زړه له کومي ورڅخه هيله کوم ! چي

کتاب پیدا کړي او راېې نیسي، په ښه معیاري ترتیب یې ولولي او عملي خبري یې په خپلو عملونو کي جاري وساتي.
الله تبارک وتعالی دي وښاغلي لیکوال فضل الرحمن فیضون ته اجر عظیم ورکړي چي د ټولني دغه تشه خوا یې په دې علمي او عملي کتاب ډکه کړه او الله تعالی دي یې په خپل سپېڅلي درشل کي ځني قبول کړي، بېشکه همدی ربّ العزت د نیکو دعاګانو قبلوونکی دی. آمین

الشّیخ عبد الرّحمٰن "صمیم" عفي عنه

## د شيخ مولوي أطيع الله صاحب تقريظ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نحمدُهُ ونُصلي علىٰ رسُوله الكريم، أمّا بعد :

انسان ته الله تعالی په دنيا کي زندگي ورکړې ده ؛ خو د انسان زندگي په دنيا کي ډېره مختصره، عارضي، فاني او ژر ختمېدونکې ده او دغه زندگي د الله تعالی له طرفه يو امانت ده چي انسان د هغه پر حفاظت کولو مکلف دی، بيا خاص چي د انسان زندگي د ځوانۍ بهار ته ورسيږي ؛ نو هلته د انسان دپاره د دغه امانت حفاظت کول ډېر اهم وګرځي ؛ ځکه چي دا زندگي او ژوند او بيا خاص د ځوانۍ زمانه د انسان دپاره لويه سرمايه او د الله تعالی لوی نعمت دی .
او نن سبا د هغه قدر ناشناسي او ناشکري په معاشره کي عامه ده، لکه يو شاعر وايي :

وَالشَّبَابُ أَنْفَسُ مَا عُنِيْتَ بِحِفْظِهِ ؛ وَ أَرَاهُ ! أَسْهَلَ مَا عَلَيْكَ يُضِيْعُ

يعني : ځواني ډېر نفيس او بيش قيمته شی دی چي د هغه د حفاظت ته مکلف ګرځول سوی يې ؛ ليکن زه چي ګورم ! دغه قيمتي او نفيس شی ستا څخه تر ټولو په آسانه سره ضائع کېدونکی دی .
دا يو ښکاره حقيقت او تجربه ده چي کوم څوک د ځوانۍ په دورانيه کي د خپل ځان حفاظت وکړي ؛ نو د هغه اثرات د ده د مستقبل پر ژوند د ښه صحت او ښو اخلاقو په شکل کي ښکاره وي او تر ده وروسته ژوند په ښه صحت او سکون او آسانه شکل تېرېږي .
خدانخواسته که چيري له ده څخه د ځوانۍ په بهار کي د خپل ځان سره بې احتياطي وسي، بيا خو تر ده وروسته زندگي د حکيمانو او طبيبانو پر رحم او

کرم پاته سي چې بیا د ژوند هره شېبه ده ته د هغه ندامت او پښېماني محسوسیږي.
الله تعالی دي د ښایسته قلم درلودونکي صاحب صلاحیته انسان حضرت مولانا فضل الرحمن فیضون ولد مولوي محمد لعل مکي صاحب ته خیر کثیر ور کړي.
چې د دې فتنو په دور کي (چې هغه اوس د نوجوانانو دپاره د وبا شکل اختیار کړی دی) قلم پور ته کړی او په محققانه انداز کي یې نوجوانان د ځوانۍ د خراپو له عواملو څخه آگاه کړل او هم یې د هغه دنیوي او اخروي نقصانات د هغو و مخ ته واضح کړل.
چې د یو نوجوان دپاره، بلکي د هر انسان دپاره د هغه مطالعه کول او د هغه مضامین د عبرت په شکل ومخ ته ایښودل او د هغه په رڼا کي د خپلي زندگۍ حفاظت کول ضروري عمل دی.
دا مي دعا ده چې: الله تعالی دي د فیضون مولانا دغه کوشش د معاشرې دپاره د اصلاح ذریعه جوړه کړي او هم دي یې د ده د مور، پلار او ټوله خاندان دپاره ذریعه د نجات وگرځوي؛ آمین یا ربّ العالمین!.

أطيع الله عُفي عنه

۱۷/ شعبان المعظم/ ۱۴۳۹ هـ

# د مفتي مولوي عبد الرازق "راشد" صاحب تقریظ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د لوراند لورین الله ﷻ په نامه

سپېڅلتیا او پاکلمني د ایمان وزرونه دي .
پاکلمني د وګړیز ژوند د سمتیا او یوې بشپړې رغانده او بریالۍ ټولنې له آرونو څخه ګڼل کیږي . هغه کس بریالی دی چې خپلې پټې او ښکاره څرکې (حواس)، اند (فکر)، واند (خیال)، انګېرنه (وهم)، ننګېرنه (احساس)، نوریز ځواک (جنسي طاقت) او مالي شتمني په خپل واک کې ولري .
او د اسلام د سپېڅلي او رڼانده شریعت او د حنفي مذهب له پرېکړو سره سم یې وکاروي ؛ سترګې له ناوړو کتلو، غوږونه له ناوړه اورېدولو، پزه له ناوړه بویولو، ژبه له ناسم ویلو، اند، سُول (عقل)، نوریز ځواک، مالي شتمني او هره وړتیا (استعداد) له بې ځایه کارولو وژغوري ؛ دا څرګند حقیقت دی چې وسمهال ډېرى وګړي د ناوړه کتلو (بدنظرۍ) بلا په خوله کې نیولي دي او ځیني خو بیخي د هم نوړلوبي (هم جنس پرستۍ) ښامار په خوله کې اخیستي دي ؛ آن چې مخور، لویان او پلازوالان هم په دې خوۍ بوخت دي . د ښاغلي مُفتي فضل الرّحمن فیضون لیکنه، یاني " د ځوانۍ ساتنه" له پورته بلاګانو څخه د ژغورلو پوره بسنه کوي .
د هر وګړي لپاره په ځانګړي ډول د مُسلمان لپاره دا ډېره اړینه ده چې په ښه غور او د عملي کولو په هوډ یې وګوري .

په ماتریدي مینه : مُحمّد عبد الرّازق "راشد"

۵/ څلورمه خور / ۱۴۳۶ لمریز سپوږمیز کال .

## د مفتي حبيب الله "حنيف" صاحب تقريظ

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

دلوراندلورين الله ﷻ په نامه

الحمد لله وكفىٰ، وعلىٰ عِباده الّذين اصطفىٰ، أمّا بعد :

ربّ العالمين ﷻ په هره زمانه كي د خپل د دِين د خدمت (چوپړ) لپاره مينه پال خلګ پيدا كوي ؛ كه موږ د تاريخ پاڼې واړو : داسي ډيري څيرې به راته روښانه او ښكاره سي چي د قرآن كريم او نبوي احاديثو سپيڅلي او ګټور خدمت ته يې خپل قيمتي عُمر او ژوند وقف كړى وي .

د هغو مباركو ګرنديو، هلو ځلو، ژورو، مثمرو او اُوږدو هڅو د اسلامي دِين ښايسته او بې جوړې ملغلرې رابرسېره كړي دي .

دا به بې ځايه نه وي كه ووايو : چي د اسلامي زده كړو او علومو ډېوه د دوى د پر مخ تللو تكړه او په زړه پوري هڅو له كبله تر اُوسه هم روښانه او پر پښو ولاړه ده.

هغوى تل د علم په ګټه كي زړه څپانده، تپانده زيار كښلى، په ټولو علومو كښني، لكه : قرآن مجيد، نبوي احاديث، اسلامي فقه، نحو، صرف، بلاغت، ادب، تصوف فلسفه او نورو كښني دلوړ تبحُر او ژور تفكُر خاوندان ول .

موږ به د دوى په نامه تل وياړو او يادوُو به يې ! او زموږ ديني علمي مجلسونه او محفلونه به همېشه د دوى په يادرنګين او ځلېدونكي وي .

لوى څښتن تعالى دي د دوى پر قبرونو او لحدونو د خپل فضل، مهربانۍ او رحمت بارانونه واوروي آمين .

ښاغلی، منلی او وتلی ورور مولوي فضل الرحمن "فیضون" د دې میدان تکړه، کره او چمتو ملګری دی . دا تالیف، یعني : "د ځوانۍ ساتنه" چې خپل عربي نوم يې "صيانة الشّباب والنّسوان عن أعمال قوم لوط وفِتنة المُردان" دی ؛ د هغه دوهم تاليف دی چې د فقير تر نظر او کتنې لاندې کېږي .

ښاغلي په دغه تصنيف کې ډول ډول، رنګين، خوندور او مُثمر تحقيقات د علم مينه والو ته رابرسېره کړي دي . هغه د يو روان چلان قلم څښتن دی، په دغه موضوع کښې نوموړي يوه لويه علمي پانګه مُرتبه او رامنځ ته کړې ده ؛ نو زما په اند په دغه ځانګړې موضوع کښې به بل چا پر يوه ځای دومره ارزښتناکه مواد، علمي څېړنې، تحقيقونه او ژور بحثونه نه وي راجمع کړي ؛ څومره چې ګران فيضون راغونډ کړي دي .

هو ! فيضون صاحب هم د نورو انساني وګړو په څېر يو انسان دی چې د تېروتنې او اشتباه په دام کښې کله نا کله لوېږي ؛ بايد ګران لوستونکی هغه ځايو ته چمتو او د پام لرونکی وي ؛ د بيلګې په ډول ښاغلي ! د لوطت د مُذمت په اړه څه احاديث راوړي چې ځينې بيخي ضعيف او نور بيا وموضوع ته ورته دي .

يکار وه مُحترم د هغوی له بيان څخه ډډه کړې وای ؛ خو بيا هم په مجموعي لحاظ کتاب ډېر ګټور، مُثمر او پر لوړو بحثونو مُشتمل دی ؛ بايد د علم تږي او د پوهې مينه وال په دغه عيب کتاب ته شا نه کړي . د (خُذ ما صفا، ودَع ما كدر) عاملان دي جوړ سي .

ربّ العالَمين ﷻ دي د ښاغلي په عُمر کښې اُوږدوالی او د کتاب په ګټه کښې پراختيا راولي ؛ آمين يا ربّ العالَمين ! [1] .

کښونکی : فقير إلى الله مُحمّد حبيب الله "حنيف"

❀❀❀

[1] تر دې ځايه تقريظونه پای ته ورسېدله ؛ والحمد لله تعالى .

«اللّٰهُمَّ افْتَح لِيْ بِخَيرٍ، وَأَخْتِمْ لِيْ بِخَيْرٍ يَا مُفَتِّحُ الْأَبوَابِ، يَا فَتَّاحُ ! يَا فَتَّاحُ ! يَا فَتَّاحُ !»

## د کتاب خصوصیات (ځانګړ تیاوي)

ګرانو لوستونکو ! د کتاب ځانګړ تیاوي ټوله په راتلونکي ډول سره دي :

۱. (لومړۍ ځانګړ تیا) : دا کتاب پر اُوو برخو مُشتمل دی چي لومړۍ برخه د بدنظرۍ ؛ دویمه برخه د موټ وهني، درییمه برخه د زنا ؛ څلورمه برخه د لواطت ؛ پینځمه برخه د شرابو او داسي نورو نشییزه شیانو شپږمه برخه د حرامو خوړلو او آخري اوومه برخه د کتاب د تتمې په هکله ده چي د کتاب پاته خبري او مقصودي بیانونه پکي حل سوي دي او د هري برخي په پای کي خپلي مُهمي سرټکي (نتیجې) بیان سوي دي، کُومې چي د دې برخي پاته خبري او موضوعګاني پکي ښودل سوي دي .

۲. (دویمه ځانګړ تیا) : کوم ګران آیاتونه، یا حدیثونه، یا آثار او یا ویناوي چي پکي راوړل سوي ؛ نو د هغو لپاره ښه په زړه پوري شرحې، فایدې او نُکتې هم بیاني سوي دي .

۳. (درییمه ځانګړ تیا) : یو څوک چي هر څومره د هلک بازۍ شوق لري او شیرین بحثونه یې خوښ وي، یا یې لواطت ته پټه اراده وي، یا د زنا شوق لري، یا موټ وهي، یا بد نظر کوي او د خپل بد نظر له امله دې عملو ته تیار سوی وي، یا یې په دې هکله نور کتابونه کتلي وي او له هغو څخه یې سمه شافي ګټه نه وي تر لاسه کړې، بیا دا کتاب پسي وګوري ؛ نو ډېر ژر به یې درملنه وسي او د مجازي عِشق اُور به یې سوړ سي، یعني ناروغي به یې پای ته ورسیږي، لکه څرنګه چي په تجربه رسېدلې ده ؛ إنْ شاء الله تعالیٰ .

۴. (څلورمه ځانګړتیا) : همدا ډول له نورو لوطي عملونو، نشییزه شیانو او حرامو خوړلو څخه به یې زړه واوړي، شوق به یې ځني ختم سي او توبې ته به یې زړه چمتو سي او په اخلاص به خپل رب ته توبګار سي ؛ إنْ شاء الله تعالیٰ .

یادونه : لواطت د قوم لوط لومړی بد عمل وو او دوی له لواطت څخه پرته نور بد عملونه هم کوله ؛ د تفصیل او مُطالعې لپاره په دې کتاب کې په دې نامه عنوان (سرلیک) وګورئ ! (دلوط عَلَیْهِ السَّلَامُ د قوم او دلواطت په اړوند نور بد عملونه) او ټوله عملونه یې الله ربّ العزت ته ناخُوښه ول چې د داغه عملونو په وجه یې هلاک کړله او له مځکې څخه یې پاک کړله .

۵. (پینځمه ځانګړتیا) : د کتاب په مُطالعه کولو کې به یې زړه خوشاله وي او دآخري زمانې له ټولو فتنو څخه به، لکه : غیبت، درواغ، بُهتان [یعني : پریو چا تُور تړل]، ښکنځا، بدنظری، او داسي له نورو ګناوو او فتنو څخه به په امن وي ؛ إنْ شاء الله تعالیٰ .

۶. (شپږمه ځانګړتیا) : الله تبارک وتعالی به ځنی راضي وي ؛ ځکه د دیني کتاب مُطالعه کول عبادت دی او په عبادت باندې الله ﷻ راضي کیږي او هغه که هر عبادت وي : قلبي وي، یا لساني وي، یا فعلي وي او د دیني کتاب مُطالعه کول قلبي عبادت هم دی او د سترګو عبادت هم دی .

۷. (اوومه ځانګړتیا) : که د دین یوه خبره پکې زده کړي، لکه: آیت شریف، یا حدیث مُبارک، یا اثر او یا قول، یا داسي نوري د دین خبري پکې زده کړي – که څه هم عمل په وکړي، یا یې نه په وکړي ؛ نو الله تعالی به د قیامت په ورځ د سلو رکعاتو نفلي لمنځونو ثواب ورکړي ؛ ځکه له ابو ذره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی، چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل : (يَا أَبَا ذَرّ ! لَأَنْ تَغْدُوَ فَتَتَعَلَّمَ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللهِ ؛ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تُصَلِّيَ مِائَةَ رَكْعَةٍ ! وَلَأَنْ تَغْدُوَ فَتَتَعَلَّمَ بَابًا

مِنَ العِلْمِ عُمِلَ بِهِ أَوْ لَم يُعْمَلُ ؛ خَيْرٌ لَكَ مِن أَنْ تُصَلِّيَ أَلْفَ رَكْعَةٍ !)[1]، يعني : اې أبي ذره ! که ته سهار ووځې او د كتاب الله (قرآن شريف) يو آيت زده كړې ؛ نو دا به تا لره تر سلو ركعاتو كولو غوره وي ! او كه د علم يو باب (يعني : د دين يوه خبره) زده كړې، كه عملي سي او كه نه ؛ خو تا لره به تر زرو ركعاتو كولو غوره وي ! .

سُبحان الله څومره لوی ثواب دی ؛ مسلمان بايد د داسي ثواب تږی وي او عملي يې كړي . ۸. (اتمه ځانګړتيا) : په كتاب كي د آياتونو، حديثونو، آثارو، قولونو او داسي نورو خبرو حوالې ټولي په حاشيو كي ذِكر سوي دي .

۹. (نهمه ځانګړتيا) : د اوسنيو ځوانانو لپاره غوره لارښووني او د شهوت قابو كولو لپاره روحاني نسخې زياتره پكي ذِكر سوي دي .

۱۰. (لسمه ځانګړتيا) : په پای كي يې د ګټورو خبرو ضميمه ده چي د اوسنيو خلكو لپاره ډيري ګټوري او مُهمي دي .

۱۱. (يوولسمه ځانګړتيا) : تر ضميمې وروسته له أُصولو اربعه ؤ، يعني : قرآن، حديث، اجماع د اُمت او قياس څخه يوه خوږه وصيت نامه هم ذِكر سوې ده چي تقريبًا د ټولو ښنتو غوره خبرو مجموعه ده .

۱۲. او آخري (دوولسمه ځانګړتيا) : تر وصيت نامې وروسته د كتاب تتمه ده چي د كتاب پاته خبري پكي ټولي حل سوي دي او بيا وروسته ماخذونه ټوله په ترتيب سره ذكر دي .

الهي ! دغه ځانګړتياوې او فايدې هر لوستونكي ته په برخه وركړې او زما دا بابيځه هڅه په خپل سپېڅلي درشل كي قبوله او مقبوله وګرځوې ؛ آمين .

❁❁❁

[1] حديث ابن ماجه روايت كړی دی په خپل كتاب (السّنن) په المقدمه كي، حديث شمېره (۲۰۷) ۱ توك، ۴۲ او ۴۳ مخونه او مَنذري په الترغيب والترهيب كي نقل كړی دی، ۱ توك،۵۴ مخ او حديث (حسن) دی .

# دکتاب لیکلو سبب (لامل)

د کتاب لیکلو تر مخه ما د علم طِب په اړه د یوښه په زړه پوري کتاب نیت کړی وو چي هغه د مېوو، وچو مېوو او شین ګیاوُ د ګټو په هکله وي ؛ تقریبا یوولس ورځي ما دا هڅه کوله ! چي له اوس زماني سره یو ښه مطابق کتاب تألیف ( جوړ ) کړم ! نو بیا په دوولسمه ورځ چي د پنجشبې غرمه وه یو ریشتونی خوب مي ولید، خوب دا وو چي کله په اوداسه بیده سوم ! یوسپین کالی سړی راته راغی او دا یې راته وویل : چي د طِب په باره کي کتاب مه لیکه ! ځکه نن سبا په طِبي کورس کي مسلمانان او کافرانَ دواړه هڅې کوي او د ناروغیو درملني کوي، زه په دې مهال کي حیران سوم ! نو ما ورته وویله : چي زه اوس په څه باره کي او په کومه موضوع کي کتاب جوړ کړم ؟! بیا هغه راته وویل : چي د لوطت، زنا او موټ وهني او داسي نورو ګناهونو په بدوالي کي یو ښه کامل کتاب تالیف کړه ! ما ورته وویل : چي زه ولې په دې باره کي کتاب جوړ کړم ؟! هغه راته وویل : ایا نن سبا دا بدعملونه نه دي زیات سوې ؟او ایا ستاسو زیات وګړي (ځوانان) په دې بد عملیو نه دي اخته ؟ما ورته وویل : چي هو ! بېشکه دا عملونه خو زیات سوي دي .

بیا یې راته وویل : چي اوس یې نو بدوالي ښه په پوره او بشپړ معنی ولیکه ! د قرآن او سنتو په رڼا کي یې مذمت (بدوالی) بیان کړه !

کله چي یې دا خوږ امر راته وکړی ؛ نو بیا یې یو ښایسته کتاب راکړی چي د لواطت په بدوالی کي او داسي نورو لُوطي عملونو په اړوند لیکل سوی وو او د مخ پر وقایه یې د اوښانو ننداره او داسي نور ښایسته شیان ول چي اوس زما ذهنِ ته سم نه حاضرېږي، وروسته یې دُعاء راته وکړه ! او په مینه راڅخه ولاړی .

او تر کتاب وروسته مي حضرت سلیمان عَلَیۡهِ السَّلَامُ هم ولیدی چي د خپل وخت تاج یې پر سر وو کوم چي په شکل کي د جګي لنګوټې وو، په داسي حال کي چي سترګي یې توري وې او ما ته یې په موسکا کتل .

تر دې وروسته خوب پای ته ورسېد او زه راببداره سوم ! په داسي حال کي چي زما زړه د دې خوب په ليدلو سره يو ناولده خوشالي وموندله کومه چي تر اوسه د هغې اثر زما په زړه کي پروت دی .
او کله چي مي دا ښایسته حالات په خوب کي ولیدله ! نو څه وخت وروسته مي له دريو علماؤ څخه د خوب تعبير وپوښتی ! چي يو مي په هغو کي دوړې دورې استاذ هم وو او دريو سره دا تعبير راکړی : چي دا سړی په خوب کي د الله ﷻ يوه فريشته وه او تا ته يې دغه اطلاع درکوله چي د طب په هکله کتاب مه ليکه ! بلکي د هغي بدترينې گناه بدوالی بيان کړه ! او کتَاب پکي تاليف کړه ! کومه چي نن سبا ډېره مخ ته تللې ده چي هغه لواطت دی او داسي د دې تر څنگ د نورو لوطي عملونو بيان پکي وکړه ! او کوم چي په خوب کي يې تا ته کتاب درکړی دا به هم ته يو داسي کتاب په دې فن کي تاليف کړې ! چي مِثال به يې نه وي ؛ بإذن الله تعالیٰ .

او کوم چي وروسته تا حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ پيغمبر وليدی ؛ نو دا د دې جامع کتاب (د ځوانۍ ساتنه) او داسي ستا د نورو ښو عُمده کتابونو د جوړولو دليل دی چي ته به يې د الله تعالی په فضل سره جوړوې او هغه به ټوله د مُحمّدي أُمت لپاره گټور ثابتيږي او ستا لپاره به د دنيا او آخرت ذخيره سي ؛ بإذن الله تعالیٰ .

کله چي مي له علماؤ څخه دا ښکلی تعبير د خوب واورېدی ؛ نو ډېر خوشاله سوم ! او درې ورځي وروسته مي پر کتاب ليکلو پېل (شروع) وکړه ! چي د تاريخ هجري شمېره يې دا وه : ۸/ ۶/ ۱۴۳۰ هـ ق او د دوشنبې مبارکه ورځ وه .
د کتاب د برخو ترتيب : نو اوس دا دئ دا کتاب ستاسو په لاسونو کي دی چي خالص مي د لوی څښتن ﷻ په توفيق سره تيار کړی او نويشته کړی دی ! او پر اوو برخو مي مشتمل کړی دی چي لومړۍ برخه د بدنظرۍ په هکله ده ؛ ځکه بدنظري لومړۍ هغه گناه ده چي د تناسلي گناوو لامل جوړيږي او نن سبا دغه

ابتلا عامه ګرځیدلې ده . دویمه برخه د موټ وهنې په هکله ده چې له بدنظرۍ وروسته وناوادہ انسان ته جوتیږي او هغه په اخته کیږي . درییمه برخه د زنا په هکله ده چې په بدي کې تر موټ څه سخته ګناه ده . څلورمه برخه د لواطت په هکله ده چې دا بیا تر زنا هم په بدي او وبال کې سخته ګناه ده . پینځمه برخه د شرابو او داسې نورو نشییزه شیانو په هکله ده چې دا هم په اوسنیو ځینو ځوانانو کې مروجه ګناه ده او د اُمت ډېر وګړي په اخته دي . شپږمه برخه د حرامو خوړلو په هکله ده، حال دا چې خواړه هغه څه دي چې د اُمت د ژوند او پایښت دار او مدار ورباندې کیږي او تر نفقې تړاو لري ؛ نو پر نفقه ژوند ولاړ دی . او آخري اُوومه برخه د کتاب د تتمې په هکله ده چې د کتاب پاته خبري او مقصودي بیانونه پکې حل سوي دي .

او اووه سره هغې برخې دي کومې چې ډیري مُهمې دي او د نن سبا خلګو ورته ضرورت دی او په آخري اوومه برخه کې د کتاب تتمه په مُکمله توګه حل سوې ده کوم چې د کتاب پاته مقاصد او خبري پکې ذِکر سوي دي .

**او الحمد لله په اوو سره برخو کې مې** : د لواطت د بدوالي برخه ډېره څېړلې ده ! ځکه د هلک بازۍ شوق نن ډېر زیات سوی دی، پردیو ښځو ته نن زیاتره ځوانان ګوري او د عشق اورونه د زیاترو ځوانانو په زړونو کې بل دي او د دوی ښایستې ځوانیانې ورځ په ورځ ویلې کوي ؛ نو ما هم پر دوی زړه وسوځېدی او د دوی پر حالاتو ژړا راتلل ؛ ځکه چې دوی ټول په مجازي عشق کې غرق دي او عشق د الله ﷻ ښه دی چې هغه حقیقي عشق دی، نه د مخلوقاتو چې فاني او مجازي عشق دی ؛ یو شاعر څومره ښه ویلي دي :

ہر عشق مجازی کا آغاز بُرا دیکھا

انجام کا یا اللہ یہ حال ہوگا ؟!

بس نو له همدې کبله مې په کتاب کې د لواطت د ناخوالي او بدوالي موضوع ښه وڅېړله ! چې د پی مخې هلکانو او عامو وګړو په زړونو کې په بشپړه توګه د لواطت نفرت پیدا سي او د راتلونکي وخت لپاره توبې ځنې وباسي .

او بل مي له دې کبله په دې کتاب کي د لواطت موضوع ښه وڅېړله ! چي په خوب کي هغې فرېشتې چي د سپين کالي سړي په بڼه کي راته ښکاره سوې وه ټينګار راته وکړی چي ويل يې: د لواطت موضوع ښه وڅېړه !
نو الله تبارک وتعالى لره دي ټولي ستاينې او حمدونه وي چي ما ګناهګار او بې وزله بنده ته يې دا توفيق راکړی او دا سپېڅلی الهام يې راته وکړی چي کتاب مي د لواطت پر موضوع ښه مفصل وليکی ! او د لواطت تر څنګ مي د نورو لوطي عملونو يادونه هم پکي وکړه !
او داسي پر نورو موضوعګانو مي هم ښه بيان پکي وکړی، لکه : بد نظري، موټ وهنه، زنا، شراب چيښنه، نشيېزه شيان (توکي) او حرام خوړنه او دا شپږ سره غټي ګناوي دي چي په موږ کي نن خورا په پېخر خپرې سوي دي .

**او ورپسې مي دديري ګټې لپاره :** په تتمه کي مي تر پاته خبرو وروسته د ټولو دلايلو يوه غورچاڼه وصيت نامه غوره کړې ده ! مطلب دا چي کتاب مي د خواصو او عوامو لپاره د لا يزال ذات په امر او فضل سره ګټور سي، خواص لکه : په عربي ژبي پوهان، خطيبان، واعظان، ملايان، طالبان او داسي نور کسان او عوام لکه : ټول اُمت مُحمّدي ؛ والحمدُ لله الجامعُ وحدَه .

آخري شعبان المُعظم : ۳۰/ ۸/ ۱۴۳۰ هـ، ۲۱/ ۸/ ۲۰۰۹ ع

وَالحَمدُ لله أوّلًا وَآخِرًا، ظاهِرًا وَبَاطِنًا، مَاشَاءَ اللهُ كَانَ وَمَا لَم يَشأْ لَم يَكُنْ .

إلهي ! اجْعَلْ هذا الكِتَاب خالصًا لوَجهكَ الكَريمِ، ونافعا لكُلِّ ذِيْ طَبعٍ سليمٍ إنّكَ علىٰ كُلّ شيءٍ قدِيرٌ، وَبِالإِجَابة جدِيرٌ ؛ آمين يَا إلهُ العالمِين ! .

# سریزه (مقدمه)

الحَمْدُ لله الَّذِيْ حَرَّمَ الفَوَاحِشِ وَالذُّنُوْبِ، وَلَعَنَ فِيْ خَلقِهِ الرَّاكِبِ وَالمَرْكُوْبِ، وَأَعَدَّ لَهُمَا فِيْ الآخِرَةِ نَارِ مَّلْهُوبِ، وَلِلحَافِظِيْنَ فُرُوجَهُمْ مَاءِ مَّسْكُوْبِ ؛ الَّذِيْنَ عَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لله المَحْبُوْبِ، وَهُوَ العَفُوُّ وَالتَوَابُ عَلَىٰ مَنْ يَتُوْبُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الشُّرُوقِ وَالغُرُوْبِ.

وَصَلَّى اللهُ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ كُلَّمَا ذَكَرَهُ الذَاكِرُوْنَ، وَكُلَّمَا غَفَلَ عَنْ ذِكْرِهِ الغَافِلُوْنَ، وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الهَادِيْنَ المُهْتَدِيْنَ الَّذِيْنَ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزُنُوْنَ.

**ګرانه لوستونکې !** نن سبا هر څوک او هر ځوان دا غواړي چي د خپلي ځوانۍ ساتنه وکړي او هره پېغله دا غواړي چي د خپلي پېغلتانه ساتنه وکړي ؛ خو ساتنه به يې تر هغو پوري ورته آسانه نه سي تر څو چي خپل زړه يې خپل لوی څښتن ﷻ ته تسليم کړی نه وي او له ټولو ګناهونو څخه يې توبه ايستلې نه وي.

او په موجوده زمانه کي ځيني داسي ګناوي دي چي د حضرت مُحمّد ﷺ په اُمت کي د ويښو او خزندو په څېر رواني دي او د دوی د اخلاقو خوړونکي دي ؛ هغه ګناوي، لکه : بد نظري، موټ وهنه، زنا، لواطت، شراب څيښنه او داسي نوري نشې او حرام خوړنه.

دغه ګناهونه په موجوده وخت کي دومره عامي سوي دي چي ځيني خلک يې پر ګناوو هم نه ګڼي ! دا لا څه ؟! بلکي په سلو کي نهه نوي (۹۹) فيصده انسانان په اخته دي، حال دا چي د دغو ګناوو حراموالی په قطعي دلايلو ثابت سوی دی چي ټولي غټي (کبيره) ګناوي دي ؛ فإلی الله المُشتکیٰ.

د ډېر افسوس او ژړا خبره ده چي نن سبا ځيني خلک او ځوانان او د اُمت خولور او مخور پتنګان په کومو ناوړو عملونو او دندو اخته دي ؛ وهغو ته به د سليم مزاج انسان عقل حيران پاتې سي .
که دغه کسان په دنيا کي هغه عذابونه ويني کوم چي اوس الله تبارک وتعالی په قبرونو کي د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم او نور ګناهګاران په مبتلا کړي دي ؛ نو ډېر ژر به يې روحان (اروګان) وخيږي او مړه به سي ؛ ځکه دوی د داسي لوی ذات نافرماني کوي چي د دوی پيدا کوونکی او پالونکی دی ؛ نو دا کسان به بالکل دوږخ ته ځي چي د خپل پالونکي جل جلاله نافرماني کوي او په ډاګه يې پر بيابانو او دامانو کوي .

**مطلب دا دئ چي** : کوم ځوان د خپلي ځوانۍ ساتنه غواړي، يا يوه پېغله د خپلي پېغلتانه ساتنه غواړي، يا يو مسلمان په ناپوهي داسي بد کار کوي، يا يو د شيطان له پيروۍ او خپلي پوهۍ سره سره داسي بد کار کوي او غواړي چي په ټولنه کي نور ناخبره انسانان د ده له لاسه په دې بدي کي ونه لوېږي او غواړي چي له اوسنيو فتنو څخه خپل ځان وساتي ؛ نو د بد نظر، د لغړزنو له شوق، لواطت، زنا، موټ وهني، نشييزه توکو، شيرين بحشونو، حرام خوړلو او دا ډول له هري ګناه څخه دي پرهېز او اجتناب وکړي او اجتناب هغه مهال له ګناوو څخه کولای سي کله چي يې پېژندنه او بدوالی وګوري او په صحيح معنا ځان ورباندي پوه کړي .
او په دې کتاب کي الحمد لله د هغو ګناوو پېژندنه لوستونکی انسان ښه پوره کولای سي کومې چي اوس په ځينو ځوانانو کي څرګنده سوي دي، لکه : زنا، لواطت، موټ او داسي نور ګناهونه، بلکي د ټولو لوطي عملونو او تناسلي ګناوو پېژندنه پکي کولای سي إلّا ما شاء الله تعالیٰ .
او کله چي ګران لوستونکی د مذکوره ګناهونو او داسي نورو ګناوو پېژندنه تر ذهنه کړي ؛ نو بيا به په بشپړه ځني ژغورلی هم وي او دا د عربو مشهوره

حکیمانه وینا ده چي وايي : (إِنَّ مَعرِفَةُ الكَبَائِرِ أَوَّلُ طَرِيْقٍ لِتَجنُبِ الكَبَائِرِ)، بیشکه د غټو ګناهونو پېژندنه لومړنۍ هغه لاره ده چي انسان ځني په اجتناب کیږي ؛ نور بحث نه اوږدوم ! د هوښیار لپاره صرف اشاره هم کافي ده . وروسته به پر مقصداو موضوع پیل وکړم ! .

الله ربّ العالمین دي دا کتاب د هر لوستونکي لپاره د ګټې او نېکمرغۍ لامل وګرځوي، بیشکه دی خو پر دې قدرت لرونکی دی ؛آمین .

# لومړۍ برخه

## بد نظري څه ته وايئ؟

بد نظري عام لفظ دی، په اردو او فارسي کي يې هم دغه نوم دی چي انسان کشرانو (لغړزنو)، ښځو او نامحرمو شيانو ته ګوري په داسي نظر سره چي وده ته خوند ورکوي او شهوت يې راپيداره کوي.

په عربي کي (فُضُول النّظر)، په اردو کي هم (بد نظری) او په انګريزي کي (sight,faulty)، يعني: سيګټ فولټي ورته وايي.

**يادونه:** د بدنظرۍ په هکله مختلف حديثونه او قولونه بيان سوي دي تفصيل به يې که خدای کول په خپل ځای کي راسي او د نظر، يعني د کتلو بېلابېل ډولونه دي.

## د نظر څو ډولونه دي؟

نظر مُختلفو ډولو ته وېشل کيږي او هغه ټوله په لاندي ډول سره دي:

**أ.** لومړی بده کتنه ده: چي انسان وداسي شيانو ته ګوري چي الله تعالی او د هغه رسول ﷺ کتنه ورته ناروا کړې وي، لکه: لغړزني ته د شهوت په نظر سره کتل، نامحرمي ښځي ته د شهوت په نظر سره کتل، که څه هم هغه ښځه کوچنۍ، يا پېغله، يا سپين سرې وي؛ خو څه فرق نه لري په ګناه کي او لوڅ پوڅ تصويرونه، فحش روزنامې او ناکاره فلمونه کتل، د نارينه يا يو ښځينه يو اندام ته په شهوت سره کتل، د خلکو کورو ته کتل او خپل فرج ته بغېره عُذره کتل – ودې ټولو ته بدنظري وايي کومه چي غټه ګناه ده او په عربي ژبه کي ودې ډول نظر ته (فُضُول النّظر)، يا (سُوء النّظر) وايي. او د بدنظرۍ په اړوند

نور تفصيل او بيانونه راتلونکي دي چي الله ﷻ، د هغه رسول ﷺ او دوستانو څومره مُمانعت ځني کړی دی .

ب. دويم ډول نظر هغه دی : چي د انسان ناڅاپه نظر پر نامُحرمه شي ولوېږي، د بيلګي په توګه يو انسان په لاره کي را روان دی ؛ نو تر سترګو يې ناڅاپه لغړزنی، يا يوه نامُحرمه ښځه راسي ؛ په دې مهال کي که دغه انسان خپل شهوت نه کړي رابيداره او پروا نه په وکړي ؛ نو دی نه ګناهګاره کيږي او که يې شهوت رابيداره کړی، بيا خو ګناهګاره دی او دې ډول نظر ته (نظر الفُجأة) وايي.

ج. درېيم ډول نظر هغه دی : چي انسان وشيانو ته په اعتبار او تفکُر سره ګوري، د بيلګي په توګه انسان وآسمان ته په دې توګه ګوري : چي الله تعالی څنګه جوړ کړی دئ ؟! ستوري يې څنګه پيدا کړي دئ ؟! څنګه يې شين کړی دئ ؟! او داسي ډول نظر کول په بل شي کي ؛ نو په دې نظر کي ډيري ګټې دي او ثواب هم لري او دې ډول نظر ته (نظر الإعتبار) وايي .

د. څلورم ډول نظر هغه دی : چي انسان په زړه کي وشيانو ته ګوري او دا نظر په خپل مينځ کي دوه ډوله دی : (۱) يو وشيانو ته په اعتبار او فکر کولو سره کتل دي، د بيلګي په توګه : د الله تبارک وتعالی وعجايبو ته ګوري، د شيانو ورازونو ته ګوري، کيفياتو او صورتو ته يې ګوري . (۲) او بل په زړه کي وحرامو شيانو ته کتل دي، د بيلګي په توګه : کوم شی چي الله تبارک وتعالی حرام کړی وي په هغه کي فکر کول، د هغه اُميد او خواهش کول او هغه ته په شهوت سره کتل، لکه : يو انسان چي په زړه کي لغړزني، يا و نامُحرمي ښځي ته په شهوت سره ګوري، له هغه سره د بدکار کولو تمنا کوي، يو ځل يې په فکر کي پرېباسي، بل ځل يې لوڅ کړي ؛ دا ټوله د زړه بدنظري ده چي دا هم د ځينو عُلماؤ کرامو په نيز غټه ګناه ده.

همدا ډول نظر د شيطان لعين دوکې او وسوسې دي، صرف د سترګو بدنظري او د زړه د بدنظرۍ فرق دا دئ چي د سترګو بدنظري غټه ګناه ده او د زړه بدنظري کوچنۍ ګناه ده، که چيري په زړه کي د ناروا کار قصد ټينګ کړي ؛ نو بيا دا نظر

د زړه هم په غټه ګناه کي راځي او مُتقي، پرهېزګار او ښه مُسلمان انسان هغه دی چي د دواړو له بدنظرۍ ځخه ځان وساتي، که د زړه وي او که د سترګو او د زړه ونظر ته (نظر القلب) وايي.

۵. پينځم ډول نظر هغه دی : چي انسان يو شی ته په تعجُب (اريانتيا) سره وګوري، لکه په پښتو کي چي خلک سره وايي : (زما وشی ته په تعجب سره مه ګوره ! داسي نه وي چي راځخه نظريې کړې !) او کله چي انسان يو ښايسته شی ته وګوري، په داسي معنا چي په زړه کي يې دغه ښايست پر هغه شی نه وي پېرزو ؛ نو هغه شی نظر کيږي او نظر حق دی ؛ زموږ ستر پيغمبر ﷺ فرمايلي دي : (الْعَيْنُ حَقٌّ)[1]، يعني : نظر حق دی او په حديث کي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : (اَلْعَيْنُ تُدْخِلُ الرَّجُلَ الْقَبْرَ، وَالْجَمَلَ الْقِدْرَ) [2]، يعني : نظر سړی وقبر ته او اوښ وکټو ته ننباسي ؛ مطلب دا که يو انسان وبل انسان ته په حسد او اريانتيا سره وګوري چي هغه ښووالی يې نه وي وربانديي پېرزو ؛ نو نظر به سي او هغه به پسي مړ سي، همدا ډول که يو اوښ، يا داسي وبل څاروي ته په دې نظر د حسد وګوري ؛ نو راوا به وړي او مړ به سي او خلک به يې پسي حلال کړي ؛ نو په کټو کي به يې غوښې پخې کړي.
او په حسد سره يو شی ته کتل، خپل ښووالی نه وربانديي پېرزو کول او په قصده سره نظر کول غټه ګناه ده، لکه څرنګه چي يادونه مي يې د ګناوو په موسوعه کي کړې ده کومه چي (شِهاب القُلُوب فی ذمّ الذّنُوب) نوميږي.

و. شپږم ډول نظر هغه دی : چي انسان د څېړني او تحقيق لپاره په شيانو کي ګوري، لکه په خرڅولو او رانيولو او داسي نورو معاملاتو کي د ښه او بد د

---

[1] حديث امام بُخاري رحمه الله په خپل الجامع الصّحيح کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۵۴۰۸).
[2] حديث أبو نُعيم په الحِليه کي، خطيب بغدادي په تاريخ بغداد کي او أبو بکر شيرازي په الأمالي کي روايت کړی دی او د حديث سند (حسن) دی، لکه څرنګه چي علامه الباني په سلسلة الصّحيحة ۳ ټوک، ۳۲۳ مخ کي ويلي دي، حديث شمېره (۱۲۴۹).

تو پير لپاره يو انسان وګوري، بنه له بده جلا کړي، يا د کوزدې کولو لپاره يو ځوک ديو چا کره مرکه واستوي او نجلۍ وګوري چې ښه ده، که يا؟! او داسي نور؛ ودې ته (نظر التّحقيق) وايي.

ز. او اُووم ډول نظر د مُشاهدې (تنداري) دی، چې انسان يو کار، يا يو شی ته د مُشاهدې په نظر سره ګوري؛ ودې ته (نظر المُشاهدة) وايي.

او تر دې ځايه د نظر اړوند ټوله ډولونه او داسي پېژندنه يې پای ته ورسېده، بيا هم د ښه تفصيل لپاره زما يو بل کتاب (حُصُول الفِکر في ذمّ فُضُول النّظر) ته مراجعه وکړئ! وروسته به د بدنظرۍ بدوالی دقرآن او حديثو په رڼا کي بيان سي؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق.

## د بدنظرۍ د بدوالي په هکله آياتونه، حديثونه او ځه نور

## الله ﷻ د نظر ټيټ ساتلو امر کړی دی

د بدنظرۍ په هکله په ټول قرآن عظيم الشّان کي په ډاګه يو آيت نازل سوی دی او هغه دا دئ چې الله ﷻ فرمايي: ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ وَيَحْفَظُواْ فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ﴿٣٠﴾﴾[1].

**ژباړه:** ووايه (اې مُحمّده ﷺ!) مومنانو (او ټولو مسلمانانو) ته چې دوی نظرونه ټيټ کړي او خپلو شرمګاهو لره ساتنه وکړي، دا (نېک عمل، يعني: له بدنظرۍ ځخه ساتنه) دوی لره (د دې له ګناه او وبال ځخه) پاکي کوونکې ده؛ بېشکه الله (تعالی) د دوی (انسانانو ګناهګاران وي او که نه وي) په عملونو باندي (چې د دوی له نظر سره اړوند وي) ډېر ښه خبردار دی.

[1] د النّور سورت، ۳۰ آيت.

او همدا ډول الله ربّ العزت تر دې آيت مُبارک وروسته دستي په ښځو ته خِطاب کړی چي: نظرونه مو ټيټ وساتئ ! .

**مطلب** : دا چي انسان کله خپل نظر ټيټ ساتي ؛ نو هغه به له گناوو څخه محفوظ وي، په ځانگړې توگه له هغو گناوو څخه چي شهوت راپاروي، لکه : موټ وهنه، زنا، لواطت او داسي نور ؛ ځکه بدنظري لومړنۍ هغه لاره ده، لومړۍ هغه زينه ده او لومړی هغه لامل دی چي انسان دغو گناوو ته چمتو کوي، لکه څرنگه چي په دې معنا بيان راتلونکی دی .

**د مذکوره آيت په هکله د ځينو باطل استدلال** : ځيني ناپوهان لغړزنو، يا داسي نورو شيانو ته د کتلو د دليل لپاره دا وايي : چي په آيت کي په ډاگه دا نه دي ويل سوي : چي لغړزني ته کتل، يا داسي بل شی ته کتل په شهوت سره حرام دي ؛ نو موږ خودورته گورو ! دانو کوم دئ ؟! چي حراموالی پکي ښکاري ! يا داسي وينا کوي : چي موږ ورته گورو ؛ خو شهوت نه لرو ! که شهوت لرو ! هغه هم داسي کمزوری دی چي د بدنظرۍ پر مهال سم نه راپاريږي .

**ځواب** : د دوی دغه استدلال بې ځايه دی ؛ ځکه چي په شريعت مُطهره کي ډېر داسي شيان سته چي د هغه حراموالی که په قرآني دليل نه وي ثابت ؛ نو په حديثي دليل، يا اجماعي دليل او قياسي دليل ثابت سوی وي ؛ نو لغړزنو ته د کتلو د حراموالي دليل په حديثي دليل ثابت دی چي په څنگ کي يې د حراموالي پر بنا څو آثار او قولونه هم وارد سوي دي .
او دا خبره چي ځيني يې بهانه کوي : چي زه کوم لغړزني، يا ښځي ته گورم ! خو له بده مرغه شهوت نه لرم ! يا مي شهوت کمزوری دی ! دا هم بې ځايه ده ؛ ځکه کوم انسان ته چي يو شی خوند ورنه کړي او پر طبيعت يې ونه لگيږي ؛ نو هغه نه ورته گوري او شهوت وايي ودې خبري ته : چي انسان کله يو شی ته وگوري ؛ نو په زړه کي خوند ورکړي، تمنا يې پيدا سي چي ورسره يوځای

سي، خوا که څه هم له دې ارزو او تمنا سره انتشار د آلې (تناسلي اندام) وي او يا نه، څه فرق نه لري .

**د ځينو بل باطل استدلال** : ځيني تاويل کر او مرض مند انسانان بيا وايي او دا بهانې ورته لټوي : چې موږ ورته ګورو ! هغه خو ښايسته نه دي او نور خلګ هم په دې نه ورته ګوري چې بدرنګه دي .

**ځواب** : د دوی دغه استدلال هم بې ځايه دی ؛ ځکه ښايست په تور او سپين پوري تړوا نه لري، بلکې طبيعت ته کتل کيږي او دا مشهور مقوله هم ده چې ځيني پښتانه وايي : "خوب چې درسي بالښت نه غواړي ؛ زړه چې عاشق سي ښايست نه غواړي" . نو په تېره بهانه کي دا استدلال کول : چې ښايسته نه دی ؛ ځکه ورته ګورم ! دا باطل دی او دا صِرف د شيطان لعين دوکه او وسوسه ده .

**د سترګو د مثال په هکله مطلب** : او په دې پوهېدل په کار دي چې د سترګو مثال داسي دی که د الله ربّ العِزت له بيري څخه اوښکي ځني توی سي ؛ نو د دُوږخ اُورورباندي حرام دی، همدا ډول که يو ګړی د الله په لار کي بې خوبه سي ؛ نو د آخرت تکليفونه به ورباندي رانه سي او که د اسلام د معيار او تګلاري په خلاف کتل او نظر ورباندي وسي، يعني : لغړزني، يا نامحرمي ښځي، يا داسي بل شی ته د شهوت په نظر سره ورباندي وکتل سي او له شريعته مخالفي استعمال سي ؛ نو د زهرو لړلی غشی دی، بيا به په دنيا او آخرت کي له کتوونکي سره هغه معامله وسي کومه چې د شيطان له پېروانو سره کيږي ؛ مطلب مي دا دئ : چې هغه نور څلور اندامونه، لکه : لاس، پښه، غوږونه او ژبه دا هم دغسي کارول کېداى سي چې ښه او بد عواقب به پيدا کړي، يو نه په يو به برخمن سي .
تر دې ځايه د بدنظری بدوالی د يو صريح آيت په رڼا کي بيان سو چې ورسره څو مهمي خبري هم ذکر سوې، وروسته به د بدنظری بدوالی د حديثو په رڼا کي بيان سي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزمّة التّحقيق .

## بد نظري د شيطان لعين له غشو څخه يو غشی دی

(۱) عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ [سيّدنا] رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : (النَّظْرَةُ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيسَ مَسْمُومَةٌ، فَمَنْ تَرَكَهَا مِنْ خَوْفِ اللهِ ؛ أَثَابَهُ جَلَّ وَعَزَّ إِيمَانًا يَجِدُ حَلَاوَتَهُ فِي قَلْبِهِ)[1] .

**ژباړه** : له (حضرت) حُذیفه رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي : چي [زموږ سردار] رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : (بد) نظر د ابليس (لعين) له غشو څخه په زهرو لړلی غشی دی، که څوک دا د الله (تعالی) له ويري څخه پرېښوول ؛ نو دی بزرگ او عزتمند به داسي اطمنان په برخه ورکړي چي په زړه کي به يې خوند وڅکي .

**مطلب** : دا چي څوک بد نظر نه کوي، لغړزنو او داسي نامحرمو انسانانو ته په شهوت سره نه گوري ؛ نو هغه به د لومړي ځل ليپاره له تناسلي گناوو څخه په ساتنه کي وي او سره له دې چي دا بدنظري که دی د الله تعالی له ويري پرېږدي ؛ نو خوند به يې په زړه کي څکي او دی به يې په خوند پوهيږي او دا هم معلومه خبره ده څوک چي بدنظري نه کوي ؛ نو هغه به د شيطان لعين له دوکو او وسوسو څخه په امن وي لکه څرنگه چي په تجربه رسېدلې ده .

**علمي نکته** : بدنظري کول د شيطان لعين له غټو جالونو څخه يو پولادي جال دی کوم چي مسلمانان په ښکارولای سي او بدنظري کول د ابليس لعين يوه ناولې او مُهلکه لاره ده چي ځيني نارينه او ښځينه يې څه ناڅه په بدي پوهيږي، مگر د هوش او خوشالۍ په حالت کي يې بند دي او ځيني پر دې بنا روان دي

---

[1] حديث امام حاکم په المُستدرک ۴ توک، ۳۴۹ مخ کي روايت کړی دی او ويلي يې دي : چي سند يې (صحيح) دی او شيخينو نه دئ را ايستلی .

چې روا او ښه کار ورته معلومیږي او دا بهانې لټوي : چې موږ ښه نېکان او رهبران په دې لاره لیدلي دي ! .
او ډېر سخت افسوس پر داسې خلکو کوم ! چې دوی روا ته نارو وایي ؛ ځکه اسلام چې کله مکمل سو ؛ نو روا او ناروا یې ټوله ثابت کړل، اوس که یو انسان نېک او روا کار کوي ؛ نو هغه بد او ناروا نه سي ګرځېدلای، بلکې اوس به هم هغه حلال او روا وي او که بد او ناروا کار کوي ؛ نو هغه نېک او روا نه سي ګرځېدلای، بلکې اوس به هم هغه حرام او ناروا وي، مطلب دا چې موږ دا نه سو ویلای : چې فلانی مولوي صاحب، یا قاضي صاحب، یا مفتي صاحب، یا فلان صاحب لغړزنو ته ګوري، یا وفلاني حرام شی ته په شهوت سره ګوري، یعني : د بدنظرۍ کار کوي ؛ نو دا ښه کار کوي، بلکې موږ به دا وایو : چې ډېر بد کار کوي او په دې نکته پوهېدل په کار دي .

## هغه سترګه چې بدنظري نه کوي نو هغه به اُور نه مسح کوي

(۲) عَنْ أَبِي رَيْحَانَةَ ﷺ قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ : (حُرِمَتِ النَّارُ عَلَىٰ عَيْنٍ دَمَعَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ ؛ حُرِمَتِ النَّارُ عَلَىٰ عَيْنٍ سَهِرَتْ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَنَسِيتُ الثَّالِثَةَ. وَسَمِعْتُ بَعْدُ أَنَّهُ قَالَ : حُرِمَتِ النَّارُ عَلَىٰ عَيْنٍ غَضَّتْ عَنْ مَحَارِمِ اللهِ)[1] .

ژباړه : له (حضرت) أبي ریحانه ﷺ څخه روایت دی، وایي : چې موږ له رسول الله ﷺ سره په یوه غزا کې راووتو ؛ نو ما له هغه څخه داسې واورېدل چې فرمایل یې : پر دوږخ هغه سترګه حرامه سوې ده چې د الله (تعالی) له بیرې څخه وژاړي ؛ حرامه سوې ده پر اُور هغه سترګه چې دالله

[1] حدیث امام نسائي په خپل السنن الکبری کې روایت کړی دی، حدیث شمېره (۸۸۱۸) او سند یې (صحیح) دی .

(تعالی) په لاره کي روڼه سي او د زړه په پیمه مي هېره سوه او وروسته مي واورېده چي بېشکه فرمایل يې : حرامه سوې ده پر اُور هغه سترګه چي د الله (تعالی) له محرماتو څخه پټه سي [یعني: بدنظري نه کوي او د الله تعالی د رضا لپاره دا نېک عمل کوي آه !].

او دا ډېر لوی ثواب دی ؛ نو انسان باید د تل لپاره د داسي مبارک ثواب تږی وي !

.

## لغړزني ته په شهوت سره کتل منع دي

(۳) وَقَالَ العلَّامَة إبْن الجَوزِيّ بِسَنِدِهِ عَنِ الشَّعَبِيِّ رَحِمَهُ اللهُ أنَّهُ قال : لَمَّا قَدِمَ وَفْدُ عَبْدُ الْقَيْسِ عَلىٰ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وفِيْهِمْ غُلَامٌ أَمْرَدُ ظَاهِرُ الْوضَاءَةِ ؛ فَأَجْلَسَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَ ظَهْرِهِ. وَقَالَ : (كَانَتْ خَطِيْئَةُ دَاوُدَ النَّظَرَ)[1] .

ژباړه : او (حضرت) علامه ابن جوزي په خپل سند سره له (حضرت) شعبي رَحِمَهُ اللهُ څخه نقل کړي دي، وايي : بېشکه چي ده وفرمایل : کله چي د عبد القیس ډله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مخامخ سوله او په دوی کي یو سپین ښایسته لغړزنی وو ؛ نو نبي (کریم) صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه شا ته کښېنوی او دا يې وفرمایل : چي د (حضرت) داوُد (عَلَيْهِ السَّلَامُ) خطا هم له کتلو څخه وه .

(۴) وَقَالَ أَيْضًا بِسَنِدِهِ عَنِ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أنَّهُ قال : (نَهَىٰ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُحِدَّ الرَّجُلُ النَّظَرَ إِلَى الْغُلَامِ الأَمْرَدِ)[2] .

ژباړه : او داغه ډول (حضرت ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ) په خپل سند سره له (حضرت) أبي هُریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه نقل کړي، بېشکه چي ده وفرمایل : رسول الله

---

[1] دا قول هم ابن الجوزي په ذمّ الهوی کي روایت کړی دی، ۹۶ مخ .

[2] تېره حواله .

ﷺ منع کړې ده چې سړی دې ولغړزني ته په تېزۍ (شوق او شهوت) سره ګوري.

**یادونه :** دا ډول څو داسې وېناوې د امت له شیخانو څخه نقل سوي دي چې لغړزني ته کتل مطلقا مکروه عمل دی او دا یاد ساتئ ! چې په شهوت سره کتل ورته حرام دي او که کتل د عبرت او د دې لپاره وي چې دا څنګه الله ﷻ ښایسته کړئ او جوړ کړی دئ ؟! او د الله ﷻ په قدرت کې خپل فکر وهي او د شهوت خطره نه وي ورسره ؛ نو بیا پرواه نه لري، بلکې ثواب لري او که لږ څه د شهوت خبره پکې راسې، که څه هم د یوې ذرې برابر وي ؛ نو بیا ورته کتل نه دي ښه او د شیخانو هغه وېناوې هم د تېرو وېناوو په ډول دي آه ! .

## بدنظري ګول د زنا کولو په شان دي

(٥) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ. قَالَ : أَنَّ النَّبِيّ ﷺ قال : (إِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَىٰ إِبْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا أَدْرَكَ ذَٰلِكَ. لاَ مَحَالَةَ ؛ فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ. وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ. وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِيْ. وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَٰلِكَ وَيُكَذِّبُهُ)[1] .

**ژباړه :** له (حضرت) أبي هُریره ﷺ څخه روایت دی، وایي : چې نبي (کریم) ﷺ وفرمایل : بېشکه الله (ﷻ) پر زوی د آدم (چې مراد ځني ټول بني آدمان دي) د هغه حصه له زنا څخه لیکلې ده، هغه به دی کوي خامخا ؛ نو د سترګو زنا (بد) نظر دی او د ژبې زنا وینا ده او نفس یې تمنا کوي او خواهش یې کوي او عورت یې ریښتیا ګوییې کوي د هغه او دروا‌غجنوي یې .

**د حدیث لنډ مطلب او مقصد دا دئ :** چې کله یو انسان بدنظري وکړي، یعني : په شهوت سره ولغړزني، یا نامحرمې ښځې ته وګوري ؛ نو کیسه دې ته

[1] حدیث مُتفق علیه دی، یعني : امام بخاري او امام مسلم دواړو راوړی او پر صحت یې اتفاق کړی دی .

ورسیږي چي خبري ورسره شروع کړي یا په موبایل او یا مخامخ، بیا د زړه دا اراده پخه سي چي بد کار ورسره وکړم ! تر دې چي عورت یې بدکار ترسره کړي او خپل ځان دغسي مختلفو ګناوو ته چمتو کړي ؛ ځکه ده خو د لومړي ځل لپاره له بدنظرۍ څخه ځان نه وو ژغورلی او په دې هکله یو شاعر ښومره ښه ویلي دي:

این همه آفت که به تن می رسد *** از نظر توبه شکن می رسد

دیده فرد پوش چو دره در صدف ***تا نشوی تیر بلارا هدف

یعني : دا ټوله آفتونه (ګناوي) چي انسان ته رسیږي، دا د بدنظرۍ له امله رسیږي، ته پر سترګو داسي پرده واچوه ! لکه په صدف کي چي ملغلره پټه وي ؛ ځکه چي بلاوي تا هدف ونه ګرځوي [یعني : ښکار دي نه کړي آه !].
الهي ! د بدنظرۍ له فتنې څخه مي ستا په فضل وژغورې آمین .

## د شپږو شیانو پر ساتنه د جنت ضمانت

(٦) عَنْ أَبِي أُمامة رضي الله عنه، قَالَ : سَمِعْتُ رسُول الله صلى الله عليه وسلم يقول : (اُكْفُلُوْا لِيْ بِسِتّ. أَكْفُلُ لَكُمُ الْجَنَّةَ ! : إِذَا حَدَثَ أَحَدُكُمْ ؛ فَلَا يَكْذِبْ. وَإِذَا أُتُتِمِنَ ؛ فَلَا يَخُنْ، وَإِذَا.وَعَدَ ؛ فَلَا يَخْلِفْ، وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ. وَ كُفُّوْا أَيْدِيَكُمْ. وَ احْفَظُوْا فُرُوْجَكُمْ)[١] .

ژباړه : له (حضرت) أبي أمامه رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي : ما له رسول الله

[١] حدیث امام بغوي په معجم الصّحابة کي او طبراني په المعجم الکبیر کي روایت کړی دی او (حسن) دی لکه څرنګه چي علامه الباني رحمه الله په صحیح الجامع الصّغیر کي ویلي دي، حدیث شمېره (٢١٠٥).

ﷺ شخه واورېدله چي فرمايلي يې : تاسي وما ته د شپږو شيانو ضمانت راکړی، زه به تاسو ته د جنت ضمانت درکړم ! : (۱) کوم يو چي ستاسو خبري کوي ؛ نو درواغ دي نه پکي وايي، (۲) او که امانت [د يو چا] ورسره کښېښوول سي ؛ نو خيانت دي نه پکي کوي (۳) او که يو [څوک] وعده ورسره وکړي ؛ نو مخالفت دي نه پکي کوي، (۴) تاسي خپل نظرونه ټيټ کړئ ! [يعني: بدنظري مه کوئ !]. (۵) او لاسونه [له غلا، موټ وهني او نورو ناروا کارونو څخه] وساتئ ! (۶) او خپل فرجونه ( له زنا، لواطت او داسي نورو تناسلي ګناوو څخه ) وساتئ !.

**څه تشريح** : په حديث کي چي د درواغو يادونه سوې ده ؛ نو له دې څخه په ځينو ځايو کي درواغ ويل مستثنی (را جلا) دي، لکه : د صلحي لپاره، مېړه يا مايني ته د خوشالۍ لپاره، په جنګ کي د دښمن خطا ايستلو لپاره او د دې لپاره درواغ ويل چي يو مسلمان له قتل او ضرره وساتل سي ؛ په دې ټولو صورتو کي درواغ ويل روا دي، لکه څرنګه چي ما د دې ښه پوره تفصيل په خپلي يوې رساله (حُصُول الفِكر في ذمّ فُضُول النّظر) کي کړی دی .

**دويم** : په حديث کي د امانت يادونه سوې ده، چي څوک يې مسلمان ته وساتي؛ نو ښه کار دی او په دې امانت کي دوې مهمي خبري دي : يوه دا چي څوک يو چا ته امانت کښېښږدي، خال دا چي هغه ورک سو، يا نادر که سو ؛ نو په دې لړ کي دي هغه امانت د هغه واهل او قريبانو ته وسپاري، که ممکنه نه وي ؛ نو دي يې د هغه پر نامه خيرات کړي ؛ ځکه غاړې يې نه بنديږي، بلکې ثواب هم لري او بله خبره د امانت په هکله دا ده : که امانت د هر چا وي ؛ نو دی به يې ساتي، خوا که څه هم هغه کافر وي ؛ خو فرق نه لري، هو ! که کافر داسي امانت ايښی وي چي هغه د ده لپاره ضرر رسوي او يا ومسلمانانو ته ضرر رسوي ؛ نو بيا دي يې نه ساتي .

**دریيم :** په حدیث کې د وعدې یادونه سوې ده، وعده پوره کول د ایمان نښه ده او په دې کې هغه وعده مراد ده چې انسان يې په شرعي کار کې له یو چا سره وکړي، نه دا چې په یوه ګناه کې يې له یو چا سره وکړي، لکه یو چا ته ووايي : زه ستا سره زنا، یا غلا او یا داسې بل ناروا کار کوم ! ځکه د داسې وعدې پوره کول ګناه ده، که يې کړې وي ؛ نو ما ته دې يې کړي ؛ څه غاړې يې نه په بندیږي .

**څلورم :** په حدیث کې د نظر یادونه سوې ده، چې نظر ټيټ وساتئ ! او دا جمله په ټول حدیث کې مقصود ده او مطلبي ده او په دې څلورم عمل کې دې خبرو ته اشاره ده چې تاسې خپل نظر له بیګانه ښځو، لغړزنو، عورت او داسې له هر هغه شخه ټيټ کړئ ! چې هغه د شهوت او فتنې لامل جوړیږي .

**پینځم :** په حدیث کې د لاسو یادونه سوې ده، چې څوک يې له ناروا کارو څخه راوګرځوي ؛ نو هغه به له ډېر ګناوو څخه ژغورلی وي، لکه : غلا، په ناحقه د یو چا مال خوړل، موټ وهنه، زنا او داسې هغه ګناوې چې له لاس سره اړوند وي .

**او شپږم :** په حدیث کې د عورت یادونه سوې ده، چې څوک يې ساتنه وکړي ؛ نو هغه به له هغو ټولو ګناوو څخه ژغورلی وي چې له عورت سره اړوند وي، لکه : موټ وهنه، زنا، لواطت، له ښځاروي سره لواطت، له یو عام ژوي (حیوان) سره بدکاري، پر مرغه شهوت سړول، په کمپیوټر، انټرنېټ، موبایل او داسې نورو آلو کې د لوڅو تصویرونو (انځورونو) او سکسي فلمونو په لیدلو د شهوت سړول او داسې نور .

**مطلب :** که څوک د دغو شپږو کارونو اهتمام وکړي او په صحیح معنا يې لحاظ وساتي ؛ نو هغه به حتمي جنت ته ځي او دا شپږ سره کارونه د ژوند مختلف کارونه او مهم اړخونه د ښو اعمالو یوځای کوي، که يې څوک لحاظ ساتي ؛ نو ژوند به يې روښانه وي او په خوند به يې پوهیږي .

## پر بد نظري کوونکي د الله ﷻ لعنت دی

(٧) عَنْ عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : (لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ)[1].

**ژباړه :** له عمرو څخه چي د مُطلب بادار وو روایت دی، وایي : چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل : الله (تبارک وتعالی) لعنت کړی دی پر هغه چا چي (په بده کتنه او نظر) ګوري، یا ورته کتل کیږي .

**مطلب :** دا چي بدنظري کوي، یعني : ولغړزنو، نامحرمو ښځو، لوڅو انځورونو او داسي ناروا شیانو ته ګوري، خپل قیمتي شهوت وربانديٍ سړوي او پروا د دي نظر نه کوي، له خپله ربه بخښنه نه وربانديٍ غواړي ؛ نو پر ده او هغه دواړو د الله تعالی لعنت اوري، لعنت معنا دا چي د الله ربّ العزت له رحمته لیری وي او عذاب یې ورته متوجه وي آه ! .

او بل غټ مطلب د دي حدیث شریف دا دئ چي مسلمان باید خپل ځان له هغو ټولو عملونو وژغوري کوم چي حضرت محمّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې پر کولو لعنت ویلی دی ! .

**یادونه :** تر دې ځایه دبدنظرۍ په هکله مهم حدیثونه پای ته ورسېدله، وروسته به د بدنظرۍ بدوالی د آثارو او اقوالو په رڼا کي بیان سي ؛ بالله التّوفیق، وبیده أزمّة التّحقیق .

## د بدنظرۍ په هکله د حضرت داوُد عَلَيْهِ السَّلَامُ وینا

(٨) حضرت داوُد عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایلي دي : ( اې پرهېزګارو انسانانو ! راسئ چي

---

[1] حدیث امام بیهقي په السّنن الکُبری کي روایت کړی دی، حدیث شمېره (١٣٩٥٠) .
او حدیث (مُرسل) دی .

له الله تعالی څخه د بیرې طریقه دروزده کړم، خبردار ! هر هغه بنده چې خوښه ګڼي : زه ژوندی سم او په خپل ژوند کې نېک عملونه وکړم؛ نو هغه دې خپلې سترګې له حرامو څخه وژغورې او خپله ژبه دې له درواغو څخه وژغورې، بېشکه د الله تعالی رحمت پر صادقانو دی او دی یې [په وخت د غمونو کې] د آوازو اورېدونکی دی)[1].

## د بدنظرۍ په هکله د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَام وینا

(۹) حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَام فرمایلي دي : (له بدنظرۍ یې ځانونه وساتئ ! ځکه دا په زړه کې [د ګناه] شهوت کري او دا په اعتبار سره وبدنظري کوونکي ته پوره ګناه او فتنه ده)[2].

## د بدنظرۍ په هکله د حضرت سرّي سقطي رَحِمَهُ الله وینا

(۱۰) حضرت سرّي سقطي رَحِمَهُ الله وايي : ما له معروف کُرخي څخه اورېدلي دي چې ده به ویل: (تاسي خپلې سترګې له حرامو څخه راوګرځوئ ! که څه هم له مېږي څخه وي)، یعني د شهوت په نظر ومېږي ته هم مه ګورئ ! .

## له بدنظرۍ څخه د ځینو بزرګانو تقوی

(۱۱) حضرت داوُد طائي رَحِمَهُ الله ویلي دي : (ما ته دا خبره رسېدلې ده چې امام مُجاهد رَحِمَهُ الله په خپل کور کې یوه بالاخانه درلوده؛ مګر ده رَحِمَهُ الله په دېرش کاله کې د بدنظرۍ له بیرې څخه د لوړې بالاخانې له دربچې څخه [بې ګانه کورو

[1] دغه اثر امام ابن جوزي په خپل سند سره په ذمّ الهوی ۸۱ مخ کې روایت کړی دی.
[2] دغه اثر امام حقي په خپل تفسیر روح البیان ۶ توک، ۱۸۴ مخ کې نقل کړی دی.

او ښځو ته] کتلي نه دي) [1].

مطلب : دا چې کله به امام مُجاهد بالاخانې ته وختی ؛ نو هلته به تر ډېواله شاوخوا، یا له دربچې څخه څه شیان معلومېدل ؛ مګر امام مُجاهد له ډېرې تقوی څخه شاوخوا نه کتل سره له دې چې ده رَحِمَهُ الله ډېرش کاله پکې ووسېدی چې هلته به یې مطالعه کوله او تلاوت به یې کاوه .

(۱۲) حضرت داوُد بن عبد الله رَحِمَهُ الله له ډېرې پرهېزګارۍ یې یوې شناخته ښځې ړوند وباله او حال دا چې هغه ړوند نه وو .

یادونه : په دې خبره کې د پرهېزګارۍ وښووالي ته اشاره ده چې پرهېزګاري کول د ښېګڼو سرچینه ده آه ! .

(۱۳) حضرت ابو عبد الله حسّان رَحِمَهُ الله په عیدګاه کې د بدنظرۍ له بیرې څخه یوې ښځې ته هم نه وکتل، ځا چې به پوښتنه ځني وکړه : ایا تا په عیدګاه کې یوه ښځه په لمانځه کې ولیده، که یا ؟! نو ده به ورته وویل : نه ! ما یوه ښځه هم نه ده لیدلې .

(۱۴) حضرت ابن أبي سنان رَحِمَهُ الله یوه ورځ د عیدګاه ولمانځه ته ووت، کله چې فارغ سو او کور ته راغلی ؛ نو میرمنې یې ورته وویل : چې تا به نن څومره ښځې په عیدګاه کې لیدلې وئ ؟! هغه ورته وفرمایل : های افسوسه ! زه چې کله له کوره ووتم ؛ نو صرف خپلې بتې ګوتې ته مې وکتل او له هغه مهاله مې هیڅ شي ته هم نه دي کتلَي ! تر څو چې زه واپس کور ته راتلم ! .

(۱۵) حضرت ابن جوزي رَحِمَهُ الله فرمایلي دي : (ډېر عابدان او بزرګان د بدنظرۍ په وجه له الهي رحمته محرومه سوي دي او د عُبُودیت له دېوانه [دفتره]

---

[1] د تېرې وینا ماخذ د ذمّ الهوی کتاب ۸۲ مخ دی او د دې ده ۸۳ مخ دی .

په ایستل سوي دي ؛ دا هم له دې وجې چې دوی لومړی بده کتنه پیل کړه ؛ مګر پر هغې سربېره یې بیا هم بده کتنه کول چې آخر د عُبودیت له دېوانه وایستل سول او دوی که پر اولي پلا بدي کتني صبر کړی وای ؛ نو پاته عُمر به یې سالم سوی وای، های افسوس، افسوس د دوی پر حال او عمل !!) [۱].

څه تشریح : دا خبره یقیني ده چې پخوا هم ډېر عبادتګاران د بدنظری له امله له الهي رحمته وترټل سول او دعُبودیت له دېوانه په وایستل سول، خاص نن بیا زموږ په زمانه کي د دې خبري ډېر ښه مصداق ښکاره سوی دی چې ورځ په ورځ ښه طالب علمان، پوهان، ځوانان او پیغلاني د بدنظری له امله د الله ﷻ د رحمت له مختلفو ښېګڼو څخه محرومه کیږي او د عُبودیت، طالب علمیت، پوهاوی او ښووالی له دفتره د دوی ښه نومونه محوه کیږي چې په آینده کي یې وګړي په عابد، طالب، پوه او ښه نه نوموي ؛ دا زما په سترګو لیدلی حال دی ! فإلى الله المُشتکیٰ.

تر دغه ځایه د بدنظری په هکله په زړه پوري قولونه پای ته ورسېدل، وروسته به هغه قولونه ذکر سي چې تر بدنظری خو تعلُق لري ؛ مګر له هغې سره سره د لغړزنو د شوق تر مَذمت هم تړوا لري.

## له بدنظری څخه د پرهېز په هکله د امام أبو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ تقوی

(۱۶) وفي حِكَايَةٍ أنّ (أَبَا حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ إِذَا كَانَ جَلَسَ غُلَامٌ فِيْ دَرْسِهِ كَانَ يَأْمُرُهُ بِالْجُلُوْسِ مِن خَلْفِهِ) [۲].

---

[۱] دا قولونه ټوله د ابن جوزي له کتاب ذمّ الهوی څخه راخیستل سوي دي، وګوره ! ۸۲ او ۸۳ مخونه.

[۲] تېره حواله.

(١٧) وأيضًا أَنَّ (الإِمَام أحمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ إِذَا جَلَسَ فِيْ دَرْسِهِ غُلَامٌ أَمْرَدٌ كَانَ يَأْمُرُهُ بِالْجُلُوْسِ مِن خَلْفِهِ)[1].

**خُلاصه :** د دواړو وېناوو.دا ده چې کله د دوو امامانو، يعني: امام أبو حنيفه او امام أحمد بن حنبل رَحِمَهُمَا اللهُ عَلَيْهِمَا په درسونو کې يو لغړزنی د زده کړې لپاره کښېنستی ؛ نو دا امر به يې ورته وکړی چې مخ ته مو مه کښېنه ! بلکې شا ته کښېنه ! .

ځکه يې دا امر ورته کاوه چې دوی ډېر پرهېزګاران ول او دا بې ويل : چې دا موږ په فتنه کې اچوي او داسې د اُمت زياتره پرهېزګاران او مشايخ [يعني: سپين ږيري عُلماء] په درسونو، مجلسونو او داسې نورو لارو چارو کې د لغَړزنو له کتنې، ولاړې، ناستې او شناخته پرهېز کاوه او ځانونه به يې په بشپړه ځني ساتل .

نو بايد چې موږ هم د دوی پر نقش قدم روان سو او د دوی دغه مُبارک خويونه خپل کړو ! او ښه عمل وربانديې وکړو ! .

**څه هم زموږ د إمام صاحب په اړه :** د امام أبو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په مناقبو [يعني: صفتونو او د ژوند په حالاتو] کې راځي ؛ کله چې امام محمد چې د حسن صاحب زوی وو پر ده سبق شروع کړی ؛ نو دغه وخت امام محمد صاحب کشر او لغړزنی وو او امام صاحب د مسجد، يا د مدرسې په هال کې درس کاوه ؛ نو امام محمد صاحب يې دغه مهال پر دې امر کړی چې زما له پيلر څخه وشا ته کښېنه ! او امام صاحب تر هغو امام محمد صاحب سم نه وليدی تر څو يوه ورځ داسې پېښه سوه چې امام صاحب په پيتاوي [يعني : د ژمي په لمر] کې ناست وو او د امام محمد د ږيري سايه يې تر سترګو سوه ؛ نو له دغې ورځې يې کتنه ورته شروع کړه .

---

[1] ذمّ الهوى ١٠٠ مخ .

دا زموږ د امام أبو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ امام الأئمة له شاګردانو سره د چال او چلند په هکله دومر تقوى وه ! او دومره پرهېز يې وو ! بايد چې موږ ټول مسلمانان د ده مُبارک خويونه خپل کړو ! او په عمل کې يې راولو ! .

## لغړزنو ته په شهوت سره کتل، يعني : بدنظري کول حرام دي

(۱۸) وَفِي خَمْسَةِ أَقْوالٍ أَلْفَاظُهَا مُتَرادِفَةٌ : (أَنَّ النَّظَرَ إِلَى الْمُرْدَانِ حَرَامٌ)[۱] .

ژباړه : او په پينځو قولونو کې (د بزرګانو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم) چې الفاظ يې سره مختلف دي او معناوي يې يوه ده (نقل سوي دي) : چې لغړزنو ته (په شهوت سره) کتل حرام دي .

## لغړزنو ته کتل د ابليس لعين له غټوجالونو څخه دي

(۱۹) وَمِن مَفهُوم مَاقَالَهُ ابنُ الْجَوزِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : (النَّظَرُ إِلَى الْمُرْدَانِ وَصُحْبَتُهُمْ مِنْ أَقْوَىٰ حَبَائِلِ الإِبْلِيْسِ وَجُنُوْدِهِ الَّتِيْ يَصِيدُ بِهَا الشَّبَابُ)[۲] .

ژباړه : د (حضرت) ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ له وينا څخه په پام کې دا نيول کېږي : چې لغړزنو ته کتل او شناخت ورسره کول د ابليس (لعين) او د ده د لښکر له زورورو جالونو څخه يو جال دی چې ځوانان په ښکاروي . (يعني : لغړزني هلکوان د ابليس لعين هغه جالونه دي چې ځوانان ډېر ژر په ښکارولای سي او خطا ايستلای سي) .

---

[۱] ذمّ الهوى ۹۷ او ۹۸ مخونه .

[۲] د ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ الفاظ داسي دي : (وصُحبة الأحداث أقوى حبائل إبليس الّتي يصيد بها الصّوفية) . په دې کي يې پر صوفيانو نيوکه کړې ده چې ابليس لعين صوفيان په لغړزنو کتلو سره ښکاروي ؛ مګر اصلي خبره دا ده : چې ځوانان په ښکاروي، هوا زه منم چې له صوفيانو څخه هغه صوفيان مراد دي چې هغه د شريعت محمدي پر طريقې برابر نه وي ؛ نو ابليس يې د لغړزنو په کتلو سره خطا باسي. وګوره ! تلبيس إبليس د ابن جوزي ۲۸۸ مخ .

**څه تشریح :** مخکې هم دې خبرې ته اشاره وسوه چې لغړزنو ته کتل د ابلیس لعین پولادي جال دی چې څوک پکې راګیر کړي ؛ نو هغه ځان ته د عاشق او مُحب نوم ورکوي، شپه او ورځ یې پر ځان یوه کړې وي، کار او روزګار یې ټوله پرې ایښی وي، ذکر او فکر یې بنایسته مخي کښراݩ وي، شرم او حیا ځني ولاړه سي او بیا هم د دې مجازي عشق لپاره دا دلیل ثابتوي، چې وایي : زه خو له یو معلوم کښر سره علاقه لرم ! او نور په چا باندي کار نه لرم ! خو که هغه کښر او لغړزنی د ده پر دغه لاره ولاړ نه سي، بیا نو خوابدی وي، سترګي یې سرې سي او شونډې یې وچې سي، خپل ښه نوم په مجنون بدل کړي د دې لپاره چې دا لغړزنی ځان ته راجلب کړي، که بیا هم هغه لغړزنی د ده پر رضا د الله تعالی له بیري او د خپل وجدان او غیرت په وجه ولاړ نه سي او د ده وناوړي کار ته تیار نه سي ؛ نو بیا دی دَر په دَر ګرځي او واسطې پیدا کوي تر څو د هغوی په مرسته دې لغړزني ته قناعت ورکړي چې دا سړی خو عاشق دی، مظلوم دی او ته پر ګران یې، ستا سره په اخلاص مینه کوي او ته خو ورباندي ظالم یې ! چې شناخت نه ورسره کوې ! البته خبره هلته رسوا سي چې د دې لغړزني او کښر معشوق کله بېره راسي، بیا لکه د کاغي مُرغانو په مینځ کي چې یو څوک ټک وکړي ؛ نو دی یوائځي په میدان کي مړزګه پاتی سي، نور بیان نه اُوږدوم ! د هوښیار لپاره صرف اشاره هم کافي ده .

**یو بل ابلیسي جال :** ځیني مجازي عاشقان کوم چې د خاله، یا د آکا، یا د ماما، یا هسي د بل پر زوی یا لُور مین وي دا دعوا کوي : چې موږ د خالا، یا د آکا، یا د ماما له زوی، یا لُور سره په دې وجه عشق کوُو ! چې دا موږ د الله تعالی وعشق ته وصل کوي ؛ نو افسوس ! پر دغسي خبرې، رښتیا چې وایي : د ناپوه پوهه کوتاه وي .

دا خبره بې ځایه ده او په حقیقت کي د ابلیس لعین له پولادي جالونو څخه یو جال دی، هسي دا یو بهانه لټول دي د خپلي باطلي مدعا لپاره، دا او دې ته ور ته

خبري دي انسان هيڅ کله پر غوړ نه نيسي آه ! الهي ستا په خاص او خالص فضل مو د ابليس له جالونو څخه وژغورې ؛ آمين .

## لغړزنو ته کتل او شناخت ورسره کول د قرآن شريف د هيرېدو او له بام څخه د ځان رالوېدو لامل جوړېږي

(٢٠) وَفِي سَبعَةِ حِكَايَاتٍ مُختَلِفَةٍ : (أَنَّ بَعْضَ الصَّالِحِيْنَ قَدْ عَاقَبَهُمُ اللهُ تَعَالَىٰ بِنَسْيِ الْـقُرآنِ، وَإِلقَاءِ أَنفُسِهِم مِنَ السُّقُفِ وَغَيْرِ ذَٰلِكَ بِالنَّظَرِ إِلَى الْمُرْدَانِ وَصُحْبَتِهِمْ)[1] .

---

[1] يادونه : له (سبعة حكايات) څخه مراد اووه کيسې دي او هغه کيسې ابن الجوزي رحمه الله عليه په خپل کتاب ذمّ الهوى کې په خپل سند نسره ذِکر کړې دي او ټولې په عربي متن کې په راتلونکي ډول سره دي:

قال إبن الجوزي رحمه الله عليه : أخبرنا محمد بن عبد الباقي، قال: أنبأنا محمد بن أحمد الحداد، قال : أنبأنا أبو نعيم أحمد بن عبد الله، قال : حدثنا أبو بكر بن مالک، قال : حدثنا عبد الله بن أحمد بن حنبل، قال : حدثني أبو معمر، قال : حدثنا أبو معاوية الضرير، عن أبي سنان، عن عَمرو بن مرة، قال :

نظرتُ إلى امرأة فأعجبتني ، فكفّ بصري ؛ فأرجو أن يكون ذلک جزائي .

أخبرنا عمر بن ظفر، قال : أنبأنا جعفر بن أحمد، قال : أنبأنا عبد العزيز بن علي، قال : أنبأنا علي بن عبد الله الصّوفي، قال : حدثنا محمد بن الحسن بن الجلندي المقري، قال : سمعت أبا عبد الله بن الجلاء، يقول: كُنْتُ واقِفًا أنظر إلى غلامٍ نصراني حسن الوجه ؛ فمرّ بي أبو عبد الله البُلخي، فقال : إيش وقوفک ؟ فقلت : يا عمّ! ما ترى هذه الصّورة تعذب بالنّار ؛ فضرب بيده بين كتفي، وقال: لتجدِنّ غِبّها ولو بعد حينٍ!.

قال إبن الجلاء : فوجَدْتُ غِبّها بعد أربعين سَنة أُنسيت القرآن ! .

أخبرنا عبد الرّحمن بن محمد القزاز، قال : أنبأنا أحمد بن علي بن ثابت، قال : كتب إليّ أبو حاتم أحمد بن الحسن الرّازي يذكر أنه سمع محمد بن أحمد بن عبد الوهاب الحافظ، يقول : قال أبو سعيد أحمد بن محمد الصّوفي : قال : حدثنا عبد الرحمن بن أحمد بن عيسى، عن أبي الأديان، قال : كنتُ مع أستاذي أبي بكر الدقاق ؛ فمرّ حدث فنظرتُ إليه، فرآني أستاذي، وأنا أنظر إليه ؛ فقال : يا بُنيّ ! لتجدِنّ غِبّها، ولو بعد حينٍ ؛ فبقيت عشرين سَنة، وأنا أراعي فما أجد ذلک الغبّ ؛ فنِمتُ ليلةً وأنا متفكّر فيه، فأصبحت وقد نسيت القُرآن كُلّه .

أخبرنا أبو بكر الصّوفي، قال : أنبأنا أبو سعيد الحيرى، قال : أنبأنا أبو عبد الله الشّيرازي، قال : أخبرني أبو عبد الله الشّيرازي، قال : أخبرني أبو يعقوب النهرجوري، قال : رأيتُ في الطّواف رجُلاً بفرد عينٍ، وهو

يقول : في طوافه أعُوذُ بِكَ مِنْكَ ! فقلت له : ما هذا الدّعاء ؟ فقال : إني مجاور منذ خمسين سَنَة ؛ فنظرت إلى شخصٍ يومًا فاستحسنته, فإذا بلطمةٍ وقعت على عيني ! فسالتْ عيني على خدّي ؛ فقلت : آه ! فوقعت أخرى, وقائل يقول : لو زِدْت لزدناک ! .

أخبرنا عبد الرحمن بن محمد, قال : أنبأنا أبو بكر الخطيب, قال : حدثني محمد بن أبي الحسن السّاحلي, قال : أنبأنا عمار بن عبد الله الصّوفي, قال : سمعت محمد بن حماد الرّحبي, يقول : سمعت أبا عمرو بن علوان, يقول : خرجت يوما إلى سوق الرّحبة في حاجةٍ, فرأيتُ جنازة فتبعتها لأصلّي عليها, ووقفت في جُملة النّاس حتّى يدفن الميت ؛ فوقعت عيني على امرأة مسفرة مِن غير تعمد, فلححت بالنّظر واسترجعت, واستغفرت الله وعدت إلى منزلي ؛ فقالت لي عجوز : يا سيدي ! مالي أرى وجهک أسود؟ فأخذتُ المرآة فنظرت ؛ فإذا وجهي أسود, فرجعت إلى سرّي أنظر مِن أين دهيت ؟! فتذكرت النّظرة, فانفردت في موضع أستغفر الله, واسأله الإقالة أربعين يومًا ؛ فخطر في قلبي أن زر شيخک الجنيد ! فانحدرت إلى بغداد ؛ فلما جئت الحجرة الّتي هو فيها ! طرقتُ الباب, فقال لي : أدخل يا أبا عمرو ! تذنب بالرّحبة, وتستغفر ربّک ببغداد ! .

أخبرنا أبو بكر بن حبيب الصّوفي, قال : أنبأنا أبو سعد بن أبي صادق الحيري, قال : أنبأنا أبو عبد الله الشّيرازي, قال : أنبأنا محمد بن أحمد النجار, قال : أخبرني أبو بكر الكِتّاني, قال : رأيتُ بعض أصحابنا في المنام, فقلت : ما فعل الله بک ؟ قال : عرض عليّ سيئاتي, وقال : فعلتَ كذا وكذا, فقلت : نعم ! قال : وفعلتَ كذا وكذا, فقلت : نعم ! ثم قال : فعلت كذا وكذا, فاستحييت أن اقرأ, فقال : غفرت لک بما أقررت ؛ فكيف بما إستحييت ؟! فقلت له : ما كان ذلک الذّنب ؟ فقال : مرّ بي غلام أمرد حسن الوجه ؛ فنظرتُ إلبه .

وقد رُوى نحو هذه الحكاية عن أبي عبد الله الزراد أنه رُئي في المنام, فقيل له : ما فعل الله بک ؟ قال : غفر لي كُلّ ذَنْبٍ أقررت به في الدّنيا إلا واحداً إستحييت أن أقرّ به ؛ فوقفني في العرق حتّى سقط لحم وجهي, فقيل له : ما الذّنب ؟ قال : نظرتُ إلى شخصٍ جميلٍ ؛ فاستحييت أن أذكره ! .

وذكر هذه الحكاية أبو طالب المكّي عن منصور الفقيه, قال : رأيتُ أبا عبد الله السّكري في النّوم ؛ فقلت له: ما فعل الله بک ؟ فقال : وقفني في العرق حتّى سقط لحم خدّي, قلت : لِم ؟! قال: نظرتُ إلى غلامٍ مُقبلا ومُدبرا .

وحدثت عن محمد بن علي بن أبي الصقر الواسطي, قال : حدثنا عبد الله بن هارون القطان, قال : حدثنا أحمد بن علي, قال : حدثنا أبو الحسن الواعظ, قال : لما مات أبو نصر حبيب النّجار الواعظ بالبصرة ؛ رُئِيَ في المنام, ووجهه كدارة القمر في ليلة البدر, وفي وجهه نُكتةٌ سوداءٌ ؛ فقال له الّذي رآه حبيب : مالي أرى في وجهک هذه النّكتة ؟ قال : قال لي : كنت مارا بالبصرة في بني عبس, فرأيت غُلامًا أمرد عليه غلالة يشرق منها بدنه ؛ فنظرت إليه ! فلما وصلت إلى ربّي, قال لي : حبيب ! قلت : لبيک ! قال : جزّ على النّار ؛ فجزت عليها ! فنفحتني هذه النّفحة ؛ فقلت: أوه ! فناداني نفحةٌ بلمحة, ولو زِدْت لزِدْناک ! .

**ژباړه : او په اوو (۷) مختلفو کیسو کې دا نقل سوي دي چې : الله تعالی ځینو** **بزرګانو ته د لغړزنو د کتلو او له هغوی سره د تعلّق او شناخت ساتلو په سبب دا** **عذابونه ورکړل چې یا به یې (خپل قدردان کلام) قرآن (شریف) ځني هېر** **کړی، یا به یې (په دې عذاب مبتلا کړل چې) خپل ځانونه بې تر بامو را ایله کړل** **او یا به یې په نورو عذابو مبتلا کړل (لکه : د سترګو ایستل، یا ړندېدل، د مخ** **تورېدل، له شرمه د مخ د غوښو یا بارخو بهېدل او له الهي قربه لیري کېدل) .**

**یادونه : هغه اووه کیسې ټولي لاندي په تېره فراخه حاشیه کې په عربي متن** **سره ذکر سوي دي چې هر ملا، طالب او داسي څوک چې په عربي ژبه لږ بلد وي** **پوهیږي .**
ګرانه لوستونکې ! دا دئ الله تعالی خپلو نازولو ولیانو ته داسي عذابونه ورکړل صرف چې دوی به لغړزنو ته کتل او شناخت بې ورسره کوی ؛ نو ستا څه خیال دئ ؟! داسي خلکو ته به الله ﷻ عذابونه څرنګه نه ورکوي چې دوی ګرد سره لواطتونه ورسره کوي او خپل بدنونه او شهوتونه په سړوي ؟!! بېشکه الله ربّ العزت به بدله ځني اخلي او په دنیا او آخرت کې به عذاب ورکوي .

**او دا خبره ما ته معلومه سوې ده : لکه څرنګه چې په تېرو زمانو او وختو کې** **الله ربّ العزت خپل خواخوږي ولیان او دوستان د بدنظرۍ د ګناه په وبال باندي** **نه پرېښودل ؛ نو زموږ د زمانې هغه طالبان او حافظان چې ځیني ځانونه مُجاهدین**

---

وقد بلغنا عن أبي يعقوب الطّبري أنه كان يقول : كان معي شاب حسن الوجه، وكان يخدمني ؛ فجاءني إنسان من بغداد صوفي، وكان كثير الإلتفات إلى الشاّب، فكنت أجد عليه لذلك ؛ فنِمتُ ليلة مِن اللّيالي، فرأيتُ ربَّ العزّة في المنام، فقال : يا أبا يعقوب ! لِم لَم تنهه، وأشار إلى البغدادي عن النّظر إلى الأحداث ؛ فوعزتي وجلالي ! إني لا أشغل بالأحداث إلا مَن باعدته عن قُرْبي . قال أبو يعقوب : فانتبهتُ، وأنا أضطرب ، فحكيتُ الرّؤيا للبغدادي فصاح صيحةً ومات ؛ فنسلناه، ودفناه، واشتغل قلبي به ؛ فرأيته بعد شهرٍ في النّوم، فقلت : ما فعل الله بک ؟ قال : وبخني حتّى خِفتُ ألا أنجو ! ثم عفا عني ؛ إنتهى بالتّمام . ذمّ الهوى ۱۰۹ ـ ۱۱۲ مخونه .

هم ګنې او د لغړزنو شوق کوي، شيرين بحثونه کوي، لواطت ته يې پټې ارادې ساتلې وي ؛ دوی بيخي الله تعالى نه پرېږدي، د دوی وبال ما ته اُوس په مُشاهده معلوم سوی دی چې په جهاد کې يې برکت نه وي، په نصيحتو کې يې اثر نه وي، سبقانو ته يې زړه نه غواړي، شپه او ورځ بس د هلکوانو بحثونه دي بل کار نه لري، شرم او حيا نه لري . که د هلک بحث ورسره وکړې ! نو ستا مجلس تر هر چا خوښوي او تا ته نور هم جلبوي، زه چې د دوی مخانو ته ګورم ! نو بې نوره معلومېږي، که يې علمونو ته ګورم ! نو بې فيضه او بې ثمره معلومېږي، دا نه يوازې داسې چې ما ته، بلکې هر هغه مسلمان ته معلومېږي چې لږ څه نصيحت ته غوږ ږدي او الهي بېره په زړه کې لري .

## مُسلمان بايد د لغړزنو له شناخته ځان وساتي

(۲۱) قَالَ فَتح المَوصِلِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى : (صَاحَبْتُ ثَلَاثِيْنَ شَيْخًا كَانُوا يُعَدُّوْنَ مِنَ الْأَبْدَالِ كُلُّهُمْ أَوصُوْنِيْ عِنْدَ فِرَاقِيْ إِيَّاهُمْ : إِتَّقُوا مُعَاشَرَةَ الْأَحْدَاثِ !) [1] .

**ژباړه :** (حضرت) فتح الموصلي رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى فرمايلي دي : ما له ديرشو سپين ږيرو سره ملاقات کړی دی چې ټوله لوی بزرګان ول او ټولو دا وصيت راته وکړی : چې د لغړزنو له شناخته ځان وساته ! (ځکه فتنه يې ډېره غټه ده) .
په دې خبره کې بايد تاسې ډېر فکر وکړئ ! چې دا لوی بزرګانو بل د هيڅ شي دومره ټينګ وصيت نه ورته کوی ؛ مګر د دې چې د لغړزنو له شناخته ځان وژغوره ! ځکه څوک چې دغه وصيت پر ځای کړي، له لغړزنو څخه ځان وژغوري، بحث يې له چا سره نه کوي، شوق يې نه کوي، لواطت ته پټه اراده نه لري، په موبايل کې د هلکوانو او ښځو تصويران نه اچوي، بې کاره فلمونه نه ګوري، بې کاره مجلسو ته نه ورځي او نور هم دې ته جلبوي چې : له شناخته

[1] ذمّ الهوى، الباب الرّابع عشر : في النّهي عن النّظَر إلى المردان ومُجالستهم ۱۰۰ مخ، تلبيس ابليس دا. هم د علامه ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى ۲۹۲ مخ.

یې ځانونه راوګرځوئ ! نو د هغه په طالبي کي به برکت وي، د قرآن په تلاوت کي به یې برکت وي، په عِلم کي به یې فیض او اثر وي .

(۲۲) قَالَ بِشر بن الحَارِثُ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه: (احْذَرُوا هَٰؤُلَاءِ الْأَحْدَاثِ)[1] .

ژباړه : (حضرت) بشر بن حارث رحمة الله علیه فرمایلي دي : د لغړزنو له شناخت څخه خپل ځانونه وساتئ ! .
دا وینا هم د تیري وینا په شان ده او په دې وینا کي هم د تېر وصیت راز نغښتی دی چي له لغړزنو څخه ځانه ساتنه د ځوان لپاره د خیر لامل ګرځي .

فایده : دا دوه ډېر جامع نصیحتونه دي او مطلب یې دا دئ چي مُسلمان باید، خاص بیا ځوان او جره د لغړزنو له شناخته په بشپړ ځان وساتي او داسي باید له ښایستو څخه خپل کالي راټولوي او ځان ځني ساتي لکه له مردارو اوبو څخه چي یې ساتي .

لطیفه : امام احمد رحمه الله خپلو ملګرو ته دا توصیه کول چي : له خپل خوریي سره راسه ولاړسه او ناسته پاسته هم مه کوئ ! خو له بده مرغه نن موږ پردی کشر او لغړزنی په خوریي تېرؤو او دا فکر نه کؤو ! چي دا حرام کار دئ، که یا ؟! کاشکي ! زموږ امیرانو او مشرانو د مدرسو او مسجدو او ټولو عامو مسلمانانو د دې ناروا کار لپاره لاسونه سره یوکړي وای او دا شوق یې کم کړی وای، افسوس ! افسوس ! فإلی الله المشتکیٰ .

یوه مهمه نکته : د زیات خطر خبره دا ده چي یو څوک بدنظري کوي، لغړزنو ته په شهوت سره ګوري او شناخت ورسره کوي او دا کار د ثواب ګڼي او دا ګناه — العیاذ بالله — د عبادت په نیت کوي او په دې پوهېدل په کار دي چي ګناه د

---

[1] ذمّ الهوی، تېر باب، ۹۹ مخ، تلبیس ابلیس ۲۹۲ مخ .

عبادت په نیت کول کُفر دی، لکه څرنګه چې ما د دې کُفري عمل یادونه د ګناوو په موسوعه (شِهاب القُلُوب) کې کړې ده ؛ د تفصیل لپاره مُراجعه ورته وکړه ! .

**یوه بله مهمه نکته** : ځینې ناپوهانو ته چې د لغړزنو د مُمانعت خبره وسې چې دا بد کار دی ؛ نو دوی ورته وایي : چې ډېر په زړه توریې، ډېر ځان پاک پاک مه کوه ! او ځینې دا هم ورته وایي : ته د دې په خوند پوه نه یې ! که پوه وای ! نن به تا هم د لغړزنو سره شوق کولای، په پای کې دا ورته ووایي : ګامېنبه دګل په بوی څه پوهیږي، بس په دغسې بې هوده خبرو د سم مسلمان زړه ناروا ته مایله کړي، خپل ځان هم په ګناه مبتلا کړي او بل هم او سره له دې چې د دوی دغسې خبرې هیڅ شرعي دلیل نه سي ګرځېدلای او مطلب یې دا وي چې زه فاحش نه یم ! په ګناه نه یم اخته ! زه خو صِرف لاس په لاس کې ورکوم ! زه نو کوم خوند پر اخلم ؟! او ځینې خو وایي : پر ما بد ګومان مه کوه ! بد ګومان ګناه ده او کله چې ساده سړی دا خبره واوري ؛ بس ویې مني .
باید چې مسلمان، خاص کر حافظ، یا عالم، یا طالب او یا پوه انسان ته کله هم د یو بدکار مُمانعت بیان سي ؛ نو دستي په دستي دې ځان ځني راوګرځوي – خُدا ناکرده په اخته نه سي .

## مُسلمان باید له لغړزني سره په یوه خونه کې شپه تېره نه کړي

**(۲۳)** قَالَ بَعضُهُم رَحِمَهُمُ اللهُ : (لَايَبِيتُ الرَّجُلُ فِيْ بَيْتٍ وَاحِدٍ مَعَ الْمُرْدِ)[۱] .

**ژباړه** : ځینو ( بزرګانو ) رَحِمَهُمُ اللهُ فرمایلي دي : سړی (جره انسان) دې له لغړزني سره په یوه خونه کې شپه نه تېروي .

**تشریح** : لغړزنی که خوریی وي، یا دآکا زوی وي، یا د خاله زوی وي، یا د ماما زوی وي، یا بل قریب وي او یا داسې بل پردی وي ؛ خو چې ښایسته وي او د

---

[۱] تلبیس إبلیس ۲۹۲ مخ .

ځوان، یا پیغلي، یا پوخ سړي، یا د بل لغړزني او یا داسي د بل عام عُمر والا انسان شوق ورته راپورته کیږي او د شهوت سړول په حاصلیږي ؛ باید انسان په یوه خونه کي شپه ورسره تېره نه کړي ؛ ځکه معلومه نه ده چي شیطان دي انسان پریږدي، بلکي خامخا یې په یو فتنه کي مبتلا کوي ؛ ځکه شیطان لعین ته دغه مهال موقعه په لاس ورسي.

او دا معلومه خبره ده چي شیطان زموږ ازلي دښمن دی او باید چي انسان له دغسي دښمن سره په هوښیاري کي وي، خپل پر کړه وړه دي ځه ځېرمه کوي چي خطا یې نه باسي او باید په هر ځای کي د لغړزنو له فتنې څخه ځان وساتي او ډېر احتیاط به ورسره کوي، داسي احتیاط به ورسره کوي، لکه انسان چي له بجلۍ (برق)، لړم، مار او یا داسي بل خطرناک شی سره احتیاط کوي ؛ ځکه له دغو شیانو سره چي څرنګه د ظاهري وُجُود خطره ملګرې ده، لکه د بدن پړسېدل، یا چیچل، یا دردېدل، یا د مرګ راتلل ؛ نو د لغړزنو له فتنې سره د باطني وُجُود خطره ملګرې ده چي ایمان، رازونو او داسي نور باطني او پټو ارزښتناکو شیانو ته خطر پېښوي .

## له لغړزنو سره شناخت کول د فتنې لامل ګرځي

(۲۴) قَالَ إِبنِ طَاهِرٍ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ : (مَنْ صَحِبَ الْأَحْدَاثَ ؛ وَقَعَ فِيْ الْأَحْدَاثِ)[1] .

**ژباړه :** (حضرت) ابن طاهر رحمه الله علیه فرمایلي دي : څوک چي له لغړزنو سره شناخت ساتي ؛ نو هغه به په ګناهونو کي واقع سي .

**مطلب :** دا چي د لواطت په مقدمو کي لکه په شهوت روغبړ ورسره کول، په شهوت مچه ځني اخیستل، په شهوت ولاړه او ناسته ورسره کول او خاص بیا دا بد عمل د لواطت ورسره کول ؛ نو په دې کي به واقع سي او له ګناهونو څخه هم

[1] تلبیس إبلیس ۲۹۳ مخ .

دغه مراد دي ! .

**(٢٥)** وَعَنْ أَبِيْ عَبْد الرَّحمن السُّلْمِي قَال : قَال مُظَفَّرٌ الْقَرْمِيْسَيِنِيُّ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه : (مَنْ صَحِبَ الْأَحْدَاثَ عَلَى شَرْطِ السَّلاَمَةِ وَالنَّصِيْحَةِ ؛ أَدَّاهُ ذَلِكَ إِلَى البَلاَءِ ؛ فَكَيْفَ بِمَنْ يَصْحَبُهُمْ عَلَىٰ غَيْرِ وَجْهِ السَّلاَمَةِ؟!) [1] .

**ژباړه :** له أبي عبد الرّحمن سُلمي څخه نقل سوي دي، وايي : چي (حضرت) مُظفر قرميسيني رحمه الله عليه به ويل : چا چي له لغړزنو سره شناخت پيدا کړی په دې شرط چي ځان يې ځني ساتی او نصيحت يې ورته کوی ؛ نو ښشکه دی به په مُصيبت کي مبتلا کړي او چيري لا هغه کس چي شناخت ورسره کوي او ځان نه ځني ساتي ؟! (يعني : هغه کس خو خامخا په مصيبتو، د مجازي عشق په اورونو، کړاونو او فتنو کي اچوي چي ځان نه ځني ساتي) .

**(٢٦)** قَالَ سَعيد بِنِ الْـمُسَيَّب رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه : (إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يُلِحُّ بِالنَّظَرِ إِلَىٰ غُلاَمٍ أَمْرَدَ ؛ فَاتَّهِمُوْهُ !) [2] .

**ژباړه :** (حضرت) سعيد بن مُسيب رحمه الله عليه (چي يو لوی تابعي دی) فرمايلي دي : کله چي تاسي يو سړی ووينئ ! او دی يو لغړزني هلک ته په تېزي (شوق) سره ګوري ؛ نو تهمت پر ولګوئ ! .

**مطلب او څه تشريح :** دا چي تُهمت پر ولګوئ ! يعني : پښغور ورکړئ ! چي د راروان وخت لپاره د لغړزنو له هلکوانو څخه توبه وباسي او تُهمت پر داسي موقعه پر چالګول ګټور وي ؛ ځکه هغه له ګناه څخه راګرځوي او دا يې فايده ده

[1] تېره حواله .

[2] ذمّ الهوی ٩٧ .

او په يو اثر کې راغلي دي چې د تُهمت له ځايو څخه ځان وساتئ ! عبارت يې دا دئ :

(إِتَّقُوْا مَوَاضِعَ التُّهَمَةِ !)، يعني : تاسي د تُهمت له ځايو څخه پرهېز وکړئ ! لکه : يو ځای لغړزنی حاضرېږي، حال دا چې هلته څوک نه وي، يا دا چول يوه نامحرمه ښځه په هغه ځای کې حاضرېږي، يا يو ځای فلم کتل کېږي، ګېم (Game) کېږي، وي سي آر (V,c,r) لګېږي، ډېش او کېبل لګېږي، فاسقان او ږيره خريونکي سره يو ځای کېږي او داسي نور عملونه کېږي ؛ دا ټوله د تُهمت ځايونه دي، بايد چې انسان په بشپړ خپل ځان ځني وساتي او دا ښه ګټور نصيحت دی .

**مطلبي فايده** : له تېرو درېو قولونو څخه دا په ډاګه معلومېږي چې بجای د دې چې کوم انسان د لغړزنو په فتنه اخته سي او مينه يې کوي ؛ کاشکي د الله تبارک وتعالی په عشق کې اخته وای او زړه يې له الهي مينې ډک وای ؟!! إنّا لله وإنّا إليه راجعون .

## پلار بايد خپل بچيان له بدو ملګرو څخه راوګرځوي

(**۲۷**) قَالَ أَحَدُ أَولِيَاءِ اللهِ تَعَالَىٰ إِبراهِيمُ الحَرِبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ : (جَنِّبُوْا أَوْلَادَكُمْ قُرَنَاءَ السُّوْءِ قَبْلَ أَنْ تَصْبَغُوْهُم فِيْ البَلَاءِ كَمَا يُصْبَغُ الثَّوْبُ)[1] .

**ژباړه** : د الله تعالی له دوستانو څخه يو دوست چې ابراهيم حربي رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ دی ويلي دي : تاسي خپل بچيان له بدو ملګرو څخه وساتئ ! مخکې تر دې چې په مُصيبت کې يې رنګوئ ! (يعني : چې په فتنه کې درڅخه لوېږي) لکه څرنګه يو د دوی خپل کالي رنګوي (اغوندي) .

[1] دا قول ابن الجوزي په ذمّ الهوی کي په سندسره نقل کړی دی ۱۰۲ مخ .

**خلاصه :** مطلب دا چې پلار، آکا، مشر ورور او داسې بل عام مشر ؛ باید خپل زامن، لونې او کشران له بدو دوستانو څخه وساتي او ځني راوېږ ګرځوي ! مخکي تر دې چې په فتنو او ګناهونو یې اخته کوي او دا هم ډېر ښه نصیحت دی آه ! .

(۲۸) وَقَالَ أَيضًا : (أَوَّلُ فَسَادِ الصِّبْيَانِ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ) [۱] .

**ژباړه :** او زیاتوي : چې د کوچنیانو اول فساد (او فتنه) یو له بله څخه پیښیږي.

**څه تشریح :** له دې دواړو قولو څخه دا ثابته سوه چې انسان دې خپل بچی له بد انډیواله راګرځوي ؛ ځکه دا هم یو هغه لامل دی چې لواطت، غلا او داسې نورو ګناهونو ته انسان هڅوي ؛ ځکه تاسې وینئ ! کله نا کله انسان د انډیوال په خاطر لواطت، یا غلا او یا داسې بلې ناروا ته مجبوره سي .

او دا هم روښانه خبره ده چې کله نا کله یو انډیوال خپل انډیوال ته دا توصیه کوي : چې واده مه کوه ! ځکه ستا پر عشق او اشنایي چې ته یې له فلاني لغړزني، یا ښځې سره کوې بده اغیزه کوي او ستا عشق درخراپوي او جفا ته دې مجبوره کوي او داسې دی او داسې دی ؛ نو انسان باید له اولې پلا څخه خپل بچی او کشر له بدو انډیوالانو څخه راوګرځوي او د ښو انډیولا نو کوشش دې یې کوي چې ښه اغیزه وربادې وکړي، نه بده آه ! .

## له لغړزنو او کشرانو سره ناسته او ولاړه مکروه ده

(۲۹) قَالَ مُحَمَّد حَقِّيِ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى : (يَكْرُهُ مُجَالَسَةُ الْأَحْدَاثِ وَالصِّبْيَانِ وَالسُّفَهَاءِ ؛ لِأَنَّهُ يَذْهَبُ بِالْمَهَابَةِ. وَيُوْرِثُ التُّهْمَةَ) [۲] .

**ژباړه :** (حضرت مولانا روم) محمّد حقّي رحمه الله تعالی فرمایلي دي : له لغړزنو،

---

[۱] ذمّ الهوی ۱۰۳ مخ .

[۲] تفسیر روح البیان په حواله د (بستان الفقیه) ۳ توک، ۱۹۸ مخ .

کوچنيانو او بې عقلانو سره ناسته مکروه ده ؛ ځکه له دوی سره ناسته (او ولاړه د انسان) هيبت (او رُعب) ختموي او (پر انسان) تهمت پيدا کوي .

**شه تشريح** : په دې بايد پوه سئ ! مکروه پر دوه ډوله دی، مکروه تحريمي او مکروه تنزيهي او مکروه چي مطلق يو ځای ذکر سي ؛ نو مراد ځني مکروه تحريمي دی او مکروه تحريمي عمل دا وړه (کوچنی) گناه ده، لکه زموږ د مذهب علامه ابن نُجيم حنفي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه چي فرمايلي دي : "كُلّ ما كُرِه عندنا تحريمًا ؛ فهُو مِن الصّغائر"، يعني : هر يو کار چي زموږ په نيز (د احنافو) باندي مُطلق مکروه وي ؛ نو هغه له وړو گناوو څخه دی او له کشرانو، لغړزنو او بې عقلانو سره ناسته او ولاړه که څه هم بې له شهوته وي ؛ خو مکروه تحريمي کار دی – دا خو يو تاوان سو چي اوس په مخ کي ثابت سو .

او بل تاوان يې دا دئ چي پر انسان د خلگو له لوري دا تهمت پيدا کوي : چي دا کس بده اراده لري، دا فلانی بد کار ورسره کوي، دا لواطت ورسره کوي، دا ولئ په خونه کي ورسره يوځای او ملگری دئ ؟! دا ولئ ژر ژر ورته گوري ؟! دا ولئ په نرمه او پسته لهجه خبري ورسره کوي ؟! ولئ يې تحفه قبلوي ؟! ولئ بې ضرورته ورسره کښېني ؟! او خبري ولئ ورسره کوي ؟! او داسي مختلف گومانونه به ورباندي کوي او تهمتونه به ورباندي لگوي ؛ نو ښه لاره دا ده : چي د ضرورت پر مهال هم انسان احتياط ورسره وکړي او د ضرورت مهالونه دا دي، لکه : د خرڅولو او رانيولو پر مهال، د يو کار پر مهال، له يو چا سره د مرستي پر مهال، د گوابڼ پر مهال او داسي نور مهالونه چي انسان فکر پکي ووهي ؛ نو صورت يې ورته حاضريږي آه ! .

(شعر) شيخ سعدي صاحب قُدِّسَ سِرُّهٗ څومره ښه ويلي دي :

اگر خواهی که قدرت بماند بلند ***دل ای خواجه در ساده رویان مبند

وگر خود نباشد غرض در میان ***حذر کن که دارد بحرمت زیان

**ژباړه :** که غواړې ! چي ستاوس لوړ پاته سي، [يعني : عزت دي برقراره پاته سي] نو زړه اې سرداره ! په ساده مخو [يعني : لغړزنو] کي مه بندوه ! [د لغړزنو فکر مه کوه !] که دي په خپل ځان کي [څه] غرض نه وي ! نو وبيرېږه [د لغړزنو له شناخته] ؛ ځکه [له دوی سره شناخت او علاقه ساتل] دا ډېر غټ تاوان دی .

او پوه سه ! په دې چي دا يوه مسئله ده : کله چي مجاهدين مريی ونيسي، حال دا چي هغه ښايسته لغړزنی وي ؛ نو د هغه رانيول مکروه دي، دا ډول پر خرڅوونکي يې خرڅول مکروه دي ؛ ځکه له دې سره د شهوت پوره کېدلو خطره ورسره ده[1] او نوري مسئلې به ټولي چي د لغړزنو او بدنظرۍ سره اړوند وي ؛ هغه به که لوي خداي کول د دې برخي په نتيجو کي راسي ؛ أللّهمّ احفظني مِن فِتنة المُردان بخيرٍ يا رحيم ! يا رحمٰن ! .

## له لغړزنو څخه د ناستي او ولاړي مُمانعت

(۳۰) قَالَ الْإِمَامُ إِبْنُ الْجَوْزِيّ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ بِسَنَدِهِ عَنِ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَال : (لَاتُجَالِسُوْا أَبْنَاءَ الْمُلُوْكِ ؛ فَإِنَّ الْأَنْفُسَ تَشْتَاقُ إِلَيْهِمْ مَا لَا تَشْتَاقُ إِلَى الْجَوَارِيِ الْعَوَاتِقِ)[2] .

**ژباړه :** (حضرت) ابن جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ په خپل سند سره فرمايلي دي چي له نبي (کريم) صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه يې روايت کړی دی : بېشکه چي ده وفرمايل : تاسي د باچهانو له (ښايستو ) زامنو سره مه کښېنئ ؛ ځکه نفسونه [يعني: انساني خواهشات] دوی ته داسي شوق کوي چي له سري وناوده پېغلو ته هم دومره شوق نه کوي .

---

[1] لکه څرنگه چي د تفسير رُوح البيان مُبارک ليکوال اشاره ورته کړې ده، وگوره ! ۳ ټوک، ۱۹۸ مخ .

[2] دا قول ابن الجوزي په ذمّ الهوی کي په خپل سند سره له نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت کړی دی ۹۶ مخ .

## د ماړه له زامنو سره چې ښایسته وي ناسته او ولاړه نه ښایي

(٣١) قَالَ الْحَسَنُ بْنُ ذَكْوَانَ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ : (لَا تُجَالِسُوا أَوْلَادَ الْأَغْنِيَاءِ ؛ فَإِنَّ لَهُمْ صُوَرًا كَصُوَرِ الْعَذَارَى، وَهُمْ أَشَدُّ فِتْنَةً مِنَ النِّسَاءِ)[1] .

**ژباړه :** (حضرت) حسن بن ذکوان رحمه الله علیه فرمایلي دي : د مالدارو (اومړو) له زامنو سره مه کښېنئ ؛ ځکه دوی داسې صورتونه (او رنګونه په ښایست کې) لري لکه څنګه چې ځوانانې پېغلې يې لري او دوی په فتنه کې تر ښځو سخت دي .

**علمي فایده :** دا څومره لوی نصیحت دی د اوسنیو ځوانانو او خلکو لپاره، که په ریښتیا یو ځوان په دې جُمله او نصیحت باندې عمل وکړي ؛ نو هیڅ کله به په ناولي ګناه لواطت باندې مبتلا نه سي ؛ ځکه په داغه سبب سره ځوان په ګناه کې ډوبیږي چې ذی د مالدارو له زامنو سره کښېني، شناخت او تعلُق ورسره ساتي، د شهوت روغبړونه ورسره کوي او که له داسې مجلسو څخه ځان وساتي چې هلته هلکوان ناست وي، یا یوه بله ګناه شروع وي ؛ نو دغه انسان به په دنیا او آخرت کې د دې حضرت حسن بن ذکوان صاحب د نصیحت ګټې ویني ؛ إن شاء الله تعالیٰ .

## لغړزنی هلک د ځوان لپاره تر اویا پیغلو بدتر دی

(٣٢) قَالَ ابْن أَبِيْ السَّائِبْ رَحِمَهُ اللهُ : (لَأَنَا عَلَى الْقَارِئِ مِنَ الْغُلَامِ الْأَمْرَدِ أَخْوَفُ مِنِّيْ عَلَيْهِ مِنْ سَبْعِيْنَ جَارِيَةٍ عَذْرَاءٍ)، وَفِيْ رِوَايَةٍ : (لَأَنَا أَخْوَفُ عَلَىٰ عَابِدٍ مِنْ

---

[1] دا قول امام ذهبي رحمه الله علیه په کتاب الکبائر کې نقل کړی دی، وګوره ! ۶۴ مخ .
او هیتمي رحمه الله علیه په الزواجر کې نقل کړی دی، وګوره ! ( الْكَبِيرَةُ الْخَامِسَةُ وَالسَّادِسَةُ وَالسَّابِعَةُ وَالْأَرْبَعُونَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ : فِعْلُ هَذِهِ الثَّلَاثَةِ مَعَ الْأَمْرَدِ الْجَمِيلِ مَعَ الشَّهْوَةِ وَخَوْفِ الْفِتْنَةِ ) .

غُلَامٍ مِنْ سَبْعِيْنَ عَذْرَاءَ) [١].

**ژباړه :** مطلب د دواړو ویناوو یو دی، (حضرت) ابن أبي السّائب رَحِمَهُ اللهُ فرمایلي دي : زه پر یو عابد د اویا پیغلو دومره بېره نه لرم ! لکه د یو لغړزني بېره چي ورباندي لرم ! [یعني : که یو کس له اویاؤ پیغلو سره ناست وي دومره بې ژر په فتنه کي مبتلا نه کړي، لکه یو لغړزنی هلک چي یې مبتلا کوي ؛ ځکه چي له ښځي سره د فتنې یو شیطان سته او له لغړزني سره د فتنې اوولس شیطانان دي او هغه هر یو شیطان د پیغلو تر شیطانانو زورور هم دی، لکه څرنګه چي په دې معنا یو اثر راتلونکی دی ؛ إن شاء الله تعالیٰ].

## د ځوان لپاره لغړزنی د یو درینده حیثیت لري

**(٣٣)** وَقَالَ بَعْضُ الصَّالِحِيْنَ التَّابِعِيْنَ رَحِمَهُمُ اللهُ : (مَا أَنَا بِأَخْوَفَ عَلَى الشَّابِّ النَّاسِكِ مِنْ سَبُعٍ ضَارٍ مِنَ الْغُلَامِ الْأَمْرَدِ يَقْعُدُ إِلَيْهِ) [٢].

**ژباړه :** ځینو بزرګانو تابعینو رَحِمَهُمُ اللهُ فرمایلي دي : زه دومره پر یو عبادت ګذاره ځوان د یو ضرري درینده بېره نه وینم ! لکه د یو لغړزني بېره چي پر وینم ! .

**فایده :** دا یوه ریښتیا خبره ده هر ځوان چي له لغړزني سره شناخت پیدا کړی دی، بیا یې خیر نه دئ ځني لیدلی او په حقیقت کي لغړزنی ومست جره ځوان ته تر یو ضررمند درینده بدتر دی ؛ ځکه درینده چي پر ځوان راسي ؛ نو هغه به وداړي، یا به یې له سري مړ کړي او وبه یې خوري چي په نتیجه کي به شهادت تر لاسه کړي او ښایسته لغړزنی چي ورته راسي او ورسره کښیني ؛ نو د لواطت

---

[١] ذمّ الهوی، الباب الرّابع عشر : في النهي عن النظر إلى المردان ومجالستهم، ٩٨ مخ .

[٢] الكبائر ۶۴ مخ، الزّواجر عن إقتراف الكبائر ٢ توک، ٢٣٢ مخ، ذمّ الهوی، الباب الرّابع عشر: في النّهي عن النّظر إلى المردان ومجالستهم .

په ګناه به یې مبتلا کړي چي په نتیجه کي به د الله تعالی له فراخ رحمته وترټل سي، د جماداتو به غضب ورته راسي او جوهري مواد به یې په فضله موادو کي ضایع سي.

## د لغړزنو په شوق به له الهي قربه ترټلی انسان اخته کیږي

(۳۴) وفِيْ حِكَايَةٍ مُسْتَنَدةٍ أنَّ أبَايعقُوْبَ الطَّبَرِيُّ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قَالَ: (رَأيْتُ فِيْ المَنَامِ رَبَّ العِزَّةِ، وَقَالَ: وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ! إِنِّيْ لاَ أُشْغِلُ بِالْأَحْدَاثِ إِلَّامَنْ بَاعَدتُهُ عَنْ قُرْبِيْ) [1].

ژباړه: او په یوه مستنده[2] کیسه کي (حضرت) أبي یعقوب طبري رحمة الله علیه بیان کوي: چي ما په خوب کي (الله جل جلاله) ربّ العزت ولیدی او دا یې وفرمایل: زما دي په خپل عزت او لویي سره قسم وي! زه په لغړزنو باندي نه اخته کوم [یعني: په شوق یې نه مبتلا کوم!] مګر چي ما له خپل قرب (رحمت) څخه لیری کړی وي (یعني: ترټلی وي).

یادونه: دا کیسه یو ځل په عربي متن کي په سند سره په تېره فراخه حاشیه کي ذکر سوې ده، اوس یې د سند مکررولو ته ضرورت (اړتیا) نسته.
الهي! هیڅ کله مي له خپل سپیڅلي درشل او مبارک قربه مه ترټه؛ آمین.

## له لغړزني سره اوولس ۱۷ شیطانان دي

(۳۵) وَدَخَلَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ رَحِمَهُ اللهُ الْحَمَّامَ، فَدَخَلَ عَلَيْهِ صَبِيٌّ حَسَنُ الْوَجْهِ؛ فَقَالَ: (أَخْرِجُوهُ عَنِّيْ! فَإِنِّيْ أَرَى مَعَ كُلِّ امْرَأَةٍ شَيْطَانًا، وَمَعَ كُلِّ أَمْرَدَ سَبْعَةَ عَشَرَ

---

[1] ذمّ الهوی ۱۱۲ مخ.

[2] مُستنده: یعني چي په سند رسېدلې وي.

شَيْطَانًا)(١).

**ژباړه** : او يو وخت (حضرت) سُفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ حمام (غسلخاني) ته ورننوت، كه ګوري يو ښايسته هلك پسي ورننوت؛ نو سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ وفرمايل (او نعاري يې كړې) : دا له ما څخه وباسئ ! بيشكه زه له هرې ښځي سره (د هغې د فتنې) يو شيطان وينم ! او له هر لغړزني سره (د هغه د فتنو) اوولس شيطانان وينم ! .

**يادونه** : په بل قول كي راځي چي يوولس شيطانان دفتنې لپاره ورسره وي .
**له لغړزني سره د زياتو شيطانانو وجه** : له لغړزني سره شيطانان ؛ ځكه زيات دي چي دوى په معاشره كي آزاد ګرځي، د خلګو په مينځ كي هم كښيني، پلرونه او داسي نور مشران يې مختلفو مجلسو ته بيايي، بلكي ځيني د شوق لپاره خپل كشران بازارونو، مجلسو او محفلو ته بيايي، تر دې چي كورونو ته بې اجازې هم ورځي او كله چي دوى دومره په معاشره كي آزاد وي ؛ نو ځوانان او جره خلګ هم دوى ته په آزادي سره ګوري، په كتلو يې خوند اخلي ؛ نو په دې وجه د دوى شا ومخ ته شيطانان چاپېره وي چي په نظرو كي يې ښايسته ورولي او كله چي د بدنظرۍ په فتنه يې اخته كړي ؛ نو كرار په كرار يې د لواطت عمل ته ورتېل كړي او په اخته يې كړي او په همدې وجه شيطان لعين ځوانان. بلكي عام انسانان ډېر ژر په خطا ايستلاى سي .
او بل اړخ ته لغړزنى هلک داسي نه دى چي بدكاري ورسره وسي ؛ نو حمل دي بس واخلي، بلكي د حمل خطره هم نه ده ورسره څرنګه چي له ښځي سره ورسره ده .
او نه داسي دى لكه ښځه چي بس ماسي په ورسره يوځاى كېدو دي بدنامي راځي؛ ځكه د دوى له فتنې سره د خطا ايستلو پر مهال څه له پاسه لس شيطانان

---

(١) الكبائر د ذهبي ۶۴ مخ، الزّواجر، وګوره ! (الْكَبِيرَةُ الْخَامِسَةُ وَالسَّادِسَةُ وَالسَّابِعَةُ وَالأَرْبَعُونَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ : فِعْلُ هَذِهِ الثَّلاثَةِ مَعَ الأَمْرَدِ الْجَمِيلِ مَعَ الشَّهْوَةِ وَخَوْفِ الْفِتْنَةِ ) او ذمّ الهوى ۹۷ مخ .

ملګري وي چې انسانان په خطا باسي ؛ په ځانګړې توګه ځوانان، په ځوانانو کې حافظان، طالبان او عالمان او دا معلومه خبره ده چې لغړزنی د شیطان لوی جال (تور) دی او په دې معنا هم پوه وینا تېره سوه ؛ والحمد الله تعالیٰ .

## له لغړزني څخه د یوې مچې اخیستلو سخت وبال

**(٣٦)** وفي الأخير : قَالَ الْإِمَامُ [الْقَاضِيُ الْبِيْضَاوِيُّ] رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ : (مَنْ قَبَّلَ غُلَامًا بِشَهْوَةٍ ؛ فَكَأَنَّمَا زَنَى بِأُمِّهِ سَبْعِيْنَ مَرَّةً ! وَمَنْ زَنَى مَعَ أُمِّهِ مَرَّةً ؛ فَكَأَنَّمَا زَنَى بِسَبْعِيْنَ بِكْرًا ! وَمَنْ زَنَى مِنَ الْبِكْرِ مَرَّةً ؛ فَكَأَنَّمَا زَنَى مَعَ سَبْعِيْنَ أَلْفَ إِمْرَأَةٍ!!)[1].

**ژباړه :** (حضرت) امام [قاضي بیضاوي] رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ فرمایلي دي : چا چې یو ځل له لغړزني څخه په شهوت باندې مچه واخیستله ؛ ګویا لکه ده چې له خپلې موره سره اویا ځله زنا وکړه ! او چا چې له خپلې مور سره یو ځل زنا وکړه ؛ ګویا لکه ده چې له اویا پېغلو سره زنا وکړله ! او چا چې له پېغلې سره یو ځل زنا وکړه ؛ ګویا لکه ده چې له اویا زرو (٧٠٠٠٠) ښځو سره زنا وکړه !! ؛ إنّا لله وإنّا إليه راجعون .

**ګرانه ځوانه !** چې انسان ته صرف له لغړزني څخه په یو ځل مچه اخیستلو باندې دومره ګناه رسیږي ؛ نو چیرې لواطت ورسره کول ؟!!

**(شعر)** او شیخ سعدي صاحب قدس سره څومره ښه ویلي دي :

خرابت کند شاهد خانه کن *** برو خانه آباد کرد آن بزن
[illegible]ید هوس باختین باګلی *** که هر بامدادش بود بلبلی
مکن بد بفرزند مردم نګاه *** که فرزند خویشت بر آید تباه
را طفل یک روزه هوشش نبرد *** که در صُنع دیدن هر بالغ، بر خر

[1] تفسیر رُوح البیان ٣ توک، ١٩٧ مخ . او تر دې ځایه د دې کتاب (تفسیر) بیان چې پر لغړزنو یې کړی وو ؛ هغه پای ته ورسېدی، هوکې ! که څه پاته وي ؛ نو هغه به په خپل ځای کې راسي، والحمد لله تعالی .

مُحَقّق همی بیند اندر ابل *** که در خوب رویان این وکل

**ژباړه** : تا خراپوي (پردی لغړزنی) که دي خپل کور ته حاضر کړی . ولاړ سه ! خپل کور آباد کړه او هغه ووهه [یعني : پسي وایې خله او بې له ضرورته یې مه پرېږده ! او تالره !] . نه ښایي چي ټول عمر دي هوس (بیداري) کوي، چي هر سهار دي بُلبُل یې . د خلګو هلک ته بدنظري مه کوه ! . ځکه خپل زامن به دي تباه سي . کوچني لره یوه ورځ روژه نیول د ده بیداري نه ده . چي په کار د دید د هر بالغ او هر نابالغ [یعني : چي مړاندي ته رسېدلی وي، یا نه ؛ خو دا ورلره مناسبه نه ده چي په شهوت سره لغړزنو ته ګوري] . دا خبره ثابته ده چي ویني په مینځ کي، بلکي . په ښایسته مخو کي دغه او ټول [یعني : د هوښیار انسان فکر او نظر تل د شیانو په حقیقت کي وي ؛ ځکه دی د لغړزني وحقیقت ته ګوري چي د ده په نس کي فضله مواد پراته دي، نه داسي چي دی د لغړزني ومخ ته، یا داسي ونورو شیانو ته په شهوت سره ګوري، بلکي فکر یې د حکمت او عبرت وي — او په دې شعر کي هر جره انسان لره کافي پند دی آه !] . إلهي أعوذ بك مِن سُوء النّظر إلى الـمُرْدان، وتقبّل توبتي، وامنُن عليَّ يا كريم العفو والإحسَانِ .

**یادونه** : تر دې ځایه د بدنظرۍ او د لغړزنو د شوق او عشق په اړوند حدیثونه، مهم آثار او قولونه ټوله پای ته ورسېدل او څوک چي د بدنظرۍ په هکله ټوله حدیثونه، آثار او قولونه مطالعه کول غواړي ؛ نو هغه دي زما دغه رساله (حصول الفِكر في ذمّ فضول النّظر) تر لاسه کړي ! په هغه کي ما د نظر او بدنظرۍ سره اړوند هر څه ذکر کړي دي څومره چي زما په وس وه ؛ مګر ما دلته په دې کتاب کي خالي د بدنظرۍ د مذمت بیانولو اراده کړې ده، نه داسي چي زه به یې هر اړخ ذکر کوم، هو ! د هر اړخ او بحث په هکله ما څو نتیجې را وایستلې چي هغه به اوس ټولي په راتلونکي سرلیک کي بیاني سي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزمّة التّحقيق.

۞۞۞

## د بدنظرۍ د مسئلو او د پاته نورو موضوعګانو مُهمي نتيجې

د بدنظرۍ په هکله چي کومي موضوعګاني، يا مسئلې، يا داسي نوري خبري سوي دي او په مختلفو کتابو، رسالو، ورځپاڼو، مجلو، اسلامي انټرنيټي ويب پاڼو، اونيزو او مقالو کي سره پاشل سوي دي او زما څخه يې په دې کتاب کي يادونه پاته سوې وي، که يې زه دلته راوړم ؛ نو کتاب به ډېر اوږد سي او د مقصد له دايرې څخه به ووځي او پر لوستونکو به بوج سي ؛ مګر ما له هغو ټولو څخه داسي نتيجې راوايستلې چي هغه ټولي دلته په څو خبرو کي حل سوي دي او هر لوستونکی کولای سي چي په پام کي يې ونيسي او د ضرورت پر مهال خپله ګټه تري واخلي او هغه ټولي په لاندي ترتيب سره دي :

أ. بدنظري کول د تناسلي ګناوو لومړی لامل جوړېږي .

ب. بدنظري وايي دې ته چي : انسان يو لغړزني، يا يوې ښځي، يا هسي داسي بل شي ته په شهوت سره ګوري، که څه هم خوند ورباندي اخلي، يا نه .

ج. څرنګه چي بدنظري کول مخامخ ناروا ده ؛ نو دا ډول په مصنوعي آلاتو، لکه : ټي وي، موبايل، ډيش، کېبل او داسي نورو شيانو کي هم ناروا ده .

د. انسان بايد په ټېره ځوان، يا پېغله د بدنظرۍ له اسبابو څخه په بشپړ ځان وژغوري ؛ ځکه څوک چي ديو بد شی، يا يو بدکار له سببه (لامله) ځان راکنټرول کړي ؛ نو هغه به يې له کولو څخه هم بچاو وي او د بدنظرۍ لاملونه لکه : لغړزنی هلک، نجلۍ، لوڅ پوڅ، يعني : سکسي (cxc) انځورونه او فلمونه، فحاشي ناولونه او نظمونه، عشقي ميسجونه اوبې کاره انټرنيټي ويب پاڼي .

ه. پلار، يا داسي بل مشر او مسؤل دي خپل کشر هلک وي، که نجلۍ له بدو انډيوالانو، بې کاره مصنوعي آلاتو او بې ځايه بانډارونو څخه په

بشپړ توګه راو ګرځوي .

و. څرنګه چي بد نظر ګناه ده ؛ نو دا ډول نیک نظر عبادت دی، لکه : عالِم، کعبې، مور، پلار، مسلمان ورور، اُستاذ، نصیحت کوونکي، خطیب، قرآن شریف، دیني کتاب یا رسالې یا مقالې ته د عبادت په نیت کتل، یا د الله تعالی ومخلوقاتو ته، لکه : آسمان، مځکه، غرونه، دریابونه او داسي نورو شیانو ته د عبرت په نیت کتل .

ز. او څرنګه چي بدنظري کول بد عواقب لري ؛ دارنګه نیک نظر کول ښه عواقب لري، لکه : د سترګو د دید تېزي، د الهي امر پر ځای کېدل، د ایمان د خوند حاصلېدل، د شیطاني وسوسو او د شهوت له عذابه خلاصون، د ښه توجُه او فکر سمون .

ح. لغړزني، یا پردی ښځي ته په وفات کي د شهوت په نظر سره کتل، یا د شهوت په نظر سره داوبو، یا هنداري له طرفه ورته کتل ؛ دا ټوله ناروا دي .

ط. د لغړزني، یا پردی ښځي په هکله ورځپاني، یا نظمونه، یا نکلونه، یا مېسجونه، یا رسالې او کتابونه په دې نیت کتل چي د عشق اور په تازه سي، یا انسان خپل شهوت په سوړ کړي او خپل نظر ته خوند ورباندي حاصل کړي ؛ دا هم ټوله ناروا کارونه دي .

ي. څرنګه چي د عام لغړزني، یا ښځي دغه حُکم دی چي په شهوت سره کتل ورته حرام دي ؛ دا ډول د هغه انسان چي نه سم نر وي او نه سم ښځه کوم چي په عُرفي اصطلاح پښتانه نرښځی او عرب (خُنثی) ورته وایي همدغه حُکم دی چي په شهوت سره ورته کتل ناروا دی .

ک. د خپلي میرمني، یا خپل عورت ته بې له عُذره کتل مکروه عمل دی چي کوونکی یې په وړو ګناهګارو کي شاملېږي .

ل. پردي کورو ته کتل مکروه عمل دی او که د شهوت یا فتنې خطره ورسره وه ؛ نو حرام عمل دی .

م. د کوزدې لپاره ښځې ته کتل، یا قاضي او مفتي د خپل حکم او فتوا د ثبوت لپاره وپردۍ ښځې ته ګوري کومه چې دحکم او فتوا په صورت کې ورغلې وي، یا یو ډاکتر یا ډاکټره د علاج لپاره لغړزني، یا پردۍ ښځې ته یا یې یو اندام د اندامونو ته ګوري، یا د سُنت کېدو په صورت کې ډاکتر وتناسلي اندام ته ګوري، یا دایه ښځه د بلې ښځې وفرج ته د ولادت په صورت کې ګوري ؛ نو دا ټوله هر یو جلا جلا په خپل ځای کې روا نظر دی ؛ ځکه دا ټوله ضرورتونه دي، هو ! د شهوت له پارېدو څخه به په بشپړ ځان ساتي .

ن. هر کله چې انسان یو لغړزني، یا یوې ښځې ته په شهوت سره وګوري ؛ نو له الله تعالی څخه به په زړه کې بخښنه وغواړي، که یې مُذي راووتل ؛ نو هغه ځای دې پرېولې او اودس دې تازه کړي ؛ ځکه د مُذي راوتل اودس ماتوي او که یې مُني راووته ؛ نو غُسل ورباندې اوړي او غُسل به ژر تازه کوي او که روژه یې وه نارینه وي، یا ښځینه، حال دا چې د بدنظرۍ یا نېک نظرۍ له امله یې مُني راووځي ؛ نو روژه یې ماته سوه او د دې روژې قضا به راوړي او کفاره یې ورباندې نسته .

دا هغه نتیجې وې چې د بدنظرۍ ټوله ګټور بحثونه، ښې مسئلې او مهمې خبرې پکې حل سوې دي او شمېرې یې څوارلسو ته رسیږي ؛ والحمد لله تعالیٰ .
اوس به په کتاب کې دویمه برخه پیل سي، چې د موټ وهنې د موضوع په هکله ده ؛ بالله التّوفیق، وبیده أزمّة التّحقیق .

د لومړۍ برخې پای

❀❀❀

# دویمه برخه

## موټ وهنه څه ته وایئ؟

موټ وهل په لغت کي د مني ایستلو تمنا ته ویل کیږي او په اصطلاح کي دې ته وایي چي : انسان خپل تناسلي اندام په موټ کي ونیسي، پکي ښوروي يې او مني ځني راباسي، که څه هم دا مني د بل په لاس راباسي، یا یې د خپلې او یا پردۍ مېرمني په لاس راباسي، یا دا چي په بالښت خپل ځان موږي او ځان انزالوي چي مني ځني راووځي، یا دا چي په خپلو ورنو کي يې سره موږي او مني راباسي او یا یې په بله طریقه راباسي ؛ نو ودې ټولو ته د فقهاؤ په اصطلاح موټ وهل ویل کیږي[1].

---

[1] قال مؤلفوا الكتاب الجامع الموسوعة الفقهية من المذاهب الأربعة :

الاسْتِمْنَاءُ : مَصْدَرُ إسْتَمْنَى ، أيْ طَلَبَ خُرُوجَ الْمَنِيِّ .

وَاصْطِلَاحًا : إِخْرَاجُ الْمَنِيِّ بِغَيْرِ جِمَاعٍ، مُحَرَّمًا كَانَ، كَإِخْرَاجِهِ بِيَدِهِ اسْتِدْعَاءً لِلشَّهْوَةِ، أَوْ غَيْرَ مُحَرَّمٍ كَإِخْرَاجِهِ بِيَدِ زَوْجَتِهِ .

وَهُوَ أَخَصُّ مِنَ الإِمْنَاءِ وَالإِنْزَالِ ؛ فَقَدْ يَحْصُلَانِ فِي غَيْرِ الْيَقَظَةِ وَدُونَ طَلَبٍ. أَمَّا الاسْتِمْنَاءُ ؛ فَلاَ بُدَّ فِيهِ مِنِ اسْتِدْعَاءِ الْمَنِيِّ فِي يَقَظَةِ الْمُسْتَمْنِي بِوَسِيلَةٍ مَا. وَيَكُونُ الاسْتِمْنَاءُ مِنَ الرَّجُلِ وَمِنَ الْمَرْأَةِ .

وَيَقَعُ الاسْتِمْنَاءُ وَلَوْ مَعَ وُجُودِ الْحَائِلِ - جَاءَ فِي ابْنِ عَابِدِينَ : لَوْ اسْتَمْنَى بِكَفِّهِ بِحَائِلٍ يَمْنَعُ الْحَرَارَةَ ؛ يَأْثَمُ أَيْضًا . وَفِي الشِّرْوَانِيِّ عَلَى التُّحْفَةِ : إِنْ قَصَدَ بِضَمِّ امْرَأَةٍ الإِنْزَالَ، وَلَوْ مَعَ الْحَائِلِ يَكُونُ اسْتِمْنَاءً مُبْطِلاً لِلصَّوْمِ، بَلْ صَرَّحَ الشَّافِعِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ بِأَنَّ الاسْتِمْنَاءَ يَحْصُلُ بِالنَّظَرِ . وَلَمَّا كَانَ الإِنْزَالُ بِالاسْتِمْنَاءِ يَخْتَلِفُ أَحْيَانًا عَنِ الإِنْزَالِ بِغَيْرِهِ كَالْجِمَاعِ وَالاحْتِلَامِ ؛ أُفْرِدَ بِالْبَحْثِ .

وَسَائِلُ الاسْتِمْنَاءِ : يَكُونُ الاسْتِمْنَاءُ بِالْيَدِ، أَوْ غَيْرِهَا مِنْ أَنْوَاعِ الْمُبَاشَرَةِ، أَوْ بِالنَّظَرِ، أَوْ بِالْفِكْرِ . إنتهى .

الموسوعة الفقهية ۴ ټوک، ۹۷ مخ .

په عربي کي (استمناء باليد)، يا (نِكاح اليد)، يا (الخضخضة) يا (جلد عميرة) په فارسي کي (مُشت زنی)، په اُردو کي (جلق)، يا (خُود لذتی) او په انګريزي کي (Mastrubation)، يعني: ماسټربيشن، يا (Hand practice)، يعني: هېنډ پريکټس، يا (Onanism)، يعني: اوناتيزم ورته وايي.

او نن سبا دا بد فعلي په ښځو کي هم پيدا سوې ده او هغه دا ډول چي ښځه خپله ګوته، يا د ګوتې په ډول پوست او يا کلک شی را اخلي او په خپل فرج کي يې ښوروي؛ د دې لپاره چي مَني راووځي او په دې سره خپل شهوت آراموي او خوند ورباندي اخلي. په فارسي او اُردو کي د ښځو دې بد عمل ته (انگشت زنی) وايي، په عربي او پښتو کي يې هم تېر نومونه دي او داسي جلا نوم نه لري.

او يادلره! د خپلي ميرمني، يا مينځې په لاس ځان انزالول که د هغې رضا پکې وي؛ نو دا بې خِلافه روا کار دی او نور تفصيل به مخ ته په نتيجو کي راسي؛ والحمدُ لله المُوفّقُ والمُعينُ.

## موټ وهل څنګه پيل سو؟

موټ وهل لومړی ځل د افريقې په ښار کي پيل سو او ځينو تاريخ پوهانو فرنګيانو ويلي دي: چي دا عمل په بني اسرائيلو کي يو سړي شروع کړی چي هغه (أونان) نومېدی او د يهوذا له زامنو څخه وو او د ځينو له نظره معلوميږي چي دا عمل لوطيانو په خپله زمانه کي شروع کړی لکه څرنګه چي د لوطيانو په اعمالو کي يې ذِکر راتلونکی دی، بيا کرار کرار پسي خپرېدی چي دا دئ نن سبا په سلو کي نهه نوي (۹۹) فيصده ځوانان په اموخت سول او په سلو کي اويا (۷۰) فيصده پيغلاني په اموختي سولې.

---

او دا ډول په ردّ المُحتار کي هم دغه خبري او تعريفونه سوي دي، وګوره! ۲ ټوک، ۱۰۰ مخ او ۳ ټوک، ۱۵۶ مخ او په دې هکله د زيات تفصيل لپاره زما رسالې (ضياء المقصد في ذمّ الاستمناء) ته مراجعه وکړئ!.

او د دې بدفعلۍ لومړی کوونکی کس معلوم نه دی چې چا کړی او چا دود کړی دئ ؟! او که د پخواني اسلامي تاریخ له رویه ورته وګور ! نو د هري ګناه اصل او سرچینه ؛ خو ابلیس لعین ابېي ده – په دې معنا به دا هم لیری نه وي چې د موټ وهلو ابتدا به ابلیس لعین کړې وي ؛ ځکه دی لومړی هغه څوک دی چې کُفریې کړی دی، له ده څخه وړاندې په مخلوقاتو کې بل چا کفر نه دئ کړی .

او چې کفریې لومړی ځل کړی دی ؛ نو په ګناهونو کې یې هم دلومړي ځل لپاره ده ګام ایښی دی ؛ ځکه ګناهونه ټوله له کفر سره اړوند دي .

لکه څرنګه چې ځینو بزرګانو ویلي دي : "المعاصي بريد الكُفر"، یعني : ګناهونه د کفر لېږوونکي دي چې کوونکی تر کفره رسوي آه ! .

اللّهمّ إنّي أعوذ بك مِن آفات المعاصي وأنواع الكُفر ! .

## د موټ وهلو بدوالی

الله تعالی فرمایلي دي : ﴿وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ۝٢٩ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ۝٣٠ فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ۝٣١﴾[٢] .

ژباړه : او هغه (کسان به هم پر جنت بهری او له دوږخه خلاصون تر لاسه کړي) چې دوی خپلو فرجو (تناسلي اندامو) لره ساتونکي دي ؛ مګر پر خپلو ښځو او یا هغو مینځو چې مالکان سوي دي پر هغوی د دوی ښې لاسونه (یعني : په ملکیت کې یې راغلي دي) او بېشکه دوی نه دي ملامت کړای سوي (په ورتلو سره خپلو ښځو او مینځو ته) ؛ نو هرهغه څوک چې وغواړي (دفع د شهوت خپل) سِوا له دغو (خپلو ښځو او مینځو څخه) وکړي ؛ بس دغه کسان دي (تر

---

[٢] د المؤمنون سورت ٥ - ٧ آیاتونه او همدا ډول آیاتونه د المعارج سورت په ٢٩ شمېره کې تر ٣١ شمېره آیته ذِکر سوي دي .

خپل شرعي حد) تجاز کوونکي (او مخ اړوونکي) .

**خلاصه اوتفسير :** مفسرينو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِمْ ويلي دي : هغه کسان چي له خپلي حلالي منکوحې ښځي څخه او له هغي مينځي څخه چي تصرُف وربانديي لري په موټ وهلو، يا لواطت کولو، يا زنا کولو او يا په بله طريقه سره د خپل شهوت دفع کوي او ځان سړوي ؛ نو بېشکه دا کسان تر خپل شرعي حد تجاوز کوونکي دي چي الهي شرعي امر نه مني .

دا خو د موټ وهلو بدوالی په قرآن شريف سره ثابت سو او بل آيت مي په دې معنا نه دئ پيدا کړی او کوم چي بدوالی يې په حديثو او آثاور کي نقل سوی دی ؛ نو هغه حديثونه او آثار به اوس ټوله د عنوانو په ترتيب په راتلونکي ډول سره ذکر سي ؛ بالله التّوفيق وبيده أزمّة التّحقيق .

## موټ وهونکی ملعون دی

(۱) په حديث شريف کي روايت سوی دی چي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : (خبردار سئ اې اصحابو ! ... الله جَلَّ جَلَالُهُ لعنت کړی دی پر هغه کس چي څاروي [يو حيوان] په نِکاح کړي او پر هغه کس يې لعنت کړی دی چي موټ وهي او پر هغه کس يې لعنت کړی دی چي نارينه ؤ ته د [خپل شهوت پوره کولو لپاره] راتګ کوي، ..) [۳] .

[۳] دا حديث ډېر اوږد دی ؛ علامه مُتقي په کنز العُمال کي نقل کړی دی او هغه سره د حديث له شمېرې کوم چي مُتقي صاحب ورته ايښې ده په لاندي ډول دی :

۴۴۰۵۷ (ألا لعنة الله والملائكة والنّاس أجمعين على مَن إنتقص شيئا مِن حقّي، وعلى مَن أبى عترتي، وعلى مَن إستخف بولايتي، وعلى مَن ذبح لغير القبلة، وعلى مَن إنتفى مِن ولده، وعلى مَن برئ مِن مواليه، وعلى مَن سرق مِن منار الأرض وحُدُودها، وعلى مَن أحدث في الإسلام حدثا أو آوى محدثا، وعلى ناكح البهيمة، وعلى ناكح يده، وعلى مَن أتى الذّكْران مِن العالمين، وعلى مَن تحصر ولا حصور بعد يحيى بن زكريا، وعلى رَجُل تأنث، وعلى امرأة تذكرت، وعلى مَن أتى امرأة وابنتها، وعلى مَن جمع الأختين إلا

**(۲) په بل روایت کي نقل سوي دي چي نبي اکرم ﷺ وفرمایل : (موټ وهونکی ملعون دی)[۴].**

قد سلف، وعلى مغور الماء المنتاب، وعلى المتغوط في ظلّ النزال، وعلى مَن آذانا في سُبُلنا، وعلى الجارين أذيالا، وعلى الماشين إختيالا. وعلى الناطقين أشفارا بالخنى، وعلى الشابين فضالا، وعلى المعقوس نعالا).

" الباوردي عن بشر بن عطية، وضعف " . دا ډول دا حديث د موسوعة أطراف الحديث مؤلفينو هم نقل کړی دی، حدیث شمېره (۱۲۸۰۳).

[۴] حديث علامه مُلا علي قاري رحمه الله عليه په الأسرار المرفوعة ۳۷۶ مخ کي او داسي په بل كِتاب اللؤلؤ المصنوع ۲۱۱ مخ کي او عجلوني په کشف الخفاء ۲ ټوک، ۳۲۵ مخ کي نقل کړی دی او دواړو د رُهاوي وینا کړې ده چي : دا اصل نه لري ؛ مګر د رُهاوي قول په داسي ډول نه دئ ؛ ځکه یو صُوفي مشهور عالم مولانا رُوم حضرت علامه حقي په خپل تفسیر کي د رُهاوي قول په داسي ډول راخیستی دی چي عبارت يې په لاندي ډول دی :

وفي الحديث : "ناكح الكفّ ملعون " ، وهو مَن يُعالج ذَكَره بيده حتى يدفق، كما قال في "شرح المنار " لإبن الملک .

وقال الرّهَاوِي : لم أجِدْه في كُتُب الحديث، وإنما ذَكَره المشايخ في كُتُب الفقه، وفي "حواشي البخاري ": والإستمناء باليد حرامٌ بالكِتَاب والسنّة . روح البيان ۸ ټوک، ۲۵۲ مخ .

او رُهاوي ویلي دي : دا حدیث ما د حدیثو په كِتابو کي نه دئ پیدا کړی ! بلکي دا شیخانو د فقه په کتابو کي ذکر کړی دی او د بخاري په حاشیو کي راغلي دي چي : موټ وهنه د قرآن او حدیثو په رڼا کي ناروا بلل سوې ده .

او رُهاوي رحمه الله عليه داسي نه دي ویلي : چي ماېې اصل نه دئ پیدا کړی ! مطلب دا که خُودي اصل نه لري ؛ نو مفهوم د اصل يې په صحیح حدیث کي ثابت دی چي نبي کریم ﷺ فرمايي : (الله تعالی له اوو کسانو سره د قیامت په ورځ باندي خبري نه کوي اونه د رحمت په نظر باندي ورته ګوري..، یو په هغو کي موټ وهونکی دی ...) او دا حدیث سره د حوالو په تفصیل سره تېرسو ؛ نو اوس يې مُکررولو ته اړتیا نسته ! او دا ډول دا حدیث په نورو الفاظو باندي ځینو مُفسرینو هم په خپلو تفسیرو کي نقل کړی دی او هغه په داسي ډول چي : (نَاكِحُ اليَدِ مَلعُونٌ) او معنا يې یوه ده اوحوالې يې دا دي : تفسیر د ابن عادل ۴ ټوک، ۵۲ مخ، تفسیر رُوح المعاني ۱۸ ټوک، ۱۱مخ، تفسیر د فخر الدّین رازي ۱ ټوک، ۸۳۹ مخ او ۱۰ ټوک، ۱۵ مخ، تفسیر د نیسابوري ۲ ټوک، ۳۸ مخ او ۴۶۳ مخ او هُویدي په خپل تفسیر المُعين ۵۷۸ مخ کي نقل کړی دی او د حدیث معنا صحیح ده چي هیڅ شک پکي نسته آه !.

## موټ وهونکی به د قیامت په ورځ د الله تعالی له رحمته او کلامه محرومه وي

(۳) داخروي سزاوو په اړوند په یو روایت کي نقل سوي دي چي: (دري داسي کسان دي چي نه الله [تعالی د رحمت په نظر] د قیامت په ورځ ورته ګوري، نه خبري ورسره کوي او نه یې [له ګناهونو څخه] پاکوي، بلکي دوی لره دردناک عذاب دی، لومړی خو هغه کس دی چي : د بدن سپین وېښته کاږي، دویم هغه کس دی چي : چي له ځانه سره په خپله نکاح کوي [یعني : موټ وهي] او دریيم هغه کس دی چي خپله سوغی یې بل ته په نکاح ورکړې وي [یعني : مفعول به وي])[۵].

## یو اُمت د موټ وهلو په سبب هلاک (پوپناه) سو

(۴) حضرت سعید بن جُبیر رضي الله عنه فرمایلي دي : (په اُمتونو کي الله جل جلاله یو اُمت ته په دې وجه عذاب هم ورکړی دی چي دوی به موټان وهل)[٦].

**یادونه** : په تېر اثر کي دا په ډاګه ثابتیږي چي موټ د خوند او شهوت پوره کولو لپاره وهل د عام عذاب الهي لامل ګرځي ؛ ځکه پوره او بسته اُمت په مخکنیو امتونو کي الله ربّ العِزت د موټ په ګناه باندي هلاک کړی دی او لیري

---

[۵] دا روایت هُویدي په خپل تفسیر کي نقل کړی دی، تفسیر المُعین للواعظین والمُتعظین ۵۷۸ مخ .

[٦] دغه اثر حقي په تفسیر رُوح البیان ۳ توک، ۱۵۱مخ او دویم ځای یې په ۱۰ آخري توک او ۱۲٦ مخ کي نقل کړی دی او عبارت یې په داسي ډول دی :

وعن سعید بن جبیر : (عذّب الله أمّة کانوا یعبثون بمذاکیرهم)، إنتهی .

همدا ډول دغه اثر أبو طالب مکي په قوت القلوب کي د حدیث په بڼه په خپل سند سره روایت کړی دی، سند او عبارت یې په لاندي ډول دی :

قال أبو طالب المکّي : وقد روینا عن أبان بن إسماعیل عن أنس عن النبي صلی الله علیه وسلم : (إنه أهلک الله تعالی أمة من الأمم کانوا یعبثون بذکورهم)، إنتهی .

نه ده چي د دې اُمت هغه ډله کوم چي خپل شهوتونه په موټانو سړوي ؛ نو دوی به هم الله تعالی په خپل یو عذاب تباه کړي او الله تعالی دي خپل رحم وکړي ؛ آمین .

## موټ وهونکی به د قیامت په ورځ په سخت عذاب کي راګیر وي

(۵) حضرت ابن جُریج رحمه الله علیه وایي : ما له (حضرت) عطاء ابن رباح رحمه الله علیه څخه واورېدل چي ده فرمایل : (بېشکه د قیامت په ورځ به داسي یو قوم الله [تعالی] راپورته کړي چي لاسونه به یې بلارب وي او دا به هغه کسان وي چي دوی په دُنیا کي په لاسونو باندي موټان وهلي وي)[۷] .

## د موټ وهونکي لاس به د قیامت په ورځ بلارب وي

(۶) په ځینو آثارو کي روایت سوی دی : (چي موټ وهونکی کله له قبره څخه راووځي ؛ نو لاس بې یې بلارب وي او له ضایع سوو اوبو څخه به یې یو مخلوق جوړ سي چي بې یې سره به وي او دی به مُکلف سي چي جوړښت یې ورپوره کړي او ډېر سخت به غمجن وي)[۸] .

---

[۷] رُوح البیان ۳ ټوک، ۲۰۰ مخ، رُوح المعاني ۱۸ ټوک، ۱۱ مخ، تفسیر السمعاني ۳ ټوک، ۴۶۴ مخ، تفسیر السّراج المُنیر ۲ ټوک، ۴۵۱ مخ، تفسیر ابن عادل ۱۴ ټوک، ۱۷۲ مخ او ځیني داسي نور او اثر د معنا په لحاظ صحیح دی، هیڅ شک پکي نسته آه ! او عبارت د اثر په لاندي ډول دی :

قال إبن جُریج : سألت عطاء عنه ؛ فقال : (سمعت أنّ قوماً یحشرون وأیدیهم حُبالی وأظنهم هؤلاء) .

او د سمعاني صاحب عبارت په لاندي ډول دی :

وعن إبن جُریج أنهُ قال : سألت عطاء عنه ؛ فقال : (هو مکروه)، فقلت : أفیه حَدّ ؟ فقال : (ما سمعتُ !) . وعن سالم بن عبد الله بن عُمَر أنهُ سُئِل عن هذا الفِعْل ؛ فقال : (أف ! أف ! سمعت أنّ قومًا یحشرُون وأیدیهم حُبالی ؛ فأظن أنهم هؤلاء) . إنتهی

[۸] دغه اثر په تغیر سره د لږ الفاظو امام طحطاوي په خپله حاشیه د دُرّ المُختار کي نقل کړی دی او عبارت یې په لاندي ډول دی: قال الطّحطاوي رحمه الله علیه : (وَرِد أنّ الکف تجئ یوم القیامة حُبلی، وإنّه

**یادونه : دځینو عُلماؤ کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَیهِم له نظره معلومیږي : د قیامت په ورځ به یوه ډله داسي وي چي په یوه سرې پسي به یې شپږ سوه کسان، یا داسي تر دې بالا کسان به په پسې وي او دا به هغه اولاد وي چي د ده له بلارب سوي لاس څخه بې الله تعالی په ورځ د قیامت په خپل قدرت سره جوړ کړي او دا به هغه وي چي ده په ضایع سوو اوبو او خپلو منیو کي بایللي وي ؛ نو د داسي چاڼپاره ډېر افسوس دی چي دا عمل کوي او توبه نه ځني باسي او د دې بلاربېدو اثر به د قیامت په ورځ معلوم سي .**

**او د دې عِلمي نظر عبارت لاندي په حاشیه کي په تفصیل سره بیان سوی دی[۹] .**

---

یخلقُ خلقٌ مِن ذلک الماء لا رأس لهُ یُطالب فاعل ذلک بإتمام خلقه تعذیبًا له)، كذا في حاشية الطّحطاوي على دُرّ المُختار ١ توک، ۴۵۲ مخ .

[۹] قال في دروس شیخ سعید بن مُسفر : (السّؤال) ما حُکم العادة السّرية ؟ وما هي طُرق التّخلُص مِنها ؟

(الجواب) : هذه العادة السرية اسمها في الشرع : نكاح اليد، وسُميت بالعادة السرية ؛ لتخفيفها ولإمضائها على الناس بسهولة، وإلا ؛ فإسمها : نكاح اليد، وقد ورد في الأثر لعن صاحبها، قال : (لعن الله ناكح يدِه) .

وجاء في الأثر أيضًا : (أنّ ناكح يده يبعث يوم القيامة ويده حُبلى مِنهُ)، أي : ما مِن حيوان منوي يخرج عن طريق الإستمناء باليد إلا ويده تحمل مِنه، ولكن آثار الحمل لا تظهر الآن، تظهر يوم القيامة إذا بُعِث الإنسان وقام مِن قبره، وإذا به يجد يده مثل الجبل، لها ستون سَنَة ؛ فمَنْ يحاسب في ذاک اليوم على الحفائظ وعلى الرّضاعات ؟! وكيف يخارج نفسه في ذلک اليوم - لا حول ولا قوة إلا بالله ؟! وما موقفه إذا جاء أهل الإيمان يأخذون كتبهم بأيمانهم، وإذا قالوا : خُذ كتابک وإذا بها مشغولة بشهوته والعياذ بالله، والله إنّها سفاهة وسفالة وخسة ونذالة، أن تستعمل يدک في هذا الأمر .

إنّ الله عزّ وجَلّ يقول وهو يصف عباد الرحمن : ﴿ وَالّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ . إلا عَلَى أزوَاجِهِمْ أوْ مَا مَلَكَتْ أيْمَانُهَم ﴾ [المؤمنون : ۵- ۶]، أي: الأمَة، الجارية التي تملكها ؛ لأنّ أحد الشّباب يقول : إلا ما ملكت أيماننا، يحسب أنّها يده اليمين، لا بل ﴿ مَلَكَتْ أيْمَانُهُمْ ﴾ [المؤمنون : ۶]، أي : الأمَة، القَيْنَة التي يملكها الإنسان، وهي رقيقة عنده ؛ فيجوز له أن ينكحها ويتسرّى بها : ﴿ أوْ مَا مَلَكَتْ أيْمَانُهُمْ ﴾، ﴿ فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ ﴾ [المؤمنون :۷]، إبتغى وراء الزوجة، أو ملک اليمين المتسرّي بها : ﴿ فَأولَئِکَ هُمُ العَادُونَ ﴾ [المؤمنون:۷]، أي : المعتدون على حُرَمات الله .

والنبيّ عليه الصلاة والسلام يقول : (يا معشر الشباب ! مَنِ استطاع مِنكم الباءة ؛ فليتزوّج ؛ فإنهُ أغض للبصر وأحصن للفرج، ومَنْ لم يستطع ؛ فعليه بالصّوم ؛ فإنه له وِجاء)، وجاء أي : حاجز وحصن .

فالصّوْم يقطع مِنك الشّهوة، ولا تأتيك بإذن الله ! .

كيف تصوم ؟! تصوم الإثنين والخميس، وتصوم ثلاثة أيام مِن كُلّ شهر، وتستعين بالله، وعليك أن تتقي الله عز وجل ! .

ثم إنّ هُناك فتوى مِنْ هيئة كِبَار العلماء بإجماع الهيئة : أنّها محرمة تحريمًا قطعيًّا، وأنّهُ لا يجوز أبدًا أنْ يقع فيها المسلم بأيّ حال مِن الأحوال .

ثم إنّ هناك فتاوى طبية مِن منظمة الصحة العالمية، يقولون : إنّ مزاولة هذه العادة مضرّ بالجسد وبالعقل وبالنّفس، (أولا) تضعف الأنسجة الموجودة في عضو الإنسان ؛ مما يجعله غير قادر على مباشرة زوجته إذا تزوّج .

(ثانيا) تضعف الحيوانات المنوية ؛ لأنه يستهلك في الإستمناء باليد طاقة كبيرة مِن القوّة والشباب والحيوية، مما يجعله إذا تزوّج غير قادر على الإنجاب ؛ فلا يرمي إلا حيوانات منوية تموت قبل أن تصل إلى رحم المرأة، فلا ينجب، ويعيش عقيما - والعياذ بالله .

(ثالثا) يقول العلماء والأطّباء : إنّ الإنسان الّذي يزاول هذه العادة تشعره دائما بالإحباط وبالضمور، وتجعله دنيء الهِمَة، خفيف القصد ؛ لأنه كُلّما بدرت عنده هذه النزوة ؛ وَجَدَ زوجة قريبة، فقام على يده، يعني : امرأته يده - والعياذ بالله ؛ فيتحول مِن إنسان كريم إلى إنسان سافل هابط .

فاتقِ الله يا مسلم ! واستعصم به ! . ثم هناك وسائل: لا تسمع الغناء، ولا تقرأ القصص الخليعة الغرامية، ولا تنظر إلى الحرام، ولا تتابع الأفلام ؛ لأنّ هذه تُذكي فيك نار الشّهْوة وتشعله، وإذا اشتعلت نار الشّهْوة ؛ فما يبرّدها إلا خُرُوج هذه الحيوانات المنوية عن طريق الحلال بالزّوجة، أو طريق الحرام إمّا بالزّنا أو بالإستمناء .

فلا يجوز لك يا مسلم ! أن تشعل هذه الشّهْوة، وإذا زادت عندك ؛ فعليك بالصّوم، فإنّ الصّوم وِجاء، وأيضا مِن رحمة الله أنه إذا زادت عندك نسبة الحيوانات المنوية أنّ الله يصرفها لك بطريق الإحتلام، تنام وتخرج منك في النّوْم ؛ فلا يأتيك أيّ ضرر، وذلك مِنْ فضل الله تبارك وتعالى .

فعليك أن تعتصم بالله، وأن تتوب، وألا تقع في هذه المعصية الكبيرة - والعياذ بالله . إنتهى

وقال الشيخ سعيد في موضع آخَر :

هذه العادة السّرية أنا أسميها : العادة الشّيطانية، وهم يسمّونها : العادة السّرية لتلطيفها، وإلاّ فإسمها في الشّرع : نكاح اليد ؛ لأنّ الإنسان يزني بيده، وقد وُرِد في الحديث لعنته : (لعن الله ناكح يده)، وإنّ ناكح يده يوم القيامة يبعث ويده حبلى، وما مِن حيوانٍ منوي يَخرُجُ عن طريقِ الإسْتمناء باليد إلا وتحمل هذه اليد منه ؛ لكن متى تطلع آثار الحمل ؟! يوم القيامة ؛ كيف تبرئ نفسك يا أخي ! إذا أتيت يوم القيامة، ويدك

(۷) دأُخروي سزاوو په هکله په یو قول کي نقل سوي دي : (چي موټ وهونکی به د قیامت په ورځ دا خوښه ګڼي چي په مځکه ژوندی ننوځي او دا به وایي : افسوس ! کاشکي ما په دُنیا کي موټ نه وهلای ! او خپله ځواني مي نه وای برباد کړې !)[۱۰].

دا د موټ وهونکي هغه سزاوي دي چي الله تعالی په آخرت کي ورته تیاري کړي دي او ټوله په حدیثو، آثارو او اقوالو سره ثابتي دي ؛ باید چي په دې عمل اخته کسانان له دې مبارکو خبرو څخه په بشپړه پند اوعِبرت واخلي .

یادونه : الله تبارک وتعالی چي څرنګه پر موټ وهلو په آخرت کي ډول ډول عذابونه مُرتب کړي ول ؛ نو داسي په دې دُنیا کي یې هم ډول ډول عذابونه پر مُرتب کړي دي او هغه عذابونه ځیني ناروغیاني دي او ځیني تاوانونه دي او هغه به اوس ټوله په راتلونکي عنوان کي بیان سي – په داسي ترتیب چي هر لوستونکی به په پوهیږي ؛ وَاللهُ وَلِيّ التّوفیق، وبیده أزِمّةُ التّحقیق .

---

حبلى فيها ثمانمائة أو تسعمائة ولد، مصيبة يا أخي ! كيف هذا، هذه عادة خبيثة محرمة، والدّليل قول الله عَزّ وجَلّ : ﴿ وَالّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ . إلا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ ﴾ فقط، أي : أمة عندك، ﴿إِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ . فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ﴾. أي : المعتدون المتجاوزون لأمر الله، لو كان نكاح اليد سائغا ؛ لأباحه الله ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾ [مريم : ۶۴] . إنتهى

وقال الشيخ سعيد في موضع آخَر :

ملعون والتي تأتي يده يوم القيامة حبلى له، كُلّ حيوان منوي يخرج عن طريق الإستمناء باليد فيما يسمونه بالعادة السرية، وما هي عادة سرية، إنّما هي عادة شيطانية، ويسمّونها في الشّرع نكاح اليد، والعياذ بالله، ولكن لا يرى آثار هذا الحمل إلا يوم القيامة، وتصوّر ! أنّ شخصاً معه ستمائة ولد يوم القيامة يسحبهم بيده ؛ فهذه مَصيبة . إنتهى

دروس للشيخ سعيد بن مسفر ۷ توک، ۳۲ مخ، ۳۳ توک، ۲۷ مخ، ۸۹ توک، ۲۶ مخ او تر دې مي بل په هیڅ یو کتاب کي دومر ښایسته بیان نه دئ پیدا کړی ! چي د موټ وهني په باب دي یې دومره ښه اثري بیان کړی وي، لکه شیخ سعید بن مسفر صاحب چي په خپل دې کِتاب کي کړی دی او ما هم د الله ربّ العزت په توفیق سره دا بیان ټوله په دې کتاب کي په حاشیو کي ذِکر کړی چي په عربي لوستونکي ګټه تري واخلي ؛ وَاللهُ المُوفقُ وَالمُعِينُ .

[۱۰] د دې قول مفهوم مي په تفسیر السّمعاني کي لیدلی دی ! ۳ توک، ۴۶۴ مخ .

## د موټ وهلو تاوانونه

۱. لوی څښتن تبارک وتعالی په ناراضه کیږي ؛ ځکه دا غټه ګناه ده .
۲. د رحمت فریشتې لیري کوي .
۳. د عبادتو خوند او برکت ختموي .
۴. د جریان ناروغي پیدا کوي .
۵. د ملا درد پیدا کوي .
۶. دماغ او اعصابي رګونه کمزوري کوي .
۷. بدن کمزوری کوي چې له امله یې نامردي او کهالي پیدا کیږي، وینه کمیږي او په منیو کي دانې (حیوانات منویه) کوچني کیږي .
او د منیو دانې چې کله ډیري کوچنۍ سي، یا خامي سي ؛ نو چې کله د ښځي په بچه دانۍ کي ولوېږي د بچي د تاوان خطره ورسره ده، یا دا چې بچی بې ځایه سي او مړ سي .
۸. په ډېر موټ وهلو سره د زړه دوره هم پیدا کیږي او په زړه کي ډول ډول فکرونه او وسوسې پیدا کوي .
۹. په معده کي له خوراک مخکي، یا وروسته ږغ وغ پیدا کوي او بوج وربانديراولي .
۱۰. د سترګو نظر کمزوری کوي .
۱۱. بې غیرتیا پیدا کوي، یعني : انسان بې غیرته ګرځوي ؛ ځکه له دې څخه مردانه قوت ختمیږي .
۱۲. د کار، یا یو عبادت کولو اراده کمزورې کوي .
۱۳. د بدن غوړزګي وچوي کوم چې په هغه سره د بدن پرورش کیږي .
۱۴. په دیني کارونو کي د شرم ماده پیدا کوي، د مثال په توګه : کله چې موټ وهونکی په یو مجلس کي کښیني، حال دا چې ده ته د خبرو کولو اجازه هم وسي او د ده خبري کول په هغه مجلس کي لازمي وي ؛ نو دی به په داسي د

ښېګڼو او خیرخواهۍ په ځایونو کي شرمیږي او سره له دې چي شرم کول په داسي مواردو کي ښه نه دی، بلکي دا یو غټ تاوان دی .
۱۵. د زړه اندېښني او غمونه زیاتوي .
۱۶. په ډېرو کولو سره د خایو درد پیدا کیږي .
۱۷. پر مخ ګرمکي او داني پیدا کوي او توروي یې، بې نوره کوي یې .
۱۸. زړورتیا او دلاورتیا ختموي .
۱۹. په ډېرو کولو سره د مُنیو د تلو خوند او لذت ختمیږي .
۲۰. د سر درد پیدا کوي .
۲۱. داورېدلو قوت کمزوری کوي .
۲۲. د خولې بدبويي پیدا کوي .
۲۳. د زنا، لواطت او مساحقت غوندي بدفعلیو ته شوق پیدا کوي او مینه یې زیاتوي چي ټولي کبیره (غټې) ګناوي دي .
۲۴. تناسلي اندام کوږوالی ته مایلوي .
۲۵. د تناسلي اندام رګونه پړسوي .
۲۶. له حلالي نکاح او دیني زده کړي څخه بې رُغبتي پیدا کوي .
۲۷. رعشه (یعني : رېږدېدل) پیدا کوي، د مثال په توګه موټي به په وخت د بیري او جګړي کي رېږدي، لاسونه به یې کپیږي او زړه بې دربی کوي چي په طبي لحاظ سره ودې ته (خفقان القلب) ویل کیږي .
۲۸. په ډېر وهلو سره د انسان عمر لنډیږي ؛ ځکه جوهري مواد چي کم سي ؛ نو انسان بوډا سي او کله چي بوډا سي ؛ نو عمر یې د زاوال په لوري روان سي .
۲۹. په ډېرو کولو سره د مخ نور او ځلا ختمیږي او د مخ ژړوالی، یا توروالی زیاتیږي او دا هم یو تاوان دی .
۳۰. د وېښتیانو ټینګوالی کمزوری کوي ؛ په ځانګړې توګه د بانوګانو، وریځي او د بږیري د وېښتیانو ختلو لامل جوړیږي چي په آساني سره به خیږي، که دا اوداسه په دوران کي وي، یا داسي په بل دوران او کار کي وي ؛ نو وېښتیان

به یې سُست وي او په آساني سره به خیږي .
۳۱. د تیانو او ځنګنو درد پیدا کوي .
۳۲. په ډېرو کولو سره مُني په وینه بدلوي .
۳۳. عقل، ذهن او د حافظې قوت کمزوری کوي .
۳۴. په ډېرو کولو سره موټکي ته د سوزاک ناروغي پیدا کیږي چې د بولو وتلو پر مهال یې تناسلي کانال سوخت کوي، یا څک څک بولي یې بهیږي، یا بې له ارادې او اختیاره بولي ځني بهیږي او یا د دې برعکس بولي یې بندي سي چې (حبس البول) ناروغي ورته وایي .
۳۵. د بې همتۍ لامل ګرځي، یعني : انسان به بې همته وي او له ژونده څخه به یې زړه تور وي او ژوند تېرول به خوند نه ور کوي .
۳۶. لوړه زیاتوي .
۳۷. ځیګر کمزوری کوي .
۳۸. د سُرعت انزال او احتلام ناروغي پیدا کوي .
۳۹. په ډېرو کولو سره انسان باوله، یا لېونی ګرځي .
۴۰. په ډېرو کولو سره د سِل ناروغي، یعني : زړه تبه پیدا کیږي .
۴۱. او په ډېرو کولو سره یې انسان ته مرګ ناڅاپه راځي .
دا هغه ډول ډول تاوانونه او ناروغیاني دي چې الله ﷻ د موټې وهونکو لپاره دنیاوي سزاوي ګرځولي دي او داخروي ذکر خو په مخکنیو عنوانو کي تېر سو چي کله دوی د قیامت په ورځ راپورته سي ؛ نو لاسونه به یې بلارب وي او دا تاوانونه ما د الله تعالی لایزال ذات په فضل سره له معقولاتو او منقولاتو څخه راټول کړله ! د دې لپاره چې ځوان، یا هغه ښځه چې په دې بدفعلي اخته وي کله دا وپېژني ؛ نو زه اُمید لرم ! چې په بشپړه به له موټې وهلو څخه خپل ځان وژغوري او خپله ځواني به په خپل لاس برباد نه کړي او د راروان وخت لپاره به په اخلاص توبه ځني وباسي ؛ واللهُ المُوفّقُ والمُعينُ، وبه أستعينُ ! .

**فایده :** الله تعالی دا تاوانونه د موټ وهونکو لپاره عبرتونه گرځولي دي ؛ ځکه چې خپلي ځوانیاني له دې خبیث فعل څخه راوگرځوي او په بشپړ يې ځني وساتي او د داغه حکمتونو له کبله الله ﷻ هم موټ وهنه ناروا کړې ده . الهي دغه مذکوره خبري د ځوانانو لپاره د نېکمرغۍ لامل وگرځوې ! آمین، یا إلهُ العالمین .

**یادونه :** انسان چې موټ وهي ؛ نو یو سبب ورته مُهیا سي، بس د هغه له کبله موټ ووهي او د موټ وهلو بېلابېل سببونه دي او هغه به ټوله په څلورمه برخه کي راسي چې هغه د لواطت په اړوند برخه ده، که يې گورئ ؟! نو هلته يې پلټنه وکړئ ! اوس يې دلته مکررولو ته اړتیا نسته .

او که څوک يې له سببونو څخه خپل ځان وژغوري ؛ نو هغه به الله تعالی له دغو مذکوره ټولو تاوانونو څخه وژغوري ؛ دا د تجربې خبره ده .

**د موټ وهني پرېښودلو په هکله یادونه :** د موټ پرېښودلو لپاره ډېري مجربې نسخې سته کومي چې د څلورمي برخي په پای کي به ذکر سي او هغه د شهوت قابو کولو لپاره هم ډېري مجربې دي ؛ نو هلته يې وگوره ! . او پوه سه ! په دې چې هره هغه نسخه چې د یوې ناروغۍ د روغتیا، یا د یوې گناه د دفعې لپاره استعمالیږي ؛ نو هغه هره یوه بس د هغې درملنه بلل کیږي او کومي نسخې چې د موټ پرېښودلو په هکله په څلورمه برخه کي ذکر کیږي ؛ هغه د موټ وهلو علاجونه دي آه! أللّٰهمّ احفظني مِن نکاح الید یا الله ! یا أحدُ ! یا فردُ ! یا صمدُ ! .

## ایا موټ وهنه یو مهال روایښت لرئ ؟

دا پوښتنه د موټ وهني له مهمو بحثو سره تړاو لري او ډېر خلک د دې عنوان لوستل غواړي او ځان ورباندي پوهول غواړي .

که ووایو : چې سپېڅلی شریعت د هري سختۍ لپاره لاره ښودلې ده ! عجبه به نه وي ؛ خو دا موضوع چې موټ وهنه کله روایښت لرئ ؟ دې ته هم سپېڅلي شریعت لاره ښودلې ده .

د حنفي فقهي زياتره عُلماء كرام پر دې مُتفق دي چې كله يو انسان يوې سختي گناه ته، لكه : زنا، يا لواطت ته مجبوره سي ؛ نو د ده لپاره دغه مهال د موټ وهل واجب دي، لکه څرنگه چې قاضي ابن عابدين رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ پر دې خبري تصريح کړې ده[11] .

او همدا ډول علامه ابن عابدين رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ او ځينو نورو فقهاؤ نوري مسئلې هم بياني کړي دي چې د هغو او داسي د څو نورو گټورو بحثونو نتيجې به اوس ټولي په راتلونکي سرليک کي بياني سي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزمّة التّحقيق .

❁❁❁

---

[11] (قَولُهُ : وَلَوْ خَافَ الزِّنى إلَخْ) الظَّاهِرُ أنهُ غَيْرُ قَيْدٍ بَلْ لَوْ تَعَيَّنَ الْخَلَاصُ مِن الزِّنى بِهِ وَجَبَ ؛ لأنّهُ أخَفّ. وَعِبَارَةُ الْفَتْحِ فَإِنْ غَلَبَتْهُ الشّهْوَةُ فَفَعَلَ إرَادَةَ تَسْكِينِهَا بِهِ ؛ فَالرّجَاءُ أنْ لاَ يُعَاقَبَ آه ! . حاشية إبن عابدين، كتاب الصّوم، باب : ما يُفسد الصّوم وما لا يُفسده، مطلب في حُكْم الإستمناء بالكَفّ .

## (په مکمله توګه)

## د موټ وهني د مسئلو او پاته نورو موضوعګانو مهمي نتيجې

د موټ وهني په هکله چي کومي موضوعګاني، يا مسئلې، يا داسي نوري خبري سوي دي او په مختلفو کتابو، رسالو، ورځپاڼو، مجلو، اسلامي انټرنيټي ويب پاڼو، اونيزو او مقالو کي سره پاشل سوي دي او زما څخه يې په دې کتاب کي يادونه پاته سوې وي، که يې زه دلته راوړم ؛ نو کتاب به ډېر اوږد سي او د مقصد له دايرې څخه به ووځي او پر لوستونکو به بوج سي ؛ مګر ما له هغو ټولو څخه داسي نتيجې راوايستلې چي هغه ټوله دلته په څو خبرو کي حل سوي دي او هر لوستونکی کولای سي چي په پام کي يې ونيسي او د ضرورت پر مهال خپله ګټه تري واخلي اوهغه ټولي په لاندي ترتيب سره دي :

أ. يو انسان چي کله زنا، يا لواطت ته مجبوره سي ؛ نو دا ورته روا ده چي موټ ووهي او له دې سختي ګناه څخه – چي زنا، يا لواطت دی خپل ځان خلاص کړي ؛ ځکه فقهاؤ دا قاعده ايښې ده چي وايي : " يَرْتَكِبُ أَخَفَّ الضَّرَرَيْنِ لِإتِّقَاءِ أَشَدِّهِمَا "، يعني : سپک د ضررې شيانو عملي کيږي چي له سخته يې ژغورنه راځي ؛ نو زنا، يا لواطت تر موټ وهلو په بدوالي کي سخته ګناه ده، دغه حالت موټ وهل روا کيږي او له دې حالته ماسوا موټ وهل ناروا دی .

ب. او انسان چي موټ کله ووهي ؛ نو دستي دي غسل وکړي او غسل په هر حال، يعني : د رواوالي او نارواوالي دواړو حالتونو کي ښه دی ؛ ځکه دا يو ځانګړی ادب دی او بل اړخ ته فرض هم دی ؛ ځکه دا غُسل کول له جنابته دی آه !.

**یادونه : ما د موټ د رواوالي په حالت کي څو آداب ښودلي دي ؛ د تفصیل لپاره زما رسالې** (ضِیاء المقصد في ذمّ الإستمناء بالید) **ته مراجعه وکړه ! .**

ج. بې له عذره موټ وهل چي د زنا، یا لواطت خطره هم نه وي ؛ نو مکروه دی او د ځینو په نېز حرام دی چي په غټو ګناوو کي داخلیږي او د عُذر په خاطر وهل جایز دی، بلکي د علامه ابن عابدین او داسي نورو فقهاؤ په نېز واجب دی چي ځیني د ثواب اُمید ورته کوي ؛ ځکه واجب عمل ترسره کول په اتّفاق سره د ثواب موجب ګرځي، یعني : ثواب یې په آخرت کي واجب دی .

د. د خپلي ښځي، یا مینځي په لاس موټ وهل پروا نه لري چي د دوی رضا وي او که رضا یې نه وي ؛ نو بیا مکروه دی او د بل په لاس موټ وهل، یا په دېواله، یا یو غوړ، یا غوښو، یا بل داسي شی کي تنه ایستل او ځان انزالول ناروا دی، که څه هم د روایښت حالت یې وي .

ه. که یو انسان په روژه کي موټ ووهي – خوا که فرضي روژه وي، یا نفلي ؛ نو روژه یې ماته سوه او د دې روژې قضا به راوړي، هو ! کفاره ورباندي نسته .

و. د اعتکاف په دوران کي موټ وهل اعتکاف فاسدوي او که بې موټه مني راووځي، یعني : صرف په فکر، یا د کتني، یا د احتلام په صُورت کي راووځي ؛ نو اعتکاف نه فاسدیږي .

ز. د حج، یا عمرې په دوران کي موټ وهل حج، یا عمره نه فاسدوي، هو ! یو دَم، یعني : یو پسه خیراتول ورباندي واجبیږي چي خیرات یې کړي ؛ ځکه د دې انسان غاړي په خلاصیږي، یعني : د موټ وهني ګناه یې رژیږي .

ح. او کوم انسان چي بې له عذره موټ وهي ؛ نو د وخت قاضي، یا امیر، یا هسي یو مشر چي واک ورباندي لري تعزیر (سزا) ورکولای سي او هغه سزا به داسي وي چي زخم، یا مرګ ژوبله به نه وي ورسره او که داسي وي چي صرف یېره او دباو ورباندي واچوي او له موټ وهلو یې وېروي ؛ نو هم کافي

ده، لکه څرنګه چې د زياترو عُلماؤ دغه رأيه ده[۱۲] .

**ط.** د موټ وهني غټ لاملونه دا دي : چي انسان سروز اوري، يا عشقي کيسې لولي، يا لوڅ پوڅ تصويرونه او فلمونه ګوري او يا لغړزني، يا نجلۍ ته په تېزي سره ګوري ؛ ځکه دا د شهوت اور بلوي چي بيا د هغه مړ کېدل او خامېدل نه راځي ؛ مګر د شهوت داوبو (منيو) په وتلو سره او کله چي دا مني د موټ، يا زنا، يا لواطت له لاري ووځي ؛ نو دغه مهال د شهوت اور سوړ او زړه يخ سي .

**ي.** د پوهانو نظريه ده : څوک چي ډېر مجبوره نه سي او د زنا، يا لواطت بېره پر ځان وه نه ويني ؛ نو له موټ وهني څخه دي په بشپړ پرهېز کوي . الله تعالى دي مو شهوتونه په خپل ځای د حلالو کي استعمال کړي ؛ آمين.

دا هغه نتيجې وې چي د موټ وهني تړوله ګټور بحثونه، ښې مسئلې او مهمي خبري پکي حل سوي دي او شمېر يې لسو ته رسيږي ؛ والحمد لله تعالىٰ .

اوس به په کتاب کي درېيمه برخه پيل سي، چي د زنا د موضوع په هکله ده ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزمّة التّحقيق .

**يوه مهمه (ځانګړې) يادونه :** ځيني داسي نور بحثونه هم سته چي تر موټ وهني تړاو لري، لکه : د موټ د روأيښت پر مهال آداب، د موټ وهني د ناروا والي حکمتونه، د عبرت مختلفي کيسې او داسي نور ؛ نو د دې ضرورت په دې کتاب کي نسته، بيا هم که څوک يې مطالعه کول غواړي ؛ نو زما دغه کتاب (ضِياء المقصد في ذمّ الإستمناء باليد) ته دي مراجعه وکړي ؛ په هغه کي د تېرو مسئلو په بشپړ تفصيل هم تر ذهنه کولای سي کومي چي اوس په نتيجو کي بياني سوې او هغه مي خالص د موټ وهني په باره کي جوړ کړی دی .

د دويمي برخي پای

❀❀❀

---

[۱۲] حاشية إبن عابدين، تېره حواله، الموسوعة الفقهية، شرعي مُصطلح (إستمناء) او څو نور .

# دریيمه برخه

## زنا څه ته وايي؟

زنا په لُغت کي فاحش او بد کار ته ويل کيږي او په اصطلاح کي ودې ته وايي چي : انسان خپل تناسلي اندام په ناروا فرج کي استعمال کړي، يعني : انسان له يوې پردۍ ښځي سره کوروالی وکړي ؛ نو ودې ته د عامو فقهاوُ په نيز زنا وايي ؛ د تفصيل لپاره لاندي حاشيه وګوره ![۱۳] .

په عربي کي (الزّنا)، يا (فاحشة)، په اُردو او فارسي کي هم (زنا) او په انګريزي کي (Adultery)، يعني : اډلټري ورته وايي .

---

[۱۳] قال مؤلفوا الكتاب الموسوعة الفقهية من المذاهب الأربعة :

الزّنى : الْفُجُورُ .

وَهَذِهِ لُغَةُ أَهْلِ الْحِجَازِ، وَبَنُو تَمِيمٍ يَقُولُونَ : زَنَى زِنَاءً، وَيُقَال : زَانَى مُزَانَاةً، وَزِنَاءً بِمَعْنَاهُ .

وَشَرْعًا : عَرَّفَهُ الْحَنَفِيَّةُ بِتَعْرِيفَيْنِ : أَعَمّ، وأَخص ؛ فَالأَعَمّ : يَشْمَل مَا يُوجِبُ الْحَدَّ وَمَا لاَ يُوجِبُهُ، وَهُوَ وَطْءُ الرَّجُل الْمَرْأَةَ فِي الْقُبُل فِي غَيْرِ الْمِلْكِ وَشُبْهَتِهِ . قَال الْكَمَال بْنُ الْهُمَامِ : وَلاَ شَكَّ فِي أَنَّهُ تَعْرِيفٌ لِلزِّنَى فِي اللُّغَةِ وَالشَّرْعِ ؛ فَإِنَّ الشَّرْعَ لَمْ يَخُصَّ اسْمَ الزِّنَى بِمَا يُوجِبُ الْحَدَّ مِنْهُ بَل هُوَ أَعَمّ . وَالْمُوجِبُ لِلْحَدِّ مِنْهُ بَعْضُ أَنْوَاعِهِ . وَلِذَا قَال النَّبِيّ ﷺ : (إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا أَدْرَكَ ذَلِكَ لاَ مَحَالَةَ ؛ فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ ...)، الْحَدِيثُ . وَلَوْ وَطِئَ رَجُلٌ جَارِيَةَ ابْنِهِ لاَ يُحَدّ لِلزِّنَا، وَلاَ يُحَدّ قَاذِفُهُ بِالزِّنَا، فَدَل عَلَى أَنَّ فِعْلَهُ زِنًا وَإِنْ كَانَ لاَ يُحَدّ بِهِ .

وَالْمَعْنَى الشَّرْعِيّ الأَخَصّ لِلزِّنَى : هُوَ مَا يُوجِبُ الْحَدّ، وَهُوَ "وَطْءُ مُكَلَّفٍ طَائِعٍ مُشْتَهَاةً حَالاً أَوْ مَاضِيًا فِي قُبُلٍ خَالٍ مِنْ مِلْكِهِ وَشُبْهَتِهِ فِي دَارِ الإِسْلاَمِ، أَوْ تَمْكِينُهُ مِنْ ذَلِكَ، أَوْ تَمْكِينُهَا " . وَعَرَّفَهُ الْمَالِكِيَّةُ : بِأَنَّهُ وَطْءُ مُكَلَّفٍ مُسْلِمٍ فَرْجَ آدَمِيٍّ لاَ مِلْكَ لَهُ فِيهِ بِلاَ شُبْهَةٍ تَعَمُّدًا.وَهُوَ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ : إِيلاَجُ حَشَفَةٍ أَوْ قَدْرِهَا فِي فَرْجٍ مُحَرَّمٍ لِعَيْنِهِ مُشْتَهًى طَبْعًا بِلاَ شُبْهَةٍ . وَعَرَّفَهُ الْحَنَابِلَةُ : بِأَنَّهُ فِعْل الْفَاحِشَةِ فِي قُبُلٍ أَوْ فِي دُبُرٍ .

وقال في موضعٍ آخَر : الزِّنَى فِي اللُّغَةِ : الْفُجُورُ . يُقَال : زَنَى يَزْنِي زِنًى وَزِنَاءً بِكَسْرِهَا : إِذَا فَجَرَ .

وَاصْطِلاَحًا : إِيلاَجُ حَشَفَةٍ أَوْ قَدْرِهَا فِي فَرْجٍ مُحَرَّمٍ لِعَيْنِهِ مُشْتَهًى طَبْعًا بِلاَ شُبْهَةٍ . إنتهى

الموسوعة الفقهية الكويتية ۲۴ توک، ۲۵۱ مخ .

## زنا څنګه پیل سوه؟

ابن جریر، ابن المُنذر، ابن أبي حاتم او بیهقي رَحِمَهُمُ الله د حضرت ابن عبّاس رضي الله عنه په حواله نقل کړي دي چي هغه یو پلا دا آیت ولوستی: ﴿ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ٱلْأُولَىٰ ﴾[۱۴].

او دا یې وفرمایل: چي د (حضرت) نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ او (حضرت) ادریس عَلَيْهِ السَّلَامُ په مینځ کي د زرو کالو فاصله وه؛ نو په دې مینځ کي د (حضرت) آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ له اولا دې څخه دوې ډلې پاتي سوې چي یوه ډله یې په اواره مځکه کي اوسېدله او بله ډله یې په غرونو [او شګلنه] مځکه کي اوسېدله او د اواري مځکي نارینه ډېر بدشکله ول اوښځي یې ښایستې وې او د غرونو [او شګلني مځکي] والاوُ نارینه ډېر ښایسته ول او ښځي یې بدشکله وې؛ نو هغه مهال ابلیس (لعین) د اواري مځکي د اوسېدونکو یو سړي ته د ښایسته زلمي په بڼه کي راغی او د هغه غلام جوړ سو، له هغه سره به اوسېدی او خدمت به یې کوی؛ نو بیا ابلیس (لعین) د چارپایانو په شېر یو لرګی جوړ کړی او هغه داسي آواز کاوه چي دا ډول آواز خلګو له دې څخه وړاندي هیڅ کله نه وو اورېدلی؛ نو دغه خلګو په خپل مینځ کي مشوره وکړل چي په کال کي یوه د خوښۍ ورځ جوړه کړي او دوی پکي راټول سي، بیا نارینه وو وښځو ته د ځان ورښکاره کولو په موخه خپل ځانونه ښایسته کول چي په مینه سره یوځای سي او کله چي سره یوځای سول؛ نو د غرو له اسېدونکو څخه یو کس په دوی کي ناڅاپه ولوېدی او هغه کس چي د دوی ښایست یې ولیدی؛ دستي یې د غرو اوسېدونکو ته خبر ورساوه چي هله ژر راسئ! هلته خو ډېري ښایستې ښځي دي، کله چي یې دا خبره واورېدله؛ نو دستي له غرو څخه راشوه سول او ښځو ته د میلمستیا په پلمه راغلل، بیا په دغه ډول یې له ښځو سره زناوي پیل کړې. او داغه راز الله

---

[۱۴] د الأحزاب سورت، ۳۳ آیت.

تعالی ارشاد فرمایلی دی : ﴿ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ٱلْأُولَىٰ ﴾ .

ژباړه : او مه څرګندوئ (اې ښځو !) خپل ښایست (پردیو سړیو ته) په ډول د اظهار (او ښایست) د جاهلیت (د ښځو) لومړنیو[(١٥)] .

یعني : اې ښځو تاسي خپل ښایست پردیو سړیو ته مه ښکاره کوئ ! لکه څرنګه چي د جاهلیت په زمانه کي ښځو وپردیو ته ځانونه په ښایست کي ښکاره کول .

دا د زنا پیل وو چي حضرت عبد الله بن عبّاس ﷺ د دې آیت شریف په تفسیر کي بیان کړی دی او حواله یې په حاشیه کي لاندي وګوره ! .

## په لنډه توګه د زنا بدوالی

الله تبارک وتعالی فرمایي : ﴿وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ

---

(١٥) دغه اثر جلال الدین سیوطي صاحب په خپل کتاب الوسائل في معرفة الأوائل ۵۴ - ۵۵ مخونو کي نقل کړی دی په حواله د ابن جریر، ابن مُنذر، ابن أبي حاتم او بیهقي. او د بیهقي عبارت په لاندي ډول دی :

حَدَّثَنَا أَبو عَبْدِ اللهِ الْحَافِظُ، ثنا عَلِيّ بْنُ حَمْشَاذَ، ثنا هِشَامُ بْنُ عَلِيٍّ السَّدُوسِيّ، ثنا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، ثنا دَاوُدُ بْنُ أَبِي الْفُرَاتِ، ثنا عَلِيّ بْنِ أَحْمَرَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ تَلاَ هَذِهِ الآيَةَ : ﴿ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى ﴾. قَالَ : " كَانَتْ فِيمَا بَيْنَ نُوحٍ وَإِدْرِيسَ أَلْفُ سَنَةٍ، وَإِنَّ بَطْنَيْنِ مِنْ وَلَدِ آدَمَ كَانَ أَحَدُهُمَا يَسْكُنُ السَّهْلَ وَالآخَرُ الْجبل، وَكَانَ رِجَالُ الْجَبَلِ صِبَاحًا وَفِي النِّسَاءِ دَمَامَةٌ، وَكَانَتْ نِسَاءُ السَّهْلِ صِبَاحًا وَفِي الرِّجَالِ دَمَامَةٌ، وَإِنَّ إِبْلِيسَ أَتَى رَجُلا مِنْ أَهْلِ السَّهْلِ فِي صُورَةِ غُلامٍ دَعَاهُ، فَجَاءَ فِيهِ صَوْتٌ لَمْ يَسْمَعِ النَّاسُ مِثْلَهُ ؛ فَاتَّخَذُوا عِيداً يَجْتَمِعُونَ إِلَيْهِ فِي السَّنَةِ، وَإِنَّ رَجُلا مِنْ أَهْلِ الْجَبَلِ هَجَمَ عَلَيْهِمْ وَهُمْ فِي عِيدِهِمْ، فَرَأَى النِّسَاءَ وَصَبَاحَتَهُنَّ، فَأَتَى أَصْحَابَهُ فَأَخْبَرَهُمْ بِذَلِكَ، فَتَحَوَّلُوا إِلَيْهِنَّ وَنَزَلُوا مَعَهُنَّ، فَظَهَرَتِ الْفَاحِشَةُ فِيهِنَّ ؛ فَذَلِكَ قَوْلُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى ﴾ ". إنتهى

شُعب الإيمان، السَّابِعُ وَالثَّلاثونَ مِنْ شُعَبِ الإِيمَانِ، وَهُوَ بَابٌ : فِي تَحْرِيمِ الْفُرُوجِ، وما يجب من التعفّف عنها، حدیث شمېره (۵۰۶۸) .

او دا ډول په تفسیر الجلالین کي هم دا تفصیل سته، وګوره ! ۲ توک، ۳۵۴ مخ، ۱۲ حاشیه آه ! .

سَبِيلًا ﴿٣٢﴾[١٦].

ژباړه : او مه نژدې کېږئ ! تاسي (اې زما بندګانو !) زنا ته بېشکه دا زنا ډېره بده ده (عقلا او نقلا) او بده ده دغه زنا له جهته د چلند هم (چې فتنه تري پيدا کيږي).

(۱) او له حضرت أبو هُريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (مُومن بنده چي کله زنا کوي ؛ نو ايمان ځني ووځي او پر سر يې داسي ودريږي، لکه سايوان، کله چي له زنا څخه فارغه سي ؛ نو ايمان بېرته ورته راسي)[۱۷].

(۲) او په بل حديث شريف کي نقل سوي دي : چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (ايمان يو کميس دی او په هغه چا يې الله [جل جلاله] اغوندي چي خوښه يې سي ؛ نو کله چي بنده زنا کوي الله دا کميس ځني وکاږي، بيا چي کله توبه وباسي ؛ نو بېرته دا د ايمان کميس په واغوندي)[۱۸].

(۳) او داسي په دوو نورو مبارکو حديثو کي نقل سوي دي چي : ايمان د زنا په حالت کي له مومن څخه وځي او ځني جلا کيږي او تر هغو پوري به دا بنده بې

---

[۱۶] سورت بني اسرائيل چي په عربي کي په (سورة الإسراء) سره شُهرت لري، ۳۲ آيت.

[۱۷] دا حديث امام حاکم په المُستدرک ۱ توک، ۷۲ مخ کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۵۶)، عبارت يې په لاندي ډول دی: (إذا زنى العبد ؛ خرج مِنه الإيمان، وكان كالظّلة، فإذا إنقلع منها ؛ رجع إليه الإيمان).

هذا حديث صحيح على شرط الشّيخين ؛ فقد إحتجا برواته، وله شاهد على شرط مسلم.

تعليق الذهبي في التّلخيص : على شرطهما. إنتهى

[۱۸] دا حديث بيهقي په شُعب الإيمان کي روايت کړی دی، عبارت يې په لاندي ډول دی :

(إنّ الإيمَانَ سِرْبَالٌ يُسَرْبِلُهُ اللهُ مَنْ يَشَاءُ، فَإِذَا زَنَى الْعَبْدُ ؛ نُزِعَ مِنْهُ سِرْبَالُ الإِيمَانِ، فَإِنْ تَابَ ؛ رُدَّ عَلَيْهِ).

شُعب الإيمان، حديث شمېره (۴۹۸۱).

ایمانه وي تر څو الله تعالی ته توبه باسي[۱۹].

(۴) او په بل روایت کي نقل سوي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایي: (زنا کول فقر پیدا کوي)[۲۰]، یعني: د فقر سبب ګرځي.

(۵) او په یو جامع روایت کي له حضرت حُذیفة بن الیمان رضي الله عنه څخه نقل سوي دي چي: رسول الله ﷺ وفرمایل: (اې مُسلمانانو! له زنا څخه ځانونه وژغورئ؛ ځکه په دې کي شپږ خویونه دي چي درې خویونه یې په دُنیا کي دي او درې یې په آخرت کي دي، کوم چي په دُنیا کي دي هغه: یو دا چي د انسان د مخ رُعب ختموي، عُمر لنډوي او د فقر همېشتوب پیدا کوي او کوم چي په آخرت کي دي هغه: یو له دغه انسانه به الله جل جلاله ناراضه وي او سخت حساب به ورسره وکړي او په دوږخ کي به همېشتوب ورکړي)[۲۱].

(۶) او په یو اثر کي نقل سوي دي چي: الله جل جلاله مُوسی علیه السلام ته وفرمایل: (اې مُوسی! زنا او غلا چي وه نه کړې؛ ځکه بیا به زه ستا څخه خپل دیدار پټ کړم!)[۲۲].

---

[۱۹] هغه دوه حدیثونه هم بیهقي روایت کړي دي، د حدیثو شمیرې یې دا دي: (۴۹۸۲) او (۴۹۸۳).

[۲۰] حدیث علامه مُتقي هندي په کنز العُمال کي نقل کړی دی، د حدیث شمېره اوعبارت یې په لاندي ډول دی:

۱۳۰۱۷: الزّنا یُورث الفقر. "هب، عد، ک في تاریخه، والقُضاعي عن إبن عمر". إنتهی

[۲۱] حدیث ذهبي په الکبائر ۵۸ مخ کي او سیوطي په اللآلئ المصنوعة کي نقل کړی دی، داسي أبو نُعیم په الحِلیة کي او بیهقي په شُعب الإیمان کي روایت کړی دی او عبارت د حدیث په لاندي ډول دی:

(یَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِینَ! إِیّاکُمْ وَالزِّنا؛ فَإِنّ فِیهِ سِتّ خِصَالٍ، ثَلاَثٌ فِي الدّنیَا، وَثَلاَثٌ فِي الآخِرَةِ، فَأَمّا الّتِي فِي الدّنیَا: فَذِهَابُ الْبَهَاءِ، وَدَوَامُ الْفَقْرِ، وَقِصَرُ الْعُمُرِ، وأمّا الّتِي فِي الآخِرَةِ: سَخَطُ اللهِ، وَسُوءُ الْحِسَابِ، وَالْخُلُودُ فِي النّارِ)، إنتهی.

[۲۲] دغه اثر حافظ ذهبي په الکبائر ۵۷ - ۵۸ مخونو کي نقل کړی دی او عبارت یې په لاندي ډول دی:

وفي العشر الآیات التي کتبها الله لمُوسی علیه السلام: و لا تسرق، ولا تزن؛ فأحجب عنک وجهي! فإذا کان الخطاب لنبیه موسی علیه السلام؛ فکیف بغیره؟!. إنتهی

اې کتونکې ! اې ځوانه ! چې الله ﷻ خپل ګران پیغمبر حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَامُ ته دا خطاب کوي چې : زنا مه کوه ! او غلا مه کوه ! نو نورو بندګانو ته خو یې بېخي دا خطاب فرمایلی دی چې : زناوي مه کوئ ! او غلاوي مه کوئ ! او افسوس دی هغو خلکو ته چې زناوي کوي او غلاوي کوي ؛ ځکه سبا په ورځ د قیامت به یې الله ﷻ له خپل مبارک دیدار څخه محرومه کړي او سخت عذابونه به ور کړي .

**لومړی یادونه :** زنا ډېر ډولونه لري، لکه د سترګو زنا بدنظري ده ؛ د غوږونو زنا بد او ناروا خبرو ته غوږ نیول دي ؛ د ژبې زنا بدې خبرې کول دي ؛ د لاسونو زنا د پردۍ ښځې نیول دي ؛ د پښو زنا وهغې ته ورتلل دي او د فرج زنا د زنا کول دي [۲۳] .

---

او دا ډول دغه اثر قدسي هم دی، یعني : د الله تعالی خبرې پکې دي او أبي اللیث سمرقندي حنفي په خپل تفسیر ۱ ټوک، ۵۶۳ مخ کې او سیوطي په خپل تفسیر الدرّ المنثور ۱ ټوک، ۵۴۹ مخ کې په مکمله توګه نقل کړی دی او ویلي یې دي چې : أبو الشیخ [په ثواب الأعمال کې] او بیهقي په شعب الإیمان کې روایت کړی دی او عبارت د بیهقي په لاندې ډول دی :

عَنْ أَبِي حَزْرَةَ "قَالَ" : (إِنَّ الْعَشْرَ الآيَاتِ الّتِي كَتَبَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لِمُوسَى فِي الأَلْوَاحِ أَنِ اعْبُدْنِي، وَلا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا، وَلا تَحْلِفْ بِاسْمِي كَاذِبًا ؛ فَإِنِّي لاَ أُزَكِّي وَلاَ أُطَهِّرُ مَنْ حَلَفَ بِاسْمِي كَاذِبًا، وَاشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ أُنْسأُ لَكَ فِي أَجَلِكَ، وَأَقِيكَ الْمَتَالِفَ ! وَلا تَسْرِقْ، وَلا تَزْنِ ؛ فَأَحْجُبَ عَنْكَ نُورَ وَجْهِي ! وَتُغْلَقَ عَنْ دُعَائِكَ أَبْوَابُ سَمَاوَاتِي ! وَلاَ تَغْدِرْ بِحَلِيلِ جَارِكَ ! وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ ! وَلاَ تَشْهَدْ بِمَا لَمْ يَعِهِ سَمْعُكَ، وَيَفْقَهْ قَلْبُكَ ؛ فَإِنِّي وَاقِفٌ أَهْلَ الشَّهَادَاتِ عَلَى شَهَادَاتِهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ سَائِلُهُمْ عَنْهَا ! وَلاَ تَذْبَحْ لِغَيْرِي ؛ فَإِنَّهُ لاَ يَصْعَدُ إِلَيَّ مِنْ قُرْبَانِ أَهْلِ الأَرْضِ إِلا مَا ذُكِرَ عَلَيْهِ إِسْمِي) . إنتهی

شعب الإیمان، حدیث شمېره (۴۵۱۷) .

[۲۳] دا په حدیث کې راغلي دي او حدیث مسلم روایت کړی دی، د حدیث شمېره او عبارت یې په لاندې ډول دی :

۶۹۲۵ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : (كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيبُهُ مِنَ الزِّنَى مُدْرِكٌ ذَلِكَ لا مَحَالَةَ ؛ فَالْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ ؛ وَالأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الإِسْتِمَاعُ ؛ وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلاَمُ ؛ وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ ؛ وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطَا ؛ وَالْقَلْبُ يَهْوَى وَيَتَمَنَّى، وَيُصَدِّقُ ذَلِكَ الْفَرْجُ وَيُكَذِّبُهُ) .

**دویمه یادونه :** د خاصي زنا د بدوالي په هکله چې یو انسان یې له عامي ښځې سره کوي د قرآن شریف دوولس آیاتونه نازل سوي دي او تقریبا یو اویا حدیثونه رسول الله ﷺ فرمایلي دي او دلته په کتاب کي ؛ ځکه ما ټوله نه دئ راوړي ! چې د هوښیار لوستونکي لپاره صِرف اشاره هم کافي ده ؛ نو له دې کبله ما د زنا بدوالی په دې کتاب کي په اختصار سره بیان کړی دی ! او که د هغو ټولو آیاتونو، حدیثو، آثارو او اقوالو تفصیل غواړئ ؟! نو بیا زما فیضون بل کتاب ته مُراجعه وکړئ ! چې هغه (الجلاء في ذمّ الزّناء) نومیږي او هغه مي په خپله مجموعه کي یو ځای کړی دی .

**دریمه یادونه :** په دې باید پوه سئ ! چې هر شی یو، یا ډېر سببونه لري ؛ نو زنا هم سببونه لري، یعني : چې انسان ولې ورته چمتو کیږي ؟او چې کوم سبب یې دئ ؟ او د زنا سببونه به ټوله په څلورمه برخه کي ذِکر سي او که څوک یې له سببونو څخه ځان وژغوري ؛ نو الله تعالی به هغه خامخا له خودي زنا څخه وژغوري او که څوک د لوړې ځل لپاره د زنا له لومړي سببه ځان وژغوري چې هغه بده کتنه ده ؛ نو هغه به د زنا له ټولو سببونو څخه وساتل سي او ریشتیا یې ویلي دي : " النّظر برید الزّنا "یعني : [بده] کتنه د زنا لېږدوونکې ده . الله تعالی دي موږ له بدنظری یې وژغوري ؛ آمین .

او د زنا په اړوند نوري خبري به اوس مخ ته په سرلیکونو کي راسي ؛ بالله التّوفیق، وبیده أزِمّة التّحقیق .

## زنا کار ته دنیاوي سزاوي

مخکي خو په یو حدیث شریف کي له حضرت حُذیفة ابن الیمان رضي الله عنه څخه دا روایت تېر سو چې : الله تعالی زنا کوونکې ته په دنیا کي درې سزاوي ورکوي : یو خو یې د مخ رُعب ختم کړي ؛ نو بیا یې رُعب او دبدبه پر خلګو نه پرېوځي، دویم یې عُمر ورلنډ کړي او دریم به یې الله تعالی په فقر او مسکنت کي مبتلا

کړي – دا خو د زنا کار لپاره هغه دُنیاوي سزاوي دي چي خودي تر ده تړاو لري او ډیري شرمنده او ذلیله کوونکي دي او کوم چي اوسنیو طبیبانو او پوهانو په ګوته کړي دي، یا مخکي تیرې سوي دي ؛ هغه ټولي په راتلونکي ډول دي :

۱. د ایډز ناروغي پیدا کوي .

۲. د سوزاک ناروغي پیدا کوي .

۳. په ډېرو کولو سره د زړه دوره هم پیدا کیږي .

۴. د سترګو نظر (دید) کمزوری کوي .

۵. د مَلا، تناسلي اندام، خایو، لاسو، پښو او عامو هډوکو درد پیدا کوي .

۶. زړه او دماغ کمزوری کوي .

۷. د جریانَ او سُرعت انزال ناروغي پیدا کوي .

۸. د بندونو درد او سُستي پیدا کوي .

۹. زنا د بې برکتۍ لامل ګرځي چي په کور، مال، اولا د او داسي په هر شی کي بې برکتي راولي .

۱۰. د رزق د کمېدلو لامل ګرځي ؛ ځکه مخکي هم په یو حدیث کي تېره سوه چي زنا کول فقر او مسکنت پیدا کوي .

۱۱. پر کلي او ښار د عذاب لوېدلو او مصیبت عامېدلو لامل ګرځي .

۱۲. د عام مرګ لامل ګرځي چي په عامو انسانانو د هغه ځای به مرګ پوری سي.

۱۳. د طاعون (وبا)، وچ کالۍ، په ښار کي د بندیانو د زیاتېدلو او په بازار کي د رشوت خوړلو لامل ګرځي .

۱۴. له خیر څخه د محرومه کېدلو لامل ګرځي .

۱۵. زنا په مځکه کي د زلزلې راتللو لامل ګرځي .

۱۶. د دُعاوُ نه قبلېدلو لامل ګرځي .

۱۷. زنا کول پر ځان، پر هغه بچي چي ځني پیدا کیږي، پر هغې ښځي چي زنا ورسره کیږي، پر خاندان د هغې ښځي او پر هغه سړي چي دا ښځه د هغه وي او بل هغه څوک چي زنا ورسره کوي ؛ نو پر دې ټولو ظلم راځي او په دې معنا زنا

کوونکی د ظلم موجب ګرځي چې د ظلم له کبله به يې الله تعالی په دې دُنيا کې ونيسي او عذاب به ور کړي.

۱۸. له زنا کولو څخه نسب خرابيږي ؛ ځکه چې يو بچی له هغې زنا څخه وزيږي ؛ نو د هغه به نسب معلوم نه وي او پر هغه به د ارموني (ولد الزّنا) نوم کښيښودل سي.

۱۹. زنا د حيا ختميدلو لامل ګرځي.

۲۰. زنا د غيرت، مروت (مړاندي)، د الهي بيري او عزت ختميدلو لامل ګرځي.

۲۱. زنا د زړه نور سوځي او زړه له شيطاني تيارو او وسوسو څخه ډکوي.

۲۲. پر زنا همېشتوب کول انسان د الله تعالی، فريشتو او د ټولو مخلوقاتو په وړاندي ملعون ګرځوي.

۲۳. له زنا کار څخه د پاکدانمد، انصاف دار او ښه سړي نوم ميتاويږي چې خلګ به په دغه نامه ورته وايي او د فاسق، زاني او خائن نوم پر ايښودل کيږي.

۲۴. پر زنا همېشتوب کول پر بدن د بد بوی پيدا کېدلو لامل ګرځي.

۲۵. له مسلمان زاني څخه د زنا په حالت کي خپل شيرين (خوږ) ايمان جلا کيږي، لکه څرنګه چې مخکي په يو حديث کي دا خبره تېره سوه.

۲۶. زنا د صله رحمی ختميدلو لامل ګرځي.

۲۷. او آخر دا چي زنا کول انسان د (حد الزّنا) موجب ګرځوي، يعني : چي حکومت مسلمان وي، لکه اسلامي امارت او په هغه مَلک کي يو انسان نارينه وي او که ښځينه، حال دا چي په زنا باندي تورن سي ؛ نو هغه به په دُرُو وهل کيږي او دا سزا د زنا په دنيا کي د زاني تر ذات او نفسه اړه نه لري، بلکي په نورو پوري اړه لري چي نور به دا سخته سزا ور کوي او له دې پر ته تېري سزاوي زياتره هغه وې چي زاني ته خُود بخُوده په دنيا کي جوتېدلې او د ده تر ذاته يې اړه

درلودله[۲۴].

دا د زنا ټولي دنیاوي سزاوي سوې چي ځیني اُصُولي او ځیني جُزئي دي او دا هغه الهي سزاوي دي چي په مُشاهده سره زنا کاران او زنا کاره ښځي پکي مبتلا دي، دآخرت سزاوي خو هلته پرېږده ! هغه جلا راواني دي، کوم چي په آخرت کي وزاني، یا زانیې ته جو تیرېږي او ورسره مخامخ کیږي ؛ لوی الله تبارک وتعالی دي خپل رحم وکړي او هدایت دي ودې بې وزلو ته وکړي، بېشکه دی أرحمُ الرّاحمین ذات دی.

**یادونه** : تېري سزاوي ځیني داسي دي چي هغه د زناکار او زنا کاري لپاره تاوانونه دي ؛ نو په تېرو سزاؤ کي د زنا تاوانونه هم ټوله ذِکر سول.

**بله یادونه** : ناروغي هم د تاوان یو ډول دی ؛ نو په تېرو سزاؤ کي د زنا ناروغیاني هم ټولي ذِکر سوې ؛ والحمد لله تعالیٰ.

## زنا کار ته اُخروي سزاوي

په مخکني یو حدیث شریف کي هم د اُخروي سزاؤ څه ذِکر وسو او کوم چي په آثارو، یا اقوالو کي یې ذِکر راغلی دی، یا په استنباط ثابتَي سوي دي، کوم چي له اُصولو اربعه ؤ څخه ما په استنباطي ډګر کي غوره کړي ؛ هغه ټولي په راتلونکي ډول دي :

۱. کله چي د آخِرت په لومړي کور کي چي قبر دی کښېښودل سي ؛ نو نکیر اومُنکر به سختي پوښتني ورڅخه وکړي او زناکار، یا زنا کاره به یې په ځوابونو باندي قدرت (وس) نه لري.

---

[۲۴] دا د زنا تاوانونه، ناروغیاني او دُنیاوي سزاوي له معقولاتو او منقولاتو څخه غوره سوي دي او وروسته دلته په کِتاب کي یوځای سوې دي ؛ منقولات دا دي : موسوعة تکوین بیت المُسلم، الموسوعة الفقهیة، مادة (زنی)، کتاب الزّنا د مولانا مُحمّد عابد قُریشي عَفَرَاللهُ ۱۲۰-۱۳۹ مخونه، الدّاء والدّواء د ابن قیم الجوزیة رَحمَةُاللهِ عَلَیه، مبحث الزّنی، مُختلفي عربي رسالې او ورځپاني او داسي نور مُختلف کتابونه.

۲. کله چې له قبره څخه د قیامت په ورځ باندې راپورته سي؛ نو له فرج څخه به یې داسي بد بوی ځي چې د محشر خلګ به ډېر ځني په تکلیف وي .
۳. کله چې د لوی ربّ العالمین ﷻ په حضور کې ودرېږي؛ نو ربّ ﷻ به سخت حساب ورسره وکړي .
۴. لوی ربّ العالمین ﷻ به ځني ناراضه وي .
۵. لوی ربّ العالمین ﷻ به یې له خپل مُبارک دیدار څخه محرومه کړي، لکه څنګه چې په تېرېو اثر کې ثابته سوه .
۶. لوی ربّ العالمین ﷻ به یې بیا ودوږخ ته د پړمخي کشولو امر وکړي .
۷. کله چې یې دوږخ ته ننباسي؛ نو د دوږخ مشر به چې (مالک) نومېږي د اُور زغره ورواغوندي او په یو اثر کې نقل سوي دي چې : حضرت مُوسی عَلَیْهِ السَّلَامُ یوه ورځ الله ﷻ ته وویل : اې زما ربه ته په آخرت کې وزناکار ته کوم عذاب ورکوې ؟ الله ﷻ ورته وفرمایل : (زه د اُور یوه زَغره په اغوندم ! که هغه په یو غټ او جګ غره باندې کښېښودل سي؛ نو ایره به یې کړي) [۲۵] .
۸. کله چې د اُور زغره ورواغوندي؛ نو مالک عَلَیْهِ السَّلَامُ به خپلو چوکیدرانو ته امر وکړي : چې سترګي یې د اُور په مېخونو ورسرې کړئ ! ځکه ده په دُنیا کې په خپلو سترګو باندې ونامحرمه فرج ته کتلي دي (یا وداسي نورو حرامو شیانو ته یې په شهوت سره کتلي دي !) [۲۶] .
۹. زاني به په آخرت کې له حُورالعین څخه او د هغوی له ګټي څخه د اخیستلو محرومه وي او داسي زناکاره ښځه به له غِلمان څخه او د هغوی له ګټي څخه د اخیستلو محرومه وي؛ ځکه زناکار او زَنا کاره په آخرت کې جنت ته نه سي تللای؛ نو په دې معنا به دوی ټول د جنت له ټولو نعمتونو څخه هم محرومه وي.
۱۰. او آخِر به یې الله تبارک وتعالی په دوږخ کې دومره مهال کښېنوي چې

[۲۵] مُکاشفة القلوب ۹۱ مخ او قُرّة العیون د أبي اللیث سمرقندي حنفي ۳۹ - ۴۰ مخ .
[۲۶] قُرّة العیون، تېره حواله .

وحساب ته یې عقل عاجزه کیږي.
دا هغه سزاوې دي چې الله ﷻ زناکار او زناکارې ته په آخرت کې تیارې کړې دي او دا څرګنده خبره ده چې اُخروي سزاوې تر دُنیاوي سزاګانو په اویا چنده دردناکې دي، انسان دې دا فکر وکړي چې دی په دُنیا کې خپله د اورلګیت د یوې خاشې تاب نه لري؛ نو د آخرت داور لګیت د یوې خاشې به څېرې تاب ولري ؟! ځکه د هغه جهان اور خو د دنیا تر اور اویا چنده تود دی - لوی خدای ﷻ دې مو په خپل فضل او کرم سره ځني وساتي؛ آمین، یا إله العالمین !.

## الله تعالی زِنا ولې ناروا کړې ده؟

الله ﷻ چې زنا ناروا کړې ده په دې کې خو د ده اووه لوی لوی حِکمتونه دي او هغه ټول په لاندې ډول دي:

لومړی یې له دې کبله ناروا کړې ده: چې په دې سره نسب او قبیله له مینځه ځي، د بیلګې په توګه: یو سړی چې زنا وکړي او یو بچی له هغې زنا څخه وزیږي؛ نو د دغه بچي نسب او قبیله به معلومه نه وي؛ ځکه پردی سي؛ نو نسب به یې څرنګه معلوم وئ ؟! او څرنګه به داسې یو څوک وایي چې: دا د فلاني زوی، یا لور ده ؟!.

دویم یې له دې کبله ناروا کړې ده: چې په دې سره د ده ﷻ نافرماني راځي او دی خو بیا خپل نافرمان دوږخ ته اچوي که هغه نارینه وي او که ښځینه؛ څه فرق نه لري؛ ځکه نافرمان او نافرمانه د ربّ العالمین ﷻ د دغسي چلند مُستحق دی.

دریم یې له دې کبله ناروا کړې ده: چې په زنا کولو سره د کور تدبیر خراپیږي، د بیلګې په توګه یوه ښځه چې پردي سړي ته وګوري؛ نو زنا ته یې میلان پیدا سي، په دې مینځ کې د کور د سامان سمولو تدبیر پاته سي، بلکي دستي له دغه پردي سړي سره د زنا کولو په تدبیرونو کي بوخته سي او سړی

چي کله بېگانه ښځي ته په شهوت سره وگوري ؛ نو هغه هم دستي د زنا کولو په تدبيرونو کي بوخت سي او په دې وجه بيا د کور او د هغه د سامان سمولو تدبير پاته سي .

**شلورم يې له دې کبله ناروا کړې ده :** چي زناکاره د خپل نسل ساتنه نه سي کولای، د بېلگې په توگه يو انسان چي کله زنا وکړي او يوبچی ځني پيدا سي ؛ نو بيا زناکار د خپل ارموني اولاد پالنه نه کوي ؛ ځکه په دې مينځ کي دی بيا د بلې زنا کولو په خوند بوخت سي ؛ نو په دې وجه د اولا د پالنه ځني پاته سي، يا دا چي په دې شرميږي او دا وايي : زه به څرنگه د ارموني پالنه کوم ؟! بس د شرم له کبله ځني پاته سي .

**پينځم يې له دې کبله ناروا کړې ده :** چي له دې څخه د (ايډز) ناروغي پيدا کيږي او (ايډز) هغه بدترينه ناروغي ده چي وعلاج ته يې تمام طبيبان عاجزه دي .

**شپږم يې له دې کبله ناروا کړې ده :** چي له دې څخه فقر او مسکنت پيدا کيږي، د بېلگې په توگه نارينه او ښځينه چي کله د زنا کولو په طلب کي بوخت سي ؛ نو بيا د دوی انتهايي هڅه دا وي چي زنا سره وکړي، پيسې کاروي، ځانونه ستړي کوي او داسي نور خپل اسباب په کار اچوي د دې لپاره چي زنا سره وکړي ؛ ځکه نو په دې وجه بيا له دوی څخه پيسې او مال خلاص سي او فقر وربانديې غالبه سي .

**آخري اووم يې له دې کبله ناروا کړې ده :** چي په دې سره د انسان عُمر کميږي، د بېلگې په توگه يو انسان چي زنا کوي ؛ نو د هغه خو په زنا کولو سره د مَلا مُني او د هډوکو غوړزگي وځي او کله چي د انسان جوهر [يعني : مَني چي ماده د حيات ده] او د هډوکو غوړزگي کمه سي ؛ نو بيا يې عُمر کميږي او لنډيږي ؛ ځکه د ده بدن په دې وجه کمزوری سي ؛ نو عمر يې هم پسي لږ سي او

کم سي[۲۷].

د دغو لويو اوو ۷ حکمتونو له کبله الله ﷻ زنا ناروا کړې ده او داسي د نورو رازونو او حکمتونو له کبله يې هم ناروا ګرځولې ده ؛ مګر دغه يې أُصُولي حکمتونه دي چي هغه نور پاته حکمتونه له دې څخه راوځي ! .

**فايده :** دا د زنا په اړوند څو مهم عنوانونه ول، که يو څوک په دې سره عمل وه نه کړي کوم چي په زنا اخته وي، يا ځان ورباندي پوه نه کړي او يا له زړه څخه د زنا مينه په ليري نه کړي ؛ نو له هغه څخه به بيا چيرئ د خير هيله وکړل سي ؟! چي د خپل ربّ ﷻ په خبرو پروا څوک نه کوي ؛ نو هغه کس به بيا يقينا د دوږخ مُستحق وي .

الله ﷻ دي دغه ګټور عنوانونه د ځوانانو او په خاص ډول د هغو کسانو لپاره چي په دې بد عمل او بد مرض اخته وي د عمل کولو لامل وګرځوي، بېشکه د ده په لاس کي د هدايت واګي دي او يوازې همدی سيده لاربښوونکی دی ؛ آمين، يا إله العالمين ! .

**يادونه :** تر دې ځايه د زنا په اړوند مهم حديثونه، مهم آثار او قولونه او مهم ګټور بحثونه توله پای ته ورسېدل او څوک چي د زنا په هکله ټوله حديثونه، آثار او قولونه مطالعه کول غواړي ؛ نو هغه دي زما دغه رساله (الجلاء في ذمّ الزّناء) تر لاسه کړي، په هغه کي ما د زنا اړوند هر څه ذکر کړي دي، څومره چي زما په وس وه ؛ مګر ما دلته په دې کتاب کي صِرف د زنا د مذمت بيانولو اراده کړې ده، نه داسي چي زه به يې هر اړخ ذِکر کوم، هو ! د هر اړخ او بحث په هکله ما څو نتيجې راوايستلې چي هغه به اوس ټولي په راتلونکي سرليک کي بياني سي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق .

❀❀❀

---

[۲۷] حِکمة التشريع وفلسفته ۲ توک، ۱۸۶ - ۱۸۸ مخونه او داسي نور کِتابونه .

# (په مکمله توګه)

## د زنا د مسئلو او پاته نورو موضوعګانو مهمې نتيجې

د زنا په هکله چې کومې موضوعګانې، يا مسئلې، يا داسې نورې خبرې سوې دي او په مختلفو کتابو، رسالو، ورځپاڼو، مجلو، اسلامي انټرنيټي ويب پاڼو، اونيزو او مقالو کې سره پاشل سوي دي او زما څخه يې په دې کتاب کې يادونه پاته سوې وي، که يې زه دلته راوړم ؛ نو کتاب به ډېر اوږد سي او د مقصد له دايرې څخه به ووځي او پر لوستونکو به بوج سي ؛ مګر ما له هغو ټولو څخه داسې نتيجې راوايستلې چې هغه ټولي دلته په څو خبرو کې حل سوي دي او هر لوستونکی کولای سي چې په پام کې يې ونيسي او د ضرورت پر مهال خپله ګټه تري واخلي او هغه ټولي په لاندي ترتيب سره دي :

أ. زنا کول د تناسلي ګناوو دويم ډول ګناه ده چې انسان يې په کولو باندي په غټو ګناوو کې شامليږي او کله چې انسان يې تر سره کړي ؛ نو دستي دي توبه وباسي ؛ ځکه الله تعالی به يې دا ګناه ورو بخښي .

ب. سترګې هم زنا کوي چې زنا يې وبل نارينه، يا ښځينه او يا بل شی ته په شهوت سره کتل دي ؛ غوږونه هم زنا کوي چې زنا يې د نارينه، يا ښځينه او يا د بل شي وخبرو ته په شهوت سره غوږ ايښودل دي ؛ ژبه هم زنا کوي چې هغه انسان وبل ته د زنا د دعوت، يا شهوت خبره په وکړي، يا ناروا ځای په وښتي، يا دا چې په خوله باندي نامحرمه انسان مچ کړي، يا په خوله کې تناسلي اندام ونيسي او زبيښي يې او مني ځني راباسي او تېروي يې ؛ لاسونه هم زنا کوي چې هغه د انسان تلل دي وزناخانې، يا د زنا وځای ته او فرج هم زنا کوي چې هغه استعمالول دي په ناروا فرج کې

ج. د زنالوی تاوان دا دئ چي : حُرمت مُصاهرت ثابتوي، يعني : کوم انسان چي له ښځي سره زنا وکړي ؛ نو د نارينه پر ښځي او د ښځي پر نارينه اُصُول او فُرُوع دواړه حرام سول، اُصُول او فُرُوع، لکه د دې نارينه، یا ښځي مور، خور، انا او داسي نور . همدا ډول که له دې زانيې ښځي څخه یوه نجلۍ پيدا سي ؛ نو هغه هم د دې زاني نارينه پر زوی، ورور او داسي نورو حرامه ده .

د. تر ټولو بده زنا هغه ده چي انسان د خپلوانو او قريبانو په ښځو کي له يوې سره زنا وکړي، حال دا چي هغه خپل خاوند هم لري او له کوره په مسافري تللی وي، يا داسي بل کار ته وتلی وي ؛ بيا بده هغه زنا ده چي انسان يې د همسايه له مېرمني سره وکړي ؛ بيا چي بده وي هغه ده چي انسان يې له يو ځاروي سره وکړي، لکه نن سبا چي يې ځيني کافران په ځينو شرقي او غربي هيوادو کي له بې زوګيانو، يا سپيانو، کوتيانو او داسي نورو درېندهګانو او ځارويانو سره کوي : بيا چي بده وي هغه ده چي انسان يې له يوې وړوکي نجلۍ سره په زوره وکړي ؛ بيا چي انسان يې له يوې عامي ښځي سره په زوره تر سره کړي ؛ بيا هغه بده ده په درجه کي چي انسان يې په رضا له يوې ښځي سره تر سره کړي – داسي درجه په درجه زنا بده ده .

ه. څوک چي زنا وکړي که واده والا وي ؛ نو هغه به بې له خلافه سنګسارېږي او که واده والا وي ؛ نو زاني او زانيه به سل سل دُرې وَهل کيږي .

و. که يو څوک نارينه وي، يا ښځينه خپله د وخت قاضي ته څلور پلا جلا جلا اقرار د دې وکړي چي : ما زنا کړې ده ! نو قاضي پر ته له ګواهانو حد ورکولای سي، هو ! قاضي به يې په هره پلا ترټي او که په څلورمه پلا يې هم اقرار د زنا وکړی ؛ نو حد وربانديي ثابت سو .

ز. څوک چي پر يو چا د زنا تور ولګوي، حال دا چي هغه زنا نه وي کړې او

په دې مهال کې قاضي ته دوه ګواهان پېښ سي چې فلاني وفلاني ته بې ځایه د زنا نسبت کوي ؛ نو د وخت قاضي حد قذف وربانديې جاري کولای سي او حد قذف اتیا دُرې دی .

ح. څوک چي د روژې په میاشت کې زنا وکړي، یا دا چي له خپلې مېرمني سره کوروالی وکړي ؛ نو روژه یې ماته سوه، سره له دې چي دی به نارینه وي، که ښځینه د دې روژې قضا را ګرځوي او کفاره به یې ورکوي، قضا معنا : تر روژې وروسته په خَلاصه خوله کې بلَه روژه نیول او کفاره معنا : چي انسان به نوري شپېته روژې نیسي، که یې وس نه درلودی ؛ نو یو مریی به آزادوي، که یې مریی نه درلودی ؛ نو وشپېتو هغو مسکینانو ته به د سهار او ماښام ډوډۍ ورکوي چي پر ده یې نفقه واجبه نه وي، لکه : مور او پلار، زامن او لوڼې او خپله مېرمنه، یعني پردي کسان به وي، یا به د ده له کوره پر ته نور خپلوان وي، لکه : آکاګان، ماماګان او داسي نور . او کله چي یې قضا او کفاره دواړه تر سره کړه ؛ نو غاړې یې خلاصي سوې او الله ربّ العزت یې د دې ګناه په کولو نه نیسي او د قضا او کفارې ادا کول داسي دي ؛ ګواکې لکه د توبې ایستل .

ط. په حج کې د نارینه او ښځینه لپاره د زنا کول، یا د مطلقې کوروالی کول حج فاسدوي، هوکې ! که انسان له مېرمني سره د عرفات تر درېدو وروسته کوروالی وکړي ؛ نو دَم وربانديې واجبیږي او حج یې نه خراپیږي، یعني : نه فاسدیږي او که د عرفات تر درېدو مخکې وي ؛ نو بیا یې په اتّفاق سره حج فاسدیږي .

ي. معلومه خبره ده : نن سبا چي څومره د زنا فعل زیات سوی دی، ځوانان او پېغلاني په اموخته سول ؛ همدغه وجه ده چي اسباب (لاملونه) یې زیات سول او غټ سبب یې د بدنظرۍ دی، کومه چي زیاته د موبایل او کمپیوټر له لاري په انټرنېټ کې پر چټلو وېب پاڼو استعمالیږي .

ک. او تر ټولو چټله او رذیله وېب پاڼه د سِکسي (cxc) تصویرونو

(انځورونه) او فلمونو ده، که انسان ځان په صحيح معنا ځني وژغوري ؛ نو له ډېرو ګناوو څخه به بچاو وي، دا خبره زما خپله تجربه ده ! .

**مُهمه يادونه :** نن که زه وګورم ! زياتره ځوانان موبټ وهني، زنا او لواطت ته له دې امله چمتو سي چي يو د دوی په خپل (Glaxy) ګلکسي، يا يو عام (Tech) موبايل کي سکسي فِلم وګوري، يا لوڅ انځورونه وګوري، که يو هلک يې هم ورسره ننداره وکړي ؛ نو لواطت ته دواړه چمتو سي او له دې رذيلي لاري خپل قيمتي شهوت ضايع کړي، هيڅ شرم او حيا يې مخ ته نه دربږي او که يوه نجلۍ ننداره ورسره وکړي ؛ نو زنا ته چمتو سي، که څه هم هغه د ده قريبه وي ؛ نو بيا يې شيطان لعين نه پرېږدي تر څو يې د زنا په فتنه بوخت نه کړي، مطلب دا چي انسان دي دا زهرجن لاملونه، لکه : سَکسي انځورونه او فلمونه ځان ته نه تياروي، بلکي څومره وس چي يې وي ځان دي ځني ژغوري او مخنيوی دي يې کوي ؛ والله المُستعان .

**بله يادونه :** ګورئ ! کوم څه چي الله تبارک وتعالی حرام کړي وي ؛ نو چاره نسته چي په هغه کي شکنجي نه وي، بلکي خامخا به شکنجي او تاوانونه پکې وي او د پورن، يا سکسي فلمونو کتلو تاوانونه په راتلونکي ډول سره دي :

(۱) د پورن فلمونو کتل حافظه زيانمنوي .

(۲) د پورن ډېر کتل پر يادو فلمونو د روږدتيا لامل ګرځي چي په دې سره له کسه د پرېکړې ځواک اخلي ؛ مايوسه کيږي ؛ پر ځان بې باوري کيږي او له ژونده مړښت يې وروستي زيانونه دي .

(۳) د روږدو کسانو سم نيمايي له واده کولو او مخالف نوږي څخه تښتي .

(۴) د پورن فلمونو ۲۵ سلنه کتونکي له جنسي سړښت ؛ ۱۹ سلنه د انزال له چټکتيا ؛ ۳۱ سلنه له نه انزال کېدو او ۳۴ سلنه له نامردۍ يې کړيږي .

(۵) د ډېر وخت لپاره د سکس فلمونو کتنګ د غوسې او په جنسي چلند

کي د ګډوډۍ لامل ګرځي .

(۶) د پورن انځور او فلمو کتونکي د ټیسټو (خصیو) خوږ, د منیو کمښت او له نه انزال څخه ځوریږي .

(۷) د لوڅو فلمونو ډیر کتونکی په موټي (استمناء) اخته وي ؛ چې دا بیا پر خپل ځای ستر روغتیايي ناورین (غم) دی .

(۸) د پورن فلمونو د نیمايي کتونکو ماشومان کمزوري، عیبجن او په زیږدیزي ټلیسیمیا (وینې د کمښت په یو ډول) اخته وي .

(۹) د پورن کتنه ناروا ده او د ناروا کار تر سره کول په آخرت کي د سزا لامل ګرځي .

(۱۰) او آخري تاوان یې دا دئ چې : په کومه ورځ انسان لوڅ فلمونه وګوري او له ځان سره دا احساس هم و نه کړي چې دا ما ګناه وکړه، که یا ؟! نو دا ورځ به ټوله د الله تعالی له لوري پر ده لعنت راووري ؛ د رحمت فریشتې به ځني لیري وي ؛ نېک عمل به یې د آسمان په لوري نه پورته کیږي ؛ لمونځ به یې نه قبلیږي او زړه به یې روحاني ډاډ نه کوي .

**ل.** په ډیمکراسي (Democracy) نظام کي زنا ډېره عامه وي او په آزاده توګه یې انسان کولای سي ؛ ځکه ډیمکراسي (Democracy) لسو شیانو ته آزادي ور کړې ده :

(۱) نارینه او ښځینه په حقوقو کي برابرول او آزادول .

(۲) د کار په حقوقو کي آزادي ؛ هغه که د حق وړ وي، یا نه .

(۳) د عقیدې آزادي ؛ هغه که خراپه وي، یا سمه .

(۴) د رأیې آزادي ؛ هغه که د منلو وړ وي، یا نه .

(۵) د شخصیت آزادي ؛ هغه که اهلیت لري، یا نه .

(۶) د بیان او دعوت آزادي ؛ هغه که د شریعت موافق وي، یا نه .

(۷) د ځای آزادي ؛ هغه که د شریعت له مخي د اوسېدلو وړ وي، یا نه .

(۸) د باچهۍ آزادي ؛ هغه که د عدل او انصاف سره موافقه وي، یا نه .

(۹) د جرمونو پر نيو کو سترګي پټول او د دې پټولو آزادي .
(۱۰) د تعليم او تعلُم آزادي ؛ په هغه کي که ښځينه طبقه مستوره وي، يا نه ؛ ځکه نو د دې لسو سرچينو آزادي په دنيا کي فساد لوېولی دی چي له امله يې په غربي او شرقي هيوادونو کي زنا په عامه توګه کيږي او دا لس سره آزادياني د ډيمکراسي (Democracy) بنستيز اُصُول دي چي د قرآن او سنتو سره ټکر او مخالف دي ؛ فإلی الله المشتکیٰ .

م. په دې پينځلسمه هجري پيړۍ کي يوه بله ډېره بده زنا راوتلې ده چي هغه د خولې له لاري تر سره کيږي او دا ډول زنا انګريزانو ايجاد کړې ده چي له بده مرغه په مسلمانانو کي هم دود سوې ده او دا زنا کفر ته ورته ګناه ده ؛ ځکه په خوله باندي د اسلام اقرار کيږي، قرآن په ويل کيږي او د الله ﷻ ذکر په کيږي ؛ نو تناسلي اندام پکي ښورول او کارول به څرنګه کفر ته ورته ګناه نه وي ؟!! د زيات تفصيل لپاره زما بل کتاب (نِکاح الفم) ته مراجعه وکړه ! والله المُوفّق .

ن. او په پای کي د انسان لپاره د زنا له بحثونو څخه دا نتيجه راوځي چي انسان دي واده کول نه ځنډوي او نه دي کوم دريغ ځني کوي او واده کول له انسان څخه د زنا ټولي دروازې تړي او بل اړخ ته سنت عمل هم دی چي د ثواب موجب ګرځي .

دا هغه نتيجې وې چي د زنا ټوله ګټور بحثونه، بنې مسئلې او مهمي خبري پکي حل سوي دي او شمېر يې څوارلسو ته رسيږي ؛ والحمد لله تعالیٰ .
اوس به په کتاب کي څلورمه برخه پيل سي، چي د لواطت د موضوع په هکله ده ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق .

د دريمي برخي پای

❁❁❁

# څلورمه برخه

## لواطت څه ته وايئ؟

لواطت يو ناوړه کار دی، معنا يې دا ده : چې انسان له بل انسان سره د شا له خوا نژدېکت کوي، که څه هم هغه انسان چې د شا له خوا نژدېکت ورسره کېږي نارينه وي يا ښځينه، بالغ وي يا نابالغه، آزاد وي يا مريی، يا دا چې هغه يو حيوان وي، يا يو مرغه وي، يا داسې بل ژوندی شی وي او د شا له خوا نژدېکت ورسره کېږي ؛ ودې ټولو ته لواطت، يا هم نوړ لوبه وايي .

په عربي کې (اللّواطة)، يا (اللّواط)، په اُردو کې (فِعل قوم لُوط)، يا (ہم جنس پرستی)، په فارسي کې (اِغلام بازی)، يا (لواطت) او په انګريزي کې (Sodomite)، يعني : سډوميټ ورته وايي .

تنبيه : دا خو د لواطت معنی سوه او د دې په ضِمن کې يو بل عمل هم سته چې هغه ته مساحقت وايي، مساحقت دا دئ چې : دوې ښځې نژدېکت سره وکړي او مخ په مخه خپل شهوت تر سره کړي او ځانونه انزال کړي، که څه هم هغه دوې ښځې بالغاني وي يا نا بالغه، آزادي وي يا مينځې .

د لواطت معنی عامه ده او د مسحاقت معنی تردې عمل خاصه ده ؛ دا يې په مينځ کې فرق دی .

الله ﷻ دې موږ او تاسې ټول مسلمانان له دې ناوړو کارو څخه وژغوري ؛ آمين .

## لواطت له کوم وخت څخه پيل سوی دئ؟

حضرت امام کلبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمايلي دي : لومړی کس چې د قوم لوط عمل

يې کړې دی ابلیس علیه اللّعنة[۲۸] دی[۲۹].

او دا په هغه وخت کي چي د لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم ښارونه تک شنه ول، بیا د نورو ښارونو خلګ د قوم لوط د شنو ښارونو چي په ونو (درختو) او وښو شنه ول قصد یې وکړی او ورته راغلل ؛ نو په دې حال کي ابلیس علیه اللّعنة د یو لغړزني هلک په صورت کي سو او ځان ته یې خلګ د لواطت لپاره راغوښتل ؛ نو دی اول هغه کس دی چي لواطت ورسره سوی دی [او اول هغه کس دی چي لواطت یې شروع کړی دی] بیا الله تعالی د آسمان له طرفه پر دې خلګو ډبري وورولې او په مځکه کي یې خسف [دننه] کړل[۳۰].

نو لواطت له دغه وخته په نړۍ کي پیل سو او خاص د لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ په قوم کي خپور سو ؛ دا د لواطت ابتدا او سر وو ؛ أعاذنا الله مِنْها بفضله وکرمه.

او له دې خبري څخه دا ثابته سوه چي : انسان د خپل شهوت باوجود ودې خبیث عمل د لواطت ته تیار نه سو، بلکي ابلیس لعین ورته وهڅوی او دا خبره پر کمال قبح د لواطت دلالت کوي چي لواطت دومره په کامله توګه بد عمل دی او ابلیس لعین زموږ دومره بدترین دښمن دی ؛ أعاذنا الله مِن شرّ الإبلیس] وشرّ جنوده.

## د لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ نسب او شجره (پښتلیک)

که څه هم دا بیان او موضوع په دې کتاب کي ډېره ضروري نه ده ؛ خو د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د نامه په مناسبت او د هغه مبارک د پېژندني په هکله یې نسب او شجره بیانوم ! :

لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ وراره وو او د پلار نوم یې هاران وو ؛

---

[۲۸] علیه اللعنة : یعني پر ده دي د الله تعالی له طرفه لعنت وي او لعنت معنا دا چي : دغه څوک دي د الله تبارک وتعالی له رحمته لیری وي.

[۲۹] تفسیر خازن ۲ توک، ۱۱۷ مخ او کتاب الوسائل في معرفة الأوائل ۵۷ مخ.

[۳۰] تفسیر خازن. تېره حواله.

هاران د آزر زوی وو ؛ آزر د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ پلار وو او د آزر بل نوم – په ځینو لرغونو آثارو کې – تارَخ دی .

د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د نسب سلسله (کړۍ) داسې ده : لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ زوی د هاران ؛ هاران زوی د آزر چې د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ پلار دی ؛ آزر زوی د ناحور ناحور زوی د ساروغ ؛ ساروغ زوی د راغو ؛ راغو زوی د فالغ ؛ فالغ زوی د عابر ؛ عابر زوی د شالح ؛ شالح زوی د ارفخشذ ؛ ارفخشذ زوی د سام ؛ سام زوی د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ [۳۱] .

حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ زوی د لامک ؛ لامک زوی د متوشلخ ؛ متوشلخ زوی د خنوخ ؛ خنوخ زوی د حضرت ادریس عَلَيْهِ السَّلَامُ ؛ حضرت ادریس عَلَيْهِ السَّلَامُ زوی د یرد ؛ یرد زوی د مهلاییل ؛ مهلاییل زوی د قنین ؛ قنین زوی د انوش ؛ انوش زوی د حضرت شیث عَلَيْهِ السَّلَامُ ؛ حضرت شیث عَلَيْهِ السَّلَامُ زوی د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ او حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د ټول بشر پلار دی .

دا د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ شجره او نسب دی چې تر حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې رسېدلی دی او دا شجره امام ابن کثیر رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ ذِکر کړې ده چې د اسلام یو ستر تاریخپوه دی [۳۲] .

## د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ کیسه

په تېرو دوو بیانو کې د لواطت د ابتدا او د حضرت لُوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د نسب موضوع بیانه سوه او په راتلونکې بیان کې به دا موضوع په تفصیل سره بیانه او روښانه سي چې : د لواطت ابتدا څرنګه وسوه او د لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم څنګه کیسه وه ؟! نو تاسې ښه ورته متوجه سئ ! ځکه د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ په زړه پورې داستان (کیسه) په تفصیل سره پکې ذِکر کیږي .

[۳۱] قصص الأنبیاء د امام ابن کثیر ۱۰۰-۱۰۱ مخونه .

[۳۲] قصص الأنبیاء د امام ابن کثیر ۵۲ - ۵۳ مخونه .

لوی څښتن ﷻ فرمایلي دي: ﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ۝٨٠﴾(۳۳).

**ژباړه : او [یاده کړه اې محمّده ﷺ ! دوی ته کیسه دا] لوط کله چې یې وویل خپل قوم ته : ایا راتګ کوئ تاسي ډېر بد کار [لواطت] ته ! چې نه دی رومبی سوی [یعني: نه دئ وړاندي سوی] له تاسي څخه دې کار ته هیڅ یو له خلګو(۳۴).**

یعني: راتګ نه دئ کړی ودې خبیث فعل لواطت ته ستاسو درمخه هیڅ یو انسان او زنده سر ؛ نو تاسي یې هم مه کوئ ! .

له لویه سره ابتدا د لواطت دا وه چې ابلیس لعین د یوښایسته هلک په صورت کي وقوم د لوط ﷺ ته راغلی او ځان ته یې د بدکاری، یعني: لواطت لپاره راوغوښتل او دوی هم دا لواطت ورسره وکړی، بیا په دې وخت کي د لوطیانو په ښار کي غنم ګران سول او د دوی ښار ډېر سرسبز او شاداب(۳۵) وو او د دوی له ښاره پر ته چې نور کوم ښارونه ول ؛ په هغو کي غنم اوغله نه وه، بلکي خلګو به یې د خوراک غنم له لوطیانو څخه رانیول ؛ نو په دې وخت کي ابلیس لعین دویم ځل راغلی د یو بوډا په بڼه کي او دا یې لوطیانو ته وویل : زه خو د زماني پر حالاتو یو پوه سړی یم ! که تاسي څه غنم لرئ ؟! نو مه یې خرڅوئ ! ښایي یو داسي وخت راسي چې بارانونه به نه کیږي او غنم به نه راشنه کیږي ؛ نو په دې وخت کي چې تاسو ته کوم خلک راسي غنم مه پر خرڅوئ ! بلکي لومړی ځل لواطت ورسره کوئ ! [خوند ځني اخلئ، بیا یې خپلو کارونو ته ایله کوئ !] که څه هم بوډاګان وي، یا کوچنیان وي .

بیا دا لوطیانو د ابلیس لعین خبره ومنله او داغسي یې وکړله چې څرنګه یې امر

---

(۳۳) د الأعراف سورت، ۸۰ آیت .

(۳۴) تفسیر کابلی (پښتو) ۱ توک، ۸۹۷ مخ .

(۳۵) سرسبز او شاداب : شین او زرغون په ونو او وښو باندي .

ورته کړی وو، په لارو کې به کښېنستل چې کوم یو مسافر پرېو لاره تیرېدی ؛ هغه به یې ونیوی او لواطت به یې [په زوره، یا په رضاباندې] ورسره وکړی، بیا به یې ایله کړی ؛ إنّا لله، وإنّا إليه راجعون .

او حضرت ثعلبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ فرمایلي دي چې لوی مُفسر د قرآن عظیم الشّان دی : ځیني لوطیان په غرونو کې او ځیني په کیلو او ګڼ کوروونو کې اوسېدل، کوم چې په غرونو کې اوسېدل ؛ هغه وحشي مزاجه ول او کوم چې په ګڼ کوروونو کې اوسېدل ؛ هغو دا وحشي طبیعته خلګ نه وه لیدلي ؛ نو په دې وخت کې ابلیس لعین دا قصد وکړ چې دوی په خپل مینځ کې سره راټول کړي ؛ نو دا مهال یې سم دستي یوه د سروز سورنا پیدا کړله او سورناوي یې په وهلې او کوم وخت چې د غرونو خلګو دا سورناوي واورېدلې ؛ نو سم دستي له غرونو ښخه راکښته سول، نارینه او ښځینه ټوله راکښته سول ؛ په دې حالت کې دوی په سروز نشه اومست سول، بیا د مستۍ په حالت کې نارینه له نارینه ؤ سره لواطت شروع کړ او ښځینه له ښځینه ؤ سره مُساحقت شروع کړ . [او پوه سئ ! چې نشه اومستي د زنا، لواطت او داسي نورو ګناهونو لومړی لامل جوړېږي] .

او بس له همدغي ورځي ښخه لواطت او مساحقت دواړه د لوطیانو په ښار کې خپور (نشر) سو او ښار یې (سدوم)[٣٦] نومېدی .

هر کله چې دا ناوړه کار په سدوم ښار کې زیات سو ؛ نو الله ربّ العزت لُوط عَلَيْهِ السَّلَامُ ورولېږی چې دوی ته د هدایت لاره وښیي او دوی له ناوړه لواطت ښخه راوګرځوي او دوی ته لُوط عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه امر پسي وکړ چې : دا خبیث فعل ستاسو تر مخه هیڅ چا نه دئ کړی ؛ نو تاسي یې هم مه کوئ ! قوم یې خَبره نه ومنله او د دوی په نصیحت سره بل هیڅ شی نه زیاتېدی ؛ مګر صرف زد، عناد او دښمني چې دوی به د خپل پیغمبر حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ سره کَوله

---

[٣٦] سدوم : یو ښار دی او په اوس زمانه کې د هغه ښار پر ځای یو دریاب پیدا سوی دی چې (بحر میت)، یعني : مړ سمندرګی، یا مردار سمندرګی، یا ولاړ سمندر ورته وایي ؛ نور تفصیل به یې ستاسو مخ ته په عنوانو کې راسي ؛ إن شاء الله تعالی .

او حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د دوی په دښمني ډېر سخت زهير او غمجن سو؛ نو له الله ربّ العزت څخه يې دا غوښتنه وکړه: اې ربه! زما مرسته وکړه! له ما سره په لېږلو د عذاب پر دغه قوم مفسدانو او ما له دوی څخه وساتې! نو الله جَلَّ جَلَالُهُ د ده آواز او فرياد واورېد[۳۷] او قبول يې کړ او څلور فريشتې يې د ده د لوطي قوم د پوپناه کېدلو لپاره ورولېږلې؛ فريشتې چې کوم وخت له آسمان څخه راکښته کېدلې؛ نو ځانونه يې د عامو نارينه ؤ په څېر واړول.

او ځينو مفسرينو رَحِمَهُمُ الله زياته کړې چې: دا څلور فريشتې مُقربې وې، يعني: اسرافيل، جبرائيل، عزرائيل او ميکائيل عَلَيْهِمُ السَّلَامُ.

کوم وخت چې دا مقربې فريشتې د عامو نارينه ؤ په بڼه کې راکښته سولې؛ نو لومړی د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ کور مبارک ته د دې لپاره راغللې چې د حضرت اسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ د زېږېدلو زېری ورکړي، بيا چې کله د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ کور ته ورننوتلې؛ نو سلام يې ورته ووايه او حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ يې سلام ادا کړ او فريشتو دومره وخت تېر نه کړ چې بيا دستي حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ولاړ سو، په کور مبارک کې يې يو ګيلګی، [يعني: دوه کلن غويی] يې درلودی، هغه يې دستي ورته حلال کړی او بيا يې کباب کړی او ورته راېې وړی؛ نو کوم وخت چې يې سور کړی ګيلګی ورته کښېښوی؛ فريشتو نه خوړی [؛ ځکه چې فريشتې خوړل او چيښل نه کوي]، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ په دې مهال کې بېره محسوسه کړه او دا يې په زړه کې وويل: چې ما کباب سوی غويی ورته راوړ او دوی يې نه خوري؛ نو فريشتو دستي دا محسوسه کړه چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ؛ خو وبيرېد او دا يې ورته وويل: چې مه بېرېږه! موږ خو الله تعالی د قوم لوط د عذاب لپاره رالېږلي يو! په دې وخت کې حضرت بي بي ساره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د کور په يو کونج کې ولاړه وه او وېې خندل؛ نو فريشتو پر دې خندا سربېره د حضرت اسحاق

[۳۷] واورېدی، يعني: قبول يې کړی او اورېدل د لوی ښښتن جَلَّ جَلَالُهُ ازلي صفت دی او دلته يې مراد د قبولتيا دی.

عَلَیْهِ السَّلَامُ د زوکړې زېرى ورته وکړ او بي بي ساره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ډېره په اريانتيا کې شوه او دا يې وويله : زه خو دومره سپين سرې يمه ! چې د زوى نه يمه ! او دا زما خاوند دومره بوډا او کمزورى دى چې د زوى نه دى ؛ فريشتو په ځواب کې ورته وويل : ايا ته اريانتيا کوې له حُکمه څخه د الله تعالى، بېشکه الله ﷻ خو پر دې قادر دى [چې تا ته پر دې سپين سرتوب بچى درکړي] .

کوم وخت چې فريشتې د حضرت ابراهيم عَلَیْهِ السَّلَامُ له کوره واپس سولې او دوى ته يې د قوم لوط د پوپناه کېدو خبرتيا او د حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ د زوکړې زېرى ورکړ ؛ نو بيا د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ کور ته راغللې او هر کله چې دوى ښار ته ورننوتلې کوم چې د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ کور پکې موجود دى او سدوم نومېدى ؛ نو سدوم ته تر ورننوتلو مخکې دوى خپل ځانونه د ښايستو هلکوانو په بڼه کې بدل کړل، بيا چې کله دوى د سدوم ښار ته ورننوتلې ؛ نو د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ يوه لور يې ولېدله چې په دې وخت کې يې وقوم ته د څاه اوبه راکښلې ؛ نو فريشتو ورته وويل : ايا يو کور سته چې موږ دا غرمه پکې تېره کړو ؟! نو د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ لور دستي خپل پلار حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ ته راغلله او ورته ويې ويله : چې ته راسه د مېلمنو په کاريې ! او داسي ښايسته هلکوان دي داسي نه وي چې قوم دي پرې خبر سي ؛ نو دا مهال دستي فريشتو ته حال ورسېد چې حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ خبر سو چې موږ د عذاب لپاره راغلي يو !

کوم وخت چې دوى د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ کور ته ورغلې ؛ نو قوم يې په خبر سو چې زموږ د پيغمبر کور ته خو ښايسته هلکوان راغلي دي – رائځئ چې ورسو !

او هر کله چې دوى د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ کور ته ورغلل، دستي يې ښايسته هلکوان تر سترګو سول او دستي يې د حضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَامُ سره د جګړې خبره شروع کړه چې ژر کوه هلکوان را ايله کړه ! [موږ به يې ووينو او بدکاري به ورسره وکړو ! العياذُ بالله تعالىٰ] .

حضرت لوط عَلَیهِ السَّلام ورته وویل : دا خو زما مېلمانه دي، مېلمانه مه زهیروئ او مه یې آزاروئ !
په دې وخت کې فرېشتو حضرت لوط عَلَیهِ السَّلام ته وویل چې : موږ خدای تعالی د ښایستو هلکوانو په بڼه کې ؛ ځکه رالېږلي یو ! چې دوی ووینو څه کوئ ؟! او حال دا دئ چې دوی موږ ته [هیڅ کله] نه سي رانږدې کېدلای، موږ خو په پټه د عذاب فرېشتې یو ! (په دوی صرف امتحان کؤو !) .
نو بیا هغه ؤو چې کوم مهال فرېشتو ته دا (ملعونان) لوطیان لږ څه ورنږدې سول؛ نو دستي یې [حضرت جبرائیل عَلَیهِ السَّلام] په یوه وزر د دوی مخانې ورمسحه کړل، که ګوري ؛ څټان او مخان یې یو ډول و ګرځېدل [او مسخه سول] او دغه مهال دوی خپلو نورو لوطیانو ته راغلل او دا یې ورته وویل چې : دا څنګه جادوګران دي ! موږ خو یې داسي مسخه کړو ! .
هغه ؤو چې کله ماښام سو ؛ نو فرېشتو حضرت لوط عَلَیهِ السَّلام سره له خپل بال بچه یو کلي ته راروان کړل او دا یې حضرت لوط عَلَیهِ السَّلام ته وویل چې : سهار رانږدې دی، موږ سهار پر دوی [د الله تعالی په امر سخت] عذاب راولو ! .
کله چې حضرت لوط عَلَیهِ السَّلام سره له خپل عیاله راروان سو ؛ مګر یوائځې ښځه یې نه سوه راروانه ؛ ځکه چې هغه کافره وه. بیا هغه وو کله چې سهار سو ؛ نو په دې څلورو مُقربو فرېشتو کې یوه فرېشته چې حضرت جبرائیل عَلَیهِ السَّلام وو، هغه راولاړ سو او د لوطیانو د کلي په مینځ کې ودرېدی او یوه تېزه چیغه یې ورباندې وکښله ؛ دا مهال لوطیان ټوله پر ځنګنو کت او مړه سول او بیا یې د خپل یو وزر په کونج د لوطیانو داستوګني ښار سدوم [د مځکي له تله راوکښی او] پورته یې کړی او تر داسي ځای یې د لوطیانو دا ښار پورته کړی چې د آسمان فرېشتو د دوی د سپو غپاوې او د چرګانو آذانونه واورېدل. کله چې فرېشتو دا آوازونه او آذانونه واورېدل ؛ نو حضرت جبرائیل عَلَیهِ السَّلام د دوی مځکه چپه اړخ ته واړوله او پرمخي سوله. [او له هغه ځایه یې دا مځکه را ایله کړه چې داغسې پرمخې په خپل غالب کې دننه سوه] بیا یې د ډبرو باران ورباندې ووراوه ؛ إنّا لله،

وإنّا إليه راجعُون .

او کوم چي نوري فرېشتې وې – هغوی دغه د اور ډېري پر ووروليې او پر هره ډېره دلوطي خپل نوم ليکلی وو او دا ډېري د دوږخ په اور تودې سوي وې، بيا هغه ژو چي کله څه وخت تېر سو ؛ نو پر هغه مځکه چي لوطيان پکي اوسېدل او هغه چپه اوښتې وه او د اور د ډېرو باران پر سوی وو ؛ نو پر هغه ځای اوبه پيدا سوې چي ډيري تروې وې او بد بوی يې تلی[۳۸] .

او تر اوسه پر هغه ځای داسي اوبه ولاړې دي چي ډيري تروې دي او ډېر بد بوی يې ځي او هيڅ گټه نه ځني اخيستل کيږي ؛ دا په دې سبب سره دا لوطيان سره له خپله ښاره پوپناه سول چي تر دوی مخکي داسي خبيث کار ته هيڅ چا راتگ نه وو کړی، بلکي دا خبيثانو دا فعل ايجاد کړی چي انجام يې آخر داسي وگرځېد کوم چي دغه اوس بيان سو ؛ إنّا لله، وإنّا إليه راجعون .

**فايده :** دا کيسه په قرآن کريم کي په يو اتيا آياتو کي ذکر ده او په لسو سورتونو کي پاشل سوې ده، يعني : جلا جلا ذکر سوې ده او ټوله پر دې دلالت کوي چي لواطت ډېر کرغېړن او ناوړه کار دی او کوونکی يې تر ټولو بد انسان دی او د بني آدم چي څه اعمال دي داسي يو بل بد عمل پکي نسته لکه لواطت چي دی .

امام ابن قيم الجوزية رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ فرمايلي دي : کوم چي لواطت دی ؛ دا خو يو ډېر لوی فساد دی او د کوم شي چي فساد لوی وي ؛ د هغه به عذاب هم په دنيا او آخرت کي لوی وي – له دې وينا څخه دا په ډاگه څرگنديږي چي تر لواطت لويه گناه او پليت عمل نسته .

**يادونه :** د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ پر قوم درې ډوله عذابونه راغلي دي لکه څنگه چي په کيسه کي مختصر ذکر سوه، (لومړی) عذاب خو دا وو چي : چيغه پر

---

[۳۸] بدائع الزهور في وقائع الدهور ؛ مشهور په (تاريخ ابن اياس) سره ۹۰ - ۹۲ مخونه، تفسير المُنير ۴ توک، ۶۵۱–۶۵۴ مخونه، قصص الأنبياء ۱۴۹- ۱۵۵ مخونه او داسی نور تاريخی کتابونه .

وسوه . (دوهم) عذاب يې دا وو چي : مځکه چپه پر واوښته او (درېيم) ډول عذاب يې دا وو چي : د دوږخ په اور د ګرم سڼو ډبرو باران پر وسو او دا خو عبرت دی وهر لواطت کوونکي ته او ډېر ښه عبرت دی ؛ نور چي څه پيغمبران او رسولان دي، داسي سخت او پرلپسې عذابونه يې پر امتونو او قومونو نه دي راغلي لکه څرنګه چي يوائحي او يوائحي د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ پر قوم راغلی، څرنګه چي په قرآن عظيم الشان او حديثو مبارکو کي دا خبره په ډاګه سوې ده .

**د لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم د عذابو حکمت او وجي** : الله تعالی ؛ ځکه پر قوم لوط د لومړي ځل لپاره حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا امر وکړ چي چيغه ورباندي وکاږه چي دوی به هم کله يو ښياسته انسان په خپل ژوند کي وليدی ؛ نو يو او بل به ورنعارې کړې او چيغه به يې ورباندي کښله او نور به يې خبرول او د ځان به يې ملګري کول چي : هله راسئ ! داسي ښايسته هلک راغلی دی ؛ راځئ ! چي لواطت ورسره وکړو .

او الله تعالی ؛ ځکه دويمه پلا مځکه چپه پر واړوله چي دوی به هم کله په خپل مينځ کي سره ميلاوېدل ؛ نو د لواطت عمل به يې پُرمخی کوی .

او درېيمه پلا يې ؛ ځکه د دوږخ په اور تودې سوې ډبري پر وورولې چي دوی به هم کله يو ښايسته انسان وليدی او د لواطت لپاره به يې راغوښتی او هغه به نه ورته راتلی ؛ نو ډبري به يې پسي غورځولې او هغه به يې زهيروی .

دا يې د درېو سره د عذابو وجي او حکمت وو ؛ الله تعالی دي موږ ټوله مسلمانان له دې پليت او ګنده عمله وساتي ؛ إنّه هو السّميع الدّعاء .

## قوم لوط اوس چيري دئ ؟

تر نوو تحقيقاتو اوڅېړنو وروسته دا په ډاګه سوې چي : پر قوم لوط په هغه مځکه کي عذاب راغلی دی چي (سدوم) نومېده او سدوم ښار دأردُن ښار ختيځ خوا ته واقع دی او قوم لوط په سدوم کي مېشت وو. بيا چي کله عذاب ورباندي

راغلی ؛ نو سدوم ښار چپه او نسکور سو او اوس پر هغه نسکور سوي ښار سدوم دریاب پیدا سوی دی چي (بحر میت)، یعني : مردار سمندرګی، یا مړ او بې څپو دریاب ورته وایي، یا په بله معنا آرام او ولاړ سمندر ورته وایي[۳۹] .

## (بحر میت) کوم دریاب دئ ؟

(بحر میت) ؛ خو هغه دریاب دی چي د قوم لوط ښار سدوم یې ډوب کړی دی او لوی څښتن ﷻ تر قیامته دا دریاب یو داسي عبرت ګرځولی چي نن د ټولو لوطیانو لپاره پوره پند پکې دی .

او درې داسي ځانګړ تیاوي لري چي بل یو دریاب یې هم نه لري .

لومړۍ ځانګړ تیا یې دا ده : دومره ژور دی چي بل یو دریاب یې په سر نه دی او ژورتیا یې ۱۳۰۰۰ فټه ده .

دویمه ځانګړ تیا یې دا ده : اوبه یې دومره تروې دي چي تر نورو دریابو یې ۲۵ درجې تریوالی زیات دی .

او درییمه ځانګړ تیا یې دا ده : چي انسان نه ډوبوي او نور چي کوم دریابونه دي هغه انسان ډوبوي ؛ له دې وجې (بحر میت)، یعني : مړ او بې څپو سمندرګی ورته وایي .

او پوه سه ! په دې چي دلته ځانګړ تیاوي په اعتبار سره د الهي عذاب دي، نه په اعتبار سره د الهي رحمت .

او نوو ساینسي کار پوهانو ویلي دي : دا یو داسي دریاب دی چي هیڅ یو ماهی ژوند نه سي پکي تېرولای ؛ ځکه تر نورو دریابو یې اوبه ۲۵ درجې تروې دي او بل په بیخ کي یې هیڅ واښه نسته او نه یو زنده سر حیوان ژوند پکي تېرولای سي او کله چي یو ماهی انسان ورواچوي ؛ نو دستي پکي مړ سي ؛ ځکه دا دریاب یو الهي عذاب دی چي الله تعالی د لوطیانو تر ډوبېدو وروسته ښکاره

---

[۳۹] انسائیکلوپیډیا برتانیکا ۷ توک، ۱۰۰ مخ او جهان دیده د علامه تقي عثماني رحمة الله علیه ۲۰۸ مخ .

کړي دي او دا درياب ۵۰ ميله اوږد دی او ۱۱ ميله پسور لري .
او دا هم په ډاګه سوې ده چې : د درياب په تل کې داسې ډبرې دي چې تکې توري او تېرې تېرې دي او دا هغه ډبرې دي کومې چې الله ﷻ پر قوم لوط د عذاب لپاره وورولي وې[۴۰] .

## د قوم لوط آخر پای (انجام)

اې ځوانه او ګرانه لوستونکې ! دا دې تر اوسه پر قوم لوط د عذاب الهي آثار معلوم دي ؛ قوم لوط په ابتدا کې څرنګه مالداره وو ؟! او کله چې نېستمن وګرځېدل نو دوی به د ابليس لعين له خوښې سره سم دا بدفعلي – لواطت – ورسره کاوه، بيا به يې غنم ورباندي پلورل او داغسې به کله چې مسافر پر لاره تېرېدی ؛ نو دوی به لاسونه او پښې وروتړلې او خپله بدفعلي به يې ورسره وکړه ؛ دا د دوی اعمال ول چې دوی به کوله او کله چې الهي عذاب ورباندي راغی ؛ نو چيغې او نعارې يې وهلې او کت پر ځنګنو مړه سول او هيڅ يو مرستندوی يې مرسته وه نه کړه، بلکې ټول پوپناه سول او د شهوت پوره کېدو هيلې يې ټولې له خاورو سره خاورې سولې ؛ د دوی هم دغه آخر انجام سو او دپای ټکی يې وګرځېد چې ټوله وجهان ته تر قيامته رسوا او شرمنده سول .
او د دوی دغه کړنه د راتلونکو نسلونو لپاره يو کرکجن پېغور وګرځېد چې څوک يې تر سره کړي ؛ نو خپلوان او پردي وګړي په راتلونکي کې پېغور ورکوي چې تاله فلاني سره بدکاري وکړه ! او فلاني له تا سره بدکاري کړې ده ! نو افسوس دی ! داسې عمل کوونکي ته چې انجام يې هلاکت وي او ښادي نه وي .

**يادونه :** د خدای تعالی په توفيق سره تر دغه بيانه د قوم لوط اولني او آخرني حالات پای ته ورسېدل او وروسته به د لواطت بدوالی د قرآن کريم، حديثو،

[۴۰] انسائيکلوپيډيا برټانيکا ۷ ټوک، ۹۹ مخ، بيا ۵ ټوک او ۵۲۵ مخ او جهان ديده ۲۰۸ - ۲۱۰ مخونه .

آثارو او داسي د بزرګانو، امامانو او د دیني مشرانو د ویناوو په رڼا کي بیان سي ؛ نو تاسي ښه ورته متوجه سئ ! او هر یوه ته به د دغه ورته سرلیک کښېښوول سي چي د کتاب مقاصد ښه په سمه معنا روښانه سي او که د لوی خدای خوښه وه هر ځوان چي دغه بیانونه ووایي او د زړه په سترګو ورته وګوري ؛ نو خامخا به یې له زړه څخه د هلک او هلک بازی شوق ختم سي او هیڅ کله به بیا په زړه کي د لغړزني د شوق تصور نه وکړي او تر مرګه به له داسي پلیت او ناوړه کاره توبه وباسي ؛ بإذنِ الله تعالیٰ .

## د قرآن شریف په رڼا کي د لواطت بدوالی
## د الله ﷻ پر قوم لوط او د هغوی پر عمل نیوکي

(۱) الله تبارک وتعالی فرمایلي دي : ﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٨٠ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ۝٨١﴾[41] .

ژباړه : [او یاده کړه اې محمده ﷺ ! دوی ته کیسه د] لوط کله چي یې وویل خپل قوم ته : ایا راتګ کوئ ؟! تاسي ډېر بد کار (لواطت) ته چي نه دی وړاندي سوی ستاسي څخه مخکي دې کار لواطت ته هیڅ یو له خلکو (نو تاسي یې هم مه کوئ !) بېشکه تاسي خو راځئ سړیو [هلکوانو] ته لپاره د پوره کولو د [خپل] شهوت په داسي حال کي چي تاسي له خپلو ښځو څخه تجاوز کوونکي یاست ؛ نو تاسي نه یاست په حقه لاره باندي دا لا څه، بلکي یاست تاسي یوم قوم اسراف کوونکی [خبیثان او رذیلان] .

---

[41] د الأعراف سورت، ۸۰ او ۸۱ آیاتونه .

**خلاصه او تفسیر :** حضرت مولانا روم محمّد حقي رحمه الله علیه[۴۲] فرمایلي دي : دغه آیت پر دې دلالت کوي چې لواطت له ټولو بدو عملونو څخه بد عمل دی ؛ ځکه الله ﷻ پر لويو لويو بدو عملونو والا وو د ډېرو باران نه دئ وورولی، لکه : پر زنا والا وو، د مور او پلار پر آزار ونکو، غلو، بېله حقه وژونکو او داسي نورو بدو عملونو او لويو ګناهو والا وو چي له باري تعالی سره شریک (ملګری) نیسي - څرنګه چي پر لواطت کوونکو يې ډېري وورولي دي[۴۳] .

(۲) الله تبارک وتعالی په خپل مقدس کتاب قرآن مجید کي دويم ځای فرمایلي دي : ﴿أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾﴾[۴۴] .

**ژباړه :** ایا تاسي راتګ کوئ ؟! [په لواطت کولو باندي] نارینه ؤ ته له خلګو څخه او تاسي پرېږدئ هغه څه چي پیدا کړي يې دي ستاسو لپاره ښځي ستاسي ! بلکي یاست تاسي یو قوم تر حد تیرېدونکي [یعني : له حلالو څخه وحرامو ته تلونکي یاست] .

**خلاصه او تفسیر :** یعني په ټول جهان کي یواځي نارینه ؤ ته د شهوت پوره کولو لپاره اې د لوط علیه السلام قومه ودې رذیل فعل لواطت ته راتګ کوئ ؛ ایا تاسي یو څه شرم لرئ ؟! بلکي تاسي تر شریعت تجاوز کوونکي یاست ! او تاسي هغه څه پرېږدئ چي الله ﷻ خاص د شهوت پوره کولو لپاره پیدا کړي دي چي هغه ستاسو ښځي دي[۴۵] .

---

[۴۲] محمّد حقّي د تفسیر (روح البیان) شریف لیکوال دی .

[۴۳] تفسیر روح البیان ۳ ټوک، ۱۹۷ مخ .

[۴۴] د الشعراء سورت، ۱۶۵ او ۱۶۶ آیاتونه .

[۴۵] دا خلاصه له تفسیر ابن کثیر څخه مُنتخب سوې ده .

**(۳)** الله تبارک وتعالی بیا درېیم ځای په قُرآن کریم کي فرمایلي دي : ﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ۝٥٤ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ۝٥٥﴾[۴٦] .

**ژباړه** : او [یاده کړه اې مُحمّده ﷺ ! دوی ته کیسه د] لوط کله چي یې ویله خپل قوم ته : ایا راتګ کوئ تاسي فاحشې [بداو قبیح کار د لواطت] ته، حال دا چي وینئ تاسي [یو بل په دې بد عمل کي خپل عورتونه او د ځای ناستي ځایونه چي څومره بد کار دئ ؟!] ایا تاسي خامخا راځئ سړیو ته د شهوت له اړخه پرته له ښځو څخه [چي د شهوت د دفعې او پوره کولو لپاره دي]، بلکي تاسي یو قوم یاست چي ناپوهان [له بدۍ او قبحه د خپلو عواقبو او انجامو څخه] یاست ! .

یعني : د خپلو عملو په نتیجو باندي ناپوهان یاست ! خپل عاقبت نه درمعلومیږي ! .

**خلاصه او تفسیر** : یعني که تاسي نه پوهېږئ چي د دغي بې حیایۍ او بد فعلۍ آخره خاتمه څه کیږئ ؟! نو بیا تاسي په انتهایي درجه کي جاهلان او ناپوهان یاست ! څه ناڅه فکر خو وکړئ ! چي دا څنګه بدفعلي تاسي کوئ ؟! ستاسي مخکي تر اوسه چا هم دا بد فعلي نه ده کړې ؟! لږ فکر خو وکړئ ! د ګنګیو ځایو او مرکزو ته شهوت مه راپورته کوئ ! بلکي خپل شهوتونه خپلو امانتونو ته وسپارئ ! چي هغه ستاسو ښځي او مینځي دي[۴۷] .

**(۴)** الله تبارک وتعالی په خپل کلام مبارک کي څلورم ځای فرمایلي دي : ﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ

---

[۴٦] د النّمل سورت، ۵۴ او ۵۵ آیاتونه .

[۴۷] دا خلاصه له تفسیر قرطبي څخه مُنتخب سوې ده ۱۳ توک، ۱۴۵ مخ .

مِنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾﴾[۴۸].

**ژباړه :** او یاده کړه [اې محمّده ! دوی ته کیسه دا] لوط کله چې یې وویله خپل قوم ته : بېشکه تاسي خو راځئ ناکاره کار [د لواطت] ته چې نه دی وړاندې سوی ستاسي څخه مخکې [ودې بد او قبیح کار ته] هیڅوک له تیرو عالمینو څخه [چې نور انسانان، پېریان او داسې نور مخلوقات دي] ایا تاسي خامخا راځئ سړیو [او هلکوانو] ته ! [د لواطت لپاره] او قطع کوئ ! [شکوئ] لاره [او د خلکو مال او پیسې اخلئ !] او راځئ تاسي [د ځای ناستي په ځایونو کې او] په خپلو مجلسونو کې [مُنکرو] ناکارو کارونو ته ; نو نه سو د لوط [عَلَيْهِ السَّلَامُ] د قوم ځواب [ودې خپل پیغمبر لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ ته] ; مګر دا چې دوی وویل : [وخپل پیغمبر لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ ته] چې ته دالله ﷻ عذاب راوله ! که ته [ریشتیا] له ریشتونکو څخه یې ! .

**خلاصه او تفسیر :** یعني تاسي دغه فعل لواطت کوئ ! او دا فعل لواطت خو ستاسو تر مخه هیڅ چا نه دئ کړی او انساني فطرت له داسې ناوړه کاره او عمله نفرت کوي او دغه راز تاسي داړه ماري او غلا کوئ ! او په ښکاره په مجلسونو کې ډانګ پیلي[۴۹] کوئ ! او له دې سره سره له خپلو بدو او پلیتو عملونو څخه نه شرمېږئ ! نو افسوس دی داسې خلکو ته چې دنیا او آخرت یې دواړه خراب وي، لکه د دغه شرمنده سوي قوم لوط چې دواړې نړۍ یې خرابې سوې[۵۰] .

---

[۴۸] د العنکبوت سورت، ۲۸ او ۲۹ آیاتونه .

[۴۹] ډانګ پیلي : ګوز او دا هغه هوا ده چې له ډېک نس څخه راوځي او آواز ورسره وي .

[۵۰] دا خلاصه له تفسیر ابن کثیر، تفسیر قرطبي او داسې نورو تفسیرو څخه منتخب سوې ده .

**یادونه :** مخکې د قوم لوط تر کیسې وروسته په یوه فایده کې دا اشاره سوې وه چې د قوم لوط داستان او کیسه په قرآن کریم کې لس ځایه ذکر سوې ده او ټوله پر دې دلالت کوي چې لواطت حرام او خبیث فعل دی او دلته الله ﷻ په دغو څلورو ذکر سوو قرآني آیاتو کې په ډاګه دا فرمایي : چې لواطت داسې بد او ناکاره عمل دی چې هیڅ چا تر قوم لوط مخکې نه دئ کړی ؛ نو اې د ګران محمد ﷺ آخري پیغمبر اُمته ! تاسې یې هم مه کوئ ! داسې نه وي چې پر تاسې داسې عذاب راولم، لکه پر قوم لوط چې مې راویست ! .

## په قرآن کریم کې هغه کوم سورتونه او آیاتونه دئ ؟ چې د لواطت بدوالی پکې ذکر دی

مخکې چې کوم آیاتونه تېر سول دا د ټولو هغو آیاتونو چې د لواطت بدوالی ښیي خلاصه او مجموعه ول او په ټولو کې یې صراحتا د لواطت پر بدوالی دلالت کوی او هغه آیاتونه چې د لواطت بدوالی ښیي او د قوم لوط کیسه چې ذکر کوي ؛ هغه په لسو سورتو کې بیان سوي دي او تقریبا یو اتیا ته رسیږي او هغه ټوله په راتلونکي ترتیب سره دي :

لومړی د الأعراف سورت دی ؛ آیاتونه یې : ۸۰ ، ۸۱، ۸۲، ۸۳او ۸۴ شمېره دي .

دویم د هود سورت دی ؛ آیاتونه یې : ۷۷، ۷۸، ۷۹، ۸۰، ۸۱، ۸۲او ۸۳ شمېره دي .

درېیم د الحجر سورت دی ؛ آیاتونه یې : ۶۱، ۶۲، ۶۳، ۶۴، ۶۵، ۶۶، ۶۷، ۶۸، ۶۹، ۷۰، ۷۱، ۷۲، ۷۳، ۷۴، ۷۵، ۷۶او ۷۷ شمېره دي .

څلورم د الأنبیاء سورت دی ؛ آیاتونه یې : ۷۴او ۷۵ شمېره دي .

پینځم د الشعراء سورت دی ؛ آیاتونه یې : ۱۶۰، ۱۶۱، ۱۶۲، ۱۶۳، ۱۶۴، ۱۶۵، ۱۶۶، ۱۶۷، ۱۶۸، ۱۶۹، ۱۷۰، ۱۷۱، ۱۷۲، ۱۷۳، ۱۷۴او ۱۷۵ شمېره دي .

شپږم د النمل سورت دی ؛ آیاتونه یې : ۵۴، ۵۵، ۵۶، ۵۷او ۵۸ شمېره دي .

اووم د العنکبوت سورت دی ؛ آیاتونه یې : ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲،

۳۳، ۳۴او ۳۵ شمېره دي .
اتم د الصّافات سورت دی ؛ آياتونه يې : ۱۳۳ ، ۱۳۴ ، ۱۳۵ ، ۱۳۶ ، ۱۳۷ او ۱۳۸ شمېره دي .
نهم د الذاريات سورت دی ؛ آياتونه يې : ۳۲ ، ۳۳ ، ۳۴ ، ۳۵ ، ۳۶او ۳۷ شمېره دي.
او آخري لسم سورت د القمر دی ؛ آياتونه يې : ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۸او ۳۹ شمېره دي[۵۱] . او پوه سه ! په دې چې د دغو ټولو آياتونو معنا د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم په کيسه کې ياده سوه ؛ ګواکې دغه آياتونه ټوله په دې کتاب کې ذکر دي ؛ والحمد لله كما يُحبّه ويرضاهُ .

**يادونه :** قوم لوط له لواطت څخه پرته نور بد عملونه هم کول. لکه : موټ وهل ؛ په مجلسونو کې ډانګ پيلي کول ؛ يو بل ته ګوتې سره ور کول ؛ ږيره خريل ؛ ږيره کونډۍ کول ؛ کوترې کول ؛ سپي جنګول ؛ ښکرور پسونه جنګول ؛ پايڅې اوږدول ؛ په مچلوغزه ډبرې غورځول او داسې نور او تفصيل به يې په جلا ځای ته سرليک کې راسي ؛ إنْ شاء اللهُ تعالىٰ .

## د حديثو په رڼا کې د لواطت بدوالی الله جَلَّ جَلَالُهُ لوطي له خپل فراخ رحمته ترټلی دی

(۱) عَنِ إبْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : (...لَعَنَ اللهُ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ ، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ ، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ)[۵۲] .

**ژباړه :** له (حضرت عبدالله) ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې : نبي (کريم)

---

[۵۱] الفهرس الموضوعي لآيات القُرآن الكريم ۴۶۹ - ۴۷۲ مخونه .
[۵۲] المسند د ابن حنبل، حديث شمېره (۲۸۱۶) او د حديث په هکله مُحقق شعيب الأرناؤوط ويلي دي : د دې حديث سند ښه دی او راويان يې د صحيح حديث دي .

ﷺ فرمايلي دي : الله (تعالى) لعنت کړی پر هغه چا چي د قوم لوط عمل[1] يې وکړ او الله (تعالى) لعنت کړی پر هغه چا چي د قوم لوط عمل يې وکړ او الله (تعالى) لعنت کړی پر هغه چا چي د قوم لوط عمل يې وکړ .

**مهمه نکته :** په حديث کي چي درې ځايه پرلپسې يو ځای پر لوطي لعنت سوی دی ؛ په دې کي اشاره ودې ته هم ده چي الله ﷻ، فريشتې عليهم السلام او ټول مخلوق دا درې سره واړه پر لوطي لعنت وايي که څه هم په حديث کي يوائي د الله ﷻ لخوا درې ځله لعنت ذکر سوی دی ؛ خو اشاره وتېرو دوو ته هم کيږي، لکه ښرنګه دا اشاره په راتلونکي يو بل حديث کي په ډاګه ورته سوې ده.

**فايده :** په دې حديث شريف کي دا په ډاګه ښرګنده سوه چي پر لوطي د خدای تعالى لعنت دی او داسي په بل حديث کي يو ځای هم پر هيڅ يو ګناهکار درې ځله پرلپسې لعنت نه دئ ذکر سوی، لکه پر لوطي چي په دغه ياد سوي حديث کي ويل سوی دی .

او ځوانان، په ځانګړي ډول هغه کسان چي دوی خپل ژوند د لغړزنو په شوق او ذوق کي بايللی وي ؛ بايد چي له دغه حديثه په بشپړه پند واخلي او په اخلاص دي خپل حقيقي معشوق الله ﷻ ته رجوع وکړي .

## لواطت کولو والا ملعون دی

(۲) عَنِ إِبْنِ عَبَّاس رضي الله عنه، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : (...مَلْعُونٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ)، قَالَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِرَارًا ثَلَاثًا فِي اللُّوطِيَّةِ[1].

[1] د قوم لوط عمل : يعني لواطت او هر ځای چي دا جُمله ذكر سي ؛ نو لواطت څني مراديږي ! .

.[1]

**ژباړه :** له (حضرت عبدالله) ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي : نبي (کريم ) صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : ... لعنت سوی پر هغه کس چي د قوم لوط عمل يې وکړ (يعني : کوم کس چي لواطت وکړ ؛ هغه لعنتي دی . او ابن عباس رضي الله عنه فرمايلي دي چي :)، رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره د لواطت په هکله درې ځله مُکرره کړه .

## د مُبارک عليه الصلاة والسلام پر لوطيانو بېره

(۳) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنهما ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلی الله عليه وسلم قَالَ : (إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَىٰ أُمَّتِي عَمَلُ قَوْمِ لُوطٍ)[2] .

**ژباړه :** له (حضرت) جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت دی چي : رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : بېشکه زه چي ډېره بېره زما پر اُمت لرم ! هغه د قوم لوط عمل دی (يعني : ډېره بېره زما پر اُمت دا ده چي د دوی زياتره ګناهګاران وګړي به زما تر وفات وروسته لواطتونه کوي) .

**فايده :** بېشکه د ده مُبارک تر وفات وروسته دا عمل په ګناهګارو او فحاشو انسانانو کي ښکاره سو، څوارلس سوه کاله مخکي دا خبره سوې ده ؛ اوس راسه مُشاهده يې وکړه ! چي دا پليت عمل نن څومره زيات سوی دئ او څومره بد او لڅ انسانان په اخته دي ! ! الله ربّ العِزت دي زموږ پر حال رحم وکړي ؛ آمين .

---

[1] المسند د ابن حنبل، حديث شمېره (۲۹۱۴) او د حديث په هکله مُحقق شعيب الأرناؤوط ويلي دي : د حديث سند حسن دی، څه خبره پکي نسته او ترمذيّ په دې معنا په خپل جامع السُنن کي روايت کړی دی، کتاب الحدود عن رسول الله صلی الله عليه وسلم، باب : ما جاء في حدّ اللوطي، حديث شمېره (۱۴۵۶) .

[2] السّنن د ترمذي (۱۴۵۷)، السّنن د ابن ماجه (۲۵۶۳) او المُسند د ابن حنبل (۱۵۰۹۳) .

## له خپلي ښځي سره لواطت کولو والا ملعون دی

(۴) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: (لَا يَنْظُرُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَىٰ رَجُلٍ جَامَعَ امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا)[۱].

**ژباړه**: له (حضرت) أبي هُريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي: نبي (کريم) صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله جل جلاله هغه سړي ته (يا هغه هلک او يا ځوان ته د رحمت په نظر) نه ګوري چي خپلي مېرمني ته د شا له خوا راتګ وکړي (يعني: چي لواطت ورسره وکړي):

**يادونه**: او په دې بايد ځان پوه کړئ! چي د کوم کس، يا ښځي په حق کي دا خبره وسي چي الله تعالى د رحمت په نظر نه ورته ګوري؛ نو هغه د اسلام له نظره ملعون دی او د ملعون معنا هم داغه ده او په حديث مبارک کي يوازي هغه کس نه دئ ياد سوی چي د خپلي ښځي سره لواطت وکړي بس هغه ملعون دی، بلکي ټولو هغو انسانانو ته اشاره پکي کيږي چي مُطلق انسان ته د شا له خوا راتګ کوي، لواطت ورسره کوي او خپل شهوت وربانديې پوره کوي؛ که هغه هلک وي، يا کوچنی؛ ځوان وي، يا ښځه او يا داسي بل ژوندی شی وي – بس هغه د الله تعالى په لعنت کي ډوب دی او د ملعون نوم وربانديې ياديږي.

## لواطت کوونکي نارينه او مساحقت کوونکي ښځي د الهي سزا په تمه ورځي او شپې سبا کوي

(۵) رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: (إِنَّ أَخْوَفُ مَا أَخَافُ عَلَىٰ أُمَّتِيْ مِن بَعدِي عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ, أَلَا! فَلْيَرتَقِب أُمَّتِيْ العَذَابَ إِذَا كَانَ الرِّجَالُ بِالرِّجَالِ، وَالنِّسَاءُ

[۱] المسند د ابن حنبل، حديث شمېره (۸۵۳۲) او ترمذي په خپل کتاب السّنن کي په معنا سره روايت کړی دی، حديث شمېره (۱۱۶۵).

بِالنِّسَاءِ)[1].

**ژباړه :** روایت سوي دي چي نبي (کریم) ﷺ وفرمایل : بېشکه چي هغه ډېر بېربېړم زما پر اُمت زما تر وفات وروسته هغه د قوم لوط له عمله بیرېږم ! (چي دوی به يې کوي)، خبردار ! بیا دي زما اُمت د عذاب انتظار وکړي کله چي نارینه يې ونارینه ؤ ته (د لواطت لپاره) راتګ وکړي او ښځي يې وښځو ته (د مساحقت لپاره) راتګ وکړي.

**خلاصه :** یعني کله چي زما اُمت په دغو بدفعلیو اخته سي چي نارینه يې په نارینه ؤ او ښځي يې په ښځو خپل شهوتونه پوره کوي ؛ نه شرم کوي ؛ نه الهي بېره لري ؛ کټ مټ د قوم لوط چمونه کوي او هم د هغوی په لاره ځي ؛ نو د الهي سزا انتظار دي وکړي او په تحقیق سره د الله ربّ العالمین عذاب ډېر سخت دی او تکلیف لري او بېشکه نن سبا چي کوم کسان په دغو بدفعلیو اخته دي ؛ یقینا هغه په مختلفو ناروغیو اخته دي چي ملاوي يې درد کوي ؛ هډونه يې سست دي او له خپلي کوروالا وو سره کوروالی خوند نه ورکوي او په زایل سوو جوهري اوبو (منیو) سخت افسوس کوي او دا په مُشاهده تجربه سوې ده ؛ ځکه دا د تېر مُبارک حدیث مصداق[2] دی . الله ﷻ دي پر موږ فضل وکړي ؛ آمین .

## د نن وخت پر لواطت کوونکو نارینه ؤ او مساحقت کوونکو ښځو د ډېرو د باران اوریدلو بیره ده

(۶) ورُوِيَ عن النّبيّ ﷺ، أنّهُ قَالَ : (سَيَكُونُ فِيْ آخِرِ أُمّتِيْ قَوْمٌ يَكتَفِي رِجَالُهُمْ بِالرِّجَالِ، وَنِسَاؤُهُم بِالنِّسَاءِ فَإِذَا كَانَ ذَلِكَ ؛ فَارتَقِبُوا عَذَابَ قَوْمِ لُوْطٍ

---

[1] حدیث ابن الجوزي په خپل کتاب ذمّ الهوی ۱۵۶ مخ کي روایت کړی دی، الباب السّادس والعشرون في التحذير من عمل قوم لوط .

[2] مصداق : یعني د ریشتیا څرګندونه او حقیقي خبره .

! أَنْ يُرْسِلَ اللهُ عَلَيهِمْ حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ) [1].

**ژباړه :** او له نبي (کريم) ﷺ څخه روايت سوی، چي بېشکه ده وفرمايل : ژر دی چي زما د امت په آخر کي به داسي قوم پيدا سي چي نارينه به يې په نارينه ؤ سره او ښځينه به يې په ښځينه ؤ سره کفايت کوي او کله چي دا کار ښکاره سي ؛ نو د قوم لوط د عذاب انتظار وکړئ ! هغه به دا عذاب وي چي پر دوی به د سختو ډبرو باران وسي (او دوی به هلاک کړي، لکه قوم لوط چي يې پوپناه کړل).

**څېړنه او د حديث مصداق :** دا خو ثابته سوې ده چي څه وخت مخکي په ۲۰۱۳ عيسوي کال کي د روسيې د يو ښار پر غرني سيمه هيوادوالو ځيني داسي توري ډبري ووريدلې چي هغه د يو ستوري له امله راشوه سوي وې او وروسته دا په ډاګه سول چي دا کسان لواطت کوونکي نارينه او مساحقت کوونکي ښځي وې او په يو حديث کي د دې خبري څرګندونه په ډاګه کيږي ؛ له حضرت عبد الله بن عباس ﵁ څخه روايت دی چي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : (لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّى يَرْضَخُ رُءُوسُ أَقْوَامٍ بِكَوَاكِبٍ مِنَ السَّمَاءِ ؛ بِإِسْتِحْلَالِهِمْ عَمَلَ قَوْمَ لُوطٍ) [2]، يعني : قيامت به تر هغو رانه سي تر څو چي د ځينو کسانو سرونه له آسمانه د ستورو په لامل وکوټل سي ؛ ځکه چي هغوی به د قوم لوط عمل روا ګڼي . او بېشکه دا يوه علامه د قيامت هم ده چي په ۲۰۱۳ عيسوي کال کي ښکاره سوه .

**د لوطي پر سر ويشتلو حکمت :** په دې کي راز او حکمت دا دئ چي لوطيان

---

[1] حديث امام قُرطبي په خپل تفسير الجامع لأحكام القرآن کي نقل کړی دی، ۹ توک، ۵۶ مخ.

[2] حديث ديلمي په خپل مُسند الفردوس بمأثور الخطّاب (فردوس الأخبار) کي روايت کړی دی، ۵ توک، ۸۸ مخ، حديث شمېره (۷۵۴۷) او جلال الدّين سُيوطي په جامع الأحاديث کي نقل کړی دی، حديث شمېره (۱۶۸۳۴).

خاص پر سرو ویشتل کیږي دا چي دوی د لواطت په عمل کي د تناسلي اندامو سرونه یو په بل اغوندي او له دې رذیلي او پلیتي لارې خپل شهوت تر سره کوي، هیڅ شرم او حیا هم نه ورته دربږي ؛ ځکه یوه ذره حیا چي ولري ؛ نو داسي ناوړه او بې کاره عمل ته اقدام[1] نه سي کولای ؛ باید لواطت کوونکي نارینه او مُساحقت کوونکي ښځینه له دې حدیث او څرګندوني بشپړه پند واخلي ؛ ځکه نژدې ده چي پر دوی هم دا عذاب راسي او ډبري پر وورېږي ؛ باید ژر تر ژره توبې وباسي.

الله ربّ العالَمین دي مو وساتي ! زموږ مُعاشره دي په خپل فضل سره اصلاح کړي ؛ حالات یقیني خراب دي او بېشکه ساتونکی او هدایت کوونکی یواځې الله ﷻ دی او له ده څخه د ساتني او لارښووني خواست کوئ ! بېشکه د لارښووني او هدایت واګي د ده په لاس کي دي او بل د هیڅ چا په لاس کي نه دي.

## په آخره زمانه کي به ځیني لوطیان خپل عمل روا ګڼي

(۷) وفي رِوايةٍ عَنهُ عليه الصلاة والسلام، أنّهُ قال : (لَا تَذْهَبِ اللِّيَالِيْ وَالْأَيَّامُ حَتّٰى تَسْتَحِلَّ هٰذِهِ الْأُمَّةُ أَدْبَارَ الرِّجَالِ كَمَا إِسْتَحَلُّوا أَدْبَارَ النِّسَاءِ ؛ فَتُصِيْبُ طَوَائِفَ مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ حِجَارَةٌ مِنْ رَبِّكَ)[2].

**ژباړه :** او په بل روایت کي له عليه الصلاة والسلام څخه روایت دی، بېشکه ده وفرمایل : د دنیا ورځي او شپې به تر هغو پوري تېري نه سي تر څو له دغه اُمته (یوه ډله) د خلګو شاګاني ځانو ته روا نه کړي، لکه څرنګه چي د (خپلو او نورو پردیو) ښځو شاګاني یې ځانو ته روا کړي وي ؛ بیا به د دې اُمت پر دې ډلو ستا د

---

[1] اقدام : مخ ورواړاندي کول او د هغه کار کول.

[2] دا حدیث هم امام قرطبي په خپل تفسیر کي نقل کړی دی او حواله یې تېره سوې ده.

ربّ له لوري[1] ډېرې وورېږي.

**فایده او یادونه:** دا وخت خو دا دئ ښکاره سوی دی چې ځینو نارینه ؤ لواطت ځانو ته روا کړی دی؛ نو دوی دي د ډېرو د باران د سخت عذاب انتظار وکړي او دلته د رسول الله ﷺ د خبرو مصداق ښکاره کیږي چې دی څومره بې حده ریشتونی دی؛ څوارلس سوه کاله مخکي یې دا پیشنګویي[2] کړې ده او اوس موږ په ښکاره وینو! چې لواطتونه کیږي؛ نو افسوس دی لوطیانو ته ژر تر ژره به د ډېرو باران پر وسي او دا یاد ساتئ! لواطت کول جلا ځان ته یوه غټه ښکاره ګناه ده او روا ګڼل یې یو عقیدوي کُفر دی چې انسان د شکه وتلی په کافر کیږي[3].

## د مخلوق په ناولي لواطت کولو لوی عرش لړزیږي او فریشتې خفه کیږي

(۸) عن إبْن عُمر رضي الله عنه قال: قال النَّبيّ ﷺ: (لَمْ يَعْلُ فَحْلٌ فَحْلًا حَتّى كَانَ عَمِلَ قَوْمَ لُوْطٍ؛ فَإِذَا عَلَا الفَحْلُ الفَحْلَ إِرْتَجَّ. أَوْ إِهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ عَزَّوَجَلَّ. فَاطَّلَعَتِ الْمَلَائِكَةُ تَعْظِيْمًا لِفِعْلِهِمَا, فَقَالُوا: يَا رَبِّ! أَلَا تَأْمُرُ الْأَرْضَ أَنْ تُعَزِّرَهُمَا؟! وَتَأْمُرُ السَّمَاءَ أَنْ تَحْصُبَهُمَا؟! فَقَالَ: إِنِّيْ حَلِيْمٌ لَا يَفُوتُنِيْ شَيْءٌ)[4].

---

[1] لوري: یعني له طرفه څخه.

[2] پیشنګویي: وینا، یا خبره.

[3] د کُفري عملونو د پېژندني د تفصیل لپاره زما جامع کتاب موسوعې (شهاب القلوب في ذمّ الذّنوب) ته مراجعه وکړئ! او موسوعه دې ته وایي چې کومه موضوع څېړي؛ نو د هغې ټول اړخونه ورسره راوړي او تفصیل یې بیانوي؛ دې ته موسوعه، یا پوهنغوند وایي، په انګریزي او اردو ژبه کي انسائیکلوپیډیا (Encyclopedia) ورته وایي.

[4] حدیث ابن الجوزي رحمه الله علیه په خپل سند سره په ذمّ الهوی کي روایت کړی دی، ۱۵۷ مخ، الباب السّادس والعشرون في التحذير من عمل قوم لوط.

**ژباړه:** له (حضرت عبد الله) ابن عُمر ﷺ څخه روایت دی چي : نبي (اکرم) ﷺ وفرمایل : نه سرېږه کیږي یو نر پر بل نر تر داسي چي دوی د قوم لوط عمل کوي ؛ نو چي کله یو نر پر بل نر سرېږه سي (د لواطت لپاره ؛ نو) د رحمان عَزّ وجَلّ عرش (عظیم) په لړزو سي او فریشتې د دوی (دوو) عمل ته د هغه د بدۍ له غتوالي څخه وګوري او دا ووايي : ای ربه ! [یعني : ای زموږ د ټولو څښتنه !] مځکي ته ولې امر نه کوې چي دا دوه (کسان لوطیان) خسف کړي ؟! او آسمان ته ولې امر نه کوې چي دا دوه (کسان لوطیان) په ډبرو ووهلي ؟! الله تعالی فریشتو ته وفرمایي : زه بردبار یم ! د دوی عمل پر ما نه ور کیږي [یعني : زه زغمونکی یم ! چي زه دوی په دنیا کي په ګناه ژر نه نیسم، بلکي زه به دوی دوه په آخرت کي په خپلو ګناهو سره ونیسم ! او سزا به یې ور کړم !].

**مهمه نکته :** که مو په کتابونو کي په یاد وي ! یا مو د ملایانو په ژبه اورېدلي وي ! چي د لوی څښتن ﷻ عرش عظیم داسي یو عمل ته لړزیږي چي هغه د نېکۍ په لحاظ ډېر غوره وي، یا هغه د بدۍ په لحاظ ډېر بدتره وي ؛ نو د فکر ځای دی تر لواطت به بل بدتر او رذیل عمل کوم یو وئ ؟! خامخا به د دې پلیت عمل له نتیجې څخه دا لوی مُبارک عرش عظیم لړزیږي او فریشتې به ځني کپیږي – دا یو الهي قانون دی چي آسماني او مځکني مخلوقاتو ته یې نتیجه ښکاره سي .

## الله ﷻ د لوطیانو هیڅ پرواه هم نه لري چیري چي یې خوښه وي ؛ هم هلته یې هلاکوي

(۹) عَن جابر بِنِ عَبْد اللهِ رضي الله عنهما قال : قال رسول الله ﷺ : «إِذَا ظُلِمَ أَهْلُ الذِّمَّةِ ؛ كَانَتِ الدَّوْلَةُ دَوْلَةَ العَدُوِّ، وَإِذَا كَثُرِ الزِّنَا ؛ كَثُرِ السِّبَاءُ، وَإِذَا كَثُرِ اللُّوطِيَّةُ ؛ رَفَعَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ يَدَهُ عَنِ الخَلْقِ ؛ فَلَا يُبَالِي فِي أَيِّ وَادٍ هَلَكُوا ؟!»[۱].

---

[۱] حدیث طبراني په المعجم الکبیر کي روایت کړی دی، ۲ ټوک، ۱۸۴- ۱۸۵ مخونه، حدیث شمېره (۱۷۵۲) او هیثمي په مجمع الزّوائد ومنبع الفوائد کي نقل کړی دی، ۶ ټوک، ۲۵۵ مخ .

**ژباړه :** له (حضرت) جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روایت دی چې : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چې له اهل الذمه ؤ [یعني : له هغو کفارو سره چې په دار الإسلام[1] کې وسیږي او مسلمانانو ته خپله جزیه، یعني : د ځمکې محصول (ټېکس) ورکوي] ظلم ورسره وسي ؛ نو دا حکومت به د دښمن په ولکه کې سي او کله چې زنا زیاته سي ؛ نو شراب چیښنه به زیاته سي او بیا چې کله لواطت زیات سي ؛ نو الله عَزَ وجَلّ خپل لاس (د نصرت او رحمت) له (دغه لوطي) مخلوق څخه پورته کړي ؛ نو بیا یې پرواه نه کوي په کومه شېله [یعني : پېښه] کې چې پوپناه کیږي هم هلته پوپناه سي ؟! .

**خلاصه دا ده :** یعني چې کله له هغو کفارو سره ظلم وسي چې د مسلمانانو په ځمکه کې وسیږي او مسلمانانو ته خپل محصول ورکوي او اسلامي قوانین یې ورسره مني : نو دا حکومت به داسي وګرځیږي لکه د دښمن حکومت چې په ظلم او ستم کې چلیږي او کله چې زنا زیاته سي ؛ نو اصلي سبب یې شراب چیښنه زیاته سي او کله چې لواطت زیات سي ؛ نو الله تعالی خپل د نصرت لاس له هغه لوطي مخلوقه بلا کیفه[2] پورته کړي او خپل د رحمت نظر ځني واړوي ؛ نو بیا یې دا پروا نه کوي چې په کوم عذاب پناه ؛ بس په هغه یې پناه کوي او ختموي .

**شعر :**

إِلٰهِيْ ! ظَهَرَ الفَسَادُ فِيْ البَرّ وَالبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيدِيْنَا
فَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا ؛ فَمَنْ يَغْفِرُ لَنَا، وَأَنْتَ رَبُّ العَالَمِيْنَا !

**ژباړه :** اې زما څښتنه ! زموږ د بدو عملونو له وجې څخه په وچه او لونده (دریاب) کې فساد خپور سو . که ته موږ ته بخښنه ونه کړې ؛ نو موږ ته به څوک

---

[1] دار الإسلام : د مسلمانانو ښار .

[2] بلا کیفه : یعني نه په داسي ډول او څرنګوالي؛ ځکه الله تعالی له څرنګوالي او پای څخه سپېځلی دی.

بخښنه وکړئ؟! بېشکه ته خو زموږ رب العالمين يې ! .
مطلب دا چي زموږ له کړو وړو څخه ډېري ستري او خواري راغلې او نوري به هم راځي ؛ بايد چي موږ ټول له خپل بادار ﷻ څخه د بخښني غوښتنه وکړو ! او لواطت خوښوونکو ته د هدايت غوښتنه وکړو ! ځکه دا به زموږ د دُنيا او آخرت لپاره د ښېگڼي ذريعه وي .

## تر آسمانو را لاندي په ټول مخلوق کي اووه کسان د الله تعالی په لعنت پوښلي دي

(۱۰) عَن أَبِيْ هُرَيرَةَ رضي الله عنه : أَنَّ رَسُول الله صلى الله عليه وسلم قال : (لَعَنَ اللهُ سَبْعَةً مِنْ خَلْقِهِ مِنْ فَوْقِ سَبْعَ سَمٰوَاتِهِ وَرَدَّدَ اللَّعْنَةَ عَلىٰ وَاحِدٍ مِنْهُم ثَلَاثًا, وَلَعَنَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ لَعْنَةً تَكْفِيْهِ) ؛ فَقَالَ : مَلْعُوْنٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ, مَلْعُوْنٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ, مَلْعُونٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ ؛ مَلْعُونٌ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ ؛ مَلْعُونٌ مَنْ أَتَىٰ شَيْئًا مِنَ الْبَهَائِمِ ؛ مَلْعُونٌ مَنْ عَقَّ وَالِدَيْهِ ؛ مَلْعُونٌ مَنْ جَمَعَ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَبَيْنَ إِبنَتِهَا ؛ مَلْعُوْنٌ مَنْ غَيَّرَ حُدُوْدُ الْأَرْضِ ؛ مَلْعُونٌ مَنْ إِدَّعىٰ إِلىٰ غَيْرِ مَوَالِيْهِ)[1] .

ژباړه : له (حضرت) أبي هُريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : الله (تعالی) لعنت کړی پر اوو کسانو له خپله مخلوقه لوړ تر خپلو اوو آسمانو او پر هر يو د دغو اوو کسانو يې درې ځله لعنت لېږلی دی او داسي پوره لعنت يې پر هر يو د دغو اوو کسانو لېږلی چي د هر يوه بسنه کوي ؛ نو بيا (پيغمبر صلى الله عليه وسلم) وفرمايل : (د الله تعالی له لوري) لعنت سوی پر هغه

---

[1] حديث طبراني په المعجم الأوسط کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۶۱۸۲) او حاکم په معنا سره په المستدرک کي روايت کړی ۴ توک، ۳۵۶ مخ او مُنذري په الترغيب والترهيب کي نقل کړی دی ۳ توک، ۱۹۶ مخ .

کس چي د قوم لوط عمل يې وکړ، لعنت سوی پر هغه کس چي د قوم لوط عمل يې وکړ، لعنت سوی پر هغه کس چي د قوم لوط عمل يې وکړ [يعني : همدا خبره يې درې ځله مکرره کړه او هم يې په لومړي ځل کي ياده کړه چي دا د لواطت پر ډېر بدوالي دلالت کوي !] ؛ لعنت سوی پر هغه کس چي د الله (تعالی) له نامه څخه ماسوا د بل چا پر نامه څاروی حلال کړي ؛ لعنت سوی پر هغه چا چي د څارويانو ويو شی ته يې (لپاره د پوره کولو د خپل شهوت) راتګ وکړ ؛ لعنت سوی پر هغه چا چي مور او پلار يې آزار کړه ؛ لعنت سوی پر هغه کس چي لور او خپله ښځه يې سره جمع کړه [يعني : خپله لور يې داسي ځان ته روا کړه لکه خپله بي بي چي يې ځان ته روا کړې ده او زنا يې ورسره وکړه !] ؛ لعنت سوی پر هغه کس چي د مځکي حدونه يې سره خراپ کړه [يعني : په خپله مځکه کي يې د نورو خلګو مځکي لاندي کړې] (او) لعنت سوی پر هغه کس چي د نورو پر آزاد سوو مريانو[1] دعوا وکړي .

## په ټول مخلوق کي تر لوطي بل سخت ملعون نسته

(١١) عَن إبْن عبّاس رضي الله عنه . عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : (لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ, وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غَيَّرَ تُخُوْمَ الْأَرْضِ, وَلَعَنَ اللهُ مَنْ كَمَّهَ الْأَعْمَى عَنِ السَّبِيْلِ, وَلَعَنَ اللهُ مَنْ سَبَّ وَالِدَيْهِ, وَلَعَنَ اللهُ مَنْ تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيْهِ, وَلَعَنَ اللهُ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ), قالَها ثَلَاثًا في عَمَلِ قَوم لُوْطٍ[2] .

---

[1] مريان : جمع د مريي ده، مريی هغه کس ته وايي چي پخوا به کله مجاهدينو له کافرانو څخه يو کس ونياوه ؛ نو د ځانو لپاره به يې خادم وګرځاوه او خپل خدمت به يې په کاوه ؛ ودې ته مريی وايي - کذا في مِصباح اللّغات (اردو) ٩٢٨ مخ او دا ډول د لُغت په نورو کتابونو کي هم د مريي دغه تعريف سوی دی آه !.

[2] حديث ابن حبان په خپل الصّحيح کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۴۴۱۷)، ذِکْر لعن المُصطفى صلى الله عليه و سلم بالتکرار على العامل ما عمل قوم لوط . او مُنذري په الترغيب والترهيب کي نقل کړی دی، ٣ ټوک، ١٩۶ مخ .

**ژباړه :** له (حضرت عبد الله) ابن عباس ﷺ څخه روایت سوی چي : نبي (اکرم) ﷺ فرمایلي دي : الله (تعالی) لعنت کړی پر هغه کس چي د الله (تعالی) له نامه پرته یې د بل پر نامه یو څاروی حلال کړ [یعني : د بل چالپاره یې حلال کړی] او الله (تعالی) لعنت کړی پر هغه کس چي د مځکي حدونه یې سره خراب کړل او الله (تعالی) لعنت کړی پر هغه کس چي یو ړوند بنده یې له لاري څخه خطا ایست او الله (تعالی) لعنت کړی پر هغه کس چي خپل مور او پلار یې وښکنځل او الله (تعالی) لعنت کړی چي د بل پر آزاد سوو مریانو یې تصرُف وکړ او الله (تعالی) لعنت کړی پر هغه چا چي د قوم لوط عمل یې وکړ او دا یې دري ځله وویله چي پر هغه کس دي لعنت وي چي د قوم لوط عمل یې وکړ .

## څلور کسان د الله تعالی په غضب کي ورځي اوشپې سبا کوي

**(۱۲)** عن أبِيْ هُريرة ﷺ، عنِ النَّبِيّ ﷺ قال : (أَرْبَعَةٌ يُصْبِحُوْنَ فِيْ غَضَبِ اللهِ وُيُمسُونَ فِيْ سَخَطِ اللهِ, قُلْتُ : وَمَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟! قَالَ : المُتَشَبِّهِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ, وَالمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِبِالرِّجَالِ, وَالَّذِيْ يَأْتِيْ البَهِيْمَةَ, وَالَّذِيْ يَأْتِيْ الرِّجَالَ)[1] .

**ژباړه :** له (حضرت) أبي هُريره ﷺ څخه روایت دی، وایي چي : نبي (اکرم) ﷺ وفرمایل : څلور کسان د الله (ﷻ) په غضب (او قهر) کي (له خوب څخه) راکښیني او د الله (ﷻ) په ناراضتیا کي بیدیږي [یعني : ماښام کوي . حضرت]، أبي هُريره ﷺ وایي : ما رسول الله (ﷺ) ته وویل : اي د الله رسوله (استاذې) دا کوم کسان دئ ؟! رسول الله (ﷺ) وفرمایل : هغه نارینه چي له ښځو سره (په صورت، تګ، رنګ، لباس او داسي نور څه

---

[1] حدیث طبراني په المعجم الأوسط کي روایت کړی دی، ۷ توک، ۶۳ مخ، حدیث شمیره (۶۸۵۸) او مُنذري په الترغیب والترهیب کي نقل کړی دی، ۳ توک، ۱۹۷ مخ .

کي) مشابهت کوي [یعني : ځوان وي، یا پوخ سړی وي، یا هلک وي او خپل شونډان سوره کوي، د سرو زرو ګوتمۍ په ګوته کوي او داسي نور ښځينه چمونه کوي] او هغه ښځي چي له نارينه ؤ سره (په صورت، تګ، رنګ، لباس او داسي نور څه کي] مشابهت کوي [یعني : ښځه وي، یا نجلۍ وي د نارينه ؤ په څېر تنګ کالي اغوندي لکه بارچاکي کالي او داسي نور د نارينه چمونه کوي] او هغه کس چي یو څاروي ته (د خپل شهوت پوره کولو لپاره) راتګ کوي [یعني: لواطت ورسره کوي اوخوند پر اخلي] او هغه کس چي نارينه ؤ (هلکوانو، لغړزنو او داسي ښځو) ته (د خپل شهوت پوره کولو لپاره) راتګ کوي [یعني : لواطت ورسره کوي او خوند پر اخلي] .

مطلب دا هغه کسان دي چي له سهاره تر ماښامه د خدای ﷻ په قهر کي خپل ژوند تېروي او له ماښامه تر سهاره د خدای ﷻ په ناراضتيا کي خپل ژوند تېروي ؛ بايد هر انسان له دې قيمتي روايت څخه پند او عبرت واخلي او د دغو منحوسو څلورو کسانو له خويونو څخه په بشپړه ځان وژغوري او په خپل الله تعالی پناه ځني وغواړي ؛ ځکه دا به د ده لپاره د همېشه خير ذريعه وي .

## لواطت، زنا او داسي فحاشي کارونه د مرګ لامل ګرځي

**(۱۳)** عَن عبد الله بن بُريدة، عن أبِيه رضي الله عنه قال : قال رسُول الله صلى الله عليه وسلم : (مَا نَقَضَ قَوْمٌ العَهْدَ قَطّ ؛ إِلَّا كَانَ القَتْلُ بَيْنَهُمْ, وَلَاظَهَرَتِ الْفَاحِشَةُ فِيْ قَوْمٍ قَطّ ؛ إِلَّاسَلَطَ اللهُ عَلَيْهِمُ المَوْتَ, وَلَا مَنَعَ قَوْمٌ الزَّكَاةَ ؛ إِلَّاحَبِسَ اللهُ عَنْهُمُ القَطْرُ)[1] .

---

[1] حديث حاكم په المُستدرک علی الصّحيحين کي روايت کړی دی، کتاب الجهاد ۲ توک، ۱۳۶ مخ، حديث شمېره (۲۵۷۷) او ويلي يې دي چي : حديث پر شرط د شيخينو صحيح دی او هغو نه دئ را ايستلی أو ذهبي په التلخيص کي ويلي دي چي : پر شرط د امام مُسلم صحيح دی او دا ډول حديث حافظ مُنذري په الترغيب والترهيب کي نقل کړی دی ۳ توک، ۱۹۵ مخ او دا ډول په دې معنا طبراني

**ژباړه**: له (حضرت) عبد الله بن بُریده رضي الله عنه څخه روایت دی، چې هغه له خپله پلاره روایت کوي وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یو قوم وعده (ژمنه) نه ده ماته کړې؛ مګر د دوی په مینځ کې جنګ او جګړه خامخا پیدا سوې ده او نه دئ ښکاره سوی په یو قوم کې زنا (او لواطت)؛ مګر الله (تعالی) پر دوی مرګ مُسلط کړی دی او یو قوم (خپل فرضي) زکات نه دئ منع کړی (یعني: نه یې دئ ادا کړی)؛ مګر له دوی څخه د باران څاڅکي درېدلي دي.

**څه تشریح**: په بیان سوي حدیث کې چې کوم عملونه یاد سول؛ دا ټوله کبیره ګناهونه دي او پر هر یو عمل الله ربّ العزت جلا جلا عذاب مُرتب کړی دی، د بیلګې په توګه که په یو کلي، یا یو ښار کې د خلګو تر مینځ د صُلحې او خیر خواهۍ وعده ماته سي؛ نو د دوی تر مینځ جنګ او جګړه خامخا راځي، بلکې که د دوو وروڼو تر مینځ وعده خلافي راسي، یا د دوو خویندو تر مینځ، یا داسې د نورو تر مینځ وعده خلافي راسي؛ نو څه شخړه او جګړه یې خامخا تر مینځ راځي، یا له سري مرګ راسي – إنّا لله وإنّا إلیه راجعون؛ دا تجربه ده او زما په سترګو لیدلی حال دی؛ دا ډول که په یو کلي، یا یو ښار کې لواطتونه او زناوي پیل سي؛ نو په هغه ځای کې پر هغه وګړو (انسانانو) خامخا مرګ مُسلط کیږي، یا د ناروغۍ له امله او یا داسې له بل لامله مرګ ورته راځي او که د یو کلي، یا یو ښار والا خلګ او مالداره انسانان زکاتونه نه ادا کوي؛ نو پر هغه کلي او ښار په یقیني توګه باران نه کیږي. نن که موږ وګورو! حالات داغسې دي او بارانونه له دې لامله درېدلي دي؛ دا ټوله د حدیث مصداق دی.

---

په المعجم الکبیر کې یو حدیث روایت کړی دی چې هغه دا دئ: عن إبن عبّاس رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: (خمس بخمس). قالوا: یا رسول الله! وما خمس بخمس؟ قال: (ما نقض قومٌ العهد إلا سلّط علیهم عدوّهم، وما حكموا بغیر ما أنزل الله إلا فشا فیهم الفقر، ولا ظهرت فیهم الفاحشة إلا فشا فیهم الموت، ولا طففوا المكیال إلا منعوا النبات وأخذوا بالسنین، ولا منعوا الزّكاة إلا حبس عنهم القطر).

وګوره! المعجم الکبیر د طبراني ۱۱ ټوک، ۴۵ مخ، حدیث شمېره (۱۰۹۹۲).

# نږدې ده چې آسمانونه د لواطت له کړنې راشوه سي

(۱۴) رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ. قَالَ : (إِذَا رَكِبَ الذَّكَرُ الذَّكَرَ ؛ إِهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ خَوْفًا مِنْ غَضَبِ اللهِ تَعَالَىٰ، وَ تَكَادُ السَّمٰوَاتُ أَنْ تَقَعُ عَلَى الْأَرْضِ ؛ فَتُمْسِكُ الْمَلَائِكَةُ بِأَطْرَافِهَا، وَ تَقْرَأُ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ إِلَىٰ آخِرِهَا حَتّٰى يَسْكُنُ غَضَبُ اللهِ عَزَّ وَ جَلَّ)[1].

**ژباړه :** له (پيغمبر) عليه الصلاة والسلام څخه روايت سوی دی، فرمايي : کله چې يو نارينه پر بل نارينه (د لواطت کولو لپاره) سپور سي ؛ نو د رحمان (جل جلاله) عرش (عظيم) په لړزو سي، په داسې حال کې چې د الله (تعالی) له خشمه بېرېږي او آسمانونه داسې حال ته نږدې سي چې پر مځکه راولوېږي ؛ نو دا مهال فرښتې د آسمانو اړخونه ونيسي او (سورت د) قل هُوَ الله أَحَد پيل کړي تر آخره يې ولولي تر دې چې د الله عزّ وجلّ غضب (او قهر) آرامېږي .

**فايده :** اې ځوانه ! اريانتيا خو دا ده چې د الله تبارک وتعالی عظيم مخلوق چې عرش عظيم دی په لړزو کې سي او د خپل ربّ له بيري څخه لړزيږي او په دا بېره کې وي چې داسې نه وي اوس نِظام د عالَم برباد سي او دا له دې وجې څخه چې هلته په مځکه کې دوه کسان لواطت سره کوي او دلته نظام علوي او سفلوي[2] د هلاکت په بېره کې وي ؛ نو افسوس دی او ډېر لوی افسوس دی !! وداسې فعل کوونکي ته چې عرش عظيم د الله ربّ العالمين له بيري څخه په لړزو کوي او بيا هم توبه نه باسي ؛ هيهات ! هيهات ! إنّاالله، وإنّا اليه راجِعون .

---

[1] حديث امام ذهبي په کتاب الکبائر کې نقل کړی دی، ۶۳ مخ او أبي اللّيث السّمرقندي الحنفي په قُرّة العيون کې نقل کړی دی، ۴۸ مخ .

[2] علوي او سفلوي : د آسمانو او مځکو نظام .

# د (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ) ګواهي د لوطي او مساحقې لپاره نه قبلېږي

(۱٥) عَن أَبِيْ هُرَيرة ﷺ قال : قال رَسُول اللهِ ﷺ : (ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ لَهُمْ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ : الرَّاكِبُ وَالْمَرْكُوبُ. وَالرَّاكِبَةُ وَالْمَرْكُوبَةُ. وَالْإِمَامُ الْجَائِرُ)[۱].

**ژباړه** : له (حضرت) أبي هُريره ﷺ څخه روايت دی چي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د درېو کسانو ګواهي د (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ) [په اسلام کي] نه قبلېږي : يو سپور نارينه پر بل سپور سوي نارينه (چي لواطت سره کوي) او (دويم) د سپرې ښځي پر سپرې سوي ښځي او (درېيم) د ظالم باچا.

**شرح تشريح** : دا خبره دي واضحه وي لواطت کولو والا نارينه که فاعل. يعني : کوونکی وي، يا مفعول به وي، يعني : چي لواطت ورسره کيږي، يا په حالت د لواطت کي وي، يا يې کار د لواطت وي او يا يې بل وار ورته تيينګه اراده وي ؛ نو د دې شاهدي (ګواهي) د کليمې الله تعالی نه قبلوي او په اسلام کي هم دا حق نه لري چي د بل په حق کي يې په يو کار د کارونو کي ګواهي قبوله سي ؛ همدا ډول حُکم د مُساحقت کوونکي ښځي او مُساحقت ورسره کېدوونکي ښځي او د ظالم باچا هم دی چي پر راعيت په رانيولو، يا خرڅولو او يا داسي بله مُعامله کي په خپله، يا د ده په امر د بل په واسطه ظُلم کوي.

**يادونه** : ښځه هم له بلي ښځي سره لواطت کوي او د هغوی لواطت دا دئ چي

---

[۱] حديث طبراني په المعجم الأوسط کي روايت کړی دی، ۳ توک، ۲۶۶ مخ، حديث شمېره (۳۱۰۴)، منذري په الترغيب والترهيب کي نقل کړی دی، ۳ توک، ۱۹۸ مخ او ابن حجر هيتمي په الزّواجر عن إقتراف الکبائر کي نقل کړی دی. ۲ توک، ۲۲۹ مخ.

خپل تناسلي اندامونه، يعني : فرجونه سره مښلوي او خپل ځانونه انزالوي، په عربي ژبه کي (سِحاق) ورته وايي، لکه څرنګه چي د کتاب په سر کي يې تفصيل تېر سو او د دې عمل د ښځو هم داسي عذاب دی په دُنيا او آخرت کي لکه د لواطت کوونکو نارينه ؤ عذاب چي وو، په دنيا کي د دې دوو مساحقت کوونکو ښځو کومي چي توبې يې نه وي ايستلي عذاب دا دئ چي : د اسلامي امارت په امر، يا د هغه وخت د باچا په امر په ډبرو وويشتل سي او په آخرت کي يې الله تعالی له قوم لوط سره دوږخ ته يوځای لېږي او هلته په دوږخ ربّ العزت يو جلا ډول سزا ورته تياره کړې ده چي بيان به يې په خپل ځای راسي ؛ إنْ شاء اللهُ تعالَیٰ .

**بله يادونه :** تر دغه ځايه هغه حديثونه پای ته ورسېدل کوم چي صريح يې د لواطت پر بدوالی دلالت کاوه او هغه حديثونه چي لږ څه يې پر بدوالی دلالت کوي، يا دا چي د لواطت تر موضوع اړوند وي ؛ نو هغه به تېوله د الله ﷻ له خوښي سره سم په خپلو ځايو کي او وروسته به د لواطت بدوالی، د لغړزنو د شوق حقيقت او د لغړزنو سره د ولاړي او ناستي بدوالی او کوم چي تر لغړزنو اړوند وي ؛ هغه آثار به مخ ته ذکر سي، هو ! د لغړزنو په هکله په حديثو کي کوم يو صريح بيان نه دئ سوی او که سوی وي ؛ نو څه په لومړۍ برخي کي او کوم چي پاته وي هغه به مخ ته راسي ؛ وَاللهُ وَلِيّ التّوفيق،وبيده أزمّةُ التّحقِيق .

## د آثارو په رڼا کي د لواطت بدوالی

## آسمان، مځکه، کور او بام ټوله د لوطي ختمېدو ته تيار دي

(۱۶) عن إبْن عبّاس رضي الله عنه. أنّه قال : (إِنَّ الرّجُلَ لَيَأْتِيَ الرَّجُلَ ؛ فَتَضِجُّ الْأَرْضُ مِنْ تَحْتِهِمَا، وَالسَّمَاءُ مِنْ فَوْقِهِمَا، وَالبَيْتُ وَالسَّقْفُ كُلُّهُمْ يَقُوْلُوْنَ : أَيْ رَبِّ ! إِئْذَنْ لَنَا أَنْ يَنْطَبِقَ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ ؛ فَنَجْعَلَهُمْ نَكَالًا وَمُعْتَبَرًا ؛ فَيَقُوْلُ اللهُ

عَزَّوَجَلَّ : إِنَّهُ وَسِعَهُمْ حِلْمِيْ، وَلَنْ يَفُوتَنِيْ)[1] .

**ژباړه :** (حضرت عبد الله) بن عبّاس رضي الله عنه فرمايلي دي : بېشکه چي کله يو سړی وبل سړي ته راتېګ وکړي (د لواطت لپاره، يا يو هلک وبل هلک ته د لواطت لپاره او يا يوه ښځه وبلي ښځي ته د مساحقت لپاره راتګ وکړي) ؛ نو مځکه لاندي تر دغو دوو نعارې (او فرياد شروع) کړي او آسمان لوړ تر دغو دوو لوړ نعارې (او فرياد شروع) کړي، همدا ډول کور او بام تهوله داسي وايي : اې زموږ ربه (پالونکې) ! موږ ته اجازه راکړه چي يو له بله يې سره چيت پيت کړو ؛ ځکه موږ به يې وګرځوو دا دوه (لوطيان) عذاب او عبرت (ومخلوقاتو ته) ؛ نو الله ﷻ (په دې مهال کي) ورته وفرمايي : زه بردباره يم او زما څخه د دوی عمل نه پټيږي (که په دنيا کي دوی دوو ته د لواطت عذاب ورنه کړم ؛ نو په آخرت کي خامخا عذاب ورکوم !) .

**فايده :** آسمان، مځکه، کور، بام او داسي ټول جمادات د خپل ربّ الله ﷻ په وړاندي ژوندي دي ؛ د دوی خبري اتري په هر حال کي اوري ؛ دوی ټول د خپل مالک ﷻ په نافرماني ناراضه کيږي او څوک چي يې نافرمان وي ؛ نو دوی ټول ورته په غضب کيږي او له خپل ربّ څخه يې د ختمولو اجازت غواړي ؛ مګر الله تعالی د خپلي بردبارۍ په وجه اجازه نه ورکوي او څوک چي يې تابعداري کوي ؛ نو دوی ټول په خوشاله کيږي او ځني راضي وي - دا يو الهي قانون دی چي الله ربّ العزت په خپل مخلوق کي ګرځولی دی او بېشکه الله ﷻ ډېر بردبار ذات دی .

## له لغړزني سره په شهوت بازی کول د لواطت يو ښاخ دی

(١٧) قال سُفيان الثوري رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ : (لَو أَنَّ رَجُلًا عَبَثَ بِغُلَامٍ بَيْنَ أُصبُعَيْنِ

[1] ذمّ الهوی ١٥٧ مخ .

مِنْ أَصَابِعِ رِجْلَيهِ يُرِيْدُ الشَّهْوَةَ؛ لَكَانَ لَوّاطًا)[۲] .

**ژباړه :** حضرت سُفيان ثوري رحمة الله عليه فرمايلي دي : که يو سړی پر يو هلک د پښو په دوو ګوتو بازۍ کوي او دی يې د شهوت اراده لري ؛ نو دا به لواطت کوي.

**د فکر خبره :** ډېر د فکر ځای دی د پخواني بزرګانو، تابعينو، تبع تابعينو او ښو خلکو څومره برابره تقوی وه چې صرف له لغړزني سره د ساعت تېرولو کار يې لواطت ګڼی او په ګناه کې يې شمېری ؛ بايد چې زموږ د وخت ځوانان او شوقيان د دوی له ښو خبرو او کارونو څخه عبرت واخلي. بېشکه دوی زموږ اکابر (ديني مشران) دي او د دوی پر لار او نقش قدم به موږ ځو ! او تل به يې ستايو ! الهي ! موږ ته ستا په فضل سره هدايت وکړې ؛آمين .

## لوطي له جنابته (ناولتيا) څخه په توبه ايستلو پاکيږي

**(۱۸)** قال الإمام مُجاهد رحمة الله عليه : (لَو أَنَّ اللُّوطِيَّ إِغْتَسَلَ بِكُلِّ قَطْرَةٍ فِيْ الأَرْضِ وَكُلِّ قَطْرَةٍ فِيْ السَّمَاءِ ؛ لَمْ يَزَلْ نَجِسًا)[۳] .

**ژباړه :** (حضرت) امام مجاهد رحمة الله عليه فرمايلي دي : که يو لوطي د مځکي په هر څاڅکي [يعني : د دريابو په اوبو] او د آسمان په هر څاڅکي [يعني : د بارانو په اوبو] ولمبيږي ؛ نو له نجاسته [يعني : جنابته] به پاک نه سي .

**يادونه :** دا ټول په دې معنا يو حديث او بل اثر هم روايت سوی ؛ متنونه يې سره

---

[۲] تېره حواله .

[۳] دغه اثر ابن نَحاس الدّمياطي رحمة الله عليه په خپل کتاب تنبيه الغافلين عن أعمال الجاهلين کي نقل کړی دی ۴۲ مخ او ابن نَحاس د مشهور کتاب (مشارع الأشواق إلى مصارع العشّاق) ليکوال دی .

له خپلو سندو په حاشيه کي لاندي وګورئ ![۴] او بل حديث، يا اثر له هغو دوو پرته په دې هکله چي د لوطي جنابت نه پاکيږي تر څو چي توبه باسي ؛ نه دئ روايت سوی او تېر اثر چي څرنګه علامه ابن نحاس رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه نقل کړی ؛ نو علامه ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه هغه روايت کړی دی، يعني : په سند يې رسولی دی !.

**فايده :** په دې کي شک نسته چي د لوطي نجاست او جنابت هله پاکيږي چي لومړی ځل په اخلاص سره توبه وباسي، بيا د سُنت مُطابق غُسل وکړي او په آينده کي يې بيا تصور هم وه نه کړي ؛ ځکه د لواطت داغسي دروند جنابت دی چي د دوږخ په اوربه پاکيږي. دبارانو او د دريابو په ټولو اوبو هم نه پاکيږي : ډېر د فکر او عبرت ځای دی ! ! الهِيْ ! أَسْأَلُكَ السَّلَامَة .

**د توبې ايستلو ښه طريقه :** کله چي له انسان څخه موټ ووهل سي. يا زنا ځني وسي، يا لواطت ځني وسي او يا هسي بله ګناه ځني وسي ؛ نو (۱) لومړی دي په خپل زړه کي د هغې ګناه پر کولو پښېمانتيا ښکاره کړي، (۲) بيا دي که ژړا ورځي ؛ ودي ژاړي، (۳) بيا دي ووايي : يا الله ! زما څخه دا فلانۍ ګناه وسوه ؛ نو ته يې ستا په فضل رامعاف کړې، (۴) بيا دي ووايي : يا الله ! ما ته بيا وس مه پر

---

[۴] د حديث متن سره له خپله سنده دا دئ چي ابن جوزي روايت کړی دی : أخبرنا أحمد بن منازل، قال : أنبأنا عبد الجبار، قال : أنبأنا الخلال، قال : حدثنا العباس بن أحمد الهاشمي، قال : حدثنا علي بن أحمد بن نوح، قال : حدثنا محمد بن يونس، قال : حدثنا محمّد بن حيان، قال : أنبأنا روح بن مسافر، عن حماد، عن إبراهيم، عن علقمة، عن عبد الله، قال : قال : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : (اللّوطِيَانِ لَو إغتَسَلا بِمَاءِ البَحْرِ ، لَمْ يجزهمَا إلا أن يَتُوبَا) . او د اثر متن سره له خپله سنده دا دئ چي دا هم ابن جوزي روايت کړی دی : أخبرنا إبن ناصر، قال : أنبأنا عبد القادر بن محمد بن يوسف، قال : أنبأنا الجوهري، قال : حدثنا محمّد بن المظفر، قال : أنبأنا الهيثم بن خلف، قال : حدثنا عباد بن الوليد الغنوي، قال : سمعْتُ إبراهيم بن شاس، يقول : سمعت الفضيل بن عياض يقول : (لَوْ أنَّ لُوطِيًّا إغْتَسَل بكُلِّ قطرَةٍ مِنَ السَّمَاءِ ؛ لَقِيَ الله غَير طَاهِرٍ)، ذمّ الهوى ۱۵۹ او ۱۶۰ مخونه، الباب الثامن والعشرون في ذِكر عُقوبة اللّوطي في الآخرة .

راکوه، (۵) کله چي يې دا دعاء وکړه ؛ نو په زړه کي دي د آينده لپاره دا قصد وکړي چي بيا به زه دا ګناه نه کوم ! او که داسي ګناه وه چي د مخلوق تر حق يې تړاو درلودی، لکه : د بل مځکه غصب کول ؛ له بل څخه غلا کول ؛ د بل غيبت کول او عيب يې بيانول او داسي نور ؛ نو دي د هغه حق وروسپاري ؛ که ضايع (بې ځايه) سوی وو، يا د شرم له وجې يې نه سي ورکولای ؛ نو دي د زړه له اخلاصه بخښنه ځني وغواړي او که په بخښنه هم شرمېدی ؛ نو له الله تعالی څخه دي د ځان او د هغه لپاره بخښنه وغواړي ؛ ځکه الله تعالی به دی هم وبخښي او هغه به هم وبخښي او دا يې آخري طريقه ده چي ځينو علماوو ښوولې ده .

او د توبې د زيات تفصيل لپاره زما يو تولنيز کتاب (موسوعة الذّنوب) ته مراجعه وکړئ ! په هغه کي ما د توبې او ګناهونو په اړه هر څه راغونډ کړي دي !

والحمدُ لله الجامِع المحقّق .

## لواطت کول کُفر ته ورته ګناه ده

**(۱۹) قال أبو هُريرة رضي الله عنه : (مَنْ أَتَى صَبِيًا ؛ فَقَدْ كَفَرَ)[۵] .**

**ژباړه :** (حضرت) أبو هريره رضي الله عنه فرمايلي دي : چا چي يو کوچني هلک (يا يو لغړزني او بې ږيري) ته (د لواطت لپاره) راتګ وکړ ؛ نو په تحقيق سره کُفر يې وکړ .

**شه تشريح :** دلته کُفر په معنا سره د نعمت ناشکري ده، يعني : د نعمت ناشکري يې وکړه چي هغه د تناسلي اندام استعمالول دي په ځای ناستي کي او د دې نعمت شکر ادا کول دا دئ چي : په خپل ځای کي استعمال سي او خپل ځای يې د حلالي ښځي رحم دی د ناستي خوا يې ځای نه دی چي د فضله موادو

---

[۵] دغه اثر ابن نَحاس رحمه الله عليه په خپل کتاب تنبيه الغافلين عن أعمال الجاهلين کي نقل کړی دی، ۱۴۳ مخ .

او صرف د کښېنستلو لپاره ربّ ﷻ پیدا کړې ده او د کفر معنا هله صحیح کېږي چي دا کس دا عمل روا وګڼي او روا ګڼل یې په یقیني توګه کفر دی او دې ته په عربي ژبه کي (استحلال المعصية) وايي، یعني ګناه روا ګڼل .

**یادونه :** ځینو عالمانو کفر څو ډوله وېشلی دی چي ځیني ډولونه یې ډېر سخت دي ؛ د تفصیل لپاره زما موسوعې ته مراجعه وکړه ! کومه چي لږ څه مخکي یې یادونه وسوه .

## د الله ﷻ دوست لوطي نه سي جوړېدلای

(۲۰) رُوِيَ في بعض الآثار : (أَنَّ مَنْ لَاطَ ؛ لَايَكُوْنُ وَلِيًّا اللهِ عَزَّ وَجَلَّ)[٦] .

**ژباړه :** په ځینو آثارو کي نقل سوي دي : چا چي لواطت وکړ ؛ نو هغه د الله ﷻ دوست (ولي) نه سي جوړېدلای .

**شه تشریح :** لواطت کوونکی نارینه که فاعل وي، یا مفعول به، یا مساحقت والا ښځه کوونکې وي، یا ورسره کېدونکې، یا د نارینه ولواطت ته تېنګه اراده وي، یا د ښځي ومُساحقت ته تېنګه اراده وي، یا یې د خپل خاوند او پردي کس ولواطت کولو ته تېنګه اراده وي چي لواطت ورسره وسي ؛ په دې ټولو حالاتو کي دا نارینه، یا ښځینه د الله تعالی ولي نه سي جوړېدلای او نه الله ربّ العزت د ولایت راز پکي ایږدي، بلکي ولایت او بزرګي ته هغه نارینه، یا ښځینه رسېدلای سي چي ودغو عملو ته یې د نفرت په نظر کتلي وي او په آینده کي یې ورته هیڅ اراده هم نه وي او ولایت چي دی ؛ دا ډېر لوی منصب دی ؛ دا څه معمولي خبره نه ده .

څوک چي ولي وي د هغه دعاء نه ردېږي ؛ مخ یې ځلېږي ؛ د خلګو خوښېږي ؛ د ښو خبرو او نصیحتو تږی وي ؛ نور هم ښو خبرو ته راغواړي او داسي نور ښه

[٦] دغه اثر ما په خپله دیو شیخ الحدیث له مبارکي خولې څخه اورېدلی دی .

عملونه کوي او ښه کرامتونه لري ؛ نو داسي ګنده عمل والا به څرنګه د الله ولي جوړ سي ؟! چي له لواطت سره تړوا لري او حقيقي ولايت هغه چا ګټلی دی چي په بشپړه يې د خپل جليل ربّ ﷻ له نافرمانيو څخه ځان ژغورلی وي او د هغه په فرمانبرداريو يې ښايسته کړی وي .
او بل دا چي په اثر کي له ولي څخه دا هم مرادېدلای سي چي کله يو څوک په ښه صفت مشهور وي، يعني : تسپې يې په لاس وي او ذکر ورباندي کوي، يا ښه اخلاق يې وي، يا د يو بل ښه صفت خاوند وي او حاَل دا چي دی لواطت وکړي او توبه نه ځني باسي : نو دا کس ولي نه سي جوړېدلای او نه الله تعالی توفيق ورکوي چي ولي جوړ سي او کله چي څوک په خبر سي چي فلاني لواطت کړی ؛ نو بيا هغه ولي نه ورته وايي ؛ ځکه ذکر کول، ښه اخلاق او داسي نوري نېکياني د وليانو صفت دی او د وليانو صفت په داسي لوطي، يا ملوط انسان کي چي توبه نه باسي ؛ نه سي راتللای، لکه څرنګه چي ما خپله په داسي انسانانو کي ليدلي دي ! .

## د لواطت کولو يو سخت تاوان

(۲۱) قَالَ الْإِمَام علي بِن أَبِي طالب كرم الله وجهه : (مَنْ أَلَحَّ فِيْ وَطْئِ الرِّجَالِ ؛ لَمْ يَمُتْ حَتّٰى يَدْعُو الرِّجَالَ إِلَىٰ نَفْسِهِ)[۷] .

**ژباړه :** (حضرت) امام علي بن أبي طالب كرم الله وجهه فرمايلي دي : چا چي د نارينه وُ پر لواطت همېشتوب وکړ ؛ نو دا کس به تر هغو مړ نه سي تر څو چي خلک وخپل ځان ته د لواطت لپاره را وه نه غواړي .

**فايده :** په مُشاهده سره دا خبره ثابته سوې ده هر هغه کس چي پر لواطت يې دوام کړی وي ؛ نو هغه بيا خامخا نور خلک وځان ته د لواطت کولو لپاره

---

[۷] تفسير المُعين للواعظين والمتّعظين ۳۳۹ مخ .

راغوښتي دي ؛ ځکه د فضله موادو په کانال (کولمه) کي يې يو ډول زيږبونکي چينجي پيدا سي چي د ده د مني مواد خوري او په هغه سره يې بس پالنه کيږي او کله چي د فاعل مني د ده په کانال کي لږيږي ؛ نو بيا د دې مفعول شوق پيدا سي چي لواطت ورسره وسي ؛ ځکه د ځينو په اصطلاح دا مفعول بواسيري وګرځيږي چي بې له لواطته بله دنده نه کوي او نه بله لاره لري او بس په داغه ګناه باندي پوخ سي او په پښتنو کي دا يو مشهور متل هم دی "چي څه کرې ؛ هغه به ريبې !" او په عربي ژبه کي متل دی "كَمَا تَدِينُ ؛ تُدَانُ!"[۸]، يعني : چي څه کوې ! هغسي به درسره کيږي ! مطلب دا چي څوک له بل سره پر لواطت کولو اموخته سي ؛ نو له هغه سره به بل څوک پر لواطت کولو اموخته سي ؛ څرنګه چي د ده زړه پر بل انسان نه خوږېدی چي هغه به يې لواطت ته تياروی او هغه به يې پرې ايستی او هغه به يې د لواطت کولو پر وخت د فضله موادو کانال وردردوی ؛ نو بيا به داسي وخت راسي چي پر ده به د چا زړه نه خوږيږي او دی به نور وګړي پرې باسي او د لواطت کولو پر وخت به يې خوږوي او دردوي . دا خو يو سخت تاوان سو، بل تاوان د لواطت دا هم دی چي څوک همېشوب پر وکړي ؛ نو اثر يې په خپل بچي کي هم پيدا کيږي، بيا به هغه بچی په دې ناوړه عمل اموخت ونيسي تر دې چي په مورثه کي به يې دا عمل پوخ او جاري سي ؛ إنّالله، وإنّا إليه راجعُون .

## د قبر په ژوند کي د لواطت کولو سخت تاوان

**(۲۲)** وَرُوِيَ فِيْ بعضِ الآثار : (أَنَّ عِيسَى صَلَّى اللهُ عَلَىٰ نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ فِي سِيَاحَتِهِ عَلَىٰ نَارٍ تَتَوَقَّدُ عَلَىٰ رَجُلٍ ، فَأَخَذَ مَاءً لِيُطْفِئَهَا عَنْهُ ، فَانْقَلَبَتِ النَّارُ صَبِيًّا، وَانْقَلَبَ الرَّجُلُ نَارًا. فَتَعَجَّبَ عِيسَى مِنْ ذَلِكَ. فَقَالَ : يَا رَبِّ ! رُدَّهُمَا إِلَىٰ

[۸] متل استاذ ميداني رحمة الله عليه په خپل کتاب مجمع الأمثال کي نقل کړی دی، ۲ توک، ۱۵۵ مخ، متل شمېره (۳۰۹۳) .

حَالِهِمَا فِي الدُّنْيَا ، لِأَسْأَلَهُمَا عَنْ خَبَرِهِمَا ! فَأَحْيَاهُمَا اللهُ تَعَالَىٰ, فَإِذَا هُمَا رَجُلٌ وَصَبِيٌّ ؛ فَقَالَ لَهُمَا عِيسَى صَلَّى اللهُ عَلَىٰ نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا خَبَرُكُمَا، وَمَا أَمْرُكُمَا ؟! فَقَالَ الرَّجُلُ : يَا رُوحَ اللهِ ! إِنِّي كُنْتُ فِي الدُّنْيَا مُبْتَلًى بِحُبِّ هَذَا الصَّبِيِّ ؛ فَحَمَلَتْنِي الشَّهْوَةُ أَنْ فَعَلْتُ بِهِ الْفَاحِشَةَ, فَلَمَّا مِتُّ وَمَاتَ الصَّبِيُّ ؛ صَيَّرَ اللهُ الصَّبِيَّ نَارًا يُحْرِقُنِي مَرَّةً, وَصَيَّرَنِي نَارًا أُحْرِقُهُ أُخْرَى ! فَهَذَا عَذَابُنَا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ[٩].

**ژباړه :** او په ځينو آثارو کي نقل سوي دي هغه دا چي (حضرت) عيسى (عَلَيْهِ السَّلَامُ) الله تعالى دي پر ده او زموږ پر پيغمبر درود او سلامتيا ولېږي په خپل سفر کي د يو بل سوي اُور تر څنګ تېرېدی چي پر يوسړي بل وو ؛ نو (حضرت) عيسى (عَلَيْهِ السَّلَامُ) اوبه راواخيستې د دې لپاره چي له سړي څخه اور مړ کړي [کله چي دا حالت د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ تر سترګو سو] ؛ نو دستي اُور يو هلک (لغړزنی) وګرځېد او سړی اُور وګرځېد، دا وخت (حضرت) عيسى (عَلَيْهِ السَّلَامُ) په اريانتيا کي سو او دا يې وويل : اې ربه ! ته يې بېرته خپل هغه حالت ته واپس کړه کوم چي په دنيا کي ورباندي ول ؛ ځکه چي زه د دوی له حاله پوښتنه وکړم ! نو الله تعالى ژوندي کړل، که ګوري هغه يو سړی سو اوبل هلک سو ؛ نو (حضرت) عيسى (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ورته وفرمايل الله (تعالى) دي پر ده او زموږ پر پيغمبر درود او سلامتيا ولېږي : چي ستاسو څه حال ؤو او څه کيسه وه ؟! سړي وويل : اې رُوح الله ! [يعني: اې د الله اروا ! چي په تا کي يې

[٩] دغه اثر يوه مستنده کيسه ده چي ابن حجر هيتمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ په الزّواجر عن إقتراف الكبائر کي نقل کړې ده، وګوره ! (الكبيرَةُ التاسعَةُ والخَمْسُونَ، والسّتون، والحَاديَةُ والسّتونَ بعْدَ الثلاثمائَةِ : اللّواطُ، وإتيَانُ البَهيمةِ، والمرأة الأجْنبيّة في دُبُرِهَا)، الكبائر دَ ذهبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ (الكبيرة الحادية عشرة : اللّواط)، ۵۵ مخ، قُرّة العيون ومُفرح قلب كُلّ محزون د أبي الليث سمرقندي حنفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ ۴۹ مخ او داسي نور .

پوهکلې ده] زه په دُنیا کې د دغه هلک په مینه اخته وم ! تر دې چې زه یې په شهوت کې واخیستلم او ما بدکاري (لواطت) ورسره وکړ او کله چې زه مړ سوم ! او هلک پسې مړ سو ؛ نو الله (تعالی) له هلک څخه اُور جوړ کړی چې یو ځل [یعني : یوه پلا] ما سوځي او بله پلا له ما څخه اُور جوړ کړي چې دی سوځم ! دا زموږ عذاب دی تر ورځي د قیامته (آخرته) .

**فایده** : اې ځوانه او اې کتوونکې ! دا دې تر قیامته یې دا عذاب دی او دا روښانه خبره ده چې دا ورلګیت د یوې خاشې تاب په دنیا کې تر ټولو زورور انسان هم نه لري ؛ نو چیرې داسې عذاب چې پوره وجود اور سي او بل وجود په سوځل کیږي – إنّا لله وإنّا إلیه راجعُون – ؛ له دې څخه دا په ډاګه کیږي چې اوس هم په عین حال[۱۰] کې په دې عذاب هغه سړی او هلک چې د حضرت عیسی عَلَیْهِ السَّلَامُ په زمانه کې تېر سوي ول مبتلا دي او په خوارېو کې ډوب دي چې یو وار فاعل، یعني : هغه سړی اُور سې چې مفعول سوځي او بیا مفعول اُور سې چې فاعل سوځي ؛ خدای ﷻ دې موږ له داسې بدفعلۍ څخه وساتي چې عذاب یې په دُنیا او آخرت کې لوی دی او بیشکه الله تبارک وتعالی ډېر ښه ساتونکی دی .

## الله ﷻ ته ډېر ناخوښ او ابلیس لعین ته ډېر خوښ عمل لواطت دی

(۲۳) وفي الأثر أنّ : (سُلَيمَانَ بنِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ يَوْمًا لإبْلِيسِ عَلَيْهِ اللَّعنَةُ : أَخْبِرنِي عَنْ أَحَبِّ الأَعْمَالِ إِلَيْكَ، وَأَبْغَضِهَا إِلَى اللهِ ﷻ ؟! فَقَالَ الإبْلِيسُ عَلَيْهِ اللّعْنَةُ : لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنَ اللِّوَاطِ، وَلَا أَبْغَضَ إِلَى اللهِ ﷻ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ

[۱۰] عین حال : اوس مهال، یا دغه وخت .

او دا د ځینو پښتنو یو عام توری دی چې (عین حال) وایي .

الرَّجُلُ الرَّجُلَ، وَالمَرأَةُ المَرْأَةَ، وَلَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ ذَلِكَ ! فَقَالَ سُلَيْمَانُ عَلَيْهِ السَّلَامُ : وَيْلَكَ ! وَلِمَ ذَلِكَ ؟ قَالَ إِبْلِيسُ عَلَيْهِ اللَّعْنَةُ : لِأَنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يَعْتَادُهُ، وَلَا يَكَادُ يَصْبِرُ عَنْهُ سَاعَةً ؛ لِأَنَّ اللهَ ﷻ يَغْضِبُ عَلَيْهِ غَضَبًا شَدِيدًا، وَمَنْ إِشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلَيْهِ ؛ يَحْجُبُهُ عَنِ التَّوبَةِ[11] .

**ژباړه** : په يو اثر کي نقل سوي دي چي: يو ورځ (حضرت) سليمان بن داود عليه السلام ابليس (لعين) ته وويل : ته ما په هغه عمل خبر کړه چي وتا ته ډېر زيات خوښ وي او الله ﷻ ته ډېر ناخوښه وي، هغه کوم عمل دئ ؟! نو ابليس (لعين) ورته وويل : تر لواطت وما ته بل خوښ (او محبوب) عمل نسته او نه الله ﷻ ته بل داسي ناخوښه (او مبغوض) عمل سته چي يو نر دي وبل نر ته [د خپل شهوت د سرښت لپاره] د شاله خوا راتګ کوي او ښځه دي وبلي ښځي ته [د خپل شهوت د سرښت لپاره] راتګ کوي [يعني : چي د مُساحقت عمل کوي] او نه وما ته تر دغه عمل بل داسي خوښ عمل سته ! نو (حضرت) سُليمان عليه السلام ورته وفرمايل : اې ابليسه ! ته دي هلاک سې ! دا نو ولې [لواطت کول تا ته داسي خوښ عمل دئ !] ؟ ابليس (لعين) ورته وويل : ځکه داسي څوک نسته چي يو پلا په عادت سي، بيا دي يو ګړی صبر ځني وکړي او الله ﷻ وهغه ته ډېر سخت په غضب کيږي [چي وما ته تر هر عمل خوښ دی] او پر چا چي د الله (تعالی) غضب سخت (او زورور) سي ؛ نو له توبې څخه يې محرومه کړي .

[11] دغه اثر يوه مستنده کيسه ده چي په عين دغو الفاظو سره أبي الليث سمرقندي رحمه الله عليه په قرّة العيون ومُفرح قلب كُلّ محزون کي نقل کړې ده ۴۹ مخ، علامه طرطوشي رحمه الله عليه په تغير سره دلږ الفاظو په تحريم الفواحش کي روايت کړې ده او شيخ شبلي رحمه الله عليه په آكام المرجان في أحكام الجان کي له ده څخه نقل کړې ده، الباب المُوفي التّسعين في بيان أيّ أعمال الشرّ أحبّ إلى إبليس ؟ مخ ۱۹۱- ۱۹۲ .

**فايده :** دا خو په قرآن عظيم الشان سره ثابته سوې ده چي شيطان زموږ د ټولو لومړي بدترين دښمن دی او لومړی بدترين دښمن د انسان هيڅ کله کاميابي نه غواړي او کله چي وداسي بدترين دښمن ته محبوب عمل او الله تعالی ته مبغوض عمل پيدا سي ؛ نو بيا خامخا په موږ هغه عمل کوي او له داسي بدترين دښمن څخه د خلاصون لار يوائحي او يوائحي د الله تعالی د فضل غوښتل دي چي انسان له خپل ربّ څخه همېشه د فضل غوښتنه کوي او يوائحي هم په ده پناه ځني غواړي ؛ ځکه بيا به له داسي لومړی بدترين دښمن څخه په امن وي.

هو ! د الله تعالی ذکر کول – دا هم انسان د شيطان له شرونو او وسوسو څخه خلاصوي ؛ مګر د الله تعالی د فضل غوښتل ستره وسيله ده آه ! .

## د لواطت په عمل سرکوزی او ګدا هم بد ښکاره کيږي

**(۲۴)** قَالَ مُحَمّد بِنِ سِيرِيْن رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ : (لَيْسَ شَيْءٌ مِنَ الدَّوَابِ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ ؛ إِلَّا الْخِنْزِيرُ وَالْحِمَارُ)[۱۲] .

**ژباړه :** محمّد بن سيرين رحمه الله عليه فرمايلي دي : په څارويانو کي بل داسي څاروی نسته چي د قوم لوط عمل دي کوي ؛ مګر نه سرکوزی او ګدا [يعني : په حيوانانو کي بل داسي حيوان نسته چي لواطت دي کوي بې له خر او خنزيره] .

**فايده :** چي خر او خنزير هم په دې فعل د لواطت بد ايسي[۱۳] چي له سري حيوانان دي ؛ نو اې ځوانه ! انسان به څومره په دا بدفعلۍ بد ايسي چي وځان ته أشرف المخلوقات[۱۴] وايي او دی خپل هم جنسه انسان ته خپل ځان پرېباسي او هغه لواطت ورسره کوي ! ايا د دې لپاره به يوه لويه ارياتتيا په کار نه وي ؟!

---

[۱۲] دغه اثر امام قرطبي رحمه الله عليه په خپل تفسير کي نقل کړی دی، ۷ توک، ۱۵۶ مخ .

[۱۳] بد ايسي : خراپ او مردار ښکاري .

[۱۴] أشرف المخلوقات : د ټولو مخلوقاتو عزتمند او سردار .

افسوس افسوس دی لواطتکار ته !!

**یادونه :** تر دې ځایه دلواطت بدوالی دآثارو په رڼا کي پای ته ورسېد، بیا هم که څه پاته سوی وي ؛ نو دهغو ذکر به په خپلو ځایو کي راسي ؛ إن شاء الله تعالیٰ . وروسته به دلواطت بدوالی دامامانو او دبزرګانو دویناوو (اقوالو) په رڼا کي بیان سي ؛ بالله التّوفیق، وبِیده أزِمّة التّحقیق .

## د امامانو او بزرګانو د اقوالو په رڼا کي د لواطت بدوالی

## لوطیان پر درې ډوله دي

(۲۵) قال أبُو سَعِيدَ الصَّعلُوكِيُ رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِ : (سَيَكُونُ فِيْ هَذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يُقَالُ لَهُمْ اللُّوْطِيُّونَ، وَهُمْ عَلَىٰ ثَلَاثَةُ أَصْنَافٍ : صِنْفٌ يَنْظُرُونَ، وَصِنْفٌ يُصَافِحُونَ، وَصِنْفٌ يَعْمَلُونَ ذَلِكَ الْعَمَلَ الْخَبِيثَ)[۱۵] .

**ژباړه :** (حضرت) أبو سعید صعلوکي رحمة الله علیه فرمایلي دي : ژر دی په دې ( آخر د) اُمت کي به یو قوم پیدا سي دوی ته به لوطیان ویل کیږي او دوی به درې ډلې وي : یوه ډله به (لغړزنو ته د شهوت لپاره) ګوري، بله ډله به (له لغړزنو او بې ږیرو هلکوانو سره د خپل شهوت پوره کولو لپاره) روغبړونه کوي او بله (درېیمه) ډله به دا خبیث عمل (بد فعل دلواطت) کوي .

**فایده :** نن په مُشاهده سره په دې اُمت کي دا درې ډلې خلک پیدا سوي دي، له سري داسي خلک هم سته چي دلواطت عمل کوي او دا درې سره عملونه، لکه : هلکوانو ته په شهوت سره کتل ؛ دویم روغبړ د شهوت او خوند پوره کولو لپاره

---

[۱۵] دا قول امام ذهبي رحمة الله علیه په کتاب الکبائر کي نقل کړی دی، ۶۳ - ۶۴ او ابن حجر هیتمي په الزواجر عن إقتراف الکبائر کي نقل کړی دی، وګوره ! (الکَبِيرَةُ التاسعَة والخَمْسُونَ، والسِّتونَ، والحَادِيَةُ والسِّتونَ بَعْدَ الثلاثمائَة : اللِّوَاطُ، وإتيانُ البَهِيمَةِ، والمرأةِ الأجنبِيّةِ فِي دُبُرِهَا) .

ورسره کول او درپیم داغه خبیث فعل کول ؛ دا درې سره قطعا او یقینا حرام کارونه دي او دا درې سره د لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم فعلونه ول چي اصلا هم د دې فعلو په وجه هلاک سول . خدای ﷻ دي زموږ پر مُعاشرې او ایمانو خاص فضل او کرم وکړي، سبا په ورځ د قیامت به لوی ښبنتن ﷻ ته موږ څه ځواب ورکؤو ؟! چي زموږ دغه اعمال وي او د پوه، ملا، طالب او مشر لپاره بيخي داسي يو کار کول بد او قبیح ښايي ؛ ځکه دوی خواص دي او په دوی پسي دا عوام اقتدا کوي او کله چي دوی خراپ سي ؛ نو چاره بیا نسته چي عوام به هم خراپيږي او یوه عربي مقوله ده، وايي : "خَرَاب العَالِمِ ؛ خَرَاب العَالَمَ"، يعني د عالِم خراپتيا ؛ د نړۍ خراپتيا ده آه ! .

## پوه انسان که څه هم جره وي ؛ نو له لواطت څخه کرکه کوي

(۲۶) قِيْلَ لِبَعْضِ الْعَرَبِ : (لِمَ لَا تَأْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِيْنَ ؟! فَقَالَ : (إِنِّيْ لَأَكْرَهُ الْعَذِرَةَ وَهِيَ مُلْقَاةٌ عَلَى الْأَرْضِ ؛ فَكَيْفَ أَلِجُ عَلَيْهَا فِيْ وَكْرِهَا ؟!)[١٦] .

ژباړه : يو عربي (جره ځوان) ته يو کس عرض وکړ چي : نارينه ؤ (هلکوانو) ته ولئ راتګ نه کوئ ؟! هغه (عربي ځوان په ځواب کي ورته) وويل : ما له ګنګيو څخه چي پر ځمکه پراته وي هم بد ځني کيږي ؛ نو چيري هلته چي پکي جوړيږي ؟! .

يعني : هلته خو بيخي شهوت نه پوره کوم ! چي له سري غايطه مواد پکي جوړيږي او په ريښتيا د داسي چا لپاره ډېر لويه اريانتيا په کار ده چي راتګ ورته کوي .

او خپل تناسلي اندام په غايطه موادو کي استعمالوي ! څه نا څه فکر دي لوطي له ځانه سره وکړي چي دا زه له ځانه سره څه کوم ؟! .

---

[١٦] دا وينا علامه جرجاوي رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په خپل کتاب حِکمة التشريع وفلسفته کي نقل کړې ده، ۲ توک، ۱۹۱ مخ .

او د پوه انسان تل فکر په حقیقت کې راځي ؛ ځکه په تېره وینا کې هغه عربي کس څومره په پوهې سره خپله وینا بیان کړه او د لواطت حقیقت یې پکې وښووی چې د لواطت به څه خوند وي ؟! ځکه اصلي مرکز یې د غایطه موادو سرچینه ده .
او داسي ځای دي ورک سي چې یو انسان خپل تیار سوي قیمتي شهوت او قیمتي نُطفه (مَني) په غایطه موادو کې اچوي ؛ باید چې هر هغه څوک چې لواطت ته یې شوق کیږي او یا پټه اراده ورته لري له دې قیمتي وینا څخه پند او عبرت واخلي .

## د لواطت عمل کول ؛ ګویا د تاریکیو په دریاب کې د ځان ډوبول دي

(۲۷) قُلْتُ : (مَنْ لَاطَ فِيْ عُمْرِهِ مَرَّةً، ثُمَّ لَمْ يُتُبْ ؛ فَكَأَنَّمَا غَرِقَ نَفْسَهُ فِيْ بَحْرِ الظُّلُمَاتِ) .

ژباړه : ما ویلي دي : چا چې په خپل ژوند کې یو ځل د لواطت عمل وکړ او بیا یې هم توبه نه پر وایستله ؛ ګویا لکه ده چې خپل ځان د تاریکیو په دریاب کې ډوب کړ .
مطلب دا چې خپل ځان یې ښه د ګناهونو او غمونو په سمندر کې غرق کړ ؛ ځکه د لواطت عمل په حقیقت کې د تورو تاریکیو حیثیت لري او څوک چې ورولوېږي ؛ نو خامخا په دې تورو تاریکیو لړل کیږي او که څوک توبه ځني وباسي او په اخلاص خپل جلیل ربّ ﷻ ته مراجعه وکړي ؛ نو له تیارو څخه به یې خلاص سي .

## د لواطت عمل کول د بد بچي زیږیدو لامل ګرځي

(۲۸) وَقُلْتُ أَيْضًا : (أَنَّ مَنْ لَاطَ، وَلَمْ يَتُبْ عَلَيْهَا، ثُمَّ تَزَوَّجَ ؛ لَمْ يَلِدْ لَهُ وَلَداً صَالِحًا) .

ژباړه : او داغه ډول ما ویلي دي : بېشکه هر هغه کس چي لواطت یې وکړ او توبه یې نه پر وایسته، بیا دا چي واده وکړ ؛ نو ده لره به (له دې واده څخه) نیک بچی نه وزېږي .

**تشریح :** د لواطت عمل که له دغي خپلي ښځي سره وکړي، یا یې له پردی ښځي سره وکړي او یا یې له بل چا سره وکړي، حال دا چي واده یې کړی وي او هغه ښځه حمل داره سوې وي کومه چي ده نزدېکت ورسره کړی وي او دی توبه نه پر وباسي پر خپل کړي عمل د لواطت ؛ نو نېکوکاره بچی به یې نه وزېږي، که یې لور پیدا سي ؛ نو نېکه به نه وي چي د ده آرمان پر وخېږي، بلکي په تجربه سره ثابته سوې ده چي له هغه بچي څخه فاسق جوړ سي او له هغې لوري څخه فاسقه جوړه سي، یا له هغه بچي څخه یو ډاکو جوړ سي او یا بل حرامي څني جوړ سي او ګرانه لوستونکې ! دا به څومره بدترین عمل وي چي د انسان د بچي او بچی په خویونو کي د فسق ماده پیدا کوي ؟! په خپله خو انسان فاسق کړي ؛ نو لور، یا زوی یې هم پسي فاسق سي ؛ دا د لواطت نتیجه ده . الله تعالی دي پر دغو بې چاره او ناخبره ګناهګارو په خپل فضل او کرم سره رحم وکړي، بېشکه دوی په حقیقت کي د زړه سوي دي .

## د لواطت عمل کول د لاعلاجه ناروغۍ لامل ګرځي

**(۲۹)** وَقَدْ قُلْتُ : (مَنْ وَاظَبَ عَلَى اللِّواطَةِ, وَلَمْ يَتُبْ مِنْهَا ؛ جَعَلَ اللّهُ لَهُ عَيْشًا لَايَهْنأُ. وَمَرَضًا لَايَبْرَأُ) .

ژباړه : او په تحقیق سره ما دا ویلي دي : کوم کس چي پر لواطت همېشتوب وکړي او بیا هم توبه نه څني باسي ؛ نو الله (تعالی) به ده لره داسي ژوند په برخه ورکړي چي راحت به نه پکي مومي او داسي مرض (ناروغي) به په برخه ورکړي چي شفا به نه څني مومي [یعني : شفا به نه لري] .
او لیري به نه وي چي زما د وینا په ډول دي نورو علماوو او بزرګانو هم داسي وینا

کړې وي چې خاص زما وینا ته ورته وي، یا ورنږدې وي او دغه وینا ما ته الله تعالی په زړه کې را واچوله چې دا له سري الهام دی او ما له ځانه نه ده جوړه کړې آه !.

## د لواطت د بدوالي په هکله زما یو الهام !

(۳۰) وَقَدْ أُلْهِمْتُ ! أَنَّ الإِبْلِيْسَ كَانَ جَالِسًا عَلَىٰ عَرْشِهِ فِيْ البَحْرِ، وَالشَّيَاطِيْنُ مِنْ حَوْلِهِ، وَكَانَ يَقُوْلُ : (يَا جُنُوْدِيْ ثَلَاثًا ! إِنَّ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ لَاطَ بِصَاحِبِهِ، وَبَعْدَهُ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ زَنَىٰ بِصَاحِبِهِ، وَبَعْدَهُ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ جَعَلَ بِصَاحِبِهِ لِلّٰهِ شَرِيْكًا أَوْ وَلَدًا، وَبَعْدَهُ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ طَلَّقَ بِصَاحِبِهِ إِمْرَأَتَهُ، وَبَعْدَهُ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ فَارَقَ بَيْنَ الأَحِبَّاءِ وَالأَقْرَانِ وَالعُشَّاقِ فِيْ اللهِ، وَبَعْدَهُ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ قَتَلَ بِصَاحِبِهِ بِغَيْرِ حَقٍّ، وَبَعْدَهُ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ شَرِبَ بِصَاحِبِهِ الخَمْرَ، وَبَعْدَهُ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ مَنْ أَكَلَ بِصَاحِبِهِ الرِّبَا، وَهَذَا آخِرُ أَصْحَابِيْ مِنْكُمْ، وَبَعْدَ ذٰلِكَ مَنْ كَانَ لِصَاحِبِهِ أَعْظَمُ فِتْنَةً ؛ كَانَ هُوَ صَاحِبِيْ فِيْ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَحَبِيْبِيْ وَأَضِعُ عَلَىٰ رَأْسِهِ تَاجِيْ !).

ژباړه : او په تحقیق سره وما ته دا الهام وسو چې ابلیس (لعین یوه ورځ) پر خپل تخت (عرش کوم چې) په دریاب کې دی ناست وو او پر ده (خپل) شیطانان راټول سوي ول او ده وویل : اې زما لښکره ! درې ځله بیشکه په تاسو کې وما ته ډېر محبوب [یعني : ډېر خوښ] هغه کس دی چې په خپل ملګري (انسان) یې لواطت وکړ او وروسته تر دغه کس بیا وما ته هغه یو محبوب دی چې په خپل ملګري یې زنا وکړه او وروسته تر دغه کس بیا وما ته هغه یو محبوب دی چې په خپل ملګري یې له الله (تعالی) سره شریک ونیاوه او یا یې بچی له الله (تعالی) سره ونیاوه او وروسته تر غه کس بیا وما ته هغه یو محبوب دی چې په خپل ملګري یې خپله ښځه طلاقه کړه او وروسته تر دغه کس بیا وما ته هغه یو محبوب دی چې د دوستانو، امزولانو او عاشقانو په مینځ کې یې

جلاوالی راوېستی کوم چې د الله (ﷻ) لپاره (دا دوستي، یا انډیوالي) کوي او وروسته تر دغه کس بیا وما ته هغه یو محبوب دی چې په خپل ملګري یې بې له حقه قتل [یعني : وژنه] وکړه او وروسته تر دغه کس بیا وما ته هغه یو محبوب دی چې په خپل ملګري یې شراب وچیښله او وروسته تر دغه کس بیا وما ته هغه یو محبوب دی چې په خپل ملګري یې سُود وخوړه او دا کس په تاسو کې وما ته آخري ملګری دی او وروسته تر دغه کس بیا وما ته هغه یو (محبوب) دی چې په خپل ملګري ډېر (فساد) او فتنه خپره ولای سي ؛ نو هغه زما ملګری دی په دُنیا او آخرت [یعني : په دُوږخ] کې [ځکه الله ﷻ د ده او د لښکر ځای په ورځ د آخرت کې د همېشه لپاره په دُوږخ کې تیار کړی دی] او هغه زما دوست دی او پر سر به یې خپل تاج ورږدم ! .

فایده : ګرانه لوستونکې ! ښه دي ولیدل چې ابلیس لعین لومړی هغه څوک په خپل لښکر کې خوښوي چې په خپل ملګري انسان یې د لواطت غوندي لویه ګناه وکړه او کوم کس چې لواطت کوي او توبه نه ځني باسي ؛ هغه به د الله ﷻ یو لوی نافرمانه بنده وي، د ابلیس لعین او د ده د ملګرو به یو لوی دوست وي او د کوم کس چې دغه کردار وي ؛ هغه به دوږخ ته له ابلیس لعین سره اوله پلا ننوځي إن شاء الله تعالی .

سور او تور اور به یې په آخرت کې ځای وي او ټول مخلوق ته به په دې درنه ورځ د قیامت کې شرمنده او رسوا وي چې هیڅ مددګار به یې هم نه وي، نه به یې فریاد اورېدونکی وي چې فریاد یې واوري او نه به یې څوک شفاعت (سپارښت) کوي .

یادونه : پوه سه ! په دې چې زما ودغي وینا ته لږ ورته کومه چې په الهام رارسېدلې ده یو صحیح حدیث هم روایت سوی ؛ د تفصیل لپاره لاندي حاشیه وګوره ![17].

---

(١٧) عَنْ جَابِرٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : (إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ ؛ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ : فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ : مَا صَنَعْتَ شَيْئًا ! قَالَ :

# د لواطت په عمل کې هيڅ خير نسته

(٣١) وَآخِرُ الأَقْوَالِ الَّذِيْ أُلْهِمْتُهُ فِيْ ذَمِّ اللِّوَاطَةِ هُوَ : (أَنَّ اللِّوَاطَةَ مِنْ عَمَلِ الْإِبْلِيْسِ، وَلَا خَيْرَ فِيْهِ أَصْلًا ، وَهُوَ مِنْ أَقْبَحِ أَعْمَالِ الْإِبْلِيْسِ يَكُوْنُ فَاعِلُهَا، أَوْ مَفْعُوْلُهَا مَرْذُوْلًا فِيْ الْأَنَامِ) .

**ژباړه :** او آخري وينا چي ما ته يې الهام سوی دی د لواطت په بدوالي کي هغه دا چي : لواطت دابليس عمل دی او بالکُل [يعني : گردسره] خير پکي نسته او دا د ابليس (لعين) د ټولو بدو عملونو بد عمل دی او کوونکی د دې بد عمل (د لواطت) او يا هغه کس چي (لواطت) ورسره کيږي په (ټولو) خلکو (مخلوقاتو) کي (خوار او) ذليل دی ؛ أللّٰهمّ إنّي أعوذ بك مِن شرّ الإبليس رأيس الشُّرُور يا فتّاح ! يا شكُورُ ! .

**يادونه :** دا ټوله هغه حديثونه، د صحابه ؤ، تابعينو، تبع تابعينو، بزرگانو او داسي د امامانو قولونه ول او په تېره بيا زما د سپېڅلي الهام ويناوي وې چي د لواطت، د لغزنو د شوق او له هغوی سره د چال او چلند په بدوالي کي ثابت ول چي څومره زما فيضون بنده په وسه ول ؛ هغومره حديثونه، آثار، اقوال او يناوي مي راټولي کړې ؛ د دې لپاره چي له مُطالعې څخه يې هر لوستونکی، په ځانگړې توگه هر بلوغ ته رسېدلی هلک او نجلی سمه شافي گټه تر لاسه کړي او عمل ورباندي وکړئ او که پاته وي او دلته مانه وي ذکر کړي ؛ هغه به په خپلو ځايو کي مخ ته راسي او داسي ځوان نسته چي شهوت دي نه لري .

او ډېر ناپوه، جاهل او بدبخته به وي هغه څوک چي دا حديثونه، آثار او قولونه

---

ثُمّ يَجيءُ أحَدُهُم فَيَقولُ : ما تَرَكْتُهُ حَتّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امرأتِه، قالَ : فَيُدنِيه مِنهُ، وَيَقولُ : نِعمَ أَنتَ، قالَ الأعْمَشُ : أُراهُ ! قالَ : (فَيَلتَزِمُهُ) .

صحيح مُسلم، كتاب صفة القيامة والجنّة والنّار، باب : تحريش الشّيطان، وبعثه سراياه لفتنة النّاس، وأنّ مع كُلّ إنسان قريناً . حديث شمېره (٧٢٨٤) .

مُطالعه کړي، بیا یې هم هلک بازۍ ته شوق کیږي، یا یې لواطت ته اراده وي که څه هم له خپلې ښځې سره وي، یا یې توبه نه وي ځني ایستلې، یا توبه نه پر باسي، یا یې ښځه مُطالعه کړي چې له مساحقت او لواطت څخه یې توبه نه وي ایستلې، یا توبه نه پر باسي ؛ مطلب دا چې په هر وخت او په هر صورت کې به له دې حرام عمل څخه توبه باسي ؛ ځکه بیا به کامیابي تر لا سه کوي او هسې کامیابي نه ده مُفته آه ! .

وروسته به د لواطت د سزا بیان پیل سي، کومه چې شریعت مطهره فاعل، یا مفعول به ته مُقرري کړې وې ؛ بالله التّوفیق، وبِیده أزِمّة التّحقیق .

## لواطت کوونکي ته دنیاوي سزاوي

په دُنیا کې د شریعت مُطهره په رڼا کې لواطت کوونکي ته مختلفې سزاوي او عذابونه ښوول سوي دي ؛ الله ﷻ فرمایلي دي : ﴿وَٱلَّذَانِ يَأْتِيَـٰنِهَا مِنكُمْ فَـَٔاذُوهُمَا ۖ فَإِن تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا۟ عَنْهُمَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿١٦﴾﴾[۱۸] .

**ژباړه :** او هغه دواړه سړي (یا هلکوان چې بالغان وي کوم) چې راځي دې (قبیح کار د لواطت ته) له تاسو څخه ؛ نو ضرر ورسوئ ! دوی (دوو فاعل او مفعول به) ته، که توبه یې ویستله دې دواړو (لواطت کوونکو فاعل او مفعول به) او بیا یې د خپلو عملونو اصلاح وکړه ؛ نو بیا ضرر مه ورسوئ ! بلکي پرېږدئ ! بېشکه الله (ﷻ) ښه توبه قبلوونکی دی (د گناهگارانو او خاص بیا د دوی دوو فاعل او مفعول به چې په اخلاص سره توبه وباسي او) ډېر نهایت رحم کوونکی دی (په انعام دا اجر او ثواب سره پر توبه گارو بندگانو) .

**خلاصه او تفسیر :** ځینو مُفسرینو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيهِم فرمایلي دي : کوم دوه کسان

---

[۱۸] د النّساء سورت، ۱۶ آیت .

چي دلواطت کولو لپاره راتګ وکړي هغه دي په ډبرو وويشتل سي .
او که يو سړی وښځي ته د شاله خوا راتګ وکړي، يا يوه ښځه وبلي ښځي ته د لواطت لپاره راتګ وکړي او د ښځو لواطت دا دئ چي : دوی خپل تناسلي اندامونه سره مښلوي او خوند پر اخلي ؛ په عربي کي ودې بد عمل ته (سِحاق)، يعني : مساحقت وايي لکه څرنګه چي مخکي يې د کتاب په پيل کي تفصيل تېر سو او اشاره ورته وسوه .

نو دغو کسانو ته چي ذِکر سول د قرآن کريم په رڼا کي دا سزا ورکول کيږي (فَآذُوهُمَا)، يعني : ضرر وررسوئ ! نو ځينو مُفسرينو دا تفسير کړی دی : ضرر وررسوئ ! يعني : که واده والا وو ؛ په ډبرو يې سنګسار کړئ ! او ځينو ويلي دي : چي تر ديواله يې لاندي کړئ ! او ځينو ويلي دي چي : په اور يې وسوځئ ! او ځينو ويلي دي چي : په تاريک جېل کي يې دننه کړئ ! تر څو چي توبې وباسي او ځينو ويلي دي چي : په بوړن ځای کي يې بنديان کړئ ! او ځينو ويلي دي چي : د کَلي د لوړ کور پر بام يې ودروئ او پړمخي يې په ډبرو ووهلئ ! تر څو له خپل منحوس عمل لواطت څخه توبې وباسي .

او معتبر قول دا دئ چي : سنګسار يې کړئ ! هغه وخت چي دوی واده والا وي او کوم قولونه چي تېر سول ؛ دا ټوله په سند رسېدلي دي چي هغه ټوله امام آجُري په خپل يو وړوکي کتاب (ذمّ اللّواط) کي روايت کړي دي ؛ مګر تيري ويناوي هغه دي چي د ټول کتاب خُلاصه يې ده، لهذا ذِکر کولو ته يې هيڅ ضرورت نسته آه ! .

او د پای دوه قولونه چي ول ؛ هغه مي په ځينو تفسيرو کي ليدلي دي .
مطلب : دا که په تفسيرو دآيت شريف پر هر يوه عمل وسي ؛ بس هغه داعتبار وړ دی او زيات اعتباري قول هغه د سنګسار دی .
او دا خبره دي واضحه وي که فاعل او مفعول به واده والا وي، يا ناواده والا ؛ خو سزا يې د سنګسارېدو معتبره ده او دا دالله ﷻ د کلام وينا ده چي لواطت کوونکي

ته دي په دُنيا کي سزا ورکول سي او د رسول الله ﷺ وينا ده چي : فاعل او مفعول دي دواړه قتل سي .
او علماؤ کرامو د رواياتو تطبيق (سمون) داسي کړی دی : که فاعل او مفعول به په حالت د لواطت کي ول ؛ نو سم دستي دي قتل کړل سي ؛ ۱- هغه که په ويشتلو سره وي، ۲- يا تر دېواله لاندي کولو سره وي، ۳- يا تر غره را ايله کېدلو سره وي، ۴- يا په سوځولو سره وي، ۵- يا په سنګسارولو سره وي، ۶- يا په تورو وهلو سره وي او يا قتل په بل داسي صورت سره وي چي دوی دوه ژر په ختمېږي او مړه کيږي ؛ بس هغه يې د قتل سزا ده او که داسي وو چي په حالت د لواطت کي نه ول ؛ نو بيا به دوه ګواهان د دوی پر لواطت ګواهي ادا کوي او د وخت قاضي به د قتل سزا ورکوي - تقريبا دا د ټولو صحابه ؤ، تابعينو او تبع تابعينو فيصله ده چي له اتلسو څخه د هغو شمار زياتيږي او د هوښيار لپاره صرف اشاره هم کافي ده، لکه څرنګه چي په عربي ژبه کي مقوله ده، وايي : "العاقلُ تكفيه الإشارةُ، والجاهل تكفيه الإبانةُ"[1] يعني : د هوښيار لپاره اشاره کافي ده او د جاهل لپاره تفصيل کافي دی .

**د لواطت د دنياوي سزاوو په هکله د يو کامل فقيه غور چاڼ (خُلاصه)** : د (ذمّ اللّواط) ليکوال حضرت أبو بکر آجُري شافعي رحمة الله عليه په آخرنيو پاڼو د کتاب کي فرمايلي دي : بيشکه سنګسار پر هغه چا واجبيږي چي هغه هلک، يا سړي ته د شا لخوا راتګ وکړي او لواطت ورسره وکړي، هو ! چي دُبري ته يې راتګ وکړي او که يې ورنو، يا ځيګر، يا داسي بل اندام ته د (خپل) شهوت سړولو لپاره راتګ وکړی ؛ نو په دې صورت کي به د وخت قاضي [يا پلار، آکا او داسي بل مشر] تعزير ورکوي او سخت به يې وهي هغه وخت که دوی دوه [لوطي او ملوط] بالغان ول .
او که يو بالغ وو او بل نابالغ ؛ نو بالغ به تر نابالغه سخت وهي .
او دا ټول تر شا لمونځ پسي کول نه دي ښه ؛ نه دا ښه دي چي انسان يې ګواهي

قبوله کړي ؛ نه دا چي انسان يو امانت ورته کښېږدي ؛ نه دا چي انسان دي ورسره کښيني او نه دي انسان تر هغه مهاله سلام ورباندي اچوي تر څو توبه باسي ؛ ځکه دی فاسق دی [او پر فاسق سلام اچول مکروه تحريمي دی] .

او که يو [لوطي، ياملوط] دومره کوچنی وو چي نه پوهېدی ؛ نو هغه به [پلار، يا داسي بل مشر] ځني راګرځوي او بېره به ورباندي اچوي او دا به ورته وايي : چي دا ناروا دی او له دې [کار] څخه [په قرآن او حديثو کي] منع سوې ده او که بلوغ ته نژدې وو ؛ نو بايد امام [يعني : د وخت قاضي، يا داسي پلار، او بل مشر] ادب ورکړي او د غټ عذاب دباو دي پر واچوي – يعني دا هغه وخت – که يې بلي پلا خپل عمل ته رجوع وکړه .

او دا ډول د فاسقانو له ملګرتيا څخه دي يې راګرځوي کومو چي د لغړزنو پر خوا تېل (ميلان) کوي [او شوق يې کوي] .

او د وخت پر قاضي [پلار او داسي هر مشر] دا لا زم دي چي لغړزني هلکوان له دې څخه راوګرځوي چي دوی د فاسقانو په ډول ځانونه ښکاره کوي او پر دې به يې امر کوي چي : تاسي به له داسي چا سره ملګرتيا نه کوئ ! چي هغه لغړزنو ته وړاندي کيږي [او مينه ورسره کوي] .

او دا ډول پر پلرونو دا واجب [عمل] دی چي دوی به خپل بچيان له دې څخه راګرځوي چي دوی د فاسقانو په ډول چمونه کوي او د فاسقانو له ملګرتيا څخه به يې راګرځوي . او دا ډول [هوښيار] سړي لره ښايي : چي دی د لغړزني له ناستي څخه ځان وژغوري ؛ ځکه چي دِين ته يې تاوان وه نه رسيږي[۱۹] . پای

يادونه : دا بيان د أبو بکرآجُري رَحمَهُ اللهُ عَلَيه مي په دې وجه ټول دلته ذکر کړی چي له بحث سره يې سمون درلود او ډېر مناسب وو او بل دا چي ده رَحمَهُ اللهُ عَلَيه د کتاب زياتره اړخ د لُوطي د سزا په باره کي ليکلی دی او دا بيان يې د ټول کتاب غورچاڼ دی .

[۱۹] ذمّ اللّواط ٦۲ مخ .

الحمد لله ؛ نو ما هم ګواکي لکه د ده ټول کتاب چي په دې يوه موضوع کي ملخص (چاڼ) کړی ! د دې لپاره چي ګران لوستونکی يې په موندلو او مطالعه زيارمند نه سي . او بل دا چي د ده کتاب ټوله په عربي ژبه دی ؛ نو ما دلته ټوله د ده غورچاڼ خپلي پښتو ته را ژباړلی دی . او بل دا چي دی رحمه الله عليه که څه هم شافعي مذهبه دی ؛ مګر کومي چي خبري ده – په خپل غورچاڼ کي ويلي دي ؛ دا ټولې زموږ له مذهب حنفي سره موافقي دي او نه له بل اسلامي مذهب سره اختلاف لري، بلکې له هغه سره هم موافقي دي . الله تعالی دي يې د ګټي او پاملرني لامل وګرځوي ؛ آمين .

او واضحه دي وي : فاعل، يا مفعول به که واده والا وي، يا ناواده والا وي ؛ خو د دواړو به وژل کيږي، لکه څرنګه چي د صحابه کرامو رضي الله عنهم، تابعينو او تبع تابعينو رحمة الله عليهم دغه فيصله (پريکړه) ده او فقيه أبو بکر آجُري رحمه الله عليه تصريح ورباندي کړې ده، هو ! او د مذاهبو اربعه ؤ په دې کي څه اختلاف سته چي فاعل او مفعول ته دي کومي سزاوي ورکول سئ ؟! او تفصيل به يې اوس مخ ته ذکر سي ؛ والحمدُ لله تبارك وتعالىٰ كما يُحبّه، ويرضاهُ .

## د مذاهبو اربعه ؤ په رڼا کي د فاعل او مفعول به سزاوي

مذاهبِ اربعه، يعني : څلور مذهبه چي يو مذهب د امام أبو حنيفه رحمه الله عليه دی؛ دويم مذهب د امام شافعي رحمه الله عليه دی ؛ درييم مذهب د امام أحمد بن حنبل رحمه الله عليه دی او څلورم مذهب د امام مالک رحمه الله عليه دی او څلور سره پر حقّ دي .

**مذهب د امام أبو حنيفه رحمه الله عليه دا دئ :** چي زموږ د ټولو حنفيانو مذهب دی : د لواطت کوونکي او لواطت ورسره کېدونکي د سزا پريکړه د وخت قاضي ته سپارل کيږي ؛ قاضي که هر ډول سزا ورکوي، که ښکنځل ورته کوي او که يې په غمچينو وهي، يعني : په دُرّويې وهي او يا يې په جېل کي قيدي کوي ؛ بس

داغه يې سزا ده او د امام صاحب شاګردان چې امام محمّد او امام أبو يوسف رحمهما الله دي وايي : لواطت په شان د زنا کولو دی ؛ نو هغه لوطي چې واده يې کړی وي ؛ هغه دي په ډبرو سنګسار سي او که يې نه وي کړی ؛ په دُرُو دي ووهل سي او که فاعل، يا مفعول پر خپل پليت عمل دوام وکړي ؛ نو بيا يې مرګ په اتّفاق سر د احنافو روا دی .

**مذهب د امام شافعي رحمه الله دا دئ :** چې فاعل او مفعول دي دواړه قتل کړل سي .

**مذهب د امام ا بن حنبل رحمه الله دا دئ :** چې فاعل او مفعول دي په دُرُو ووهل سي .

**او مذهب د امام مالک رحمه الله دا دئ :** چې فاعل او مفعول دي دواړه قتل کړل سي، که يې ودونه کړي وي او که يې نه وي کړي ؛ په هر صورت کي که وي ؛ بايد قتل کړل سي[۲۰] .

دا د څلورو سره مذاهبو په رڼا کي د فاعل او مفعول به سزاوي دي چې شريعت په دې دُنيا کي ورته مقرري کړي دي او له بل پلوه په خپله شارع الله جلّ جلاله چې د شريعت جوړونکی دی په دې دنيا کي د لواطت پر عمل کولو مختلف تاوانونه مُرتب کړي دي چې ځيني جسماني او ځيني رُوحاني دي او هغه به اوس ټوله په راتلونکي عنوان او سرليک کي بيان سي . الله تبارک وتعالی دي مو په خپل فضل او مهرباني سره له دې ناوړي بدفعلۍ څخه وژغوري ؛ إنّهُ علىٰ كُلّ شيء قدير.

او ځينو فقهاوُ د مذاهب اربعه ؤ دا فرق ورکړی چې له ښځي سره د لواطت کولو په صُورت کي، يا د ښځي د مُساحقت په صُورت کي د مرګ پرېکړه نه ده روا،

---

[۲۰] الموسوعة الفقهية ۳۵ توک، ۱۴۰ - ۱۴۱ مخونه .

بلکې د وخت قاضي، یا امیر باید داسې سزا ورکړي چې توبه وباسي، لکه په بندي خانه کې بندي کول، یا په بوین ځای کې بندي کول، یا سخت وهل، یا سخت دباو ورباندې ایښوول او داسې نور.

## د لواطت کولو جِسماني او رُوحاني تاوانونه

هغه تاوانونه چې له ناولي لواطت څخه په جسم او رُوح کې پیدا کیږي او یا خپله رُوح او جسم ته په دُنیا او آخرت کې جوتیږي او په عقل او نقل سره یې ثبوت سوی وي؛ هغه ټوله په لاندې ډول دي:

۱. لوی څښتن ﷻ یې په کولو ناراضه کیږي.

۲. د رحمت فریښتې لیرې کوي.

۳. د دوږخ اُور تازه کوي.

۴. هغه انسان کوم چې لوطي وي د قیامت په ورځ به له قوم لوط سره راپورته سي.

۵. د الله تعالی په حضور کې به لُوطي انسان له هر شرمېدونکي څخه شرمجن وي او د اتلسو زرو عالمونو په مینځ کې به رسوا وي.

۶. ادب دې وي د لوطي پر دُبره توره لیکه پیدا کوي کوم چې همېشتوب پر وکړي.

۷. کله چې مفعول د ضرورت پوره کولو پر مهال کښیني؛ نو د خپلو فضله موادو په کنټرولولو به واک نه لري او دا ډېر رسوا کوونکی تاوان دی.

۸. د مفعول په نس او کولمو کې چینجیان پیدا کوي.

۹. مفعول ته په دې فعل سره ضرر رسیږي.

۱۰. د فاعل پر تناسلي اندام تور او ژیړ ټکي پیدا کوي.

۱۱. د فاعل په لواطت کولو سره تناسلي اندام درد پیدا کوي.

۱۲. په منیو کې د نسل تُخمونه وژني، کوم چې په طبي لحاظ سره حیوانات منویه ورته ویل کیږي؛ نو هغه وچوي.

۱۳. بدن په یوه اوونۍ کي دننه وچوي په دې شرط که په زور تر سره سي .
۱۴. د بدن وینه خرابوي .
۱۵. د بندلو درد پیدا کوي .
۱۶. د زړه دوره پیدا کوي .
۱۷. د مخ عزت، هیبت او رُعب له مینځه وړي .
۱۸. د هډوکو غوړزګي ختموي .
۱۹. د روزۍ د کمښت لامل جوړیږي .
۲۰. د زړه غمونه او پښېماتتیاوي زیاتوي .
۲۱. انسان ډېر ژر سپین ږیری کوي .
۲۲. د بدن په سل (۱۰۰) فیصده طاقت کي اویا (۷۰) فیصده طاقت ختموي .
۲۳. او کله نا کله دایډز غوندي بدترینه ناروغي هم پیدا کوي کومه چي د مرګ لامل جوړیږي .

دا خو د ناولي لواطت چي منحوس عمل دی بدني او رُوحي تاوانانونه سول کوم چي فاعل او مفعول ته په دې دُنیا کي پیدا کیږي او ټوله دُنیاوي، اُخروي، بدني او رُوحي تاوانونه یې تقریبا اویا ته رسیږي .

## لواطت کوونکي ته اخروي سزاوي

په آخرت کي الله تعالی لواطت کوونکي ته او لواطت ورسره کېدونکي ته سخت او دردناک عذاب تیار کړی دی، که له هغو عذابو ځخه څه اندازه عذاب په دې دُنیا کي الله تعالی لواطت کوونکو، یا ولواطت ورسره کېدونکو ته ښکاره کړي ؛ نو دوی به د سترګو په رپ کي بې هوښه سي او پسي مړه به سي او دا به له ډېره غمه داسي ژر مړه سي ؛ ځکه دوی داسي عمل ته لاسونه اچولي، یعني : دوی داسي عملونه کوي چي په بدوالي کي یې هیڅ برابر او بیلګه نسته .
که یوفاعل، یا مفعول په خپل ګرېوان کي وګوري ؛ نو ده ته به خپله دغه

احساس وسي او دا فکر به ورته پيدا سي چي دا زه په کوم عمل اخته يم ؟! او پر ځان به يې زړه وسوځي، ايا ډېره اريانتيا داسي کس ته په کار نه ده ؟! چي وخپل هم جنسه انسان ته ځان د لواطت کولو لپاره پرېباسي ! ايا دا سي کس ته اريانتيا په کار نه ده ؟! چي دی خپل تناسلي اندام په غايطه موادو کي داخلوي او په مرداروي يې ! نو هر کله چي دا کس په خپلي بدفعلۍ نه شرميږي، بيا به خامخا د سخت او دردناک عذاب لايق ګرځي او د قيامت په ورځ به هغه عذاب ته ورځي .

اوس به د فاعل، يا مفعول أخروي سزاوي د حديثو، آثارو او اقوالو مبارکو په رڼا کي بياني سي او هر يوه ته به خپل سرليک کښېښوول سي چي مقاصد يې ښه واضح سي او د مقاصدو په بيانولو سره کوم چي سرليکونه دي وانسان ته نور شوق د بيان پيدا کيږي چي مطالعه وکړي او په دې سره وده ته خپله په زړه کي ذوق حاصليږي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّةُ التّحقيق .

## په آخرت کي د لواطت کولو سخته سزا

(۱) عنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَا : خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؛ فَقَالَ فِيْ خُطْبَتِهِ : (مَنْ نَكَحَ إِمْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا، أَوْ غُلَامًا، أَوْ رَجُلًا ؛ حُشِرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْتَنُ مِنَ الْجِيْفَةِ يُنَادِيْ بِهِ النَّاسُ حَتَّى يَدْخُلَهُ اللهُ نَارَ جَهَنَّمَ، وَيُحْبِطَ اللهُ عَمَلَهُ، وَلَا يَقْبَلُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا، وَيَجْعَلُ فِيْ تَابُوْتٍ مِنَ النَّارِ، وَيَسْمَرُ عَلَيْهِ بِمَسَامِيْرِ مِنْ حَدِيْدٍ مِنَ نَارٍ ؛ فَتَسْتَلُّ تِلْكَ الْمَسَامِيْرُ فِيْ وَجْهِهِ، وَفِيْ جَسَدِهِ) . قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : هَذَا لِمَنْ لَمْ يَتُبْ[۲۱] .

**ژباړه :** له (حضرت) أبو هُريره او (حضرت) ابن عبّاس رضي الله عنهما څخه روايت

[۲۱] دا حديث په خپل سند سره ابن جوزي په ذمّ الهوى کي روايت کړی دی، الباب الثامن والعشرون في ذكر عقوبة اللّوطي في الآخرة ۱۶۲ مخ .

دی، دوی دوه فرمايي : موږ (صحابه ؤ) ته رسول الله ﷺ په يوه خُطبه کي وفرمايل : کوم کس چي له يوې (خپلي، يا پردی) ښځي سره، يا له يو هلک او يا سړي سره د شا په اړخ کي نکاح وکړي [يعني : لواطت ورسره وکړي] ؛ نو دی به د قيامت په ورځ په داسي حال کي راپورته سي چي تر مردار سوي حيوان به يې زيات بد بوی ځي او (د حشر) په خلګو کي به بدنامه وي (او وايي به : چي دا خو لوطي دی) تر هغه وخته به د بدنامی ږغ ورباندي پورته کيږي چي الله (ﷻ) يې د دوږخ اور ته ورننباسي او الله (ﷻ) به يې ټوله (نېک) عملونه ورابته کړي، نه به يې انصاف قبلوي او نه به يې ګواهي (د بل په حقّ کي) قبلوي او د اُور په يو تابوت کي به يې واچوي، مېخونه به پر ټک وهي چي هغه مېخونه به د اوسپني له اوره جوړ سوي وي ؛ نو بيا به دغه د اور مېخونه د ده [يعني : د لوطي چي په دُنيا کي يې د لواطت عمل کړی وي] په مخ او بدن کي به يې (د فريشتو په زور سره) راکشيږي [او ده ته به سخت عذاب په ورکول کېږي ] . (حضرت) أبو هُريره ؓ فرمايي : دا (سخت عذاب) به د هغه چا (لواطت کوونکي، يا لواطت ورسره کېدونکي) لپاره وي چي توبه يې نه وي ايستلې [هو ! که توبه يې په اخلاص سره ويستله، په داسي اخلاص چي بيا يې د لواطت عمل تر مرګه پوري وه نه کړی ؛ نو له دې عذابه به په امن وي د الله تعالیٰ په امر سره] .

## اووه کسان به دوږخ ته اوله پلا ورننوځي

(۲) عَنْ أَنَسِ بِنِ مَالِكٍ ؓ : عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : (سَبْعَةٌ لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ القِيَامَةِ, وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَا يَجْمَعُهُمْ مَعَ العَالَمِيْنَ, يَدْخُلُوْنَ النَّارَ أَوَّلَ الدَّاخِلِيْنَ ؛ إِلَّا أَنْ يَتُوبُوْا, فَمَنْ تَابَ ؛ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ : النَّاكِحُ يَدَهُ, وَالفَاعِلُ وَالمَفْعُوْلُ بِهِ, وَمُدْمِنُ خَمْرٍ, وَالضَّارِبُ أَبَوَيْهِ حَتَّى يَسْتَغِيْثَا, وَالمُؤْذِيْ جِيْرَانَهُ

حَتَّى يَلْعَنُوهُ, وَالنَّاكِحُ حَلَيْلَةَ جَارِهِ)[۲۲] .

ژباړه : (حضرت) أنس بن مالک ﷺ روایت کوي : چې رسول الله ﷺ وفرمایل : اووه کسان دي چې الله (تعالی) د قیامت په ورځ (د رحمت په نظر) نه ورته ګوري [او نه خبري ورسره کوي څنګه چې د الله ﷻ له شانه سره ورته وي] او نه یې پاکوي (له خپلو پلیتو عملو څخه) او نه یې له یو (ډول) مخلوقاتو سره یو ځای کوي او دوی به اور ته اول ځل ورننوځي ؛ مګر نه هغه چې توبې وباسي او کوم کس چې (په دې اوو کسانو کې له خپله بد عمله) توبه وباسي ؛ نو الله (ﷻ) به یې توبه قبوله کړي : (یو په هغو اوو کسانو کې) موټ وهونکی دی [چې بې له شرعي عذره په خوند او شهوت سره موټ وهي] او (دویم) فاعل (یعني : لواطت کوونکی) دی او (درېیم) مفعول (یعني : لواطت ورسره کېدونکی) دی او (څلورم) پر شرابو (چیښلو) همېشتوب کوونکی دی او (پينځم) د مور او پلار وهونکی دی تر دې چې چیغه (او فریاد) ځني کوي [چې مراد ځني د مور او پلار آزاروونکی دی] او (شپږم) د همسایګانو هغه آزاروونکی دی تر چې (همسایګان) لعنت پر وایي او (آخري اووم کس) د همسایه له ښځې سره نکاح کوونکی [یعني : زنا ورسره کوونکی] دی [کوم چې د ګاونډي پر ښځه تېری وکړي او زنا ورسره وکړي] .

دا هغه اووه کسان دي چې دوږخ ته به اول ځل په دوږخیانو کې له ابلیس لعین او د هغه له لښکره سره ورننوځي او تر ټولو ګناهګارانو به یې سختي سزاوي وي .

---

[۲۲] حدیث ابن الجوزي په ذمّ الهوی کې، الباب الثامن والعشرون في ذکر عقوبة اللوطي في الآخرة ۱۶۲ مخ، آجُري په ذمّ اللواط کې په دوو سندونو سره، ۷۱ او ۷۲ مخونه، حدیث شمېره (۵۳) او (۵۴) او بیهقي په شُعب الإیمان کې روایت کړی دی، ۷ توک، ۳۲۹ مخ، حدیث شمېره (۵۰۸۷) او د حدیث سند یې (حسن) دی څه خبره پکې نسته .

## د قيامت په ورځ به لوطي له قوم لوط سره راپورته کيږي

(۳) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ أَيْضًا، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : (مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِيْ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ ؛ نَقَلَهُ اللهُ إِلَيْهِمْ حَتَّى يَحْشُرَ مَعَهُمْ)[۲۳].

ژباړه : او دا ډول له (حضرت) أنس ﷺ څخه روايت دی : چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم کس چې زما له امت څخه د قوم لوط عمل کوي [يعني : لواطت کوي او توبه نه پرباسي] ؛ نو الله (تعالی) به يې قوم لوط ته (په قبر کي په مځکه کي دننه) ورولېږي (ځکه الله تعالی پر هر څه قادر دی) تر دې چې (د قيامت په سخته ورځ به) له دوی سره راپورته سي.
او دا خبره صحيح ده، لکه څرنګه چې علامه ابن قيم الجوزية رحمه الله ويلي دي ؛ د تفصيل لپاره لاندي حاشيه وګوره ![۲۴].

---

[۲۳] حديث ابن الجوزي په ذمّ الهوى ۲۱۳ مخ کي او خطيب بغدادي په خپل تاريخ بغداد ۱۱ توک، ۱٦۰ مخ کي روايت کړی دی، علامه متقي هندي په کنز العمّال کي، حديث شمېره (۱۳۱۱٦)، مشتولي په سلوة الأحزان للإجتناب عن مجالسة الأحداث والنّسوان ۳۰ مخ او ابن نحاس په تنبيه الغافلين عن أعمال الجاهلين ۱۲۲ مخ کي نقل کړی دی.

[۲۴] قال إبن القيم رحمه الله : وهذا المعنى صحيحٌ وإنْ لم يصح هذا الحديث. قال الله تعالى : ﴿ أُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَأَزْوَاجَهُم مَا كَانُوا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ فَاهْدُوْهُم إِلَى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ﴾. قال عمر بن الخطّاب ﷺ : أزواجهم أشباهم ونظراءهم. وقال الله تعالى : ﴿وإذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ﴾. وقال النّعمان بن بشير، عن عُمر بن الخطّاب ﷺ : الرّجلان يعملان العمل الواحد يدخلان به الجنّة، أو يدخلان به النّار. و في رواية عنه : يقرن الرّجُل الصّالح مع الرّجل الصّالح في الجنّة، والرّجل السّوء مع الرّجُل السّوء في النّار. وقد أخبرني رَجُلٌ ثِقة يُسمّى عبد الله، عن الأخ الصّالح سيدي علاء الدّين القطبي رحمه الله، وكان له صحبة شيخنا شهاب الدين الزاهد رحمه الله أنه كُشِفَ له شاهد ؛ فرآه رَجُلاً ميّتًا مكفنًا وعلى رأسه، وكان الشّيخ علاء الدّين إذْ ذاک واقِفًا حول البِرْكة - نسأل الله العافية.
وقد وَرد : أنّ اللّوطي إذا مات ولم يتُب ؛ حمل وألقى في بركة قوم لوط لا يشرب منها طير، ولا وحش، ولا إنسان، ولا ينبت فيها شيء مِن النّبات.

# د قیامت په سخته ورځ به د لوطي له ضایع سوو منیو څخه بې سره هلکوان جوړ سي او پر ده به د ظلم ګواهي ادا کوي

(۴) وَفِيْ رِوَايَةٍ، أَيْ : فِيْ الْخَبَرِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قال : (يُؤْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَطْفَالٍ لَيْسَ لَهُمْ رُؤُوسٌ ؛ فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالَىٰ لَهُمْ، وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ : مَنْ أَنْتُمْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ : نَحْنُ الْمَظْلُوْمُوْنَ ! فَيَقُوْلُ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ لَهُمْ، وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ : مَنْ ظَلَمَكُمْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ : ظَلَمُوْنَا آبَاؤُنَا ؛ لِأَنَّهُمْ كَانُوْا يَأْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِيْنَ ؛ فَأَلْقُوْنَا فِيْ الْأَدْبَارِ، فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : سُوْقُوْهُمْ إِلَى النَّارِ، وَاكْتُبُوا عَلَىٰ جِبَاهِهِمْ آيِسِيْنَ مِنْ رَحْمَتِيْ)[۲۵].

ژباړه : او په یو روایت کي، یعني : په یو حدیث کي له نبي (کریم) ﷺ څخه نقل سوي دي فرمايي : د قیامت په ورځ به (پر میدان د حشر داسي) هلکوان راویستل سي چي سرونه به نه لري ؛ نو الله تعالى به ورته وفرمايي او حال دا چي دی (الله ﷻ) به ډېر ښه په خبر وي : تاسي څوک یاست ؟! دوی به ورته ووايي : موږ مظلومان یو ! بیا به الله سبحانه وتعالى ورته وفرمايي او حال دا چي دی (الله تعالى) به ډېر ښه په خبر وي : ستاسو سره چا ظلم کړی دئ ؟! دوی به په (ځواب) کي ورته ووايي : موږ سره خپلو پلرونو ظلم کړی دی [اظلم يې

---

ويحكى : أنهم سمعوا كلّ وقت بالّليل حية تفحّ في البركة ساعة بعد ساعة ؛ فقيل : إنّه مَن مات على عمل قوم لوط ؛ حملته الملائكة، فترميه فيها .

فاحذر يا أخي ! عافانا الله وإياك مِنْ ذلک بمنّه وكرمه . قال : قال رسول الله ﷺ : (مَن مات وهو يعمل عمل قوم لوط ؛ لم يلبث في قبره إلا ساعة واحدة حتّى يبعث الله ملكًا كهيئة الخطّاف ؛ فيخطفه مِن خلفه، ويطرحه في بلاد قوم لُوط، فيخرسه في النّار) ؛ نعوذ بالله مِنْ ذلک . سلوة الأحزان للإجتناب عن مُجالسة الأحداث والنّسوان د شيخ مسولي رحمه الله تعالى ۳۰ او ۳۱ مخونه ؛ إنتهى .

[۲۵] حديث سيوطي په الحاوي للفتاوى كي ۲ توک، ۳۵ مخ، صفوري په نُزهة المجالس ومُنتخب النفائس كي ۱ توک، ۲۲۰ مخ او أبي الليث سمرقندي حنفي په قرّة العيون ومُفرح قلب كلّ محزون ۵۲ مخ كي نقل كړی دی، په سند يې الله تعالى ډېر ښه خبر دی !

زموږ سر دا ډول کړی دی !] ؛ ځکه چې کله دوی له نارینه ؤ سره لواطت وکړ ؛ نو موږ به یې د دوی په شاګانو (دُبرو او کولمو) کې وغورځولو ! [دا په هغه صُورت کې چې موږ د خپلو پلرونو په شاګانو کې مُنې وو ! نو بیا زموږ پلرونو د لواطت کولو پر مهال د نورو خلکو، یا هلکوانو، یا نرښځیو او یا د ښځو په سوغیو، یعني : دُبرو کې واچولو ! چې اوس دا دئ خدای تعالی موږ له هغه مُنیو څخه بې سرونه هلکوان جوړ کړل !]، بیا به الله عزّ وجلّ (خپلو فریشتو ته) وفرمایي : دا بې سري هلکوان دوږخ ته وشړئ ! او پر تندیانو یې دا نویشته کړئ ! چې : دا کسان زما له رحمت څخه نا اُمیده دي .

**نکته** : هغه لوطیان چې مُني یې د خلکو، یا هلکوانو، یا د نرښځیو او یا د ښځو په دُبرو کې غورځولې وي ؛ هغه به دوږخ ته اول ځل ننوځي، لکه څرنګه چې په تېر حدیث کې یې بیان ذکر سو، بیا به هغه مني چې له هغو څخه خدای ﷻ بې سري هلکوان جوړ کړي وي ؛ هغه به پسې دوږخ ته ورننباسي او د دوی ګناه به دا وي : چې دوی به په غایطه موادو کې وختونه تېر کړي وي او د پلرونو له شاګانو څخه به په خوند اوشهوت راوتلي وي او په دُبرو کې به غورځول سوي وي ؛ نو له دې سببه به الله ﷻ دوی هم دوږخ ته ننباسي، که څه هم ظُلم خویې پلرونو کړی وي ؛ مګر دوی به هم په حقیقت کې د ظالمانو پیشه خپله کړې وي او د ظالمانو بدله به ورکول سي او همدا ډول دوی به د خپلو لوطیانو پلرونو لپاره یو ډول عذاب وګرځي .

او الله ﷻ به دا حقیقت په ورځ د قیامت وټول مخلوق ته ورښکاره کړي چې د ده عدل او انصاف ښه روښانه سي .

او بېشکه په دې کار کې د الله تعالی یوه ذره ظلم هم نه دی، بلکې په دې کې به د قیامت په ورځ ولوطیانو ته د الله تعالی له لواطت کارانو سره ناخوښي هم څرګنده سي چې ربّ العزت ته د لواطت عمل دومره ناخوښه دی او بل دا چې په دې کار سره چې د لوطیانو له ضایع سوو موادو به بې سره هلکوان جوړ سي ؛ د محشر وحاضرو مخلوقاتو ته د ربّ العزت قدرت (وس) ښکاره سي چې الله تعالی پر هر څه وس لري آه ! .

## د جنت بوی به د لوطي تر سږمو هم نه سي

(۵) عَنْ أَنَسٍ ﷺ : عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : (مَنْ لَاطَ لَايَجِدُ رَائِحَةَ الجَنَّةِ، وَإِنَّ رَائِحَتَهَا لَتُوجَدُ مَسِيرَةَ خَمْسَمِائَةَ عَامٍ)[۱] .

ژباړه : له (حضرت) انس ﷺ څخه روايت دی : بېشکه چي نبي (کريم) صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چي لواطت وکړي [حال دا چي توبه نه پر وباسي] ؛ نو دی به د جنت بوی (د قيامت په ورځ) پيدا نه کړي او بېشکه د جنت بوی تر پينځه سوو (۵۰۰) کالو په مسافت پيدا کېدلای سي [يعني : يو انسان که له جنت څخه پينځه سوه کاله مسافه ليري يو ځای ولاړ وي ؛ نو د جنت بوی به ور رسيږي ؛ مګر فاعل او مفعول دواړه له بوی څخه يې هم محرومه دي آه !] .

## له هلک څخه د يوې مچي اخيستلو په آخرت کي سخت وبال

(۶) وَرُوِيَ أَنَّ : (مَنْ قَبَّلَ غُلَامًا لِشَهْوَةٍ ؛ عَذَّبَهُ اللهُ تَعَالَىٰ فِي النَّارِ خَمْسَمِائَةَ عَامٍ)[۲] .

---

[۱] حديث امام غزالي رحمة الله عليه په مُکاشفة القلوب المُقرّب إلى علاّم الغُيوب ۹۲ مخ کي نقل کړی دی .

[۲] حديث امام غزالي رحمة الله عليه په مُکاشفة القُلوب کي نقل کړی دی، ۹۲ مخ او په سند يې الله ﷻ ډېر ډېر ښه خبر دی .

يادونه : اوپه دې معنا يو حديث علامه نويري رحمة الله عليه په خپل جامع کتاب نهاية الأرب في فنون الأدب ۲ توک، ۲۲۱ مخ کي نقل کړی دی او نسبت يې ابن الجوزي ته کړی دی او ما چي د ابن الجوزي کتاب توله وکوت ؛ دا روايت مي پکي پيدا نه کړ او دا ما ته په داګه سوه چي نويري صاحب خطا سوی دی او د نويري عبارت په راتلونکي ډول سره دی :

قال النّويري : رُوِي أبو الفرج عبد الرحمن بن الجوزي رحمة الله عليه بسنده إلى أنس بن مالك ﷺ أنه قال : سمعتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : (مَن قبّل غُلامًا بشهوة ؛ عذّبه الله في النار ألف سَنَة، ومَن جامعَهُ ؛ لم يجِد رائحة الجنة، وريحها يوجد مِن مسيرة خمسمائة عام ؛ إلا أنْ يتُوب) .

**ژباړه :** او په يو روايت کي نقل سوي دي : چا چي يو وار لغړزني (هلک) د شهوت (پوره کولو لپاره) مچ کړ ؛ نو دا کس ته به الله تعالی په دوږخ کي پينځه سوه (۵۰۰) کاله اندازه عذاب ورکړي .

## په دوږخ کي به لوطي ته پړمخي عذاب ورکول کيږي

**(۷)** وَرُوِيَ أَيْضًا أَنَّ : (مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ ؛ يُعَذَّبُ فِي النَّارِ مَنْكُوسًا)[1] .

**ژباړه :** او داسي په بل روايت کي نقل سوي دي : چا چي د قوم لوط عمل وکړ ؛ نو هغه ته به په دوږخ کي پړمخي عذاب ورکول کيږي .

**لطيفه نکته :** په دې سبب لواطت کوونکي ته که څه هم له خپلي ښځي سره يې لواطت کړی وي، يا لواطت ورسره کېدونکي ته په دوږخ کي پړمخي عذاب ورکول کيږي چي ده به هم په دُنيا کي د لواطت عمل پړمخي تر سره کړی وي او د لواطت عمل هم په اصل کي پړمخي ترسره کيږي ؛ نو له دې وجي څخه به د دوږخ په اور کي پړمخي سوځول کيږي .

## د جنت پر غاليو ناسته او ولاړه پر مفعول حرامه ده

**(۸)** وَرُوِيَ أَيْضاً : (حَرَّمَ اللهُ عَلَىٰ كُلِّ دُبُرٍ مُسْتَنْكِحٍ الجُلُوسَ عَلَىٰ إِسْتَبْرَقٍ

---

د حديث ژباړه : چا چي يو هلک په شهوت سره مچ کړ ؛ نو الله (تعالی) به په دوږخ کي زر (۱۰۰۰) کاله عذاب ورکړي او چا چي لواطت ورسره وکړ ؛ نو د جنت بوی به يې تر سږمو هم نه سي او بوی يې د پينځه سوه کالو په مسافه پيدا کېدلای سي او هغه څوک [به يې بوی پيدا کړي او له دوږخه به وساتل سي] چي توبه وباسي .

[1] حديث علامه آفندي رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په مجالس الإرشادية کي نقل کړی دی، ۲۴۶ مخ او د دې په سند هم الله تعالی ده‍ر ښه خبر دی .

الجَنَّةِ)(۱).

ژباړه: او روايت سوی دی: چي الله(تعالی) پر هري هغي ډبري چي په نکاح سوې وي[يعني : لواطت ورسره سوی وي] د جنت پر غاليو ناسته حرامه کړې ده.

څه تشريح : په حديث کي چي د کوم چا يادونه سوې ده ؛ له هغه څخه مراد مفعول به دی او داسي د دې په ضمن کي فاعل هم راځي کوم چي د دې بل خپل ملګري سره يې دغه عمل تر سره کړی وي ؛ نو د فاعل او مفعول دواړو د جنت پر غاليو ناسته او ولاړه الله تبارک وتعالی په ازل کي حرامه کړې ده تر څو چي په اخلاص توبې باسي – دا د ده يو الهي پرېکړه ده او پوه سه په دې ! چي د جنت پر غاليو ناسته او ولاړه د فاعل او مفعول به لپاره حرامه سوه ؛ نو له دې څخه دا په ډاګه سوه چي جنت ته ننوتل يې هم حرام دي چيري پر غالی ناسته او ولاړه ؟! هغه به خامخا حرامه وي او علامه ابن قيم الجوزية رحمه الله عليه پر دې تصريح کړې ده چي پر مفعول به جنت حرام دی .

## ربّ العزت لوطي په قبر کي قوم لوط ته ورلېږي

(۹) وَرُوِيَ أَيْضًا : (مَنْ يَعْمَلُ مِنْ أُمَّتِيْ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ، ثُمَّ يَمُوْتُ عَلَىٰ ذٰلِكَ ؛ فَهُوَ مُؤَجَّلٌ إِلَىٰ أَنْ يُّوْضَعُ فِيْ لَحَدِهِ، فَإِذَا وُضِعَ فِيْ لَحَدِهِ ؛ لَمْ يَمْكُثْ أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثٍ حَتّٰى

(۱) حديث علامه مجلسي رحمه الله عليه په بحار الأنوار کي ۷۹ توک، ۷۲ مخ او هويدي رحمه الله عليه په تفسير المُعين کي نقل کړی دی ۳۹۹ مخ او حديث که څه هم بې سنده ښکاري ؛ مګر معنا يې صحيح ده او څه خبره پکي نسته.

تَقْذِفُهُ الْأَرْضُ إِلَىٰ جُمْلَةِ قَوْمِ لُوطِ الْمُهْلِكِيْنَ ؛ فَيُحْشَرُ مَعَهُمْ)[1] .

**ژباړه :** او روايت سوی دی : څوک چي زما له اُمته د قوم لوط عمل وکړي او بيا پر دغه بدفعلۍ (بې له توبې) پسي مړ سي ؛ نو ده ته به [د الله تعالی له طرفه صرف] دومره وخت ورکول سي چي په لحد کي ايښوول کيږي او کله چي په لحد کي کښېښوول سي ؛ نو تر دريو (ورځو) به نور وخت په (قبر) کي تېر نه کړي چي دستي بې مځکه (دننه په خپل نس کي) وقوم لوط ته وروغورځوي کوم چي هلاک سوي دي ؛ نو له دوی سره به (د قيامت په ورځ) حشر (يعني : راپورته) سي .

**يادونه :** د دې حديث په ډول يو روايت مخکي هم تېر سو چي اوس يې مکررولو ته اړتيا نسته، هو ! هغه روايت څه په معنا کي کوتاه وو او دا مفصل[2] دی او د هوښيار لپاره صرف اشاره هم کافي ده .

## الله تعالی به د قيامت په ورځ لواطت کوونکي او لواطت ورسره کېدونکي ته ډېر سخت په غصه وي

(۱۰) وَوُرِدَ فِيْ بَعْضِ الْأَخْبَارِ مَا هُوَ مَفْهُوْمُهُ : (أَنَّ اللهَ تَعَالَىٰ لَايَغْضِبُ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لِأَحَدٍ مِنَ الْعَالَمِيْنَ أَشَدُّ مَا يَغْضِبُ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُوْلُ بِهِ)[3] .

**ژباړه :** او په ځينو رواياتو کي نقل سوي دي کوم چي مفهوم يې داسي دی :

---

[1] دا حديث هم علامه مجلسي په بحار الأنوار کي په دغو الفاظو سره ۷۹ توک، ۷۲ مخ کي او مُفسّر هُويدي په تفسير المُعين کي نقل کړی دی، ۳۹۹ مخ او دې ته ورته يو حديث امام سيوطي رحمة الله عليه په الحاوي للفتاوی ۲ توک، ۳۵ مخ کي او واعظ صفُوري رحمة الله عليه په نُزهة المجالس ۱ توک، ۲۲۱ مخ کي نقل کړی دی .

[2] مُفصل : تفصيلي، دراز .

[3] دا حديث ما خپله د يو شيخ الحديث له مبارکي خولې څخه اورېدلی دی او دا يې عربي مفهوم دی .

بيشکه الله تعالی به د قيامت په ورځ لواطت کوونکي او لواطت ورسره کېدونکي ته دومره په غُصه وي چي وهيڅ مخلوق ته به دومره په غُصه نه وي [او له (عالَمين) څخه مراد ټول مخلوقات دي آه !] .

**فايده** : اې کتونکې ! او اې ځوانه ! لواطت کول، يا يې شوق کول څومره لويه ګناه او بد فعلي ده چي يوې خوا ته دا د قيامت سخته ورځ وي او بلي خوا ته الله ﷻ چي باچاه د باچاهانو دی دومره ورته په غصه او قهر وي چي وهيڅ ګناهګار مخلوق ته دومره په قهر او غصه نه وي، لکه ودې لواطت کوونکي، يا لواطت ورسره کېدونکي ته .

او پوه سه ! په دې چي د فاعل او مفعول په جمله کي مساحقت کوونکې ښځه او مساحقت ورسره کېدونکې ښځه هم مراد ده ؛ ځکه دوی ښځينه لوطياني دي .

نو په دې پليت عمل کي به بيا خير چيری وئ ؟! چي دا يې خپله اصلي نتيجه وي .

الهي ته مو په خپل فضل سره له دې ناوړي بدفعلۍ څخه وساتې ! آمين، يا رَبّ العالمين ! .

**يادونه** : تر دې ځايه هغه مبارک حديثونه پای ته ورسېدل چي د لواطت أخروي سزاوي پکي ذکر سوي وې او داسي څه د صحابه ؤ، تابعينو، تبع تابعينو، امامانو او بزرګانو قولونه هم راغلي چي د دې ناوړي عمل د أُخروي سزاوو ذِکر پکي سوی وي او هغه به اوس په راتلونکي ډول په ترتيب سره ذِکر سي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّةُ التّحقيق .

## د قيامت په ورځ به لوطي او ملوط د خپل شرمنده عمل پر حالت راپورته سي

(۱۱) له (حضرت عبد الله) ابن عبّاس رضي الله عنهما څخه روايت دی، وايي : څوک چي

له دُنیا څخه پر هر حال رُخصت سي ؛ نو پر هغه حال به بېرته له قبره څخه راووځي، تر دې چي لواطت کوونکی به په خپل ملګري (مفعول به) موښتی وي او ټول مخلوق به يې په دې سخته ورځ د قیامت (په ښکاره توګه) ويني[۱].

## د قیامت په ورځ به لوطي او ملوط دوږخ ته جوړه سره ځي

(۱۲) له (حضرت) عُمر فاروق ﷺ څخه په تفسير د دې آيت : ﴿وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ۝﴾[۲] کي روايت سوی دی، وايي : هغه دوه کسان چي يو عمل کوي (لکه : فاعل او مفعول به، زاني او زانيه) ؛ دا به ټول سره جوړه جوړه سي د حِساب او كِتاب پر مځکه، بيا به دوږخ ته يو ځای سره ځي[۳] .

## د قیامت په ورځ به لوطيان د بزوګيانو او سر کوزانو په بڼه راپورته سي

(۱۳) له ( حضرت ) عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی،وايي : لوطيان به ټول دقيامت په ورځ باندي دبزوګيانو او خنزيرانو په بڼه باندي راپورته سي[۴] .

## لوطي له جنابته بې له توبې نه سي پاکېدلای

(۱۴) له (حضرت) امام مُجاهد رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ څخه روايت دی، وايي : هغه کس چي لواطت کوي که د آسمان د اوبو په هر څاڅکي او د مځکي د اوبو په هر څاڅکي خپل ځان پرېولي ؛ نو نِجاست (د جنابت) به يې پاک نه سي[۵] .

---

[۱] دغه اثر ابن الجوزي په ذمّ الهوی کي روايت کړی دی، ۱۶۳ مخ .

[۲] د التّکوير سورت، ۷ آيت .

[۳] دغه اثر ابن نَحاس په تنبيه الغافلين عن أعمال الجاهلين کي نقل کړی دی، ۱۴۲ .

[۴] دغه اثر ابن الجوزي په ذمّ الهوی کي روايت کړی دی، تېره حواله .

[۵] تېره حواله .

**یادونه : دغه اثر یو ځل په تغیر سره د لږ الفاظو مخکې هم تېر سو .**

**(۱۵) له (حضرت) فُضیل بن عیاض رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ څخه روایت دی، وایي : که لواطت کوونکی د باران په هر څاڅکي غسل وکړي (او توبه نه پر وباسي) ؛ نو بیا به هم له الله (تعالی) سره په داسي حال کي مُلاقي سي چي بدن به یې مردار او جُنُوب وي[۱] .**

## ملوط به په قبر کي د شیطان په بڼه مسخه کیږي

**(۱۶) له (حضرت) علي کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ څخه روایت دی، وایي : څوک چي خپل ځان یو کس ته د دې لپاره تیار کړي چي لواطت ورسره وکړي ؛ نو دا کس به الله (تعالی) د ښځو په شهوت اخته کړي او الله (ربّ العِزت) به یې په قبر کي تر قیامته شیطان وګرځوي[۲] .**

**فایده : په اثر کي مراد له شیطان څخه د شیطان هغه خپل اصلي شکل دی کوم چي په دُنیا کي یې ښکاره کړي ؛ نو ټول مخلوق به لعنت پر وایي او دا ډېر افسوس دی د هغه چا لپاره چي په دې مرداره او بدنمایه بڼه واوړي او ملوط به هم دغه بدشکل ته په قبر کي واوړي ؛ نعوذُ بالله مِنْهُ .**

## لوطي به په قبر کي د سرکوزي په بڼه مسخه کیږي

**(۱۷) له (حضرت عبد الله) ابن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی، وایي : کوم لُوطي چي بې له توبې مړ سي ؛ نو دی به الله (تعالی) په قبر کي د خنزیر په بڼه مسخه کړي[۳] .**

[۱] تېره حواله .

[۲] دغه اثر حافظ ذهبي په کتاب الکبائر کي نقل کړی دی، ۶۶ مخ .

[۳] دغه اثر هم حافظ ذهبي په کِتاب الکبائر کي نقل کړی دی، ۶۳ مخ .

**فایده :** څرنګه چي ملوط په قبر کي د شیطان په بڼه کیږي ؛ نو لُوطي به د سرکوزي په بڼه سي او د سرکوزي شکل هم په بدوالي کي د شیطان تر بڼې کم نه دی، صرف سرکوزی له جِسماني مخلوقاتو څخه دی او شیطان له رُوحاني مخلوقاتو څخه او دا دواړه په خپلو جنسو کي بد شکلونه دي ؛ إنّالله، وإنّا إليه راجعُون .

**د لوطي او ملوط د بڼو مسخه کولو حکمت :** لوطي ؛ ځکه د سرکوزي په بڼه مسخه کیږي چي لواطت کول هم د سرکوزي عمل دی، که تاسي لیدلي وي ! سرکوزی په بل سرکوزي پسې وي او په زور، یا خوښي لواطت ورسره کوي، لکه څرنګه چي د حیواناتو په وډیوګانو کي دا په ډاګه ده او ملوط ؛ ځکه د شیطان په بڼه مسخه کیږي چي بل ته دُبره ورکول او ځان دې ته تیارول چي لواطت ورسره وسي د شیطان عمل دی ؛ ځکه مخکي دا خبره تېره سوه : لومړی مخلوق په نړۍ کي چي لواطت ورسره سوی دی ؛ هغه ابلیس لعین دی کوم چي د قوم لوط په یو باغ کي یې په لومړي دوره کي یو سپین ږیري ته یې ځان د یو ښایسته هلک په بڼه کړ او هغه لواطت ورسره وکړ ؛ نو په دې وجه به ملوط هم په قبر او برزخي ژوند کي د شیطان په بڼه مسخه سي ؛ دا د لوطي او ملوط د مسخي حکمت او وجه وه‌آه ! .

## په آخرت کي د مُساحقې او مُساحقت ورسره کېدونکي ښځي سزا

(۱۸) په ځینو قولونو کي له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه نقل سوي دي، وایي : هر کله چي یوه ښځه پر بلي ښځي (د شهوت پوره کولو لپاره) سپره سي ؛ نو الله (تعالیٰ) یوې فرېشتې ته امر وکړي چي ته ولاړه سه ! (د دې ښځو په دوږخ کي) دا ور کمیس ؛ دا ور زغره او دا ور موزې ورته جوړي کړه، بیا پر دغو ټولو د

اور الغه راوګرځوه ! چي له لرمانو څخه ډکه وي[1] . [سبحان الله ! څومره غټه سزا ده] .

**د اثر تکمله :** نو دا فریشته داغسي وکړي، لکه څرنګه چي الله تعالی امر ورته کړی وي او کله چي قیامت سي دا ښځي چي لواطت، یعني : مُساحقت یې سره کړی وي ؛ هغه دا اور کمیس، زغري او موزې واغوندي د الله تعالی په امر سره او په دې سخت او دردناک عذاب کي مُبتلا سي ؛ إنّالله، وإنّا إليه راجعُون .

او پوه سه ! په دې چي دا عذاب د هغي ښځي لپاره تیاریږي چي هغه د مُساحقت عمل وکړي، بیا توبه نه پر وباسي، هو ! که په اخلاص توبه وباسي ؛ نو دا عذاب نه ورته رسیږي .

## لوطي او ملوط بې له توبې له جنابته نه سي پاکېدلای

(۱۹) ابن الجوزي رحمة الله علیه په خپل سند سره روایت کوي، وايي : که لواطت کوونکی او لواطت ورسره کېدونکی د دریاب ټولي اوبه پر بدن واچوي ؛ نو تر هغه وخته بې بدن له جنابته پاک نه سي تر څو چي توبې یې ایستلې نه وي[2] .

**یادونه :** دغه اثر دوه ځله په تغیر سره دلږ الفاظو مخکي تېر سوی دی .

**د لوطي د سزا په هکله د پښتنو یوه وینا :** ځینو پښتنو له ځینو ناخبرو ملایانو داسي نقل کوي چي : لوطي که پر پخه خښته ودریږي، بیا اوبه پر ځان په وار وار توېوي تر څو خښته سولېدلې نه وي او ویلي سوې نه وي ؛ نو تر هغو لوطي له جنابته نه پاکیږي .

ما چي کله دا واورېدله ؛ زه ډېر په اریانتیا کي سوم ! ځکه چي څه کتابونه ما

---

[1] دغه اثر تر هد ـ ې ځایه أبي الليث سمرقندي حنفي په قُرّة العيون ومُفرح قلب كُلّ محزون کي نقل کړی دی ، ۵ مخ .

[2] ذمّ الهوى د ابن الجوزي، ۱۶۲ مخ .

کتلي دي، يا مي په دې باب څومره څېړنه کړې؛ نو دا خبره مي نه ده پکي ليدلې، بلکي ما په ډاګه کړه چي دا يو تحذيري (د بيري) او موضوعي (له ځانه جوړه سوې) روايت دی او خبره بالکل داسي نه ده چي لوطي به پر پخه خښته دريږي او دی به پر ځان اوبه تويوي او تويوي، بيا به دی له جنابته پاکيږي، سمه او له شريعت سره ورته خبره دا ده چي کله لوطي، يا ملوط غسل وکړي او بيا دی په اخلاص والله ربّ العزت ته توبه وباسي؛ نو بس سم دستي د ده توبه قبليږي او په دې کي هيڅ شک نسته؛ ځکه دا په صحيح روايتونو په ډاګه ده، لکه څرنګه چي څو ځلي دغسي روايتونه تېر سوي دي آه!.

(۲۰) او ځينو امامانو رَحِمَهُمُ اللهُ ويلي دي چي له نظره يې دا وينا څرګنديږي: که دوه نارينه لوطيان، يا دوې ښځې مُساحقياني کومو چي توبه نه وي ايستلې د ټولو دريابو اوبه پر ځانو توی کړي؛ نو تر هغو بې بدنونه له جنابته څخه پاک نه سي تر څو چي يې الله تعالی د دوږخ په اور سره پاک نه کړي.
هو! که توبه وباسي؛ نو بيا پر دوی هيڅ عذاب نسته! والله تُوّاب التّائبين.

## په دوږخ کي به د لوطي او ملوط ځانګړي اندامونه په اور سره بدليږي

(۲۱) په ځينو قولونو کي د ځينو بزرګانو رَحِمَهُمُ اللهُ له نظره معلوميږي چي: الله جَلَّ جَلالُهُ به لواطت کوونکي ته په دوږخ کي له اُوره ځانګړی اندام ورجوړ کړي او له دې څخه به پر لوطي سخت عذاب تېريږي او لواطت ورسره کېدونکي ته به له اوره دبره ورجوړه کړي چي له دې څخه به پر ملوط سخت عذاب تېريږي.

**فايده**: په دې وينا کي دا په ډاګه سوه چي د لواطت کوونکي تناسلي اندام به په دوږخ کي په اور سره بدليږي او د لواطت ورسره کېدونکي دُبره به د اور په دبري سره بدليږي؛ ځکه دوی خو په دنيا کي دا بدفعلي ځانو ته روا کړې وه؛ نو الله تعالی به يې په آخرت کي په سوره اور سره وربدله کړي او په دې کي هيڅ شک

نسته چي د فاعل او مفعول کارول سوي اندامونه به په اور سره بدلیږي ؛ ځکه یوې خوا ته که وګورو ! الله ﷻ پر هرڅه قادر دی ؛ نو د قیامت په ورځ به لوطي، یا ملوط ته په دوږخ کي د هغوی د عمل په ډول سزا ورکوي او بلي خوا ته که وګورو ! په دې موجوده دنیا کي که یوه اوسپنه، یا ډبره او یا بل داسي شی په اور کي کښېښودل سي او بار بار اور پر بل وي ؛ نو هغه اوسپنه، یا هغه ډبره او یا هغه شی خپل سوره سکروټه سي ؛ نو لوطي، یا ملوط چي ټول وجود یې د دوږخ په اور کي وي او په بار بار اور وربانديي بلیږي ؛ څرنګه به یې تناسلي کانال او دبره د اور په ډول نه ګرځي ؟! بلکي خامخا به په اور سره بدلیږي او د اور په بڼه به کیږي او له دې څخه به پر دوی درد او خوږ تېرېږي ؛ نعوذ بالله مِنْه .

## د قیامت په ورځ به د لوطیانو هیڅ مرستیال نه وي

(۲۲) د یو بل بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ له نظره معلومیږي : په دوږخ کي به د اور فریښتې وي او دوی به لوطیانو او زانیانو ته مُختلف ډول عذابونه ورکوي ؛ د اور په تابوتونو کي به یې بند کړي او د اور ډنډې او سوټیان به یې په لاسونو کي نیولي وي، بیا به یې ځني راوباسي او دوی به پر مخانو، بغلونو، تناسلي اندامونو او دبرو وهي او د دوی به هیڅ مددګار او مرستیال نه وي چي له رنځو څخه یې خلاص کړي[1] .

سبحان الله ! څومره لوی عذاب دی چي یوې خوا ته دوږخ سي او بلي خوا ته خپله له اوره جوړي سوي ډنډې او سوټیان سي ؛ الله ﷻ دي مو په خپل بې پایانه فضل سره ځني وساتي ؛ آمین .

## د قیامت په ورځ به د لوطیانو ډېره بده بدبویي ځي

---

[1] دا ډول دغه قول ما په خپل کتاب الصّراحة بذمّ اللواطة کي په تغیر سره د لږ الفاظو هم نقل کړی دی او هغه مي په خپله مجموعه کي غوره کړی دی چي اوس یې زما سره چتل نویسه پرته ده ! یعني : (مجموعة رسائل الفیضون المُنتخبة مِن جواهر الفُنُون) ۱ ټوک، ۱۰۰ او ۱۰۱ مخونه .

**(۲۳)** او د بل بزرګ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيه له نظره معلومیږي : لوطیان چې کله له قبرونو څخه راپورته سي ؛ نو د فرجونو به يې ډېره ناوړه بدبويي ځي تر دې چې د محشر خلګ به ځني په عذاب وي او دوی به ډېر سخت غمجن وي، دا افسوس به کوي او وايي به : کاشکي ! موږ هغه يو ګړی خوندونه د بدفعلۍ نه وای څکلي ؛ اوس به موږ په عذابونو کي نه وای ! بیا به خُدای تعالی فرِشتو ته امر وکړي چې : دا دوږخ ته وروغورځوئ ! او تر هغه وخته به په دوږخ کي وي تر څو چې د الله تعالی خوښه وي[1].

## د لوطیانو او مساحقیانو پر حال افسوس دی !

**(۲۴)** او په آخِر کي ما دا ویلي دي : ایا دا فکر فاعل، یا مفعول به نه سي کولای ! چې زه خپل هَمېشه ژوند ولې په عذاب سره بدلوم ؟! ایا دا فکر نه سي کولای ! څه به کوي دا خوار او غریب پر میدان حشر، کله چې د خدای تعالی په حُضُور کي ودریږي ؛ نو دا غریب به څه ځواب ورکوئ ؟! او بیشکه پر خدای تعالی خو د ده هیڅ عمل نه سي پټېدلای ؛ ځکه دی خو د ده پالونکی دی او مالک يې دی ؛ نو عمل به يې څرنګه پر پټ سي !؟ لږ دي له خپل ځان سره فکر وکړي چې دا زه څه فعل کوم ؟! او که له ځانه سره لږ فکر وکړي ؛ نو دا بالکُل امکان لري چې له دې ناوړې بدفعلۍ څخه دي لاس واخلي او تر مرګه به توبه ځني وباسي او که دی په خپله خوله دغه اقرار کوي چې: دا عمل زما څخه نه سي پاتېدلای ! نو دی خو دي لږ د خپل پیغمبر حضرت مُحمّد صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم وخبرو ته وګوري او لږ دي وشرمیږي ؛ ځکه که څوک یوه ذره شرم لري ؛ نو دا به نه ووايي چې : دا زما څخه نه سي پاتېدلای ! دا خو هیڅ امکان نه لري ؛ څنګه نه سي پاتېدلای ! عزم (همت) او ټینګ قصد دي وکړي چې پرېږدي ؛ ځکه عزم ډېر لوی شی دی، ځینو عربو ویلي دي : "عَزمُ الرَّجُلِ فَوقَ الجَبَل"، یعني : د سړي همت تر غره هم

---

[1] الصّراحة بذمّ اللواطة، ۱ توک، ۱۰۱ مخ.

بالا دی ؛ ځکه غړه ته چې همت د هغه دليري کولو وکړي ؛ نو غړ به هم له لاري شخه ليری کړي او پښتنو ځومره ښه متل کړی، وايي : غر که هر ځومره جګ سي ؛ نو پر سر يې لاره تېره سوې ده او که لوطي، يا ملوط، يا مساحقه او يا مساحقيه دا همت وکړي چې زه به دا خپل بد عمل پرېږدم ! نو دا بالکل امکان لري چې ځني پاته سي او بايد چې پر خپل حال په زرګونو افسوسونه او ژړاوي وکړي او توبه دي وباسي، د خپلو مشرانو او اولنو خبرو ته دي وګوري چې د همېشه لپاره يې د عبرت کرښې په زړه کي پاته سي او د هغو په لامل له دې پليتي کړني لاس واخلي .

يادونه : تر دې ځايه هغه قولونه (ويناوي) پای ته ورسېدلې چې د لواطت او يا د مساحقت د اُخروي سزاوو ذکر پکي راغلی وو او د ټولو مقصد دا وو چې د لواطت کوونکي او يا د لواطت ورسره کېدونکي نارينه، يا د مساحقت کوونکي او يا د مساحقت ورسره کېدونکي ښځي عذابونه به په دوږخ کي سخت وي .
او وروسته به د لواطت په اړوند نور پاته بحثونه بيان سي چې له خپلي ښځي سره لواطت کول ځرنګه دئ ؟! ايا په جنت کي د لواطت شهوت پوره کېدلای سئ ؟! او داسي نور کوم چې تر دې ځلورمي برخي تړاو لري ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق..

## - ايا له خپلي ښځي سره لواطت کول روا دئ ؟

له خپلي ښځي سره لواطت کول په اتفاق سره د جمهورو عُلماؤ ناروا دی او د ځلورو سره مذهبو پرېکړه دا ده چې : کوم کس يې له خپلي مېرمني سره کوي او روا يې ګڼي ؛ نو دا کس کافر دی چې قتل يې روا دی او تقريبا يوولس حديثونه روايت سوي چې له مېرمني سره لواطت کول حرام او ناروا دي او په ځينو کي دا راغلي چې : کوونکي يې کافر دی، يعني : په هغه صُورت کي چې دی يې روا ګڼي او هغه حديثونه ټوله تقريبا په معنی کي سره نژدې دي ؛ نو مکررولو ته يې

څه ضرورت نسته .

يو په هغو حديثو کي جامع روايت [حديث] دا دئ : عن أبي هُريرة ﷺ، قال : قال رسول الله ﷺ : (مَنْ أَتَى حَائِضًا، أو إِمْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا، أَوْ كَاهِنًا، فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُوْلُ؛ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ ﷺ)[1] .

ژباړه : له (حضرت) أبي هُريره ﷺ څخه روايت دی چي : نبي (كريم) ﷺ وفرمايل : څوک چي حيضې ښځي ته (د جماع کولو لپاره) راتګ وکړي، يا ښځي ته د شا له خوا څخه (د لواطت کولو لپاره) راتګ وکړي او يا کوډګر (يا ونُجُوم ګر) ته راسي او د هغه د خبري تايد وکړي ؛ نو دې کس له هغه څه (کتاب الهي) څخه انکار وکړ کوم چي پر (حضرت) مُحمّد ﷺ راکښته سوی دی .

يعني : د قرآن شريف حُکم يې نه ومانه، بلکي اعراض يې ځني وکړ او کافر سو په هغه صُورت کي چي روا يې وګڼي يو د دغو کارونو .

او نور له دې څخه ما سوا حديثونه هم روايت سوي دي د کومو چي معنا يوه ده .

او ټوله پر دې دلالت کوي چي له مېرمني سره لواطت کول ناروا دي .

او بل په طبعي ډول الله ربّ العزت له مېرمني سره د شهوت پوره کولو لپاره لواطت کول ناروا کړي دی ؛ ځکه دُبره د ګنګيو ځای ده او د ښځي لذت (خوند) نه پکي حاصلېږي، بلکي تکليف ورته رسيږي او دا ډول که خپلي ميرمني ته د حيض په حالت کي راتګ وکړي ؛ نو تکليف ورته رسيږي او سم لذت نه ورته حاصلېږي .

او دا يوه خبره په تجربو رسېدلې : هر هغه کس چي له مېرمني سره يې پر لواطت کولو همېشتوب کړی ؛ نو بچی يې داسي پيدا سوی دی چي په هغه کي د قوم

[1] دا حديث په عينو دغو الفاظو سره امام أحمد په مُسند کي روايت کړی دی، امام أبي داود، نسائي او ابن ماجه لږ بيا په تغير سره روايت کړی، لکه څرنګه چي په الجامع الصّغير د سيوطي کي ذِکر دي، ۲ توک، ۱۵۹ مخ .

لُوط د عملونو څه خوږونه وي، يا له سري لُوطي وي او يا له لواطته سره شوق او مينه لري ؛ مطلب دا چي دا ډېر لوی تاوان دی چي انسان له خپلي ميرمني سره لواطت کوي او توبه نه پر باسي .

او په يو روايت کي له حضرت عبد الله بن عباس ﷺ څخه نقل سوي دي، وايي : (الله تعالی او د ده رسول مُحمّد ﷺ هغه کس منع کړی دی چي وښځي ته د حيض په حالت کي راتګ وکړي او هر کله چي د حيض په حالت کي له خپلي مېرمني سره کوروالی وکړي ؛ نو له ښځي څخه يې نرښځی پيدا سي)[1]

.

او دا خبره هم په تجربو رسېدلې ده : هر هغه کس چي له مېرمني سره يې د حيض په حالت کي کوروالی کړی دی ؛ نو له هغې څخه يې داسي بچی زېږېدلی دی چي څه خويونه د نرښځي پکې وي، يا په ځينو حالتونو کي نرښځی ځني وزېږي، سم هلکۍ يا سمه نجلۍ نه وي . الله تبارک وتعالی دي موږ او تاسي ټولو مسلمانانو ته له دې ناوړي بد فعلۍ څخه که له مېرمني سره لواطت کول دي، يا په حيض کي کوروالی ورسره کول دي ؛ پناه راکړي ؛آمين .

**په پای کي يوه مُهمه يادونه : ځيني د حِکمت او طِب کتابونو دا خبره روارې،**

---

[1] لکه څرنګه چي دغه اثر د حضرت ابن عباس ﷺ علامه طرطُوسي ﷺ په (تحريم الفواحش) کي په خپل سند سره روايت کړی دی او علامه شبلي ﷺ په (آکام المرجان في أحكام الجان) کي ځني نقل کړی دی او پوره باب يې ورباندي اينبی او هغه باب توله په لاندي ډول دی :

الباب الرّابع والثّلاثُون : في أن المخنّثين أولاد الجن

قال الطّرطُوسي في كتاب (تحريم الفواحش) : باب مِنْ أيّ شيءٍ يكون المخنث ؟! حدّثنا أحمد بن محمد، حدثنا أحمد بن محمد القاضي، حدثنا إبن أخي إبن وهب، حدّثني عمّي، عن يحيى، عن إبن جُريج، عن عطاء، عن إبن عبّاس ﷺ، قال : (المُخنّثُون أولاد الجن)، قيل لإبن عبّاس : كيف ذلك ؟ قال : (إنّ الله عَزّ وجَلّ ورسوله ﷺ نهيا أنْ يأتي الرّجُل إمرأته وهي حائض، فإذا أتاها ؛ سبقه إليها الشّيْطان، فحملت ؛ فجاءت بالمخنث)، والله أعلم ؛ إنتهى .

كذا في آكام المرجان في أحكام الجان، ص : ۹۱ .

وايي : كه څوک له خپلي مېرمني سره په دې ډول كوروالی كوي چي پړمخي يې پرېباسي، لواطت نه ورسره كوي ؛ مګر خپل تناسلي كانال د دې پر فرج وربرابر كړي او پړمخي كوروالی ورسره كوي، بيا وروسته له دې كوروالی يې دا بلاربه سي ؛ نو بچی به يې چېچک پيدا سي .
دا خبره ېيښي تجربه سوې ده ؛ بايد چي موږ او تاسي لږ څه فكر پكي ووهو ! الله ربّ العالمين دي مو په خپل فضل سره ځني وساتي ؛ آمين .
او له خپلي ښځي سره پړمخي كوروالی كول له آدابو څخه خلاف كار هم دی .
الحمد لله د كوروالی آداب ما تېرو له په يوې بلي رسالي كي ذِكر كړي دي چي هغه (الصّراحة في ذمّ اللّواطة) نوميږي .
او دا خبره په دې ځای كي په دې وجه مُناسبه ده چي ما رواړه – له لواطت سره مُشابهت لري ؛ ځكه لواطت هم پړمخي كيږي آه ! .

**فايده :** اې كتونكې ! او اې ځوانه ! چي له خپلي مېرمني سره لواطت كول داسي ناروا دي چي په هيڅ صُورت يې د رواوالی ثبوت نسته ؛ نو له نورو ښځو او له نارينه ؤ سره خو ېيښي د لواطت عمل كول ناروا دي .

**يادونه :** په دې عنوان او سرليک كي چي كومه موضوع وه ؛ هغه پای ته ورسېده، وروسته به هغه سرليک بيان سي چي د ټول كتاب مقصدونه پكي بيانيږي او هغه "دلُوط عَلَيۡهِ السَّلَامُ د قوم او دلواطت په اړوند نور بد عملونه" دي .
دا عنوان لوستل د هر لوستونكي لپاره ضروري دی، كه هغه نارينه وي، يا ښځينه ؛ لوی وي، يا وړوكی ؛ عالم وي، يا طالب ؛ ځكه چي نن سبا دا عملونه روان دي او يو نه په يوه بانديې نر، يا ښځه، يا لوی، يا وړوكی، يا عالِم، يا طالب، يا پوه، يا ناپوه اخته دی ؛ الله ﷻ دي مو پر حال فضل وكړي ؛ آمين .

## د لوط عَلَيۡهِ السَّلَامُ د قوم او د لواطت په اړوند نور بد عملونه

د لوط عَلَيۡهِ السَّلَامُ قوم چي كومه لويه ګناه كوله چي لواطت وو ؛ نو له هغې څخه

پرته یې داسې عملونه هم کوله چې الله تعالی ته ناخوښه ول او له هغو څخه حضرت عبد الله بن عبّاس ﷺ په خپل یو اثر کې لس ډوله لوطي عملونه ښوولي دي.

قَالَ عَبْدُ اللهِ بِنِ عَبَّاسٍ ﷺ : (عَشْرُ خِصَالٍ مِنْ أَعْمَالِ قَوْمِ لُوْطٍ : تَصْفِيفُ الشَّعْرِ، وَحَلُّ الإِزَارِ، وَرَمْيُ الْبُنْدُقِ، وَالْحَذْفُ بِالْحَصَى، وَاللَّعِبُ بِالْحَمَامِ الطَّيَّارَةِ، وَالصَّفِيرُ بِالأَصَابِعِ، وَفَرْقَعَةُ الأَكْعُبِ، وَإِسْبَالُ الإِزَارِ، أَيْ : إِذَا لَبِسُوهُ، وَحَلُّ أَزْرَارَ الأَقْبِيَةِ، وَإِدْمَانُ شُرْبِ الْخَمْرِ، وَإِتْيَانُ الذُّكُورِ) . قَالَ : (وَسَتَزِيدُ عَلَيْهَا هَذِهِ الأُمَّةُ مُسَاحَقَةُ النِّسَاءِ النِّسَاءَ)[1] .

ژباړه : (حضرت) عبد الله بن عبّاس ﷺ فرمایلي دي : لس خویونه د قوم لوط له عملونو څخه دي : وېښتیان سوځل، [یعني : پر بدن د خپلي دُبري وېښته سرېږه سوځل . قوم لوط هم دغه عمل د دې لپاره کاوه چې لواطت کولو ته ښه چمتو سي]، د لنګ (یا پرتوګ) خلاصول (کښل)، مردکي (د ځمار په ډول) کول، شګي په ګوتو باندي غورځول (کوم چې انسان لارویان پر لاره په وهلي)، په الوتونکي کوتري بازۍ کول، په ګوتو باندي شپېلکۍ وهل، په بجلکو باندي ټکان کول، لنګ ځړول، یعني : چې وایې غوندي، [دلته مراد له لنګ ځړولو څخه د پایڅو اوږدول هم دي ؛ ځکه په اوس زمانه کې د لنګونو پر ځای پرتوګان، یا پتلونان اغوستل کېږي]، د ګرېوان تنۍ خلاصول [د فخر او خیال لپاره، نه د ګرمۍ له وجې څخه]، پر شرابو همېشتوب کول، نارینه ؤ ته (د لواطت کولو لپاره) راتګ کول . (بیا حضرت ابن عبّاس ﷺ) دا وفرمایل : او دغه اُمت به پر دغو فعلو سرېږه داسې فِعل هم کوي چې ښځې به یې وښځو ته (د مُساحقت کولو لپاره) راتګ کوي .

---

[1] دغه اثر حافظ ذهبي رحمه الله په کتاب الکبائر ۶۲ مخ کې او امام هیتمي رحمه الله په الزّواجر ۲ ټوک، ۸۲ مخ کې نقل کړی دی .

دا خو یو قول سو.

په بل قول کي حضرت مکحول نسفي رحمة الله علیه فرمایلي دي: په دې امت د نبي آخر زمان کي لس ډوله خویونه داسي دي چي هغه به د لوط علیه السلام قوم کوله (او هغه لکه): ژاولي ژوول (د وخت عبث تېرولو او تیم پاس لپاره، نه د عذر لپاره چي یو طبیب یې د ژوولو مشوره ورکړې وي)، د ګوتو سرونه په نکروزو سُوره کول (د نارینه ؤ لپاره او د ښځو لپاره پروا نه لري؛ ځکه چي په دې کي د ښځو لپاره زینت دی؛ آه!)، پرتوګ (د فخر او خیال لپاره) اوږدول [چي پایڅې یې پر ځمکه ورسره کشیږي]، په ګوتو باندي ټکان کول، لنګوټه په لوڅ سر باندي بغیره خولۍ یې تړل (او تندی پکي پټول)، د یو لاس ګوتي په بل لا س پوري (د فخر او خیال لپاره) اغوستل [یعني: جار ایستل]، په مچلوغزه باندي (د بې ګټي وخت تېرولو لپاره) ډبري غورځول، شپېلکی وهل (بې له عُذره)، په ګوتو باندي شګي غورځول او لواطت کول[1].

او په بل قول کي له دې شخه علاوه د قوم لُوط نور بد عملونه هم نقل سوي او هغه دا دي: چي قوم لُوط له لواطته پرته نور عملونه هم کوله، له هغو شخه یې یوه ګناه دا وه چي: دوی به په خپل مینځ کي یو پر بل ظلمونه سره کوله؛ په خپل مینځ کي به یې ښکنځل سره کول؛ په مجلسونو کي به یې ډانګ پیلي (یعني: ګوزونه) اچول [لکه نن سبا چي بې ادبه انسانان داسي بدفعلي کوي]؛ په نرد او او سترنج به یې بازۍ کولې [نرد او سترنج یو ډول لوبه ده چي پخوا به باچهانو کوله او اوس هم په ځینو ځایو کي کیږي او د قوم لُوط له بدو عملونو شخه دا وه: چي دوی به]؛ رنګ سوي کالي اغوستل (کُوم چي د وریښمو په رنګ لړلي ول)؛ چرګان به یې سره جنګول؛ په ښکرورو پسو به یې جنګونه سره کول؛ د ګوتو سرونه به یې په نکریزو سُوره کول، [لکه په اوس زمانه کي چي ځیني ځوانان د فخر او خیال لپاره د ګوتو سرونه سُوره کوي او دا بهانې کوي

[1] دغه اثر امام قُرطبي رحمه الله په خپل تفسیر کي نقل کړی دی په حواله د کتاب (اللؤلؤیات) د علامه مکحول نسفي، ۱۳ توک، ۲۲۷ مخ.

چي : کوزده مي وه ! يا خوابښې راغلې وه ! يا ښه خوند راسره کوي، يا به يوه نجلۍ د واده لپاره راباندي عاشقه سي، يا داسي دی ! او داسي دی !) .
همدا ډول د قوم لُوط نارينه ؤ به له ښځو سره (په کارونو، کاليو او سنګارو) کي مُشابهت کاوه ؛ په لارو چارو کي به يې مُسافرو ته تکليف رساوه او پر دې ټولو سربېره يې له الله تعالی سره شريک هم نياوه او دوی (په نرو کي) لومړني هغه کسان دي چي لواطت او مُساحقت يې (په دُنيا) کي خپور کړی دی .
دا تېره اوږده وينا د ځينو څو ويناوو مجموعه ده کوم چي په تفسير د امام أبو عبد الله قرطبي کي ذکر دي[1] .
دا د قوم لُوط هغه عملونه ول چي پر مذکوره لسو پليتو عملو يې سربېره کوله او دا ټوله عملونه په دې اُمت محمّديه کي پيدا سوي دي، لکه څرنګه چي حضرت مُفسر ابن عطيه رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ فرمايلي دي : (په تحقيق سره دا بد عملونه د مُحمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ګناهګارو اُمتيانو کي پيدا سوي دي)[2] .
او په بل قول کي نقل سوي دي چي له مفهوم څخه يې دا خبره رابرسېره کيږي : (دُنيا به تر هغو پوري تېره نه سي تر څو چي [ځيني] خلګ هغه عملونه وه نه کړي د کومو چي د [حضرت] لُوط عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم يې ايجاد کړی وو) .
اوس موږ په مشاهده سره دا عملونه وينو ! چي هر طرف ته دا ګناهونه او بد خويونه خپاره سوي دي او دا هم د يوې وينا له مخي معلوميږي : د قوم لوط ځيني فعلونه دا ول : چي سپي به يې جنګول او په خپل مينځ کي به يې چشمکان سره وهل .
مطلب دا چي دغه دوه فعلونه هم دا دي ښکاره سوي دي چي په ځينو ښارونو کي ځيني خلګ سپي سره جنګوي او ځيني ځوانان په خپل مينځ کي د کونيتوب او داسي د بل غرض لپاره چشمکان سره وهي .

---

[1] وګوره ! د قُرطبي تفسير، ۱۳ ټوک، ۲۲۷ مخ .

[2] تېره حواله .

الله تعالی دې مو په خپل فضل سره ځني وژغوري ؛ آمين، يا إله العالَمين ! .
او د قوم لُوط ټوله عملونه چې سره راټول کړای سي ؛ نو شمېر يې تقريبا اوياوو ته رسيږي او هغه ټوله په راتلونکي ترتيب سره دي :
(۱) لواطت کول . (۲) مُساحقت کول . (۳) زنا کول . (۴) موټ وهل . (۵) په خپل مينځ کي يو پر بل ظلم سره کول . (۶) په لارو چارو کي مُسافر او بې وزله ته تکليف رسول، لکه بد ور ته کتل او داسي نور . (۷) په خپل مينځ کي يو بل ته ښکنځل سره کول . (۸) وريښمين کالي اغوستل . (۹) له مظلوم سره مرسته نه کول . (۱۰) په ګوتو سره (په فخر او خيال باندي) ټکان کول . (۱۱) په بجلکو باندي ټکان کول . (۱۲) د يو لاس ګوتي په بل لاس پوري جارول . (۱۳) د نارينه ؤ لپاره د ګوتو سرونه په نکريزو باندي سُوره کول . (۱۴) له ښځو سره په کارونو، کاليو او سنګارو کي مُشابهت کول [لکه څرنګه چې نن وخت ځيني ځوانان او کشران په لوی لاس د ښځو په شان خپل ځانونه سنګاروي ؛ شونډان سوره کوي ؛ سرونه ښه غوړوي ؛ پيکيان جوړوي او سپينډې لګوي د دې لپاره چې نور ځوانان او مشران راجلب کړي او پر ځانو يې عاشقان جوړ کړي، يا يې لواطت غوندي بد فعلۍ ته يې تيار کړي ؛ فإلی الله المُشتکیٰ] .
او دا خبره دي روښانه وي : نن وخت چې دا کُوم سرونه جوړيږي چې دا فوجي کټ دی، دا فرنګي کټ دی او حمامچي (سر جوړونکی) ويښتيان تر بيړي پوري وروخروي ؛ داسي سر جوړول د شريعت له نګاه څخه ناروا عمل دی چې کوونکی او جوړونکی يې دواړه په ملعونانو کي شمېرل کيږي او نن وخت دا عمل د لواطت لپاره يو لوی لامل ګرځېدلی دی ؛ هوښيار په نيمه خبره هم سر خلاصوي او نور بحث نه اوږدم، رابه سم وخپلي موضوع ته ! .
(۱۵) مرد کي کول[1] . (۱۶) په مچلوغزه باندي ډبري غورځول . (۱۷) په لوڅ

---

[1] مرد کي يو ډول لوبه ده چې اوس هم په ځينو ځايو کي کيږي او زياتره مهالونه يې کوچنيان کوي او له دی سره مُشابه يوه بله بازي هم سته چې هغې ته (بجلۍ) وايي . بجلۍ يو ډول دپسونو او داسي نورو

سر باندي لنګوټه تړل [یعني: بیله خولۍ یې لنګوټه، یالونګۍ تړل]. (۱۸) په مجلس کي ګوز (ډانګ پیلي)، یا پُسکۍ اچول. (۱۹) چرګان جنګول. (۲۰) پسونه جنګول. (۲۱) سپیان جنګول. (۲۲) کوتري کول. او په یو روایت کي راځي: (کوم کس چي په کوترو باندي بازۍ کوي؛ نو تر هغو به مړ نه سي تر څو چي د فقر [نشتوالي] درد وه نه څکي)[1]. (۲۳) ګپي او ملنډې کول. (۲۴) شپیلکۍ وهل (په ګوتو، یا په خوله بې له عذره). (۲۵) د ګوتو په سرونو باندي شکي غورځول. (۲۶) چشمک وهل. (۲۷) په لوړ آواز خندا کول. (۲۸) په نرد او سترنج سره بازۍ کول. (۲۹) د شرابو پر چیښلو همېشتوب کول. (۳۰) حمام ته بیله لنګه (یا بې پرتاګه) ورننوتل. (۳۱) په تول او ترازو کي کمبوتي کول. (۳۲) په نشه آورو شیانو باندي ځان نشه کول، یا مستول [لکه په اوس زمانه کي چي نسوار، سګرېټ، بېړۍ، چرس، هیرویین او داسي نوري نشې کارول کیږي او دا ټوله حرام دي]. (۳۳) سمر کول [یعني: د شپې د ماخوستن تر لمانځه وروسته ګپ شپ اوږدول]. (۳۴) د پردیو خلکو کورونو ته کتل. (۳۵) په خیال او فخر سره تګ کول. (۳۶) څارویانو ته د شهوت پوره کولو لپاره راتګ کول. (۳۷) ګوتمنډې کول. (۳۸) له حیضې، یا نفاسې ښځي سره کوروالی کول. (۳۹) له لغړزنو هلکوانو سره د خوند لپاره کښېنستل. (۴۰) ږیره کښل، یا خریل [او په یو روایت کي نقل سوي دي: چي قوم لُوط پر مخانو ږیره نه پرېښوول)؛ ځکه دوی له لغړزنو سره مُشابهت کوي او چي کله دوی ورسره کښېنستل؛ نو لغړزنو به یې په ناسته او ولاړه خوا نه بدول. او بل دا چي دوی په ږیرو خریلو باندي لغړزني هلکوان د لواطت غوندي

څارویانو د ښېبو د هډوکو په سرونو کي هغه مردکیېزه هډوکي دي چي دوی د حرکت پر مهال خپلي ښېې پکي زغوي او کتوي؛ نو د بجلې او مردکي بازي د کوچنیانو لپاره پروا نه لري؛ مګر د لویانو لپاره بې مروته او مکروه کار دی، لکه څرنګه چي د دې مکروه کار یادونه ما په خپله موسوعه "شهاب القُلوب في ذمّ الذّنوب" کي کړې ده؛ والحمد لله ﷻ.

[1] دا یو اثر دی چي حافظ ذهبي رَحِمَهُ الله په خپل کتاب الکبائر کي نقل کړی دی، وګوره! ۶۳مخ.

پلیت عمل ته تیارول او همداغه بد چم اوس په ځینو ځوانانو کې پیدا سوی دی . (۴۱) ډوول (یا ډَریه) وهل [بېله واده، یا غزا چې دښمنان په وېرول سي، یا بېله روژې چې خلک د پېشلمي لپاره راپورته سي] . (۴۲) له لغړزنو سره د خوند لپاره روغبړ کول . (۴۳) شیرین بحث کول [او شیرین بحث داوس زمانې په اصطلاح هغه خبرو ته ویل کیږي : چې دلغړزنو، یا نجونو بحث پکي کیږي او داسي کیسې، یا خبري کول اتفاقا حرامي دي چې انسان لواطت، یا زنا ته مایلوي ؛ نو له دې څخه په بشپړ توګه پرهېز کول په کار دی . د شیطان لعین په وسوسو او دوکو ؛ باید انسان دوکه نه سي] . (۴۴) برېتونه اوږدول [په داسي توګه چې دانسان خوله پکي پټه سي ؛ نو داسي اوږدول یقینا حرام دي او سرونه اوږدول یې صرف مجاهدینو ته روا دي ؛ ځکه په دې سره د خدای تعالی دښمنان بېره محسوسوي آه !] . (۴۵) لستوڼي نغښتل (د فخر او خیال لپاره) . (۴۶) د ګرېوان تڼۍ خلاصول (د فخر او خیال لپاره او نه د ګرمۍ په وجه باندي) . (۴۷) چکچکي کول (بې له واده، یا یوې خبرتیا) . (۴۸) بې وېښته پښې مچمي په پښو کول [دا یو داسي مچمي وې چې پخوا به د فخر او خیال لپاره په پښو کېدلې ؛ مګر اوس د دې پر ځای ډول ډول د فخر او خیال لپاره چوټې او بوټونه په پښو کیږي . مطلب دا چې د فخر او خیال لپاره په پښو کول د قوم لوط له عملونو څخه یو عمل دی آه !] . (۴۹) نوکان سوره کول (د نارینه ؤ لپاره بیا دا عمل ډېر بد ښکاري) . (۵۰) پر یو چا توهکل . (۵۱) پر یو چا پسخند وهل . (۵۲) د نورو پردیو مخ ته له مېرمني سره کوروالی کول . (۵۳) په لغړزني (یا په نرښځي، یا پردۍ ښځي) باندي خپل ځان چاپي کول [د خپل شهوت سړولو او د شوق لپاره ؛ نه د بدن د راحت او هوساګلوۍ لپاره او په ځینو ځایونو کي دې ته (مساج) وایي چې د چاپي کېدلو پر وخت غوړي پر بدن تویوي او دا لوطي عمل دی چې نن وخت ځیني امیان او ملایان داسي کار کوي، هو ! د خپلي ښځي، یا د خپل ملګري او یا د داسي چا په لاس د ځان چاپي کول چې د انسان شهوت نه ورته راپاریږي ؛ پروا نه لري، هو ! که د شهوت خبره وي ؛ نو بیا

له کراهته خالي کار نه دی آه !] . (۵۴) د لغړزني د شوق لپاره (په مجلس، يا داسي يوه معامله کي) سورنا وهل او شوق يې کول . [او بېشکه چي د لغړزنو شوق او عشق مجازي دی چي هيڅ حقيقت نه لري ؛ بايد له دې لُوطي عمله مُحمّدي اُمت په بشپړه توګه پرهېز وکړي] . (۵۵) لغړزنی په نکاح کول [يعني: واده ورباندي جوړول او اوس هم په ځينو ځايو کي پر ښايستو لغړزنو نکاحوي تړل کيږي][1] . (۵۶) په بازار کي په داسي توګه ګرځېدل چي ورنونه ښکاره وي [او نن په زياترو غربي هيوادو کي ښځي او نارينه په لوڅو پنډيو باندي بازارونو ته راوځي او فخر ورباندي کوي] . (۵۷) په لاره کي پر يو لاروي ډاکه اچول او غلا ځني کول . (۵۸) په قصده سره پر يو چا بې له عُذره کار درلودل [لکه : پر څټ وهل ؛ نوکاره په جګول ؛ په خوله باندي بدي پېښې ورته کول او داسي نور] . (۵۹) په ژاولو باندي د ژوولو پر مهال ټکان کول (لکه نن سبا چي ځيني ښځي يې باندي کوي] . (۶۰) په لارو چارو کي، يا تر ونو لاندي، يا په ويالو او نهرونو کي او يا داسي نور د ضرورت په ځايونو کي غټ اودس ماتی کول . (۶۱) تر اودس ماتي مخکي عورت لوڅول (يعني : پرتوګ، يا پتلون او لنګ کښل) . (۶۲) بېله ضرورته د يو انسان عورت ته کتل . (۶۳) عورت بې له عذره پرديو ته لوڅول . (۶۴) او په پای کي د قوم لُوط له عملو څخه دا وه چي : يو د دوی به د خلکو په وړاندي پر خپل عورت لاس واهه او سره موړی به يې ؛ د دې لپاره چي لواطت ته يې تيار کړي [او نن وخت هم

[1] او په (جامع النّوادر) کي ما وليدل چي ليکوال يې حواله و(الإشاعة في أشراط السّاعة) کتاب ته کړې وه، وايي : په يو روايت کي راځي :
(يَأتي على النّاس زمانٌ يُغارُ فيه على الغِلْمان كما يُغارُ على الجَوَارِي العَواتِق). يعني : پر خلکو به يوه داسي زمانه راسي چي په هغه کي به پر لغړزنو داسي غيرت [او جنګ] کوي، لکه څرنګه چي پر ځوانو پېغلو غيرت کوي . او په بل روايت کي مي داسي وليدل کوم چي علامه متقي هندي په کنز العُمال کي راوړی دی : (لا تقومُ السّاعَة حتّى يتَغاير عَلَى الغُلام كمَا يتَغاير علَى المرأةِ) .
کنز العُمّال، حديث شمېره (۳۸۵۹۸) .
مطلب دا چي د لغړزنو حيثيت به د ځوانو پېغلو په شان وګرځېږي ؛ إنّا لله، وإنّا إليه راجعُون .

ځیني کسان بیله عذره د خلکو په وړاندي خپل عورت موږي او شرم نه کوي] ؛ فإلى الله المُشتكىٰ .

دا د قوم لُوط هغه ټوله عملونه دي چي دوی په اخته سوي ول، څومره چي زما فیضون بنده په وسه وه ؛ نو هغه د دوی عملونه او دوی ته منسوب عملونه مي ټوله په دې څو پاڼو کي دلوی الله ﷻ په توفیق سره راټول کړه ! د دې لپاره چي د دوی ټوله خویونه او عملونه موږ وپېژنو او ځانونه ځني وساتو او که کوم یو په اخته وي ؛ باید چي توبه ځني وباسي . او دا عملونه په عربي ژبه په مختلفو کتابو کي سره پاشلي ول او لاندي یې حوالې ولولئ ![1] .

یادونه : د تېرو ټولو د قوم لوط د عملونو حوالې په حاشیه کي ذکر سوې ؛ اوس مطلب دا دئ : کوم یو ګران لوستونکی چي په یو خوی له خویونو څخه د قوم لوط او یو عمل له عملونو څخه د قوم لوط اخته وي ؛ نو ژر تر ژره دي توبه ځني وباسي

او وروسته به د موټک، زنا او د لواطت د لاملونو بیان وسي ؛ بالله التّوفیق، وبیده أزِمّة التّحقیق .

## د لواطت، مُساحقت، زنا او موټ وهلو لاملونه

په تېر بحث او موضوع کي د قوم لُوط د ټولو عملونو بیان وسو چي ځیني په

[1] کنز العُمال (۴۵۱۷)، (۱۳۰۱۴)، (۴۳۸۲۹)، (۴۴۰۵۸) حدیث شمیرې. الکنى والأسماء د دَولابي (۳۲۳) حدیث شمېره . المحاسن والمساوئ او د قُرطبي تفسیر ؛ د لُوط عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم ترکیسې لاندي یې تفسیر وګورئ ! همدا ډول تفسیر الدُرّ المنثور د سیوطي، تفسیر د بغوي، تفسیر الکشف والبیان او تفسیر رُوح البیان ۶ ټوک، ۵۹۲ – ۵۹۳ مخونه . الوسائل في معرفة الأوائل د سیوطي، المدخل د عبدري، المُستطرف د ابشیهي، شرح مُسند أبي حنیفه، تنبیه الغافلین عن أعمال الجاهلین د ابن نُحاس، الکبائر د حافظ ذهبي ۶۲ – ۶۴ مخونه، الزّواجر د فقیه هیتمي ۲ ټوک، ۱۹۳ – ۱۹۴ مخونه او بِحار الأنوار د علامه مجلسي ۷۹ ټوک، ۷۷ – ۱۳۰ مخونه .

هغو کې غټ او ځيني پکې واړه ګناهونه ول[1] .
او ورپسې به هغه علتونه او لاملونه چې انسان لواطت، يا مُساحقت، يا زنا او موټ وهلو ته په باعثه کيږي – هغه به بيان سي ؛ ځکه چې د يو شي لامل وانسان ته مُهيا نه سي ؛ نو هغه ته بيا اقدام هم نه سي کولای او نه يې د شوق او ذوق تصور کولای سي، مطلب دا چې د سببونو بيانولو لويه ګټه به دا سي که يې انسان وپيژني او ځان ځني وساتي ؛ نو هغه به له لُوطي عملونو او تناسلي ګناهونو څخه ژغورلی وي او دا بحث مي په دې وجه د قوم لُوط له بدو عملونو څخه وروسته دستي راوړ ! چې د قوم لُوط هم هغه لوی او بدترين ګناهونه يا لواطت وو، يا مُساحقت وو، يا زنا وه او يا موټ وهل وه او په دې وجه چې لوستونکی د دغو عملونو لا ملونه هم وپيژني ؛ ځکه چې لاملونه يې وپيژندل سي ؛ نو ځان ژغورنه هم ځني آسانه کيږي .
او هغه لاملونه ټوله په لاندي ډول سره دي :
(۱) هلک، يا نجلۍ ته کتل ؛ هغه که د مکتب وي، يا داسي بل ځای ؛ خو فرق يې په فتنې کي نسته او له دې کتلو څخه مراد بدنظري ده او د بدنظرۍ پوره تفصيل په لومړۍ برخې کي تېر سو ؛ والحمد لله تعالىٰ .
(۲) يواځې کښېنستل . (۳) د لغړزنو هلکوانو سره شناخت ساتل . (۴) فحش فلمونه کتل . (۵) په انټرنېټ باندي لوڅ پوڅ تصويرونه کتل . (۶) ډيش، يا کېبل کتل[2] . (۷) فحش روزنامې[3] کتل . (۸) په رغبت سره شيرين بحث

---

[1] د قوم لُوط عملونه چې ځيني پکې غټ او ځيني پکې واړه ګناهونه ول ؛ د دې د فرق د وضاحت لپاره زما جامع کتاب "موسوعة المناهي الإعتقادية والعملية والقولية"، يعني : (شِهَاب القُلُوب في ذَمّ الذّنوب) ته مُراجعه وکړئ ! په هغه کي تاسي د ټولو اعتقادي، فعلي او قولي منهياتو پېژندنه کولای سئ ! والحَمدُ لله المَوفّق والمُعين .

[2] ډيش او کېبل د يهودو او نصارؤ هغه دوې آلې دي چې د مُسلمانانو د ګمراه کېدو لپاره يې نن جوړي کړي دي .

[3] فحش روزنامې : يعني هغه اخبارونه او ورځپاڼي چې د ښځو انځورونه پکې وي .

کول او د شیرین بحث تعریف مخکي د قوم لُوط په اعمالو کي تېر سو. (۹) په یوائځي والي کي له هلک، یا یوې نجلۍ سره کښېنستل. (۱۰) د هلک، یا نجلۍ په ښایست کي فکرونه کول. (۱۱) د شپې د خوب پر وخت له یو انسان سره د میني او عشق په جُوش کي بیدېدل. (۱۲) په موبایل، یا ټیلیفون، یا داسي بلي آلې باَندي لوڅ پوڅ انځورونه، یا وډیوګاني کتل. (۱۳) یا فحش خبري کول، یا اورېدل. (۱۴) په لارو چارو کي د هلک، یا نجلۍ شا او مخ ته کتل. (۱۵) د معشوق په عشق کي خپل ځان مبتلا کول. (۱۶) خپل تناسلي اندام د بل په لاس کي ورکَول. (۱۷) شراب چیښل او یا داسي بله مسته نشه کول. (۱۸) بې پردګي کول. (۱۹) د پردیو نارینه ؤ او ښځو یوځای کېدل او ګډوډ کېدل. (۲۰) سروز اورېدل[1]. (۲۱) او سر د انګرېزانو په ډول جوړول چي انسان پیکی پکي واړوي راواړوي او چپه لار په وېښتیانو کي وباسي؛ د دې لپاره چي نور ځوانان لواطت ته چمتو کړي.

دا یوویشت هغه لاملونه دي چي ځوان، یا پېغله او یا داسي بل بالغ انسان لواطت، یا مُساحقت، یا زنا او یا موټ وهلو ته چمتو کوي او که انسان په ریشتیا سره له دغو لاملونو څخه خپل ځان وژغوري؛ نو خامخا به له تناسلي ګناهونو څخه وژغورل سي او که څوک غواړي چي له دغو لاملونو څخه په بشپړ خپل ایمان او ځان وژغوري؛ نو له بدو کتلو څخه دي ځان راوګرځوي، یعني: بدنظري دي نه کوي؛ ځکه دا ټوله لاملونه په بدنظرۍ پوري اړوند دي او بدنظري معنا دا چي انسان هلک، یا نجلۍ او نامحرمه ته په شهوت سره ګوري او که چا بدنظري نه وکړل؛ نو هغه به له دې ټولو لاملونو څخه وژغورل سي، د بېلګي په توګه: یو ځوان او یا داسي بل عام انسان چي بدنظري نه کوي؛ نو هغه به له هلک، نجلۍ او بله نامُحرمي ښځي سره شناخت نه سي ساتلای، فحش فلم به نه سي کتلای،

---

[1] په یو اثر کي هم دا راغلي دي، چي حضرت فُضیل بن عیاض رَحمَةُاللهِ عَلَیه فرمایي: (الغِنَاءُ رُقیَةُ الزِّنَا)، یعني: سروز اورېدل د زنا تعویذ دی، لکه ـ څرنګه چي دغه اثر ابن أبي الدنیا په ذمّ الملاهيٍ کي روایت کړی دی، ۵۶ مخ، شمېره د اثر (۵۵).

فحش روزنامې به نه سي کتلای او نه به يې ويلای سي او داسي نور نور[۱] .
او کله چي يو انسان له لاملونو څخه د خپل ځان ساتنه وکړله ؛ نو بيا به هغه کس، يا هغه ښځه په بشپړه توګه له تناسلي ګناوو څخه ژغورلی وي او که يو انسان د يو چا عاشق جوړ سوی وي او په مجازي عشق کي يې خپل ځان غرق کړی وي ؛ نو چي کله دغه انسان خپل معشوق ووېني – بس بيا هغه انسان د معشوق په طلب کي بوخت سي، لوڅ فلم ګوري، لوڅ پوڅ انځورونه ګوري او داسي نور لاملونه وځان ته مُهيا کوي ؛ د دې لپاره چي د خپل معشوق مينه په ماته کړي، له همدې کبله چي انسان يوائحي او يوائحي له بدنظرۍ څخه خپل ځان راوګرځوي ؛ نو هغه به په آينده کي له زنا، لواطت او داسي ټولو تناسلي ګناهونو څخه ژغورلی وي ؛ لوی څښتن ﷻ دي مو په خپل فضل سره له ټولو تناسلي ګناهونو او لاملونو څخه يې وساتي، بېشکه يوائحي همدی ساتونکی دی ؛ آمين، يا ربّ العالمين ! .

يادونه : تر دې ځايه د لواطت او داسي نورو تناسلي ګناهونو د لاملونو او علتونو بيان پای ته ورسېد، ورپسې به دا بيان وسي چي : ايا په جنت کي به لواطت وئ ؟ او ايا شهوت يې پکي پوره کېدلای سئ ؟ د دې پوښتنو په هکله به اوس مخ ته ښه کافي او شافي[۲] تفصيلي بيان وسي ؛ باللهِ التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق .

## ايا په جنت کي د لواطت شهوت پوره کېدلای سئ ؟

يا هيڅ کله نه سي پوره کېدلای ! په جنت کي چي انسان د هر شي تمنا وکړي ؛ نو هغه به ورته ميلاويږي، صِرف د لواطت شهوت به نه ورته ميلاويږي .
او دا د لواطت انتهايي بدوالی دی چي په جنت کي هم الله ﷻ منع کړی ؛ ځکه جنت د داسي پليت شهوت ځای نه دی چي جنتي دي وخپل هم مِثله جنتي ته

---

[۱] او داسي نور نور : له دې څخه مراد هغه نور پاته سببونه دي کوم چي لږ څه مخکي يې بيان وسو .
[۲] کافي او شافي : يعني چي ښه پوره او کټه رسوونکی وي .

**د شهوت پوره کولو لپاره راتګ وکړي، بيا هم که جنتي ته شوق پيدا سي ؛ نو الله ﷻ به يې شوق په ښه طريقه ورپوره کړي او هغه دا ډول (کله چي جنتيان په جنت کي د لغړزنو اشتها وکړي ؛ نو الله تعالى به يو ډول لغړزني ورته پيدا کړي چي د لوړي خوا بدنونه به يې له نارينه ؤ څخه وي او د کښتني خوا بدنونه به يې له ښځو څخه وي او کله چي جنتيان ورنږدې سي ؛ نو د خپلي اشتها مطابق به کوروالى ورسره کولاى سي، هو ! لواطت به نه سي ورسره کولاى) او نور تفصيل لاندي په حاشيه کي وګوره![1].**

[1] لکه څرنګه چي په دُرّ المختار مع شرحه ردّ المُحتار کي دا مسئله ذِکر ده او متن يې توله په لاندي ډول دی :

مطلب لا تكون اللّواطة في الجنّة : قوله (ولا تكون اللّواطة في الجنّة)، قال السّيوطي : قال إبن عُقيل الحنبلي : جرت مسألة بين أبي علي بن الوليد المعتزلي وبين أبي يوسف القزويني في ذلک ؛ فقال إبن الوليد : لا يمنع أنْ يجعل ذلک مِن جُمْلة اللّذات في الجنّة لزوال المفسدة ؛ لأنه إنّما منع في الدّنيا لما فيه مِن قطع النسل، وكونه محلا للأذى، وليس في الجنّة ذلک، ولهذا أبيح شُرب الخمر لما ليس فيه مِن السكر، وغاية العربدة، وزوال العقل ؛ فلذلک لم يمنع مِن الإلتذاذ بها . فقال أبو يوسف : الميل إلى الذّكور عاهة، وهو قبيح في نفسه ؛ لأنه محل لم يخلق للوطء، ولهذا لم يبح في شريعة بخلاف الخمر، وهُو مخرج الحدث والجنّة نزهت عن العاهات . فقال إبن الوليد : العاهة هي التلويث بالأذى ؛ فإذن لم يبق إلاّ مجرد الإلتذاذ، آه كلامه - رملي على المنح .

قوله (حُرمتها عقلية) الظاهر أنّ المراد بالحُرمة هنا القبح إطلاقًا لإسم المسبب على السبب، أي : قبحها عقلِيّ بمعنى أنه يدرک بالعقل، وإن لم يرد به الشّرع كالظّلم والكُفر ؛ لأنّ مذهبنا أنه لا يحرم بالعقل شيء، أي : لا يكون العقل حاكِمًا بحُرمته، وإنّما ذلک لله تعالى، بل العقل مدرک لحسن بعض المأمورات، وقبح بعض المنهيات ؛ فيأتي الشرع حاكِمًا بوفق ذلک، فيأمر بالحسن، وينهى عن القَبْح . وعند المعتزلة يجب ما حسن عقلا، ويحرم ما قبح، وإن لم يرد الشرع بوجوبه، أو حُرمته ؛ فالعقل عندهم هو المثبت، وعندنا المثبت هو الشّرع، والعقل آلة لإدراک الحسن والقبح قبل الشّرع، وعند الأشاعرة لا حَظّ لِلْعقل قبل الشرع، بل العقل تابع للشرع ؛ فما أمر به الشرع يعلم بالعقل أنه حسن، وما نهى عنه يعلم أنه قبيح - وتمام أبحاث المسألة يعلم مِن كُتُب الأصول ومِن حواشينا على شرح المنار .

قوله (وقيل سمعية)، أي : لا يستقل العقل بإدراک قبحها قبل ورود الدليل السّمعي . قوله (فتوجد)، أي : يمكن أن توجد . قوله (وقيل : يخلق الله تعالى إلخ)، هذا خارج عن محل النزاع ؛ لأن الكلام في الإتيان في الدّبر . قوله (والصّحيح الأوّل) هو أنّه لا وُجود لها في الجنّة . قوله (لحُرمتها)، أي : قبحها كما مَرّ . قوله

(وتزول حُرمته إلخ) وجه آخر لبيان أشدّية اللّواطة، وهو أنّ وطء الذّكَر لا يمكن زوال حُرْمته بخلاف وطء الأنثى ؛ فإنه يمكن بتزوجها، أو شرائها . قوله (لأنه مطهر على قول)، أي : قول كثير من العلماء، وإن كان خِلاف مذهبنا كما مرّ . قوله (يكفر مُستحلّها) قدم الشّارح في باب الحيض الخلاف في كُفْر مستحلّ وطء الحائض ووطء الدّبر، ثم وفق بما في التتارخانية عن السّراجية : اللّواطة بمملوكه، أو مملوكته، أو امرأته حرام ؛ إلا أنه لو إستحلّه لا يكفر .

قاله حسام الدّين ؛ آه ! أي : فيحمل القول بكُفْره على ما إذا إستحل اللّواطة بأجنبي بخلاف غيره ؛ لكن في الشرنبلالية أنّ هذا يعلم ولا يعلم، أي : لئلا يتجرأ الفسقة عليه بظنهم حلّه .

تتمة : للواطة أحكام أخَر لا يجب بها المهر، ولا العِدة في النكاح الفاسد، ولا في المأتي بها لشّبهة، ولا يحصل بها التّحليل للزوج الأوّل، ولا تثبت بها الرّجعة، ولا حُرمة المصاهرة عند الأكثر، ولا الكفارة في رمضان في رواية، ولو قذف بها لا يحدّ خِلافًا لهما ولا يلاعن خِلافًا لهما . (بحر) وهو مأخوذ من المجتبى، ويزاد ما في الشرنبلالية عن السّراج : يكفي في الشّهادة عليها عدلان لا أربعة خِلافًا لهما .

وقال إبن عابدين في موضع آخَر : (وَلَا تَكُونُ) اللّوَاطَةُ (فِي الْجَنّةِ عَلَى الصّحِيحِ) ؛ لأنهُ تَعَالَى إسْتَقْبَحَهَا وَسَمّاهَا خَبِيثَةً . وَالْجَنّةُ مُنَزّهَةٌ عَنْهَا – فَتْحٌ .

وَفِي الأَشْبَاهِ : حُرْمَتُهَا عَقْلِيّةٌ ؛ فَلا وُجُودَ لَهَا فِي الْجَنّةِ .

وَقِيلَ : سَمْعِيّةٌ ؛ فَتُوجَدُ . وَقِيلَ : يَخْلُقُ اللّهُ تَعَالَى طَائِفَةً نِصْفُهُمْ الأَعْلَى كَالذّكُورِ، وَالأَسْفَلِ كَالإِنَاثِ. وَالصّحِيحُ الأَوّلُ، إنتهى . حاشية ابن عابدين ۶ توک، ۴۴ – ۴۵ مخونه، چاپ : دوولس جلده والا، مكتبه رشيديه .

همدا ډول بل مي په هيڅ يو كتاب كي كوم چي زما سره موجود وي، د دې بيان پيدا نه کړ چي پر دې يې وضاحت کړی وي : ايا په جنت كي به لواطت وئ او كه يا ؟ هو ! په تذكرة الواعظين، مجالس الإرشادية، تفسير رُوح البيان او غمزعيون البصائر كي لږ څه بيان پر سوی وو او د هغو ټولو خُلاصه مي دلته په متن د كتاب كي راوړې او حل کړې ده ؛ حوالې يې دا دي : تذكرة الواعظين په حواله د كتاب (عريضة اللطائف) ۵۷۶ او ۵۷۷ مخونه، مجالس الإرشادية په حواله د كتاب (الفتاوى الصّوفية) ۳۴۶ او ۳۴۷ مخونه، رُوح البيان ۳ توک، ۱۵۰ مخ او ۶ توک، ۱۴۶ مخ، غمز عُيون البصائر شرح كتاب الأشباه والنّظائر ۲ توک، ۱۸۷ او ۱۸۸ مخونه .

او په دې بايد پوهه سې ! پر دې موضوع دغسې پوره او ښه بيان د حاشية ابن عابدين تر مؤلف چا نه دئ کړی ؛ الله تعالى دي وده ته په آخرت كي آرمانونه ورپوره کړي ؛ آمين، ثم آمين .

او تر دې ځايه كوم چي تر دې خيري اړوند ول چي : ايا په جنت كي به لواطت وئ او كه يا ؟ حوالې ټولې پای ته ورسېدلې او له دې ټولو حوالو څخه دا هم معلوميږي، لكه څرنګه چي په جنت كي لواطت نسته ؛ نو دا ډول به مساحقت، موب وهنه اوداسې نور ګناهونه هم نه وي، والحمد لله الجامع وحده .

ځکه د کښتي خوا بلنونه به يې د ښځينه ؤ وي ؛ نو لواطت به څرنګه ورسره کولای سي ؟! او بل دا چي په دنيا کي که دُبره انسان ته ورکول سوې ده ؛ هغه هم د دې لپاره چي فضله مواد تري راووځي او په جنت کي به انسان له دې څخه پاک وي چي فضله مواد دي ولري ؛ ځکه به د لواطت له اصله هم بې باکه وي چي هغه خودي د دبري وجود دی او دبره چي وي ؛ نو د لواطت خطره هم وي، که نه وي ؛ نو لواطت به هم نه وي[۱] .

او ځينو عُلماؤ کرامو رحمة الله عليهم ويلي دي : (په جنت کي به غلمان[۲] دوه ډوله وي، يو ډول غلمان به داسي وي چي خادمان به وي او جنتيانَ به د شوق لپاره ورته ګوري او بل ډول غلمان به جنتيان د حورو په ډول کوروالی ورسره کوي ؛ ځکه دوی به له سره تر نامه[۳] پوري غلمان وي او له نامه څخه تر پښو پوري به حوري وي)، لکه څرنګه چي لاندي په حاشيه کي خاتمة المحققين، وعُمدة العالمين قاضي ابن عابدين رحمة الله عليه ودې وينا ته اشاره کړې ده او د (قِيل) په تعبيريې هغه وينا رانقل کړې ده[۴] .

او شک نسته چي الله تبارک وتعالی پر دې وس لرونکی دی چي داسي دوه ډوله

---

[۱] لکه څرنګه چي د دې خبري معنا د مجمع الأنهر ليکوال کړې ده :

وفي التّنوير : ولا تكون اللّواطة في الجَنّة على الصّحيح ؛ لأنه ليس لأهل الجَنّة دبُر، وكُلهم قُبُل ؛ لأنّ له ليس فيها إحتياج لدفع الفُضلات .

مجمع الأنهَر شرح مَلتقى الأبحُر ۲ ټوک، ۳۵۱ مخ او دا ډول په غمز عيون البصائر شرح الأشباه والنظائر د حموي رحمة الله عليه ۲ ټوک، ۱۸۸ مخ کي د (الفتوحات المكية) په حواله دغه خبره سوې ده .

[۲] غِلمان : جمع د غُلام ده، غُلام په عربي کي کچه او لغړزني هلک ته وايي او غِلمان په جنت کي ښايسته هلکوان او لغړزني دي .

[۳] نامه : د نس ناف او نوه ته ويل کيږي .

[۴] قاضي ابن عابدين رحمة الله عليه ويلي : لکه څرنګه چي لږ مخکي يې دا وينا تېره سوې هم ده :

وَقِيلَ : يَخْلُقُ اللَّهُ تَعَالَى طَائِفَةً نِصفُهُمْ الأَعْلَى كَالذُّكُورِ، وَالأَسْفَلِ كَالإِنَاثِ .

ژباړه : او ويل سوي دي : چي الله تعالی به [په جنت کي يوه ښايسته ډله د لغړزنو او غِلمانو] پيدا کړي چي د لوړي نيمايي طرفونه به يې له نارينه ؤ څخه او د کښتي طرفونه به يې له ښځينه ؤ څخه وي ؛ آه! .

غلمان په جنت کې پیدا کړي .

او ځینو عُلماؤ رحمة الله علیهم دا هم ویلي دي : چې جنتیان به په جنت کې د داسي ناوړي بدفعلۍ اشتها نه کوي ؛ ځکه الله تعالی به دوی له لسو بدو خویونو او ناروغیو څخه پاک کړي :

(۱) الله تعالی به یې له ګناهونو څخه پاک کړي . (۲) له مرضونو او مختلفو ناروغیو څخه به یې پاک کړي . (۳) د خولې له ناوړو څخه به یې پاک کړي . (۴) د پوزي له ګنګیو څخه به یې پاک کړي . (۵) له بولو او غایطه موادو څخه به یې پاک کړي . (۶) ښځې به یې له حیض او نفاس څخه پاک کړي . (۷) مرګ او خوب به ځني پورته کړي او خوب د مرګ ورور دی[۱] . (۸) د عبادتونو تکلیف به ځني پورته کړي . (۹) سپین ږیرتوب او بوډوالی به ځني پورته کړي . (۱۰) او ټوله آفتونه به ځني پورته کړي[۲] .

دا لس ډوله ناروغۍ او شکایتونه به الله ﷻ له جنتیانو څخه لیري کړي، بیا به یې جنت ته په خپل فضل او مهرباني سره ننباسي .

## د لواطت د حراموالي حکمتونه

په تیر بحث کې د دې مسئلې او پوښتني پوره بیان ذِکر سو چې : ایا په جنت کې به لواطت وئ او که یا ؟! او ورسره نوري مهمي خبري هم ذِکر سوې ؛ خاص په حاشیه کې یې ښه کافي او شافي بیان وسو او په دې بحث او سرلیک کې به دا

[۱] خوب په اصل کي د مرګ ورور دی ؛ نو ځکه به یې الله ﷻ له جنتیانو څخه پورته کړي، لکه څرنګه چي په یو حدیث کي دا راغلي دي:

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ رحمة الله عليه، عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه، قَالَ : سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَيَنَامُ أَهْلُ الْجَنَّةِ ؟ قَالَ : (النَّوْمُ أَخُو الْمَوْتِ، وَلاَ يَمُوتُ أَهْلُ الْجَنَّةِ) .

شُعب الإيمان، ۶ ټوک، ۴۰۹ مخ، حدیث شمېره (۴۴۱۶)، چاپ : مکتبة الرّشد، ریاض سعودي عربستان .

[۲] دا بیان په مختلفو کتابو کي پاشلی وو او حوالې یې دا دي : موسوعة الآخرة د ماهر صُوفي غفر الله له ۱۰ ټوک، ۲۹۴ - ۲۹۵ مخونه او تذکره د امام قرطبي ۲ ټوک. ۴۳۶ مخ .

بیان وسي چي الله تعالی لواطت حرام کړی دی ؛ نو په دې کي یې کوم کوم حکمتونه دئ؟! د دې به پوره بیان وسي .

الله ﷻ چي لواطت حرام کړی دی ؛ نو په دې کي لوی لس حِکمتونه سته او هغه حکمتونه ټوله په لاندي ډول سره دي :

(۱) ځکه چي مفعول به ته په دې فِعل سره تکلیف او ضرر رسیږي .

(۲) د مفعول به وینه په دې کار سره خرا پیږي .

(۳) د فاعل تناسلي اندام ته په دې کار کولو سره درد پیدا کیږي .

(۴) کله چي فاعل له مفعول به سره دا کار وکړي او همېشتوب ورباندي وکړي ؛ نو زامن به یې حرامیان [یعني : فاسقان] پیدا سي او دا بیلابیلو تجربو په ډاګه کړې ده .

(۵) کله چي فاعل له مفعول به سره دا ناوړه کار وکړي ؛ نو په مینځ کي به یې دښمني پیدا سي او تر هغه وخته به یې په خپل مینځ کي دښمني وي تر څو چي الله ربّ العزت ته توبې باسي او مراجعه ورته کوي .

(۶) کله چي فَاعل له مفعول به سره دا کرغېړن کار وکړي ؛ نو فاعل به ومفعول ته غیرت نه لري او نه به مفعول وفاعل ته غیرت لري او سترګي بې ورته مړې وي ؛ ځکه الله تعالی به له دوی څخه غیرت پورته کړي او یو وبل ته به سترګي نه سره لري، یعني : سره بې ننګه اوبې غیرته به وي .

(۷) د فاعل او مفعول به په لواطت کولو سره د انسانانو نسل کمیږي .

(۸) د فاعل او مفعول به په لواطت کولو سره ایمان له مینځه ځي او تر هغو به فاعل او مفعول بې ایمانه وي تر څو چي په اخلاص سره توبې باسي او دلته له بې ایمانۍ څخه مراد دا دي، یعني : د ایمان قوت به نه لري چي ښه کارونه او عبادتونه دي په اخلاص سره وکړي او دا د ایمان د کمزورۍ لومړۍ علامه ده .

(۹) د فاعل او مفعول به په لواطت کولو سره عزت له مینځه ځي ؛ ځکه کله چي دوی دا پلیت او ناوړه کار وکړي ؛ نو د خلکو په وړاندي به بې عزته ښکاري .

(۱۰) د فاعل او مفعول به په لواطت کولو سره لوی ذات ربّ العالمین او د ده ټوله

مخلوقات[۱] ناراضه کیږي او بل دا چي خالق او مخلوق که ناراضه سي ؛ نو بیا پر دغه انسان د هر ډول آفتونو، ذلالتونو او خواریو دروازې راخلاصیږي[۲].
نو د دغو لسو حکمتونو له وجي الله ﷻ د لواطت بدفعلي په دنیا او آخرت کي حرامه کړې ده او دا حکمتونه ټوله په تجربه رسېدلي دي.

## د الله ﷻ غیرت او د لواطت حُرمت

تر الله ﷻ بل غیرتمند نسته ؛ ځکه ده ټول غټ او واړه ګناهونه حرام کړي دي، انسان که فکر وکړي چي د الله ﷻ خو دا په وس پوره دي چي دی د لواطت عمل روا کړي او له ده څخه څوک دا پوښتنه نه سي کولای چي دا دي ولئ روا کړی دئ ؟ او بیا دي انسان دلته دا فکر وکړي چي الله تعالی ؛ خو په دې کي لس لوی لوی حکمتونه لري، لکه څنګه چي مخکي ذِکر سول ؛ نو له دغو وجو څخه ده په دنیا او آخرت کي ناروا کړی دی او په یو صحیح روایت کي نقل سوي دي چي یو وخت سعد بن عُبادة رضي الله عنه دا وفرمایل : (که زه له خپلي مېرمني سره یو [پردی] سړیووینم ! نو زه به یې سر په توره ورغوځ کړم !)، بیا دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېدله او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وفرمایل : (ایا تاسي د سعد له غیرت څخه په اریانتیا کي یاست !؟ زما دي په الله ﷻ قسم وي چي زه تر سعد غیرتمند یم ! او الله ﷻ تر ما [ډېر لوی] غیرتمند دی او بیشکه د

---

[۱] د الله ربّ العِزت مخلوقات په لواطت کولو سره یقینا ناراضه کیږي ؛ ځکه دا مخکي په عنوانو کي ذِکر سول چي د لوطي له عمله عرش عظیم په لړزو سي، آسمان او مځکه ټول فاعل او مفعول به ته په غضب کي سي.

[۲] دا حکمتونه له معقولاتو او منقولاتو څخه راټول سوي دي ؛ منقولات دا دي : تفسیر المنار ۸ ټوک، ۵۲۱ - ۵۲۲ مخونه، تفسیر المُنیر ۴ ټوک، ۶۵۵ مخ، حِکمة التّشریع وفلسفته ۲ ټوک، ۱۹۰ - ۱۹۱ مخونه او ځیني داسي نور.

ده غیرت دا دئ چي ده ټول غټ او واړه ګناهونه حرام کړي دي، . . )[1] .

او دغه ډول په بل حدیث شریف کي نقل سوي دي : (نسته تر الله ﷻ بل یو لوی زیات غیر تمند او د ده غیرت دا دئ چي ده ټول ښکاره او پټ ګناهونه حرام کړي دي)[2] .

او دا دواړه حدیثونه یو مطلب او مقصد لري چي اوس به یې بیان کړم ! .

او د حدیثو مبارکو مطلب دا دئ چي : کوم شی الله تعالی ناروا کړی دی ؛ باید هغه انسان پرېږدي، که څه هم هغه د انسان په طبیعت کي خوند لري او باید هغه شی ته انسان په داسي نظر سره وګوري چي کوم الله تعالی ورته کتلي دي او الله تعالی ؛ خو لواطت ته په داسي نظر کتلي دي چي په جنت کي یې هم ناروا کړی دی او بل په ټولو خوندونو کي داسي بل بې ننګه او بې غیرته خوند نسته، لکه دلواطت خوند چي دی او هغه داسي چي یو انسان کله له بل انسانه سره لواطت کوي ؛ نو خپل تناسلي اندام په بدو غایطه موادو ککړ کړي او تر داسي انسان بې ننګه ؛ خو بیخي نسته چي خپل هغه اندام چي بل انسان ځني پیدا کیږي ؛ نو

---

[1] لکه څرنګه چي امام بُخاري په خپل الجامع الصّحیح کي روایت کړی، حدیث شمېره (۶۴۵۴) او امام مُسلم په خپل الصّحیح کي روایت کړی دی، وګوره ! حدیث شمېره (۲۷۶۰)، سند او عبارت یې په لاندي ډول دی :

حدیث الْمُغِیرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ : قَالَ سَعْد ابْنُ عُبَادَةَ : لَوْ رَأَیْتُ رَجُلا مَعَ امْرَأَتِي ؛ لَضَرَبْتُهُ بِالسَّیْفِ غَیْرَ مُصْفَحٍ، فَبَلَغَ ذَلِکَ رَسُولَ اللهِ ﷺ، فَقَالَ : (تَعْجَبُونَ مِنْ غَیْرَةِ سَعْدٍ ! وَاللهِ لأَنَا أَغْیَرُ مِنْهُ، وَاللهُ أَغْیَرُ مِنِّي، وَمِنْ أَجْلِ غَیْرَةِ اللهِ ؛ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَلا أَحَدَ أَحَبَّ إِلَیْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللهِ، وَمِنْ أَجْلِ ذَلِک ؛ بَعَثَ الْمُبَشِّرِینَ وَالْمُنْذِرِینَ، وَلا أَحَدَ أَحَبَّ إِلَیْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللهِ ؛ وَمِنْ أَجْلِ ذَلِکَ ؛ وَعَدَ اللهُ الْجَنَّةَ) . او حدیث مُتفق علیه دی .

[2] دا حدیث هم امام بُخاري په خپل الجامع الصّحیح کي روایت کړی دی، حدیث شمېره (۴۳۵۸) او مُسلم هم په خپل الصّحیح کي روایت کړی دی، حدیث شمېره (۲۷۶۱)، سند او عبارت یې دا دئ : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : (لا أَحَدَ أَغْیَرُ مِنَ اللهِ ؛ وَلِذَلِکَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا، وَمَا بَطَنَ) . او دا حدیث هم مُتفق علیه دی، لکه څرنګه دا دواړه حدیثونه مُحمّد فؤاد عبد الباقي په (اللؤلؤ والمرجان فیما إتّفق علیه الشّیخان) کي ذِکر کړي دي .

هغه په داسي ګنګیو لیت پیت کوي چي کله پر ستر خوان کښیني او په فکر کي يې راولي ؛ نو دستي يې خوا پر راګرځي او بل دا چي د انسان زړه داسي کمزوری کوي چي آخر د دورې ناروغي ورته پيښه سي، که انسان له ځانه سره دا فکر وکړي نو دا به ژر تر ژره محسوسه کړي چي تر لواطت هیڅ یو بې ننګه او بې شرفه عمل نسته او چي څه بد او ناکاره عملونه دي ؛ نو په ټولو کي بد او ناکاره عمل دی .

او له حدیث څخه بل دا مطلب راوځي چي الله تبارک وتعالی غیرتي دی او غیرت خوښوي او د غیرت غټه علامه يې دا ده چي : دا ناکاره کارونه کوم چي ګناوي دي حرام ګرځولي دي .

## د لواطت عمل د طبیبانو او ساینس پوهانو په اند

د دُنیا ټولو طبیبانو د لواطت غیر فطري عمل غندلی دی، هیڅ طبیب، یا ساینس پوه دا نه دي ویلي چي : لواطت دي ښه عمل وي ! او د دې جدید عصر او څارو طبیبانو ویلي : د (ایډز) ناروغي لومړی ځل له لواطت څخه خپره سوه، (ایډز) یوه دا سي ناروغي ده چي وعلاج ته يې تمام طبیبان او ساینس پوهان عاجزه سوي دي، د (ایډز) ناروغي په کال ۱۹۷۰ عیسوي کي یک دم او ناګهانه په نړۍ کي خپره سوه او په کال ۱۹۸۰ عیسوي کي د (ایډز) نوم پر کښېښودل سو .

په دې ناروغي چي کله یو کوونکی د زنا، یا لواطت مبتلا سي ؛ نو لومړی د بندو درد ورته پیدا سي او له دغه درده څخه د بدن غوښي او وازګي کرار کرار ویلي کیږي چي آخرِ پای يې مرګ سي او دا ناروغي په امریکا، یورپ او افریقه کي خورا ډېره خپره سوې ده، په کال ۲۰۰۹ عیسوي کي له نوي تحقیقاتو څخه دا هم په ډاګه سوه چي په سلو کي اتیا فیصده لواطت کوونکي او زناکاران په دې ناروغي مُبتلا سوي دي او دا د هغه قول مصداق دی چي ویل سوی وو : کوم کس چي پر لواطت دوام وکړي او توبه نه ځني باسي ؛ نو الله تعالی به داسي ناروغي ورته پيښه کړي چي شفا به نه لري او داسي ژوند به په برخه ورکړي چي راحت

به نه سي پکي موندلای[1] . او بېشکه دې خبري مصداق پيدا کړی دی چي اوس دا دئ موږ يې په خپله وينو ! . او ځينو طبيبانو ويلي دي : کوم کس چي درې ځله (پرلپسې) لواطت وکړي ؛ نو هغه به بيا په اموخته سي[2] ؛ ځکه په سوغی (يعني : ادب دي وي په دُبره کي) يې داسي چينجيان پيدا سي چي د هغو خوراک خالص د انسان مَني وي او کله چي دغه انسان لواطت وکړي، بيا څو ورځي کرار وي ؛ ځکه چينجيانو ته هغه د انسان مَني ورسيږي کوم چي فاعل په مفعول به کي خالي کړي وي .

او الله ربّ العزت دا چينجيان ولواطت ورسره کېدونکي ته يو ډول سزا گرځولې ده او بيا د دې چينجيانو علاج هم ډېر ستونزمن وي .

او ځينو طبيبانو دا هم ويلي دي : کله چي د مفعول به په دبره کي يو چينجی پيدا سي ؛ نو دا چينجی په لومړي سر کي وړوکی وي او کله چي مفعول به لواطت کوي ؛ نو دا چينجی کرار کرار په منيو غټېږي تر داسي پوري چي اتو اينچو ته ورسيږي ؛ نو دغه مهال د مفعول به د سوغی په کولمه پوري خپل بدن او خوله ټينګه ومښلوي او کرار کرار يې وينه زبيښي تر داسي يې وينه زبيښي چي آخر مفعول به دا حال ته ورسيږي چي وچ کلک سي، وينه يې ختمه سي، ډنګر سي او څه وخت وروسته پسي مړ سي .

او ځينو طبيبانو ويلي دي : که څوک يو ځل لواطت وکړي ؛ نو تر يوه پوره کال پوري به يې د بدن رګونه کمزوري وي او که يې دوه ځله وکړي ؛ نو د جريان او

---

[1] دا قول يو وار د امامانو د اقوالو د رڼا په سرليک کي هم تېر سوی دی ؛ د تفصيل لپاره يې وګوره ! .

[2] او دې وينا ته ورته په يو اثر کي ما وليدل چي له حضرت انس بن مالک ﷺ څخه مرفوع روايت دی، وايي : (مَنْ أتی فِي الدّبر سبع مَرّاتٍ ؛ حَوّلَ اللهُ شهوَته مِن قُبُلِهِ إلی دبّرِهِ)، يعني : څوک چي اووه ځله دُبري ته (د لواطت لپاره) راتګ وکړي ؛ نو الله (تعالی) به يې د مخ (تناسلي اندام) شهوت ودُبري ته راواړوي .

مطلب دا چي اُووه ځله د بل دُبره غلطه استعمال کړي ؛ باره به خپله دُبره ورکوي او شرم به نه لري .

حديث ابن عدي په الکامل في الضعفاء کي روايت کړی دی، وګوره! ۴ توک، ۶ مخ .

سُرعت انزال[1] ناروغي به ورته پېښه سي او که يې درې ځله وکړي ؛ نو بدن به يې ډوله کمزورى سي او په واده کولو کي به د کوروالى هيڅ توان او وس نه لري او څوک چي په واده کي د کوروالى کولو توان نه لري ؛ نو د هغه او د ښځي بيا څه فرق دئ؟!

ځينو دا هم ويلي دي : څوک چي له خپلي مېرمني سره لس ځله پرلپسې کوروالى وکړي ؛ نو دومره به يې کمزورى نه کړي، لکه يو ځل چي لواطت وکړي[2] ؛ ځکه الله ﷻ نارينه داسي نه دئ ګرځولى چي دى فاعل [يعني : لواطت کوونکى] جوړ سي، يا مفعول به [يعني : لواطت ورسره کېدونکى] جوړ سي، بلکي ده ته يې داسي جوړه پيدا کړې ده چي ډوله ژوند يې پکي خوندي کېږي او ورسره په راحت کېږي چي هغه د ده حلاله مېرمنه ده .

الله ﷻ دي مو په خپل فضل ځني وژغوري ؛ آمين .

## له لواطت سره په زړه کي مينه درلودل لويه ګناه ده

ځکه له حضرت مُحمّد بن علي ﷺ څخه روايت دى چي : رسول الله ﷺ وفرمايل : «مَنْ أَحَبَّ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ شَرًّا كَانَ، أَوْ خَيْرًا ؛ فَهُوَ كَمَنْ عَمِلَهُ»[3] .

ژباړه : که څوک د لوط (عَلَيْهِ السَّلَامُ) د قوم عمل [يعني : لواطت] له ښه کبله، يا له بده کبله غوره کړي (اومينه ورسره ولري) ؛ نو ګويا لکه ده چي په خپله (لواطت) وکړ .

---

[1] سُرعت انزال او جريان د ځوانانو يو ډول ناروغى دي .

[2] د طبيبانو او ساينس پوهانو دا قيمتي ويناوي له مُختلفو کتابو، رسالو او ورځپاڼو څخه مُنتخب سوي دي .

[3] حديث ابن نجار په ذيل د تاريخ بُغداد کي او ديلمي په خپل مُسند الفردوس کي روايت کړى دى، لکه څرنګه چي علامه مُتقي هندي په کنزالعُمال کي ويلي دي، وګوره ! حديث شمېره (۱۳۱۳۲) .

ته اوس راسه اې ځوانه ! او اې ګرانه لوستونکې ! دا څومره د بیرې خبره ده چې په زړه کې خالې مینه ورسره کول هم داغسې لواطت کول دې او داغسې لویه ګناه ده ! اوس خلګ دا نه وایې چې : په زړه کې مینه ورسره درلودل دې هم ګناه لرئ ؟! نو د کوم چا چې دا فکر وي ؛ هغه ګویا لکه په خپله چې دا ناوړه عمل کوي، لږ څه دې له ځانه سره دغه انسان فکر وکړي چې دا محبت او مینه زه اوس په زړه کې له کوم عمل سره لرم ؟! باید دغه انسان ژر تر ژره له مینې څخه یې هم توبه وباسي، هسې له لواطت کولو څخه به یې خامخا باسي . او په بل حدیث شریف کې نقل سوي دي چې مبارک عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمایي : (د قیامت په ورځ به انسان له هغه چا سره راپورته کیږي چې په دنیا کې مینه ورسره لري)[1] ؛ نو مطلب دا دئ که یو انسان په دنیا کې له هرې ګناه سره مینه درلودله ؛ نو له هغو ګناهګارانو سره به یې سبا په ورځ د قیامت راپورته کېدل وي .

## له لواطت څخه په زړه کې کرکه کول ثواب لرئ ؟

د حدیثو له مفهومه معلومیږي : کوم انسان چې په زړه کې له یوې ګناه څخه کرکه کوي ؛ نو الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه کس ته ثوابونه ورکوي، د بیلګې په توګه یو حدیث دا دئ : له حضرت أبي مُوسی أشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی، وایې : چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل : (کوم کس چې په خپله نیکۍ خوشحاله کیږي او په خپله بدۍ خوابدی کیږي ؛ نو دا کس مومن دی)[2] .

ځکه دا د مومن علامه ده چې کله یوه نیکي وکړي ؛ نو زړه یې په خوشحاله سي

---

[1] دا حدیث صحاح سته والاوو تولو روایت کړی او داغسې امام أحمد هم روایت کړی دی او أبي اللیث سمرقندي حنفي په خپل کِتاب تنبیه الغافلین کي نقل کړی دی، ۲۰۶ مخ او عبارت یې دا دئ : (المَرءُ مَعَ مَنْ أحَبَّ) .

[2] دا حدیث طبراني په المعجم الکبیر کي روایت کړی، لکه څرنګه چې سیوطي په الجامع الصّغیر کي ځني نقل کړی دی ۲ توک، ۱۷۳ مخ او علامه مُتقي هندي په کنز العُمال کي ځني نقل کړی دی او عبارت یې دا دئ : (۷۰۰) "مَن سَرّته حسنته, وساءته سیّئته ؛ فهُو مُؤمن " (طب عن أبي موسی) .
او حدیث (حسن) دی، لکه سیوطي چې ویلي دي .

او هر کله چي ګناه ځني وسي ؛ نو زړه يې وربانديي خواشينى سي .
او په يو اثر مبارک کي له حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ نقل سوي دي، هغه فرمايي : (له مومن شخه چي کله يوه ګناه وسي ؛ نو زړه يې په غمجن سي او دومريې زړه په غمجن سي ؛ ګويا لکه غر چي يې پر سر رالوېدلى وي او له مُنافق شخه چي کله يو ګناه وسي ؛ نو پروا يې نه کوي، لکه مچ چي يې پر پزه تېر سي)[1].
دا د مومن او مُنافق تر مينځ نښه ده چي کله يوه نيکي وکړي ؛ نو په خوشحاله سي او زړه يې هوس ورباندي کوي او بدي چي کله ځني وسي ؛ نو دا محسوسوي ګويا لکه غر چي يې پر سر پروت وي، کله چي له الله تعالى شخه بخښنه ورباندي وغواړي او توبه پر وباسي ؛ نو زړه يې آرام سي او بيرته په هوس کي سي، د مُنافق او مُذبذبه انسان دغسي شان نه وي ؛ الله ﷻ دي موږ په حقه مُومنان وګرځوي ؛آمين .

## زنا او لواطت نن سبا ولې ورځ په ورځ زياتيږي؟

زنا او لواطت ؛ ځکه ورځ په ورځ زياتيږي چي خوراکونه زيات سول، د فساد آلې زياتي سولې، لکه : ټي وي (Tv)، وي سي آر (V,c,r) او فلمونه ؛ دا ډول ډول شيان جوړ سول، له بل پلوه پلرونه د زامنو لپاره دومره هڅه نه کوي چي ودونه ورته وکړي، هو ! کله چي يو څه پيسې پيدا کړي ؛ نو دستي يې په تجارت، يا په شراکت او يا په مُضاربت يو چا ته ورکړي او حال دا دئ : چي په اوس زمانه کي بايد پلار چي زوى يې ځواني، يا لور يې پېغلتوب ته نه وي

[1] دغه اثر امام بُخاري په خپل الجامع الصّحيح کي روايت کړى، لکه څرنګه چي علامه ابن رجب الحنبلي په جامع العلوم والحِکم کي ځني نقل کړى دى، ۱ ټوک، ۱۷۴ مخ او عبارت يې په لاندي ډول دى :
قال ابن مسعود ﷺ : (إنّ المؤمن يرى ذُنوبه ؛ كأنّهُ في أصل جبل يخاف أن يقع عليه، وإنّ الفاجر يرى ذُنوبه كذُباب طار على أنفِه)، فقال : (به هكذا، هكذا)، خرجه البّخاريّ ؛ إنتهى .

رسېدلې ؛ باید کوزده وروکړي ؛ ځکه وخت او زمانه داسي سوه چي هلک، یا نجلۍ بلوغ ته نه وي رسېدلې ؛ نو بیا په فتنه مبتلا سي او هغه فتنه یا د موټ وهني وي، یا د زنا وي، یا د لواطت وي، یا د مجازي عاشقۍ وي او یا بله داسي فتنه وي او یا په داغه ټولو فتنو مبتلا سي.

مطلب دا چي غوره لاره دا ده : چي زوی ته باید واده ژر ورکول سي او لور باید ژر یوځای واده سي ؛ ځکه له فتنو شخه به په امن سي او نبي اکرم ﷺ فرمایلي دي : (د کوم سړي زوی چي پیدا سي ؛ نو هغه ته په کار ده چي ښه ښایسته نوم پر کښېږدي او ادب ورته وښیي [یعني : تعلیم او تربیت دي یې وکړي]، بیا چي کله بالغ سي ؛ نو واده ورته وکړئ ! که هغه بالغ سي او بیا هم واده پلار نه ورته وکړي او له هغه شخه یوه ګناه وسي ؛ نو ګناه به یې د پلار په غاړه وي).

او دا ډول په بل حدیث شریف کي نقل سوي دي، چي نبي کریم ﷺ وفرمایل : (په تورات کي لیکل سوي دي : د چا لور چي د دولسو کالو سي او پلار یې واده نه کړي او له دې نجلۍ شخه یوه ګناه وسي ؛ نو ګناه به یې د پلار په غاړه وي)[1].

مطلب دا چي د پلار، یا زوی او لور ګناوي په دې مینځ کي سره شریکي وي په هغه صُورت کي چي پلار قدرت لري، کنې پلار ګناهګار نه دی چي فقیر وي او وس د دې نه لري چي زوی ته واده وکړي او که پلار وس لري او په قصده سره

[1] دا دواړه حدیثونه علامه تبریزي په مشکاة المصابیح، کِتاب النّکاح، باب الولي في النّکاح وإستئذان المرأة، الفصل الثالث کي نقل کړي دي، د حدیثو شمېرې او عبارتونه یې په لاندي ډول سره دي:

وعن أبي سعید، وابن عبّاس رضي الله عنهما قالا : قال رسُول الله ﷺ : (مَن وُلد لَهُ وَلَدٌ ؛ فلیُحسِن إسمه، وأدّبه، فإذا بلغ ؛ فلیُزوّجه، فإن بلغ ولم یُزوّجه، فأصاب إثما ؛ فإنّما إثمه علی أبیه) ؛ حدیث شمېره (۳۱۳۸).

وعن عُمَر بن الخطّاب، وأنس بن مالک رضي الله عنهما، عن رسُول الله ﷺ قال : (في التّوراة مکتُوبٌ : مَن بلغت ابنته إثنتي عشرة سنَة، ولم یُزوجها، فأصابت إثما ؛ فإثم ذلک علیه)، رواهما البیهقي في شُعَب الإیمان ؛ حدیث شمېره (۳۱۳۹).

زوی ته واده نه ور کوي، یا لور نه ودوي ؛ نو بیا حقیقتا په دې صُورت کي هغه پلار، یا هغه مشر گناهگاره دی چي دا ذمه د واده یې پر غاړه وي او پر زوی، یا لور یې گناه نسته، لکه څرنگه چي حضرتَ علامه ملا قاري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه دې خبري ته اشاره کړې ده[1] .

او له دغو دواړو حدیثو څخه دا په ډاګه کیږي : کله چي پلار یو څه پیسې پیدا کړي ؛ نو باید وزوی ته په واده کولو کي بوخت سي او دا ډېره غټه تجربه ده چي کوم پلار وزوی ته ژر واده وروکړي ؛ نو زوی یې په دې مهال کي د هوښیارۍ او پوهي خاوند سي ؛ ځکه انسان چي کله د واده خاوند سي ؛ نو په ژوند کي یې آراموالی او سکون پیدا سي او کله چي ژوند په سکون کي سي ؛ نو دا مهال د انسان هوښیاري او پوهي تازه سي او دا د واده اوله گټه ده .

**د واده نوري گټي** : او داسي نوري گټي هم له واده سره وانسان ته پیدا کیږي، لکه : (۱) د جوهري موادو پالل او هغه نه ضایع کول . (۲) د تناسلي اندام امانت په خپل ځای کي استعمالول . (۳) د مُحمّدي اُمت د نسل زیاتېدل . (۴) د ایمان تازه کېدل . (۵) د عبادتو په خوند پوهېدل . (۶) د عبادتو د اُجرت زیاتېدل .

---

[1] قال المُلا علي قاري في شرح هذين الحديثين : وعن أبي سعيد وابن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا قالا : قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : (مَن وُلِد له ولَدٌ)، أي : ذَكَرًا، أو أنثى ؛ (فليُحسن) بالتخفيف والتشديد (إسمه)، (وأدّبه)، أي : معرفة أدبه الشّرعي، (وإذا بَلَغ)، وفي نُسخةٍ صحيحةٍ بالفاء، (فليُزوّجه)، وفي معناه : التسري، (فإن بلغ)، أي : وهو فقير، (ولَمْ يُزوّجه)، أي : الأب وهُو قادر، (فأصَاب)، أي : الولَد، (إثمًا)، أي : مِن الزنا ومُقدّماته، (فإنّمَا إثمه على أبيه)، أي : جزاء إثمه عليه ؛ لتقصيره، وهو محمول على الزّجْر والتّهْديد لِلمُبالغة، والتأكيد . قال الطّيبي رَحِمَهُ اللهُ : أي جزاء الإثم عليه حقيقةً، ودَلّ هذا الحصر على أنّ إثم على الولد مبالغة ؛ لأنهُ لم يتسبب لما يتفادى ولده من إصابة الإثم .

وعن عُمَر بن الخطاب، وأنس بن مالك رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا عن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ قال : (في التّوراة مكتُوبٌ : مَنْ بَلَغتْ إبنته ثِنْتي عشرة سَنَة، ولم يُزوّجها)، أي : ووجد لها كُفوًا، (فأصابت إثمًا)، أي : ما إثم به مِن الفواحش، (فإثْمُ ذَلك)، أي : إصابتها، (عَلَيه)، أي : على أبِيها - رواهما البيهقي في شُعب الإيمان ؛ إنتهى . وگوره ! مِرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، كِتاب النّكاح، باب الولي في النّكاح وإستئذان المرأة، الفصل الثالث .

[یعني : چي اجر د عبادت به د واده والا تر نا واده والا زیات وي او د حدیث له نظره معلومیږي چي : (د یو واده والا دوه رکعاته تر ناواده والا تر دوو رکعاتو په اویا چنده فضیلت لري)] . (۷) د کور تدبیر سمېدل او فکر یې پیدا کېدل . (۸) د سُنت ژوندي کېدل . (۹) د ښه زوی، یا لور پیدا کېدل چي تر مرګ وروسته به ومور او پلار ته دعاوي کوي . (۱۰) د رُوح سُکُون [یعني: آرامتیا] حاصلېدل . (۱۱) د خالق او مخلوق راضي کېدل . (۱۲) د موټ وهني، زنا، لواطت او داسي ټولو تناسلي ګناوو، له ناروا شهوتونو او وبالو څخه د نفس راګرځېدل – همدا یې تر ټولو غټه ګټه ده آه ! . (۱۳) د سترګو، تناسلي اندام او د ټول نفس د حق حاصلېدل . (۱۴) او د دنیا وآخرت د ښه ژوند تېرېدل .

دا ټولي ګټي الله ربّ العزت په نکاح (واده) کي ایښي دي ؛ نو باید چي هر پلار او مشر د خپلو کشرانو په باره کي ډېر غور وکړي او غم یې وخوري ؛ ځکه چي د مُعاشرې زیاتره اړخ له دغي لاري څخه سمیږي کوم چي د فکر خاوندانو دا په تجربو وځانو ته معلومه کړې ده .

او غټه وجه د زنا، لواطت او داسي نورو تناسلي ګناوو د زیاتېدو دا ده چي : مور او پلار، یا داسي هغه مشر چي د واده ذمه یې پر غاړه وي ؛ نو هغه خو لوړې د تعلیم او تعلم غم د خپلو کشرانو نه خوري، بل دا چي د واده غم یې هم نه خوري ؛ باید چي د تعلیم، تعلُم، نِکاح او د هر څه غم یې وخوري ؛ ځکه مور او پلار د دوی لپاره سایه دار آسمان دی او هواره مځکه ده[1] .

---

[1] لکه څرنګه چي دې خبري ته أحنف بن قیس په خپلي یوې وینا کې اشاره کړې ده او هغه وینا علامه أبشیهي صاحب په تفصیل سره په خپل کتاب المُستطرف کي نقل کړې ده او عبارت یې په لاندي ډول دی :

وغضب معاوية على يزيد، فهجره ؛ فقال الأحنف : (يا أمير المؤمنين ! أولادنا ثِمار قُلوبنا، وعِماد ظهورنا، ونحن لهم سماء ظليلة، وأرض ذليلة، وبهم نصول على كل جليلة. فإن غضبوا ؛ فأرضهم، وإن سألوا ؛ فأعطهم، وإن لم يسألوا ؛ فأبتدئهم، ولا تنظر إليهم شزرا ؛ فيملوا حياتك، ويتمنوا وفاتك) . فقال معاوية : يا غلام ! إذا رأيت يزيد ؛ فاقرأه السّلام، واحمل إليه مائتي ألف درهم ومائتي ثوب ! فقال يزيد : من عند

**د اولاد روزنه او حقوق** : پوه سه ! که دا آسمان پر دې اولاد نسکور وي، یا دا ځمکه وربانديي تنګه وي ؛ نو بیا به څرنګه اولاد صالح سئ ؟! او څرنګه به یې مور او پلار ته ګټه ورسیږئ ؟! باید چي د اولاد حقوق ورادا کړي ؛ ځکه بیا به دغه اولاد د دوی حقوق ورادا کړي او د اولاد حقوق دا دي : (۱) ښه نوم پر ایښودل . (۲) په تعلیم کي یې تربیه کول . (۳) د واده بندوبست یې کول . (۴) په ورین تندي او نرمه لهجه د دوی عیبونه اصلاح کول . (۵) په فرایضو کي د دوی تربیه کول، [یعني : د لمانځه، روژې او داسي ټولو فرایضو اصلاح یې کول چي سم یې ادا کړي] . (۶) ښه ادب ورزده کول . (۷) او تر داسي مهاله د دوی نفقه برابرول او ورکول چي بلوغ ته رسیږي او په خپله نفقه برابرولای سي .
دا یې ټوله حقوق دي ؛ باید په پوه سئ ! د هوښیار لپاره صِرف اشاره هم کافي ده.

تنبیه : د اولاد د تربیت او د هغوی د معاشرې سمولو لپاره ودغو دوو کتابو ته مراجعه وکړئ ! یو (تربیة الأولاد في الإسلام) او بل (التّقصیر في تربیة الأولاد) .

## د اوسنیو ځوانانو لپاره څه کول په کار دئ ؟

هغه څوک چي په دې غیرې فطري عمل مبتلا وي ؛ نو د هغه لپاره دا په کار دي :
(أ) چي لومړی ځل له ځانه سره فکر وکړي د خپل عمل په باره کي، ایا دا فکر فاعل، یا مفعول به نه سي کولای ؟ چي دا زه په کوم عمل اخته یم ؟! دا خو زه په هغه ناوړه او بد کار اخته یم ! چي زموږ ربّ ﷻ په دُنیا او آخِرت کي ناروا کړی دی .
دویم ځل دي په خپل حال ژړا او افسوس وکړي چي دا اوس زه څه کوم ؟! په

---

أمیر المؤمنین، فقیل له : الأحنف، فقال یزید بن معاویة : عليّ بِهِ، فقال : یا أبا بحر ! کیف کانت القِصّة، فحکّاها له ؛ فشکر صنیعه، وشاطره الصلة ؛ إنتهی .
وګوره ! المُستطرف ۲ ټوک، ۲۱ مخ .

آخرت کي به خپل ربّ ﷻ ته دا تلسو زرو عالَمُونو په وړاندي څه ځواب ورکوم ؟!.

درېیم ځل دي اودس او غُسل تازه کړي او خپل حقیقي محبوب ربّ ﷻ ته دي پر سجده پرېوزي، ژړاوي او فریادونه دي وکړي، اوښکي دي توی کړي او له دې ناوړي بدفعلۍ څخه دي په اخلاص توبه وباسي اوکوم فاعل، یا مفعول به چي په دغو درېو رهنماییو عمل وکړي ؛ نو د خپل قیمتي ژوند په خوند به پوه سي.

(ب) دویم : هغه څوک چي له دغي ناوړي بدفعلۍ څخه الله تعالی ساتلی وي ؛ خو اراده یې دا وي چي : کله د دې بدفعلۍ چانس وروړسیږي ؛ نو په خوشاله سي – داسي څوک دي له خپل ربّ ﷻ څخه وشرمیږي ؛ ځکه له ده څخه د ده هیڅ عمل نه پټیږي او د خپل پیغمبر حضرت مُحمّد ﷺ وخبرو ته دي د زړه په سترګو وګوري چي له دغي ناوړي بدفعلۍ څخه یې په بشپړه زړه واوړي او هغه خبري، آثار او اقوال ټوله په دې کِتاب کي ومخ ته تېر سوي دي.

(ج) درېیم : هغه څوک چي مالداره وي، پر واده کولو یې ښه توان او وس وي ؛ نو د داسي چا لپاره د واده ځنډول نه دي په کار او کله چي له دغسي چا څخه یوه ګناه وسي ؛ الله تعالی په آخرت کي دوچنده سزا ورکوي ؛ ځکه یوه ګناه خو یې دا ده چي د خپل مُبارک عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سُنت ادا کول یې وځنډول، چي هغه واده کول دي او بله ګناه یې دا ده چي دی پر واده کولو ښه توان لري او بیا یې هم ځنډوي ؛ نو له دغه کبله الله ﷻ وداسي چا ته په آخِرت کي دوچنده سزا ورکوي.

(د) څلورم : هغه څوک چي پر واده کولو ښه توان نه لري ؛ مګر د خپل شهوت عُذر لري ؛ نو د داسي چا لپاره د شهوت قابو کول [یعني : کنټرولول] ډېر ضروري دي ؛ ځکه واده کول یې په وس نه وي پوره او زنا، یا موټ وهني، یا لواطت ته یې میلان کیږي او کله چي دې کس خپل شهوت یې په قابو کي راویستی ؛ نو د مستۍ عُذر به یې ختم سي او ګناه ته به یې زړه میلان نه کوي،

چي په نتيجه كي به له ټولو تناسلي ګناوو كولو ځخه په امن وي او د شهوت قابو كولو لپاره به مختلفي نسخې په راروان عنوان او سرليک كي ذِكر سي .

(ه) پينځم : هغه ځوک چي واده والا وي، مشر وي، كه كشر ؛ بايد د ناواده والاوو ځه ناځه مرسته په دې كي وكړي چي د واده بندوبست يې وسي .

(و) او شپږم : دا چي دغه ټول كسان او ځوانان كوم چي اوس په تېرو شمېر كي ذكر سول او داسي ټولي ښځي ؛ بايد د ټولو آدابو، فرايضو، مُستحباتو، واجباتو اَو خپلو مسؤليتونو د وخت په تقاضا باندي لحاظ وكړي او اهتمام يې وساتي ؛ ځكه د دوی ټولو ژوند به په ښايسته سي، مُشكلات به يې حل سي او هرځای به بهرمند وي .

دا د اوسنيو ځوانانو او په عامه توګه د ټولو مسلمانانو لپاره اصولي او ادبي لارښووني وې ؛ الله تبارک وتعالی دي يې د نېكمرغۍ لامل وګرځوي ؛ آمين، يا ربّ العالَمين ! .

اوس به د شهوت قابو كولو سرليک پيل سي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق .

## د شهوت قابو كولو لپاره مختلفي مجربي نسخې

د هغه چا لپاره د شهوت قابو كول ډېر ضروري دي چي پر واده كولو توان نه لري او ګناه ته يې شوق كيږي ؛ ځكه له داسي چا ځخه خامخا يوه ګناه كيږي چي خپل شهوت په قابو كي نه راولي او كله چي يې خپل شهوت په قابو كي راوړستی ؛ نو تر واده كولو پوري به يې زړه آرام وي او ګناه ته به يې ميلان نه كيږي، كله چي بيا واده وكړي ؛ نو پر واده به ښه خوند هم واخلي ؛ ځكه ده به خپل اماني شهوت د خپلي حلالي نكاح لپاره ساتلی وي او په همدې وجه الله ﷻ به يې په واده كي بركت واچوي .

او د شهوت قابو كولو لپاره بېلابېلي نسخې سته چي ځيني جسماني دي او ځيني روحاني، د جسماني نسخو لپاره دي له طبيبانو سره تماس ونيول سي او د

روحاني نسخو لپاره دي چي ډيري آسانه هم دي ؛ دا عنوان وويل سي او عمل دي پر وکړل سي چي شهوت يې په بشپړه قابو سي او تر واده کولو پوري آرام او هوساژوند تېر کړي .
هر هغه ځوک چي خپل شهوت په دې آخره زمانه کي له بېلابېلو فتنو څخه قابو کول غواړي ؛ هغه کس بايد پر روحاني نسخو د عمل کولو تر مخه د دريو شيانو خيال وساتي او هغه لکه : اودس، يقين او صفا نيت ؛ نو کوم ځوک چي د دغو دريو اصولي آدابو لحاظ وساتي ؛ هغه به خامخا د نسخې برکت وومومي او رُوحاني نسخې ټولي په راتلونکي ډول سره دي :

**لومړۍ نسخه** : د چا چي شهوت په جوش کي راسي ؛ نو کليمه د (لَا إِلٰه إِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰه) دي ووايي ؛ ځکه دا د شهوت جوش آراموي او له فتنې څخه انسان ژغوري او ښه مجربه طريقه يې دا ده چي اووه ځله يې ولولي ؛ ځکه بيا به يې خپله په اثر پوه سي او برکت به يې وومومي چي هغه برکت د شهوت د جوش آرامول دي او د سينې فراخول دي .

**دويمه نسخه** : د ورځي سل ځله (يَا مَلِكُ ! يَا عَزِيْزُ !) لوستل هم يوه مجربه نسخه ده، لکه څرنګه چي ځينو په تجربه رسولې ده .

**درېيمه نسخه** : ځوک چي له زنا، يا له لواطت کولو څخه پر ځان وېرېږي او يا يوه ښځه له مساحقت کولو او يا له مېړه څخه پر ځان په دې وجه وېرېږي چي داسي نه وي اوس زما مېړه له ما سره په زور، يا په خوښې لواطت وکړي ؛ نو په دغو ټولو صورتو کي دي هغه نارينه، يا ښځينه د ورځي په سر کي لاندي دعاء اتلس ځله ولولي :
(بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، يَا حَيُّ ! يَا قَيُّوْمُ ! بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيْثُ أَصْلِحْ لِيْ شَأْنِيْ كُلَّهٗ، وَلَا تَكِلْنِيْ إِلٰى نَفْسِيْ طَرْفَةَ عَيْنٍ) .

**ژباړه** : زه شروع کوم ! د الله (تعالی) په نامه سره چي مهربان دی (په دُنیا کي په عامه توګه پر کافرانو او مسلمانانو) او ډېر مهربان دی (په آخرت کي په ځانګړې توګه پر مومنانو او نه پر کافرانو)، اې د (ازلي او ابدي) ژوند خاونده ! او اې دروونکې ذاته ! ستا په رحمت سره (خاص) تا ته فریاد کوم ! زما (دژوند) شان (اوسترياوي) ټوله را اصلاح کړه ! او ما خپل نفس ته د سترګو د رپ په اندازه هم مه سپاره ! (آمین، یا إلهُ العالَمِین !) .

او که هره ورځ د شهوت قابو کولو والا د خپل شهوت د جوش پر وخت دا دعاء ولولي ؛ نو هيڅ کله به يې يوې تناسلي ګناه ته میلان پیدا نه سي او دا هم يوه ډېره مجربه نسخه ده چي په تاثیر کي يې شک نسته .

**څلورمه نسخه** : يا دي د خپل پيغمبر حضرت مُحمّد ﷺ دا ماثوره مبارکه دعاء ووايي ؛ ځکه ده خپله هم د شهوت قابو کولو خواست کړی دی او د منیو له شره يې په الله تعالی باندي پناه غوښتې ده او هغه دُعاء په لاندي ډول سره ده :

(اَللّٰهُمَّ عَافِنِيْ مِنْ شَرِّ سَمعِيْ وَبَصَرِيْ وَلِسَانِيْ وَقَلْبِيْ، وَشَرِّ مُنِيِّي) .

**ژباړه** : اې زموږ لويه څښتنه ! ما د اورېدني، سترګي، ژبي، زړه او د منيو له شره په امن کړې ! (آمین، یا إلهُ العالَمِین !) .

او دا دُعاء د شهوت د جوش پر مهال ويل او ډېره ازمايل سوې ده چي په تاثير کي يې شک نسته او بل دا چي دا ماثوره دُعاء ده، [یعني : رسول الله ﷺ په خپل ژوند کي ويلې ده] او دا مُجربه دُعاء امام المُحدثين حضرت امام بُخاري رحمة الله علیه په (الأ دبُ المُفرد) کي په خپل سند سره روايت کړې ده، لکه څرنګه

چي لاندي په حاشیه کي یې حواله ثابته ده[۱].

**د حکمت خبره :** کومه دعاء چي اوس د رسول الله ﷺ تېره سوه ؛ نو په هغه کي د څلورو شیانو له شره څخه په الله تعالی باندي پناه غوښتل سوې وه، لکه : د غوږونو د اورېدني له شره څخه، د سترګو د لیدني له شره څخه، د زړه د بدو تصوراتو له شره څخه او د منیو له شره څخه او دا ؛ ځکه دغه څلور شیان یاد سوي دي چي ټوله شرونه، بلکي په حقیقت کي د ټولو تناسلي ګناوو چمونه او شرونه له دغو څلورو شیانو څخه پیښیږي او په همدې وجه زموږ ګران پیغمبر حضرت محمّد ﷺ خاص د دغو څلورو شیانو له شره په الله تعالی باندي پناه غوښتله.

او باید چي د ده مُبارک هر اُمتي دا قیمتي دُعاء تر فرضي لمونځونو وروسته، یا داسي بل په فارغ وخت کي په اخلاص سره ولولي ؛ ځکه چي سُنت یې پر ځای سي او برکتونه یې په خپله ویني چي په نتیجه کي به یې ټول ژوند روښانه سي.

او دا هم یاد ساتئ ! دا ماثوره دعاء چي څرنګه امام بخاري رحمه الله په (الأدب المُفرد) کي روایت کړې ده ؛ نو امام ترمذي هم په خپل (جامع السّنن) کي روایت کړې ده[۲].

**لطیفه :** امام غزالي رحمة الله علیه د دې آیت : ﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ۝﴾ په تفسیر کي له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي دي، وایي : (په دې کي له

---

[۱] حدثنا يحيى بن موسى، قال : حدثنا وكيع، قال : حدثنا سعد بن أوس، عن بِلال بن يحيى، عن شتير بن شكل بن حميد، عن أبيه، قال : قُلتُ : يا رسول الله ! علّمني دعاء أنتفع به، قال : قُلْ : (اللّهمّ عَافِنِي مِن شَرّ سَمْعِي وَبَصَرِيْ وَلِسَانِيْ وَقَلْبِيْ، وَشَرّ مَنِيّي)، قال وكيع : مَنِيي، يعني : الزّنى والفُجُور .
قال الشّيخ الألباني رحمه الله : صحيحٌ .
وګوره ! الأدب المُفرد ۲۳۱ مخ، حديث شمېره (٦٦۳) آه !.

[۲] د حديث شمېره يې دا ده : (۳٤۹۲) .

تناسلي آلې څخه پناه غوښتل سوې ده)[1]، يعني : اې الله ! ما ته پناه راکړې له دې څخه چې زما تناسلي آله د شهوت د جُوش پر مهال شک ودرېږي .
او فياض بن نجيح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمايلي دي : کله چې د نارينه کاتال شک ودرېږي ؛ نو درېيمه برخه عقل يې له مينځه ولاړ سي . او ځينو ويلي دي چې : درېيمه برخه دين يې ولاړ سي[2] .
مطلب دا چې انسان دي تل په الله تعالى سره له جوش څخه د خپل شهوت چې له امله يې تناسلي اندام شک درېږي ؛ پناه غواړي، ځکه له دې څخه د موت، زنا او لواطت خطر پيدا کيږي او دغه وخت د انسان عقل او ديني پوهه بې کاره کيږي، لکه څرنګه چې دا يو معلوم حقيقت دی .

پينځمه نسخه : د آيت کُرسي لوستل تر هر فرضي لمانځه وروسته هم يوه مجربه نسخه ده او په لوستلو کي يې غټ راز دا هم دی چې له سري به د دې ويونکي انسان وګناه ته شوق نه کيږي، لکه څرنګه چې ما ته يې خپله درک معلوم سوی او تجربه يې راته سوې ده .
له حضرت أنس رَضِيَ اللهُ عَنْه څخه روايت دی چې : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم وفرمايل : (څوک چې آيت کُرسي تر هر فرضي لمانځه وروسته ولولي ؛ نو الله جَلَّ جَلَالُه به يې تر بل لمانځه پوري وژغوري،..)[3]، يعني : له فتنو او مختلفو شرونو څخه به يې

[1] إحياء علوم الدّين د امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه، کتاب آداب النّکاح، الباب الأوّل في التّرغيب في النّکاح والترغيب عنه، ۲ توک، ۲۸ مخ . او په دې اثر کي چې کوم أيت ذکر دی ؛ نو هغه د سُورة الفلق درېيم شمېره دی .
همدا ډول ددې قول يادونه يې په (کتاب کسر الشّهوتين) په (القول في شهوة الفرج)، ۳ توک، ۹۹ مخ کي کړې ده .
[2] تېره حواله .
[3] دا حديث مُحدث بيهقي په کتاب شُعب الإيمان ۴ توک، ۵۷ مخ کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۲۱۷۵) او عبارت يې په لاندي ډول سره دی :

وساتي، لکه : د شهوت شر، د سترګو شر، د نس شر، د غوږونو شر، د زړه وسوسې او داسې نور .
او د لوستلو غوره طريقه يې دا ده چې : امام يې تر فرضو وروسته دستي ولولي او مقتدي دې يې تر سنتو وروسته ولولي، هو ! که د سهار او ماځيګر لمنځونه ول ؛ نو بيا دې يې مقتدي هم تر فرضو وروسته دستي لولي ؛ ځکه د سهار او ماځيګر تر لمانځه وروسته سنت نسته، له همدې کبله دې يې مقتدي دستي لولي، لکه څرنګه چې زموږ د مذهب حنفي دغه پرېکړه ده .

**شپږمه نسخه** : د دې آيت لوستل دي : ﴿إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٌ ۝٨﴾[1]، دغه آيت دې پر يوولسو برابرو کاغذانو نويشته کړي، څانبتونه دې ځني جوړ کړي او يوولس ورځې دې يې څانبتونه وچيښي، هره ورځ دې سهار په نهاره يو څانبت په پاکو اوبو کې چيښي او دا هم د شهوت قابو کولو لپاره کافي علاج دی او ښه نسخه ده .

**اوومه نسخه** : د الله تعالی په نهه نوي (۹۹) نومونو کې دې هر هغه نوم پر يو پاک کاغذه نويشته کړي چې په هغه کې ياء وي، لکه : (الرَّحِيْمُ, الكَرِيْمُ, العَظِيْمُ, الحَيُّ, القَيُّوْمُ, الحَسِيْبُ, المُجِيْبُ, اللَّطِيْفُ...) او داسې نور او دا نومونه تقريبا يوڅلوېښت دي[2]، کله چې يې دا ټول په يوه کاغذه کې نويشته کړه ؛ نو بيا دې يې يو جېک ته واچوي، داوو سهارو په اندازه پاکې اوبه دې پسې ورواچوي، بيا دې هر سهار چې اووه ورځې جوړېږي يو يو ګيلاس ځني

---

عَنْ أَنسٍ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : (مَنْ قَرَأَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاةٍ مَكْتُوبَةٍ آيَةَ الْكُرْسِيِّ حُفِظَ إِلَى الصَّلَاةِ الأُخْرَى، وَلا يُحَافِظُ عَلَيْهَا إِلا نَبِيٌّ، أَوْ صِدِّيقٌ، أَوْ شَهِيدٌ) ؛ إنتهى .

[1] د الطّارق سورت ۸ آيت، آخري سپاره .

[2] يادونه : د الله ﷻ دا نومونه له اعرابه، يعني زور، زېر، پېښ او غړوندي سره نويشته کوي، يا نه ؛ خو په تاثير کې پروا نه لري .

چيښي ؛ ځکه دا هم يوه مجربه نسخه ده، ما په خپله وشلو جرو ځوانانو ته ازمويلې ده چي صحيح سوې ده او ټولو شفاء وربانديي موندلې ده، والحمدُ لله تعالیٰ .

**اتمه نسخه :** د شهوت قابو کولو لپاره د روژې نيول هم ښه دي، کوم کس چي د شهوت جوشي پر مهال درې ورځي روژې ونيسي ؛ نو شهوت به يې په خپله قابو سي او له حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي : رسول الله ﷺ وفرمايل : (اې ځوانانو ! په تاسو کي که څوک مستي لري [يعني : واده کول يې په وس پوره وي او د ولور ادا کولو وس لري] ؛ نو واده دي وکړي ؛ ځکه د واده کول سترګي او فرج دواړه له فتنې څخه ژغوري او که څوک پر واده توان نه لري ؛ نو روژې دي ونيسي ؛ ځکه روژه نيول شهوت په قابو کي راولي)[1] .

لکه څرنګه چي دا يوه مهمه روحاني اونبوي نسخه ده .

**آخري نهمه نسخه دا ده :** چي انسان کله واده وکړي ؛ نو شهوت به يې خپله په قابو کي راسي او د ژوند په خوند به پوه سي ؛ ځکه الله تبارک وتعالی واده له تمامو تناسلي ګناوو څخه د حفاظت ذريعه او لامل ګرځولی دی او تر ټولو نسخو همدا نسخه ښه مجربه ده .

دا ټولې هغه مهمې روحاني نسخې دي چي له مختلفو کتابو څخه راټولې سوي

---

[1] حديث امام بُخاري او امام مُسلم دواړو روايت کړی دی، يعني : مُتفق عليه دی او عبارت يې په داسي ډول دی :

(يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنكُمُ الْبَاءَةَ ؛ فَلْيَتَزَوَّجْ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ ؛ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ ؛ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ) ؛ إنتهی .

اللؤلؤ والمرجان في ما إتفق عليه الشّيخان ۸۹ مخ، حديث شمېره (۸۸۴) او امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ په إحياء عُلُوم الدّين کي نقل کړی دی، ۲ ټوک، ۲۵ مخ .

دي[1] او دلته په دې کتاب کي د الله تعالی په توفیق سره یوځای سوي دي او ټولي په تجربه رسېدلي دي، که په هري یوې تجربه وسي ؛ نو ګټه به یې ژر تر ژره ومومي ؛ إن شاء الله ﷻ .

**یادونه :** دا خو د شهوت قابو کولو لپاره مهمي نسخې سوې او داسي د نن زمانې انسانانو، په ځانګړې توګه بیا وټولو عوامو ته د دې پېژندل ضروري دي چي د سرعت انزال[2] احتلام او جریان[3] لپاره کومي کومي نسخې ښې دئ ؟ او څه علاج یې دئ ؟! ځکه دا هم زیاتي سوي دي ؛ نو د دې د پېژندلو لپاره به اوس مخ ته په سرلیک کي بیان وسي .

## د سُرعت انزال، احتلام او جِریان لپاره رُوحاني نسخې

سُرعت انزال هغه ناروغي ده چي : د کوروالی پر وخت انسان خپل مُني نه سي قابو کولای، بلکي مُني یې ژر خارجیږي، خوند او لذت ډېر نه سي پر اخیستلای ؛ نو د دې ناروغۍ لپاره لوی څښتن تبارک وتعالی بېلابېلې نُسخې موندلي دي چي هغه ځیني جسماني او ځیني رُوحاني دي، د جسماني نسخو

[1] مختلف کتابونه دا دي : اعمال قرآني د اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه ۱۰۱ مخ، إحياء علوم الدّين ۲ توک، ۳۱ مخ، شفاء روحاني وجسماني ۷۹ مخ، خزينة الأسرار ۱۶۱ - ۱۶۲ مخونه، مجربات سنُوسي (پښتو) چي خپله ما ژباړلی دی، ۱۶ مخ او داسي نور .

[2] سرعت انزال : دا یوه ناروغي ده چي : د کوروالی پر وخت انسان خپل مُني نه سي قابو کولای، بلکي مُني یې ژر خارجیږي .

[3] احتلام : په خوب کي شيطان خطا ايستنه، يعني چي یو انسان په خوب کي شيطان خطا باسي او غُسل ورباندي واوړي .

او جريان دې ته وايي چي : انسان کله تشي بولي وکړي ؛ نو تر بولو وروسته د مذي، یا مُني څو څاڅکي راووځي، یا له بولو سره په خپله راوځي، مطلب دا دئ که مَذي وي ؛ بیرته به اودس نوی کوي او که مَني وي ؛ نو غُسل به تازه کوي، يعني : په دې صُورت کي چي د مَني څاڅکي راووځي ؛ نو غُسل پر اوړي او برابر خبره ده مني که په شهوت راووځي، یا بېله شهوته راووځي ؛ نو غسل پر انسان واجبیږي او پر اوړي اه!.

لپاره دي له طبيبانو سره تماس ونيول سي او د رُوحاني نسخو لپاره دي دا عنوان وويل سي او عمل دي پر وکړل سي ؛ اوس به د لومړي ځل لپاره د سُرعت انزال، دويم به د احتلام او درېيم به د جريان نسخې بياني سي ؛ بالله التّوفيق[ وبيده أزِمّة التّحقيق .

**لومړی د سُرعت انزال لپاره نسخه :** کوم کس چي د سرعت انزال په ناروغي اخته وي او غواړي چي د ده مني امساک[1] وکړي، يعني : چي مني يې ژر نه وځي او په خپل قابو کي يې راولي ؛ نو داسي څوک دي نارينه وي او که ښځينه چي په دې ناروغي مبتلا وي ؛ تر ټولو مخکي دي حکيم ته ورسي چي هغه يوناني طبيبپوه دی ؛ ځکه معلومه خبره ده چي د سرعت انزال لپاره يوناني درمل (دواء) ډېره ښه ګټه کوي او بيا تر دې وروسته انګريزي درمل ګټه کوي .
هو ! که د چا وس نه وي چي يوناني درمل رانيسي، يا انګريزي درمل رانيسي ؛ نو هغه دي روحاني درمل وکاروي چي هغه عمليات، يعني : تعويذونه، څاښتونه او ذکرونه دي .
نو په عملياتو کي دي کښته نقش نويشته کړي، که يې په خپله نه سي نويشته کولای ؛ نو د بل داسي چا په واسطه دي يې نويشته کړي چي خط يې زده وي او په وخت د حاجت کي دي يې تر ژبي کښته ايږدي، يا دي يې د ټوکره په يوه ټوټه کي وپېچي، بيا دي يې موم جامه کړي [يعني : په داسي ټوکره کي دي يې وپېچي او وګنډي چي اوبه نه جذبوي] او تر ملا دي يې وتړي او دا ډېر مُجرب نقش دی ؛ ځکه کوم چا چي په وخت د حاجت کي ترملا تړلی ؛ نو ګټه يې ورته کړې ده او هغه نقش په راتلونکي ډول دی .
او د سُرعت انزال لپاره دا مُجربه نُسخه ده[2] او بله مجربه مي داسي نه ده موندلې ؛ نو بايد چي انسان بس په داغه کفايت وکړي ؛ والحمدُ للهِ تعالیٰ .

---

[1] امساک : درونه، يعني : مَني په قابو او کنترول کي راويستل .

[2] آينه عمليات ۲۶۸ مخ .

| | | | |
|---|---|---|---|
| ص | ن | ن | و |
| ص | د | د | ما |
| ع | ي | و | س |
| ع | هـ | ن | م |

**دويم د احتلام لپاره نسخه :** کوم کس چي نارينه وي، يا ښځينه او د احتلام په ناروغي اخته وي ؛ نو بايد لاندي آياتونه د خوب پرېوتولو پر وخت، يا مخکي تر خوب يې په يادو ولولي، که خدای کول په دې شپه به له احتلام [يعني : شيطان خطا ايستلو] څخه په امن سي .

﴿وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ۝٢ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ۝٣ إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ۝٤ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ۝٥ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ۝٦ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ۝٧ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ۝٨ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ۝٩ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ۝١٠﴾[۱] .

که د دې لسو آياتونو يادول ودې کس ته ګران وي ؛ نو بيا دې لومړی درې آياتونه درې درې ځله ولولي چي له احتلام څخه يې الله تعالی وژغوري[۲] .

**بله رُوحاني نسخه د احتلام د دفعه کېدلو لپاره :** د (سُورة النّوح) لوستل ډېر مُجرب دي، که څوک يې له خوب پرېوتلو څخه مخکي ولولي ؛ نو الله ﷻ به يې له احتلام څخه وژغوري[۳] .

---

[۱] د الطّارق سورت ۱ - ۱۰ آياتونه، آخري سپاره .

[۲] اعمال قرآني ۱۷۵ مخ .

[۳] شفاء رُوحاني وجِسماني ۵۸ مخ .

**بله رُوحاني نسخه يې دا ده :** هغه انسان چي ډېر احتلام يې کيږي ؛ بايد پر خپله سينه، يا تندي لفظ د (عُمر) نويشته کړي او بيا دي پسي بيده سي، کله چي راويښ سي او شيطان خطا ايستېدو ته نزدې سي ؛ نو بيا دي لفظ د (عُمر) نويشته کړي او څومره چي له خويه څخه راپورته کيږي ؛ نو هغومره پلا دي يې نويشته کوي او څوک چي دا عمل په دې ترتيب سره وکړي ؛ نو بيا به يې شيطان لعين هيڅ کله په خوب کي خطا نه کړي[1] ؛ دا تجربه ده .

**عجيبه نکته :** حضرت عُمر ﷺ د اسلام دويم خليفه دی او دا د ده د نامه دومره برکت دی چي کوم کس يې تر خوب پرېوتلو مخکي نوم پر سينه نويشته کړي ؛ نو له احتلام څخه به يې الله تعالی وساتي او دا له دې کبله چي ده په خپله يو مهال وفرمايل : (زه اووه کاله پرلپسې شيطان په خوب کي نه يم خطا کړی ؛ ځکه الله تعالی زما څخه شيطان لعين بېرولی دی) ؛ نو له دې وجي څخه الله ﷻ د ده په نامه کي تر قيامته دا برکت کښېښود، لکه څرنګه چي يې په ده کي خپله دا برکت او سپېڅلی خوی ايښی وو چي شيطان به نه خطا ايستی او شيطان له ده څخه ډېر زيات بېرېدی تر دې چي پر کومه لار به دی تللی وو ؛ پر هغه لار به شيطان نه تلی. او دا د لفظ د (عُمر) ﷺ يو عجيب راز دی او بختوره ګټه يې ده .

**بله روحاني نسخه يې دا ده :** چي انسان د پرېوتو پر مهال پر خپل راسته ورانه په خپلي ګوتي او ناوړو سره لفظ د (آدم) او پر چپه ورانه لفظ د (حواء) نويشته کړي ؛ ځکه دی به له شيطان خطا ايستني څخه وساتل سي او دا هم مجربه نسخه ده .

**درېيم د جريان لپاره نسخه :** څوک چي د جريان په مصيبت اخته وي ؛ نو بايد له طبيبانو او حکيمانو سره تماس ونيسي کوم چي يوناني دواوو والا وي ؛

[1] آينه عمليات ۲۶۷ او ۲۶۸ مخونه .

ځکه یوناني دواء د جریان لپاره زیاتره وخت ګټوره خیږي او څوک چي په یوناني دواء کي اغیزمنده دواء غواړي ؛ نو هغه دي د سفوف جریان په نامه کپه رانیسي او پینځلس ورځي دي یې سهار په نهاره له اوبو سره یو یو ورغوی تېروي ؛ ځکه څو ورځي وروسته به دی خپله د ځان په روغتیا پوه سي چي ګټه به یې ورته حاصله سي ؛ إن شاء الله تعالیٰ .

**بله ښه نسخه یې دا ده :** چي د ګرمۍ په موسم کي یوه کاچوغه بسه په یخو اوبو کي اچوي او سهار، یا ماښام دي یې چیښي .

**بله آسانه نسخه یې دا ده :** یا دي هر سهار په نهاره یو ګیلاس یخي اوبه چیښي.

**بله مجربه نسخه یې دا ده :** او که دا یې هم په وسه نه وي ؛ نو تر هر اوداسه وروسته دي دري غوړو په د خپل اوداسه اوبه په خپل ورغوي کي چیښي ؛ ځکه دا د جریان ناروغي لیري کوي، سنت پر ځای کوي، مخ روښانه کوي، هضمیه برابروي، بدن غوړوي او داسي پتهو ناروغیو ته ګټه رسوي، لکه څرنګه چي تر اوسه زما خپله له دریو کالو راهیسي دغه تجربه ده ! .

**او رُوحاني نسخه یې دا ده :** چي انسان دي دغه لاندي آیت شریف پر اوو کاغذانو نویشته کړي، هر سهار دي یو یو کاغذ په پاکو اوبو کي وچیښي چي تقریبا اووه سهاره جوړېږي ؛ ځکه د الله تعالی په امر سره به شفاء ورته ورسوي :

﴿وَقِيلَ يَـٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَـٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ۝٤٤﴾[1] .

او ما ډېر کوشش وکړ ! چي د جریان لپاره بله یوه ښه روحاني نسخه هم پیدا کړم ! مګر داسي مجربه رُوحاني نسخه مي پیدا نه کړله، لکه څرنګه چي دغه اوس

[1] د هود سورت، ۴۴ آیت .

ذکر سوه.
اَو پوه سه ! په دې چي دا ناروغي زياتره وخت له موټ وهلو، لواطت او داسي نورو تناسلي ګناوو څخه پيدا کيږي ؛ مطلب دا کوم څوک چي په تېرو نسخو کي يوه استعمالوي ؛ نو هغه دي له استعمالېدو سره سره پرهېز هم کوي، يعني : که په موټ اخته وي ؛ بايد په آينده کي يې وه نه وهي، که په لواطت يا زنا اخته وي ؛ بايد د آينده لپاره په اخلاص توبه ځني وباسي او څوک چي پرهېز ورسره وکړي ؛ نو خامخا به شفاء هم ورته حاصله سي .
او يو چا ډېر ښه ويلي دي : "پرهېز تر علاج غوره دی" .
په دې خبره بايد هر انسان، په ځانګړې توګه ناروغ دي ځان ښه په پوه کړي او عمل دي پر وکړي ؛ ځکه الله تعالی د روغتيا د پايښت راز په پرهېز کي ايښی دی .
او د جريان ناروغي کله نا کله له کمزورۍ څخه هم پيدا کيږي او نن سبا په دې ناروغيو باندي په سلو کي نهه نوي (۹۹) فيصده ځوانان، بلکي عام انسانان په اخته دي او هر انسان څه جريان لري هغه نارينه وي او که ښځينه صرف هغه نه په پوهيږي چي زه جريان لرم او که يا ؟!
دا هغه مُجربي نسخې دي چي په تجربو رسېدلي دي ؛ نو زه دا وايم ! چي : الله ﷻ دي يې د ټولو هغو کسانو لپاره چي استعمال يې کوي او په تېره د ټولو ځوانانو لپاره د نېکمرغۍ لامل وګرځوي ؛ آمين، يا ربّ العالمين ! .

**يادونه** : سرعت انزال، احتلام او جريان د ځوانانو ځانګړي ناروغياني دي ؛ له دې کبله ما په دې کتاب کي درملني يې هم ذِکر کړې ! تر څو د استعمالونکو او عامو ځوانانو لپاره نېکمرغه سي .

## د غير فطري عمل لواطت پرستۍ علاج

کوم کس چي په دې ناوړه کار عادت لري – که هغه فاعل وي، يا مفعول به ؛

نارينه وي، يا ښځينه ؛ لوی وي، يا وړوکی ؛ نو د هغه علاج په څو لارښوونو سره کيږي او هغه ټوله په لاندي ډول دي :

**لومړی** : دغه کس بايد لومړی ځل دا کتاب په ښه توجُه سره مُطالعه کړي ؛ ځکه د خپل ربّ ﷻ ښووني، نبوي پيغامونه، د لوی بزرگانو او مشايخوو ويناوي به پکي ولولي چي الله تبارک وتعالی او د هغه پيغمبرانو او دوستانو له لواطت څخه څومره ممانعت کړی دئ ؟! .

**دويم** : دا کس بايد د حضرت لُوط عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه دُعاء د زړه په اخلاص د ضرورت پر مهال يو، يا دري، يا اووه، يا يوولس ځله ولولي : ﴿رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ١٦٩﴾[1] .

او د ضرورت مهال دا دئ چي : د انسان زړه ولواطت ته وهڅيږي، يا پر داسي ځای ورسي چي هلته لوطيان وي او دی پر خپل ځان له لواطت کولو څخه وبيريږي او يا دا چي دی دغو لوطيانو ته د هدايت بلنه کوي او دوی يې نه مني او انکار ځني کوي .

دا دعاء له لواطت، د لغړزنو له شوق او عشق څخه د ځان د ژغورني لپاره ډيره مجربه ده او دا هغه دعاء ده چي کله حضرتَ لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل قوم ته د هدايت لاره ښودله چي لواطت مه کوئ ! نو دوی به انکار ځني کوی او کله چي به يې انکار کوی ؛ نو حضرت لُوط عَلَيْهِ السَّلَامُ به دا دعاء کوله چي : اې ربه ! ما او زما کورنۍ له هغو عملو وساتې چي دوی يې کوي او دا په دې ګه ده چي د پيغمبر دعاء قبليدونکې وي .

او بايد چي دا کس کوم چي د لواطت خطر پر ځانويني ؛ دا دعاء او داسي نوري د حفاظت دعاوي دي هميشه کوي ؛ ځکه دُعاء د حفاظت سرچينه ده، بلکي د الله تعالی غوښتنه ده ؛ د رحمت کيلي ده ؛ د آسمانو رڼا ده ؛ د زړونو ځلا ده ؛ د

[1] د الشعراء سورت، ۱٦۹ آيت .

رنځور ښکلا ده ؛ د آخرت ذخیره ده ؛ د قدرت خزانه ده ؛ د حاجتونو پوره کوونکې ده ؛ د غمونو ایستوونکې ده ؛ د دِین ستنه ده او د امن بلنه ده .

**درېیم** : دا کس که پلار لري ؛ نو باید پلار یې سخت ووهي او په زړه پوري نصیحت دي ورته وکړي او که پلار یې دومره قدرت او وس نه درلود چې ویې وهي، یا نصیحت ورته وکړي ؛ نو بیا دي یې د بل کس په واسطه ووهي تر څو له ناوړي بدفعلۍ څخه توبه وباسي او که بیا یې د بل په واسطه هم نه سو وهلای ؛ نو بیا دي یې له کوره پسي واخلي او نه دي یې پرېږدي ؛ ځکه چې د ژوند لپاره یې سنجونه سي او خپل په بد عمل باندي پوه سي او د ځینو علماوو په نېز د داسي کس پالنه کول ناروا ده .

**څلورم** : دا کس که په یوه ټولنه کي وي، یا په یو مدرسه کي وي، یا په یو جومات کي وي، یا په حُجره کي وي او یا داسي په بل ځای کي وي ؛ نو باید له هغه ځایه وایستل سي ؛ ځکه وداسي کس ته ځای ورکول او اوسول ناروا دي .
**پینځم** : دا کس دي والله تعالی ته ژر تر ژره توبه وباسي او په اخلاص سره دي معافي ځني وغواړي .
**شپږم** : دا کس ؛ باید حد ورباندي جاري سي، حد نو دا دئ : که واده والا وو سنګسار دي سي او که واده والا نه وو ؛ نو بیا دي سل درې ورکول سي .
**اووم آخري** : دا کس که خپل ناوړه عمل روا ګڼي ؛ نو مرګ یې په اتفاق سره د علماوو روا دی ؛ ځکه یو اړخ ته ګناه کوي او بل اړخ ته یې روا ګڼي ؛ نو د داسي چا مرګ به ولې نه وي روا ؟! بلکي په شریعت کي یې اتّفاقا مرګ روا دی او کله چي یې د هغه ځای اوسېدونکي چي دا فاعل، یا مفعول پکي اوسېږي که یې مردار کړي ؛ نو خلګ به ټوله د هغه له بدفعلۍ څخه په امن سي او مرګ د هغه لپاره یو ستر علاج هم دی .
دغه اووه سره لَارښووني د فاعل او مفعول به لپاره هره یوه جلا جلا ستره روحاني نسخه ده او جسماني نسخه یې له پوه طبیبانو سره میلاوېږي او کوم چي

روحاني نسخه يې ده ؛ نو دا ډېر ژر اغېزه کوي ؛ ځکه رُوحاني نسخه د خالق ده او جسماني د مخلوق ده او له دې سره سره چې د جسماني درملو تاثير هم د الله ربّ العزت په اجازې سره دی .

**دَ څلورو برخو خاتمه** : اوس هغه مُهمي خبري پای ته ورسېدلې کومي چې د اوسنيو ځوانانو سره اړوند وې او هغه لکه : بدنظري، موټ وهنه، زنا، لواطت او مساحقت .

**د نن سبا پر حالاتو څرګندونه** : موږ او تاسي نن ډېر ښه سره خبر يو ! چې دا عملونه او بدفعلۍ څومره مخ ته تللي دي ؟! ورځ په ورځ زياتيږي او کميږي نه ؛ نو د دې لپاره ما فيضون ډېره هڅه وکړه چې د دغو څلورو بدفعليو او د قوم لُوط د اعمالو په اړوند مهمي خبري راټولي کړم ! هغه هم الله تعالی ما ته داغسي توفيق راکړ چې کومي مي نويشته کړې او راټولي مي کړې ! او تر دې ټولو وروسته به د شرابو او داسي نور نشو په اړوند برخه پيل سي ؛ ځکه دا هم داغسي سختي او خپرې ګناوي دي چې نن يې موږ وينو ! په دوکانو او بازارونو کي په پېخر او عامه توګه مختلف نشييزه توکي خرڅيږي .

او داسي څوک نسته چې وخرڅوونکي ته يې ووايي : دا ولې خرڅوې ؟! ورځ په ورځ فتنې زياتيږي او هيڅ فکر انسانان نه وهي چې موږ به تر څو دا ګناهونه کؤو ؟! مګر کامياب او بهرمند انسان هغه څوک دی چې بس توبه ژر وباسي، الله تبارک وتعالی دي زموږ پر ايمانو فضل وکړي .

**يادونه** : تر دې ځايه له لواطت سره اړوند مهم بحثونه ټوله پای ته ورسېدل، هو ! د مسئلو بيان يې پاته دی چې هغه به اوس ټوله په راټلونکي سرليک کي بيان سي کوم چې د نتيجو يادونه پکي کيږي . او له لواطت سره اړوند د کيسو او د لواطت د تعبير ذِکر به د برخې په تتمه کي وسي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزمّة التّحقيق .

❁❁❁

## (په مکمله توګه)

# د لواطت د مسئلو او د پاته نورو موضوعګانو مُهمې نتيجې

د لواطت په هکله چې کومې موضوعګانې، يا مسئلې، يا داسې نورې خبرې سوې دي او په مختلفو حنفي مذهب کتابو، رسالو، ورځپاڼو، مجلو، اسلامي انټرنيټي وېب پاڼو، اوونيزو او مقالو کې سره پاشل سوې دي او زما څخه يې په دې کتاب کې يادونه پاته سوې وي، که يې زه دلته راوړم؛ نو کتاب به ډېر اوږد سي او د مقصد له دايرې څخه به ووځي او پر لوستونکو به بوج سي؛ مګر ما له هغو ټولو څخه داسې نتيجې راوايستلې چې هغه ټولې دلته په څو خبرو کې حل سوي دي او هر لوستونکی کولای سي چې په پام کې يې ونيسي او د ضرورت پر مهال خپله ګټه ترې واخلي او هغه ټولې په لاندي ترتيب سره دي:

أ. لواطت کول لويه ګناه ده چې کوونکی يې په غټو ګناوو کې شامليږي او بې له توبې يې معافېدل نامُمکنه دي.

تنبيه: که يو انسان بالغه وي او له داسې چا سره لواطت وکړي، يا ځان وبل ته د دې لپاره تيار کړي چې لواطت ورسره وسي، حال دا چې هغه لوطي، يا ملوط نا بالغه وي؛ نو بالغ ګناهګار دی او نابالغه نه دئ ګناهګار او د دې ګناه ټوله وبال پر بالغ لويږي او پر نابالغه هيڅ ګناه نسته، هو! که نا بالغه په ښه او بد سم پوهېدی؛ نو بيا دواړه ګناهګاران دي، لکه څرنګه چې د زياترو علماؤ او فقهاؤ رَحمَةُالله عَلَيهِم دغه رأيه ده.

فايده: په دې بايد مخکې پوه سئ! کوم انسان چې بالغ وي، هوښيار وي؛ خوا هغه نارينه وي، يا ښځينه که يوه ګناه ځني وسي، د بيلګې په توګه لواطت ځني وسي، يا زنا ځني وسي، يا موټ ځني ووهل سي، يا بدنظري ځني وسي، يا هسې داسې بله غټه ګناه ځني وسي؛ نو هغه ګناهګار سو په غټې ګناه سره او که وړه ګناه ځني وسي؛ نو ګناهګار سو په وړې ګناه سره او د الله ﷻ له طرفه پر هغې ګناه نيول کيږي او که يو

انسان نابالغه وي، د بيلګي په توګه په ښه او بد سم نه پوهيږي، يعني : د ښو او بدو تميز نه سي کولای او مړاندي نه وي وهلی ؛ خوا هغه نارينه وي، يا ښځينه، که يوه ګناه ځني وسي ؛ غټه وي، يا وړه ؛ نو هغه نه ګناهګاره کيږي ؛ ځکه الله ﷻ له درو انسانانو څخه د عمل نامې قلم پورته کړی دی چي نه د معصيت (ګناه) عذاب او نه د عِبادت ثواب ورته نويشته کيږي او هغه لکه په صحيح حديث کي چي څرنګه راغلي دي : (له درو کسانو څخه قلم پورته سوی دی : له کوچني څخه تر څو چي مړاندي يې وهي، له لېوني څخه تر څو چي [هوښيار کيږي او] په هوښ کي راځي او له بيده څخه تر څو چي رابيداره کيږي)[1]، هو ! که په ښه او بد پوهيدی، مړاندي وهلی وي، که يا ؛ نو د زياترو علماوو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيهِم په نيز د ګناه په کولو ګناهګاريږي .

ب. لواطت په ظاهري غټو ګناوو کي لومړی غټه ګناه ده، لکه څرنګه چي په باطني غټو ګناوو کي له الله تعالی سره د شريک نيول لومړی غټه ګناه ده، بيا ورپسې په ظاهري غټو ګناوو کي په ناحقه د يو چا وژنه، بيا غلا، بيا سود خوړنه، بيا غيبت او داسي درجه په درجه ګناهونه دي .

**يادونه :** نن سبا په لواطت پوري مربوط يو بل بد لواطت راوتلی او ايجاد سوی دی ؛ هغه دا چي تناسلي اندام د هلک په خوله کي کاروي او ځان انزالوي .

همدا ډول يو بل لواطت هم پيدا سوی چي تر ټولو بد لواطت دی او هغه دا چي يو سړی په نن وخت کي راولاړيږي او هلک دې ته اړ کړي چي

---

[1] لکه څرنګه چي له حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا څخه روايت دی، وايي : نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : (رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةَ : الصَّبِيّ حَتّى يَحْتَلِمَ، وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتّى يُفِيقَ، وَعَنِ النّائِمِ حَتّى يَسْتَيْقِظَ)، حديث امام حاکم په خپل المُستدرک ۲ توک، ۵۹ مخ کي روايت کړی دي او ويلي يې دي : چي پر شرط د امام مُسلم صحيح دی او حافظ ذهبي په دې کي مُوافقه ورسره کړې ده، وګوره ! حديث شمېره (۲۳۵۰) .

ځان ورته لوڅ کړي او له هغه څخه وډيو ټېپ کړي، بيا دا دمکي پسې ورکړي چې کله ته زما سره دا بدکار نه کوې ؛ نو زه به ستا دا وډيو په انټرنېټ کې خپروم ! اوس تاسي وګورئ ! چې دا څومره له ظلمه ډک کار دئ ؟!! څومره ناجايز عمل دئ ؟!! شک نسته چې د داسي ډول لواطت سزا به په آخرت کي تر ټولو سخته هم وي او د الله ﷻ په خاطر عبرت ځني واخلئ ! او دا بيان په فيسبوک او داسي نورو پاڼو کي درسره خپور کړئ ! تر څو ناخبره وګړي ورباندي پوه سي .

ج. لواطت په هر ډول کي کرغېړن عمل دی که څه هم له خپلي مېرمني سره وي ؛ نو فرق يې په بدوالی کي نسته او په دې وجه الله ربّ العزت په دُنيا او آخرت کي ناروا کړی دی .

يادونه : په دې بايد هر پلار او هر مشر پوه سي چې د معاشرې د اصلاح لپاره تر ټولو اوله ذريعه دا ده چې خپل کشر ته واد ورو کړي ؛ ځکه د واده په شتون سره د لواطت، زنا او موټ وهلو خطرې له منځه ځي او په واده کي ډيري ګټې دي، لکه څرنګه چې ما مخکي بياني کړې آه ! .

هو ! که پلار، يا هغه مشر وس نه لري چې واده ورو کړي ؛ نو بيا دي وهغه کشر ته داسي پېشه برابره کړي چې د هغې له لاري دومره ګټه تر لاسه کړي تر څو واده په وکړي .

او دا خبره ياد ساتئ ! ځيني ځوانان داسي دي چې نه يې د پلرونو په وس وي چې واده ورته وکړي او نه خپله د دوی په وس وي چې واده وکړي ؛ نو په دې حالت کي دوی نا اُميد سي او وايي : موږ ودونه نه کؤو ! يا راولاړ سي خپل ځانونه خسيان کړي، حال دا واده نه کول او هڅه يې نه کول او يا ځان خسي کول ؛ دواړه کارونه غټ ګناهونه دي، لکه څرنګه چې يادونه مي يې په خپل ټولنيز کتاب (موسوعة الذنوب) کي کړې ده.

او له حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي : موږ له

پیغمبر ﷺ غزا کوله چې موږ ښځې نه درلودلې ؛ نو موږ رسول الله ﷺ ته ووېل : ایا موږ ته اجازه راکوې چې ځانونه خسیان کړو ؛ نو پیغمبر (عَلَيْهِ السَّلَامُ) موږ منع کړو[1] .

له دې حدیث څخه په ډاګه معلومیږي چې د انسان لپاره د ځان خسي کول حرام دي او حرام کار په کبیره ګناه کې شامل دی .

او په دې کار کې دا هم شاملیږي چې انسان داسې دواء وخوري، یا داسې ګولۍ تیرې کړي او یا داسې کار وکړي چې د هغه په لامل ځان وچ کړي او ځان له واده کولو څخه واچوي او له کورواله سره د کوروالی وس نه لري او دا ټوله صورتونه په خسي کېدو کې راځي چې غټه ګناه ده آه ! .

د. څرنګه چې زنا په خپل مینځ کې ډولونه درلودله ؛ دا ډول لواطت هم په خپل مینځ کې ډولونه لري، لکه : په شهوت سره لغړزنو ته کتل د سترګو لواطت دی ؛ شهوتا خبرې یې اورېدل د غوږونو لواطت دی ؛ شهوتا لاس په لاس کې ورکول د لاسو لواطت دی ؛ شهوتا خبرې ورسره کول د خولې لواطت دی ؛ شهوتا کور، یا ځای ته یې ورتلل د پښو لواطت دی ؛ شهوتا په زړه کې یې فکرونه کول د زړه لواطت دی ؛ تناسلي اندام سرېږن ورباندې استعمالول او په موږل، یا په لواطت کې ورسره استعمالول د تناسلي اندام لواطت دی .

ه. د کوم چا ومخ ته چې په تېرو عملونو کې یو عمل کیږي ؛ نو پر هغه لا زمه ده چې په لاس یې منع کړي، کنې په خوله دې یې منع کړي او کنې هغه ځای دې بدل کړي او په زړه کې دې له هغه څخه ؛ نارینه وي که ښځینه بد ځني ویسي او دا کمه درجه د ایمان ده چې انسان په زړه کې بد ځني ویسي .

و. د لواطت او مساحقت په دواړو صورتو کې، بلکې هر کله چې مني له

---

[1] دا یو اثر دی چې امام بخاري په خپل الجامع الصّحیح کې روایت کړی دی، وګوره ! کتاب النّکاح، باب : تزویج المُعسر الّذي معه القرآن والإسلام، حدیث شمېره (۵۰۷۱) .

تناسلي اندامه راووځي ؛ نو غسل مات سو، مطلب دا چي غُسل پر واوښتی، غُسل به له سره تازه کوي او له الهي درشل څخه به د بخښي غوښتنه کوي او کله چي مَذي راووځي ؛ نو اودس مات سو، مطلب دا چي اودس به نوی کوي.

ز. په روژه کي که څوک لواطت وکړي ؛ نو روژه يې ماته سوه او د دې روژې قضا او کفاره به دواړه ورکوي، نور تفصيل د کفارې د زنا د موضوعګانو په سرټکو کې تېر سوی دی او په روژه کي که دوې ښځي نزدېکت سره وکړي، يعني : د مُساحقت عمل ترسره کړي ؛ نو روژې يې ماتي سوې، قضا ورباندي واجبه سوه، د دې روژې قضا به راوړي او کفاره يې ورباندي نسته، لکه زموږ د مذهب جمهورو علماوو چي دا مسئله بيان کړې ده[۱].

ح. په حج کي لواطت کول د حج فساد راولي، هو ! که پر عرفات له درېدو وروسته وي ؛ نو دَم ورباندي واجبيږي او حج يې نه خرابيږي او که تر عرفات مخکي يې ترسره کړی وو ؛ نو حج يې فاسد سو، بيا به بل کال حج ادا کوي.

ط. د کليمه لا إله إلا الله ګواهي د لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي او مساحقت کوونکي ښځي او مساحقت ورسره کېدونکي په حقّ کي نه قبليږي، يعني : که څه هم دی وايي : چي زه مسلمان يم او دغه کليمه وايم ! نو الله تعالی يې نه قبلوي تر څو چي توبه باسي او نه يې تر هغو د بل په حقّ کي ګواهي قبليږي تر څو چي توبه باسي.

ي. داسي لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي ته چي لواطت روا ګڼي او توبه نه ځني باسي خپله لور، يا بله ښځه په نکاح ورکول، يا سلام پر اچول، يا د سلام ځواب ورکول او يا بل ډول تعلّق ورسره ساتل ناروا دي.

يادونه : ځيني انسانان داسي ګومان کوي چي له خپلي ښځي سره لواطت

---

[۱] الموسوعة الفقهية، شرعي مُصطلح (سحاق).

کول نکاح ماتوي او وايي چي : په دې سره مېرمنه طلاقيږي ؛ نو دا محض وهم دی او بې اصله او بې دينه خبره ده ؛ ځکه چي د اسلام په هيڅ کتاب کي ما داسي نه دئ ليدلي چي له خپلي ښځي سره د لواطت کول نکاح ماتوي، هو ! له خپلي ښځي سره لواطت غټه ګناه ده، لکه څرنګه چي په دې هکله په تېرو سرليکونو کي ښه بشپړ بيان تېر سوی دی او انسان به له دې ګناه څخه په داسي توګه ځان خلاصوي چي دا ګناه به ځای پر ځای پرېږدي او په اخلاص به والله تعالی توبه باسي آه ! .

ک. د لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي ذبيحه حلاله ده، ذبيحه معنا : دا چي يو څاروی، يا يو مرغه د اختري، يا صدقې په نيت حلال کړي، هو ! دا هغه مهال يې ذبيحه د خوړولو وړ ده چي لواطت روا نه ګڼي، د توبې ايستلو اُميد يې وي او په داګه خپل عمل نه کوي، کنې ذبيحه يې له کراهته خالي نه ده، يعني : که داسي يې کول، بيا يې ذبيحه مکروه ده چي خوړونکی يې په وړو ګناهونو کي شمارل کيږي .

ل. د لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي پسخورده حلاله ده که څه هم خپل عمل روا ګڼي ؛ خو سره له کراهته ؛ ځکه فقهاؤ رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم د کافر پسخورده هم حلاله ګرځولې ده چي له سري کافر وي .

م. په لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي پسي لمونځ کول روا (صحيح) دی ؛ دا په هغه صورت کي چي انسان نه وي په خبر چي ايا دا لوطي دئ، که ملوط ؟! او که په خبر وو ؛ نو بيا له کراهته سره صحيح دی او راګرځول دا لمونځ نه غواړي .

ن. د لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي د ډوډۍ دعوت، عبادت او عيادت د قبلېدو وړ نه دی تر څو چي په اخلاص يې توبه نه وي ايستلې، هو ! که توبه يې وايستله او خپل عمل يې پرېښووی ؛ نو بيا يې د ډوډۍ دعوت هم قبلېدلای سي، په الهي دربار کي يې عبادت هم نه رديږي او د ناروغۍ پوښتني ته يې هم انسان تللای سي .

س. د لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي عمل که له کوچني سره وي، یا لېوني سره او یا له څاروي سره ؛ خو حُکم یې داسې دی د زیاترو عُلماوو په نېز، لکه دروغ، بالغ او پر سد انسان سره چې یې کوي .

ع. کوم څوک چې له یو څاروي، یا درینده، یا مرغه سره د لواطت عمل تر سره کړي ؛ نو هغه څاروی، یا درنده، یا مرغه د مردار حیوان، یعني : (میتة) په حُکم کي وګرځېد، بیا د هغه غوښي خوړل او ګټه ورباندي اخیستل له کراهته خالي نه ده، هغه به سم دستي حلالوي او سوځي به يې تر څو خلګ د هغه په غیبت اخته نه سي او نور درندګان یې غوښي وه نه خوري ؛ ځکه د ملوط حیوان غوښي په بل حیوان خوړل خیانت دی او خیانت چې څرنګه له انسانه سره ناروا دی ؛ نو له جیوانه سره هم ناروا دی .

ف. پر لغړزني، یا داسې بل نارینه نکاح تړل او د واده مُناسبات ورته کول غټه ګُناه ده چې پر کوونکي یې د خدای تعالی له لوري لعنت ووري او د تعزیر (سزا) مُستحق ګرځي .

ص. پر لغړزني، یا مشر، یا پردۍ ښځي اشر جوړول، یا رقص (نڅا) ورسره کول، یا وداسې نڅا ته کتل، یا داسې مجلس او محفل ته نور خلګ راغوښتل د شریعت له نګاه څخه حرام دي چې د دې کوونکی هم په غټه ګناه کي شاملېږي، د خدای تعالی د لعنت او د تعزیر مستحق ګرځي .

ق. لغړزني ته سلام وراچول، یا یې د ډوډۍ دعوت قبلول، یا یې د یو مقتدي یا ډېرو امام ګرځول، یا غېږ ورسره ایستل، یا مسحه کول، یا په یوه خونه یا بستره کي شپه ورسره تېرول، یا په سنګر کي درول یا اوسول، یا یې د علم په طلب پسې استول، یا تلاوت او سبق ځني اورېدل، یا شی ځني رانیول او پر خرڅول، یا سر ورخریل او یا په خریل، یا د وفات په حالت کي غُسل ورکول ؛ دا ټوله که د شهوت را پارېدو او لواطت خطره ورسره

وه ؛ نو هر يو جلا جلا په خپل ځای کي ناروا (حرام) عمل دی چي کوونکی يې په غټو ګناهونو کي شامليږي .

ر. داسي لغږزنی هلک، يا نجلۍ چي ښايسته وي ؛ نو د هغه وتل د علم په طلب پسي، يا د جهاد لپاره وتل که څه هم فرض عين ګرځېدلی وي ؛ خو چي د فتنې خطره ورسره وي او انسانان په فتنه ځني اخته کيږي، يعني : د لواطت، يا زنا خطره سل په سله کي ځني پېښيږي ؛ نو ناروا دي ؛ د کومو خبرو زده کول چي هلک، يا نجلۍ وغواړي ؛ نو بايد خپله يې ورزده کړي او په پوه يې کړي، بل دي نه په ګناهګاره کوي چي په يو فتنه يې مبتلا کړي، لکه څرنګه چي دا زما خپله يو اجتهادي نظريه هم ده .

او مناسبه هم دا ده چي کله له هلک، يا نجلۍ څخه د فتنې خطره وي نو پلار، يا اُستاذ، يا داسي بل مشر او مسؤول کولای سي چي له جهاده، يا طالبۍ او يا داسي له هغې لاري يې راوګرځوي کوم چي پکي مشغوله وي او بايد تر هغه وخته يې ځني راوګرځوي چي سم دم بلوغ ته ورسيږي او د فتنې خطره ځني ايسته سي او دې خبري ته ؛ بايد هغه څوک ډېره توجُه وکړي او لحاظ يې وساتي کوم چي د کشرانو ذمه يې پر غاړه وي ؛ ځکه نن دور د فتنو دی چي د باران په ډول فتنې راووري او تقوا (پرهېز) ډېر په مشکله کيږي آه ! .

ش. د کوچني هلک او کوچنۍ نجلۍ په مينځ کي که د زنا، يا لواطت عمل تر سي ؛ نو پلرونو او مشرانو لره دا واجب دي چي تعزير ورکړي — تعزير که په وهلو سره وي، يا په تړلو سره وي، يا په دباو اچولو سره وي او يا داسي په بل سخت صُورت سره وي چي له هغه سره د زخمي کېدو، يا مرګ خطره نه وي او تر تعزير وروسته به سم دم نصيحت ورته کوي او دنياوي او اُخروي سزاوي به يې ورته بيانوي چي بيا داسي کار وه نه کړي .

**یادونه :** په دې نتیجه کې داوس زمانې هر مشر لره یو لوی پند دی چې خپل کشران راکنټرول کړي او له بدو انډیوالانو او همزولانو یې راوګرځوي.
او نن ډېر د فتنو وخت دی چې کشران هم په دې مصیبت او فتنې اخته سوي دي، یقیني که هغه کیسې چې ما خپله لیدلي، یا مې اورېدلي دي چې د کشرانو هلکوانو او نجونو تر مینځ څرنګه زناوي او لواطتونه سوي ؛ نو لوستونکي به په اریانتیا کې سي چې څنګه وخت سو ؟! او څنګه زمانه سوه ؟!
نو ښه او سنګینه خبره دا ده چې مسلمان به خپل کشران په خپل قابو (کنټرول) کې راولي ؛ ځکه له فتنو به هم وژغورل سي او له ګناوو به هم.
**ت.** څوک چې پر بل یوه د لواطت تور ولګوي چې وایي : ته خو فاعل یې ! یا مفعول یې ! یا د قوم لُوط عمل کوې ! حال دا چې هغه له دې عمله پاک وي ؛ نو په دې صورت کې که د وخت قاضي ته دوه سم ګواهان پیښ سي – حد قذف وربانديي ثابت سو چې اتیا دُرې دی او ورباندي جاري کوي به یې.
**ث.** د لواطت کوونکي او ورسره کېدونکي سزا په شریعت کې د زاني په څېر ده، که واده والا وو ؛ نو سنګسار دي یې کړي او که واده والا نه وو ؛ نو سل درې دي ورکول سي او له هغه ځایه دي وشړل سي.
**خ.** او که یو انسان له پردۍ ښځې سره لواطت وکړي ؛ نو زموږ د مذهب امام ابو حنیفة رَحِمَهُ اللهُ عَلَیه په نېز حد نه ورباندي جاري کېږي، بلکې تعزیر دي ورکړي او د امام أبو یوسف او امام مُحمّد په نېز حد ورباندي جاري کېږي، نه تعزیر او که څوک له خپل مریې، یا مینځې، یا خپلې ښځې او یا له څاروي سره لواطت وکړي ؛ نو پر هغه په اتّفاق سره د احنافو حد ساقطیږي، یعني : حد نه ورکول کیږي، بلکې د وخت قاضي به که دوه عادلان ګواهان ورته پیش سول او د ده پر عمل د لواطت یې ګواهي ورکړه ؛ نو یوائې تعزیر به ورکوي او تعزیر که په هر ډول وي ؛ خو فرق

نه لري، هو ! د زخمي کېدو، یا مرګ خطره به نه وي ورسره چې داسي تعزیر ورکړي چې یا زخمي سي او یا مړ سي .

ذ. او که څوک لواطت، یا مساحقت او یا زنا په وار وار وکړي، توبه نه ځني باسي ؛ نو هغه په مُفتی به قول باندي د احنافو وژل کیږي، لکه څرنګه چې دوی له دغه حدیثه په ډاګه کړې ده چې له حضرت عبد الله بن عبّاس رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي : رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

(مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ ؛ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ)[1]،

یعني : که تاسي یو څوک په داسي حال کي پیدا کړی چې هغه د لوط (علیه السلام) د قوم عمل کوي ؛ نو تاسي کوونکی او ورسره کېدونکی (دواړه) ووژنئ ! .

ض. که یو لوطي، یا ملوط د وخت قاضي ته څلور ځله اقرار وکړي او قاضي یې په هر ځل کي شړي، بیا هم د خپل عمل اقرار ورته کوي ؛ نو قاضي به بې له ګواهانو حد ورباندي جاري کوي ؛ دا په هغه صُورت کي چې واده والا نه وي او که واده والا وو ؛ نو بیا به یې سنګساروي .

غ. که یو څوک له مړې ښځي سره زنا، یا لواطت وکړي ؛ نو د وخت قاضي به تعزیر ورکوي ؛ البته حد ورباندي نسته .

ظ. لواطت کوونکی، یا ورسره کېدونکی، یا مُساحقت کوونکې ښځه او یا ورسره کېدونکې ښځه کومه چې توبه یې نه وي ایستلې، حال دا چې پر خپل دې پلیت عمل مړ سي او په خپل ژوند کي یې دا خپله بدفعلي په څرګنده توګه کول ؛ نو د میراث مال یې ورثه ؤ ته وېشل، یا غُسل ورکول، یا د جنازې لمونځ ورکول، یا دُعاء ورته کول، یا د مسلمانانو په

---

[1] حدیث امام حاکم رحمه الله علیه په المُستدرک کي روایت کړی دی او صحیح یې بللی دی، لکه څرنګه چې امام ذهبي رحمه الله علیه یې موافقت کړی ۴ توک، ۳۵۵ مخ او همدا ډول امام ترمذي رحمه الله علیه په السّنن کي روایت کړی دی، وګوره ! ۳ توک، ۵۷ مخ .

هديره کي ښخول ناروا دي ؛ ځکه په دا صورت کي چي خپل دا بد عمل روا گڼي او پر داغه پسي مړ هم سي ؛ نو حُکم يې د کافر دی او د کافر نه مال تقسيمېدلای سي، نه غُسل ورکول کيږي، نه د جنازې لمونځ پسي کېدلای سي، نه دعاء ورته کېدلای سي او نه د مسلمانانو په هديره کي ښخېدلای سي، بلکي په يو ليري ځای کي به يې لاښه غورځوي، يا دي يې په يوه کنده کي وغورځوي او يا دي يې په غار، يا د مځکي په چاک کي وغورځوي، هو ! که خاوري سرېره ورباندي واچوي يا نه ؛ فرق نه لري .

دا هغه نتيجې وې چي د لواطت ټوله گټور بحثونه، ښې مسئلې او مُهمي خبري پکي حل سوي دي او شمېريې اته ويشت ته رسيږي کوم چي د عربي الفبا پر شمېر برابر دي او دلته هغه حرفونه د ابجد پر حساب بيان سوي دي .

او په دې شمېر کي اشاره ده ودې ته، لکه : څرنگه چي د عربي يو حرف له ابجدي حرفونو څخه وتلی نه دی ؛ نو داسي له دغو نتيجو څخه د لواطت په باب يوه مُهمه خبره، يا مسئله هم نه ده وتلې ؛ ځکه د نتيجو په بغل کي يې عربي حرفونه ټوله ياد سوي دي ؛ والحمد لله تعالیٰ .

اوس به په کتاب کي پينځمه برخه پيل سي، چي د نشييزه توکو د موضوع په هکله ده ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق .

د څلورمي برخي پای

❀❀❀

# پينځمه برخه

## د شرابو او د عامو نشييزو توکو بدوالى

## لکه : سګرېټ، بيړى، نسوار، چرس، اپين او داسي نور

الله ﷻ فرمايلي دي :

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ وَٱلْمَيْسِرُ وَٱلْأَنصَابُ وَٱلْأَزْلَـٰمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَـٰنِ فَٱجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝٩٠﴾[1] .

**ژباړه :** اې هغو کسانو چي ايمان مو راوړى دى [يعني : اې مومنانو ! نارينه ؤ او ښځينه ؤ ] بېشکه هم دا خبره ده : چي شراب، قمار، بتان او غشي (د فال ؛ دا ځلور سره ټول) بد دي د شيطان له کاره څخه دي ؛ نو ځانونه ځني وساتئ ! تاسي له دې څخه د دې لپاره چي خلاصون پيدا کړئ ! .

**غورچاڼ :** په تحقيق سره الله تعالى په دې آيت شريف کي شراب حرام ګرځولي دي، لکه څرنګه چي اوس په راتلونکو حديثو کي به يې حراموالى هم په ډاګه سي .
او د شرابو تر څنګ ځيني عالمان صاحبان رحمهم الله نور نشييزه توکي هم شاملوي چي حرام دي ؛ ځکه کوم شى چي نشه راولي – بس هغه يو شيطاني کار دى او حراموالى يې په دې مذکوره قطعي دليل ثابتېږي .

(۱) له حضرت عُثمان غني رضي الله عنه څخه روايت دى، وايي چي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (له شرابو څخه خپل ځانونه وساتئ ! ځکه دا د ټولو

[1] د المائدة سوړت، ۹۰ آيت .

ګناهونو مور ده)[۲].

(۲) له حضرت ابن عُمر رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي چي : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي : (هر نشه راویستونکی شی شراب دي او هر [ډول] شراب حرام دي او چا چي په دنیا کي شراب وچیښل، بیا پسي مړ سو او توبه یې نه ځني ویستله ؛ نو په آخرت کي به یې نه وچیښي)[۳].

(۳) او له حضرت جابر رضي الله عنهما څخه نقل سوي، وایي : بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي : (درې کسان دي چي نه یې لمونځ قبلیږي او نه یې آسمان ته یوه نیکي پورته کیږي : یو خو هغه مریی دی چي له مالکه څخه تښتېدلی وي تر څو چي بیرته ورته راځي، بل هغه مېرمنه ده چي خاوند ځني ناراضه وي تر څو چي ځني راضي کیږي او بل نشه [انسان] دی تر څو چي په هوښ کي راځي)[۴].

یعني : تر هغو پوري د دغو کسانو لمونځ نه قبلیږي او نه یې یوه نیکي وآسمان، یعني : د قبلېدو ځای ته پورته کیږي تر څو چي الله تعالی ته په اِخلاص توبې

---

[۲] حدیث حاکم په المُستدرک کي او ابن حِبان په خپل الصّحیح کي روایت کړی دی، همدا ډول حافظ ذهبي په کِتاب الکبائر کي نقل کړی دی، وګوره ! ۹۰ مخ او عِبارت یې په رتلونکی ډول دی :
قال النّبيّ صلى الله عليه وسلم : (إجْتنبُوا الخمر ؛ فإنّها أمّ الخبائث) ؛ إنتهی .

[۳] حدیث امام مُسلم په خپل الصّحیح کي روایت کړی دی، لکه څرنګه چي په کتاب الکبائر کي ذِکر دي ۹۱ مخ او عِبارت یې په راتلونکي ډول دی :
وعن إبن عمر رضي الله عنهما قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (كُلّ مُسكر خمرٌ، وكُلّ خمر حرامٌ، ومَن شَرِب الخَمْر في الدّنيَا ومات ولم يتُبْ مِنها، وهُو مُدْمنها ؛ لم يشربها في الآخِرة) ؛ إنتهی .

[۴] حدیث ابن خُزیمة او ابن حِبان دواړو په خپلو صحیحینو کي روایت کړی دی او همدا ډول حافظ ذهبي په کِتاب الکبائر ۹۱- ۹۲ مخونو کي نقل کړی دی او عبارت یې په لاندي ډول دی :
رُوي عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه، أنّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : (ثلاثة لا تُقْبَلُ لهم صَلاة، و لا تُرْفع لهم حَسَنَة إلى السّمَاء : العبد الآبِق حتّى يرجع إلى مواليه فيضع يده في أيديهم، و المرأة السّاخط عليها زوجها حتّى يرضى عنها، و السّكْران حتّى يصحُو) ؛ إنتهی .

باسي او بخښنه ځني غواړي .
او تقريباً نور داسي څلور څلويښت حديثونه له رسول الله ﷺ څخه نقل سوي چي شراب حرام دي او په هيڅ صورت کي روا نه دي ؛ مګر نه يوائحي په هغه صُورت کي چي انسان له لوږي څخه مري، بل پر دنيا شی نه وي ؛ نو بيا به څو غوړپونه په داسي توګه ځني کوي چي له مرګه ځان په راوګرځوي او دا صُورت په اوس زمانه کي ډېر شاذ (نادر) دی چي په يو ځای کي به پيښيږي .
او د شرابي نه لمونځ قبليږي ؛ نه يې روژه قبليږي ؛ نه يې حج او زکات قبليږي ؛ نه يې دُعاء قبليږي او نه بل نيک عمل قبليږي تر څو چي يې خپل ربّ ﷻ ته په اخلاص توبه نه وي ايستلې او ځان يې ځني ژغورلی نه وي ؛ الله ﷻ دي مو په خَپل فضل سره ځني وساتي ؛ آمين .
غوږ ونيسه ! او په دې بايد هر مسلمان ځان خبر کړي : هر هغه مواد که سګرېټ وي، يا بيړی وي، يا نسوار وي، يا چرس وي، يا هيروين وي، يا د نشې ګولۍ وي چي قصداً د نشې لپاره استعماليږي او داسي نور کوم چي کوونکی نشه کوي او عقل يې پټوي ؛ دا ټوله هر يو په خپل ځای کي حرام دي، له حراموالي څخه خالي نه دي، خامخا ځيني لږ حرام او ځيني ډېر حرام دي .
د بيلګي په توګه نسوار چي دي دا لږ څه نشه لري، بيا داسي بيړی، بيا وروسته سګرېټ .
مطلب : دا چي لږ حرام وي ؛ هغه ته عُلماء صاحبان د (مکروه) نوم ورکوي چي هغه تحريمي مکروه دی او که ډېر حرام وي ؛ نو هغه ته بس داغه د (حرام) نوم ورکوي .

**يادونه** : د شرابو چي هر څومره بيان وسي ؛ نو آخر انسان وعلاج ته مجبوره کيږي، اوس به يې د علاج بيان په راتلونکی سرليک کي وسي .

## د شرابو پرېښودلو لپاره يوه رُوحاني نسخه

د شرابو په هکله چي هر څومره بيانونه وسي او تحقيقات يې ذکر سي ؛ مګر آخر

مطلبي شی دا پاتیږي چي عِلاج به يې څه وئ ؟! او د شرابي به آخر عِلاج څه وئ ؟! لکه څرنګه چي لږ څه مخکي ما ودې خبري ته اشاره وکړه .
نو د علاج په هکله حضرت حكيم الأمت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه فرمايلي دي : [هغه څوک چي خط يې زده وي، يا د شرابي عِلاج کوي او په خط پوهيږي] د المؤمنون سورت دي د شپې پر وخت پر سپين تږکره نويشته کړي او په اوبو کي دي يې واچوي، بيا دي دغه اوبه په شرابي وڅيښي ؛ نو که الله تعالى کول د شرابو عادت به ژر تر ژره پريږدي[۵] .
او دا نسخه تجربه سوې ده .

بله نسخه يې دا ده : چي په کوم کور کي شرابي وي ؛ نو د هغه کور خلګ دي د شپې لخوا په اخلاص سره دعاوي ورته وکړي ؛ ځکه دا يې هم يوه ښه رُوحاني نسخه ده .

بله نسخه يې دا ده : چي په کوم کور، يا يو ځای کي شرابي وسيږي، حال دا چي هغه توبه نه باسي ؛ نو د هغه ځای خلګ دي دا شرابي پسي واخلي ؛ ځکه چي عِبرت يې سي .
دا درې رُوحاني نسخې دي ؛ الله تعالى دي موږ او تاسي ټول مسلمانان له دې پليتو او ګنده اوبو څخه وژغوري، بېشکه دی پر هر څه قادر دی ؛ آمين، يا ربّ العالَمين ! .

يادونه : تر دې ځايه د شرابو په اړوند څو مهمي خبري او مباحث پای ته ورسېدل او که څه مهم مباحث يې پاته سوي وي، لکه تاوانونه او داسي نور ؛ نو هغه به اوس ټوله په راتلونکي سرليکونو کي راسي چي هغه د عامو نشييزه شيانو د بدوالي په هکله دي .

---

[۵] اعمال قُرآني د اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه، ۱۳۶ مخ .

# د عامو نشييزو توکو بدوالی

## لکه : سګرېټ، بيړی، نسوار، چرس، اپين او داسي نور

الله تعالی په قرآن شريف کي نهه ځايه اشاره کړې ده چي نشه آور شيان ټول حرام دي، هغه لکه : اپين، مورفين، چرس، بنګي، تمباکو، سګرېټ، بيړی، نشييزه ګولی، نشييزه پانونه او شرابونه ؛ دا ټول په تېر قرآني دليل سره حرام ګرځېدلي دي او تقريبا اوويشت حديثونه روايت سوي دي چي هر نشه راويستونکی شی حرام دی او دا ډول تقريبا يوولس صحيح آثار له اصحابانو، تابعينو او تبع تابعينو څخه په نقل راغلي چي نشه راويستونکی شی لږ وي، که ډېر ؛ خو حرام دي، لکه څرنګه چي په حاشيه کي يې د يو ښه جامع حديث عبارت هم بيان سوی دی[٦] .

او بل دا چي د اسلام په هيڅ يو معتمد کتاب کي د نشې د يو شی د رواوالي حُکم نسته او که په دې کتاب کي زه ټوله هغه حديثونه، آثار او قولونه راوړم ! چي د نشه آورو شيانو په بدوالي او حراموالي کي ثابت دي ؛ نو کتاب به د مقصد له دايرې څخه ووځي او پر لوستونکو به ډېر اوږد سي، بيا هم که د هغو ټولو پېژندنه غواړئ ؟! نو زما بل کِتاب (نخبةُ المُهمّات في ذمّ الخمر والمُنشيات) ته مُراجعه وکړئ ! .

---

[٦] وفي الحديث أنّ النبيّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قال : (مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ ؛ فَقَلِيْلُهُ حَرَامٌ) .

دا حديث طبراني په خپل المُعجم الأوسط ۶ ټوک، ۲۹۱ مخ کي روايت کړی دی، وګوره ! حديث شمېره (۶۴۴۶) .

او همدا ډول دا حديث په موسوعة أطراف الحديث کي نقل سوی، حديث شمېره (۲٥٣٠۶۴) او همدا ډول په موسوعة التخريج کي نقل سوی دی، حديث شمېره (۲٥٥٧٣) .

يادونه : تر دغه حديث لاندي نسوار نه راځي ؛ ځکه چي دا يو داسي نشه نه لري چي انسان بيده کړي، يا بل تاوان ورته ورسوي او د نسوارو په اړه اختلاف دی چي ځيني يې حرام، ځيني يې مکروه تحريمي، ځيني يې مکروه تنزيهي، ځيني يې مباح او ځيني يې خِلاف الأولی بولي ؛ نو د زيات تفصيل لپاره زما کتاب (نخبة المُهمّات) ته مراجعه وکړه ! .

او زه صرف هغه جوهري او مقصودي خبري په دې کتاب کي راوړم ! چي کومي اوس په دې زمانه کي د خواصو او عوامو لپاره ډېري ضروري دي ؛ نو په هغو مقصودي خبرو کي د نشييزو توکو په هکله هغه بحث د دوی د تاوانونو هم دی او د هيروينو، اپينو، چرسو، سگريټو، بيړيو، نسوارو او عامو نشييزه توکو تاوانونه ټوله په راتلونکي ډول دي :

۱. لوی څښتن تبارک وتعالی په نشه کولو ناراضه کيږي ؛ ځکه دا د ده نافرماني ده .

۲. د رحمت فريشتې ليري کوي .

۳. دآخرت يادوالی هېروي .

۴. بدنۍ ناروغۍ ته وړاندي کوي .

۵. د سر درد پيدا کوي .

۶. په منيو کي د نسل د تخمونو دوژلو لامل گرځي .

۷. د منيو وچېدلو لامل گرځي .

۸. د ناڅاپه مرگ لپاره يو لامل گرځي .

۹. د ټي بي (T,B) ناروغي پيدا کوي .

۱۰. د (استسقاء) ناروغي پيدا کوي .

۱۱. فکر گډوډ کوي .

۱۲. حافظه او د ياد ځواک له منځه وړي، د بيلگي په توگه يو نشيي به څو مُهمي خبري له ځانه سره يادي کړي وي ؛ مگر هغه خبري به يې څو ورځي وروسته هيري سي، لکه څرنگه چي دا تاوان په يو معمولي نشې والاوو کي هم پيدا سوی کوم چي د نسوارو کوونکي دي ؛ فإلى الله المُشتكىٰ .

۱۳. په انسان باندي رازونه څرگندوي، يعني : کوم انسان چي د نشې يو شی استعمالوي ؛ نو په هغه کي به دا يو خوی هم پيدا سي چي خپلي پټي خبري به بېگانه وو ته ښکاره کوي او په اختيار کي به يې نه وي او دا وما ته خپله په نشيي کسانو کي معلومه سوې ده ! .

۱۴. عقل کمزوری کوي او خراپوي.
۱۵. په انسان بد او شریر کارونه خپروي.
۱۶. د بې شرمۍ ماده په انسان کې پیدا کوي.
۱۷. انسان بې ګټو جګړو ته چمتو کوي.
۱۸. الهي مینه ختموي.
۱۹. د خپل ځان د عورت لو څېدلو یو لامل جوړېږي.
۲۰. د غیرت ماده په انسان کې ختموي.
۲۱. په انسان کې د غلا کولو شوق پیدا کوي.
۲۲. انسان بې لمانځه جوړوي.
۲۳. انسان د ابلیس لعین ملګری او دوست جوړوي او کوم څوک چې په دنیا کې د ابلیس لعین دوست وي؛ نو هغه به بیا په دوږخ کې هم ورسره وي.
۲۴. د پیس ناروغي پیدا کوي چې یو ډول سپین بدرنګه ټکي دي او پر بدن پیدا کیږي.
۲۵. د جذام ناروغي پیدا کوي چې دا یوه داسې ناروغي ده چې د انسان پوست پکې رژېږي او نوکان یې پکې چاودل کیږي او دا مختلف ډولونه لري.
۲۶. د بدن رعشه، یعني: لړزېدل پیدا کوي.
۲۷. د سږي سوری کېدلو لامل ګرځي.
۲۸. د خولې بدبویي پیدا کوي.
۲۹. د ویني کمېدلو او وچېدلو لامل جوړېږي.
۳۰. د بغلونو بدبویي پیدا کوي.
۳۱. د غابنونو ژېړېدلو او رژېدلو لامل جوړېږي.
۳۲. د بانوګانو رژېدلو لامل جوړېږي.
۳۳. سترګې شب ګوره کوي، یعني: چې انسان به د شپې شی سم نهویني او نظر به یې کمزوری سي.
۳۴. سستي پیدا کوي.

۳۵. د زړه روحي خوشالي ختموي .
۳۶. د زړه دوره پیدا کوي .
۳۷. د ځنګنو درد پیدا کوي .
۳۸. د ملا درد پیدا کوي .
۳۹. بداخلاقي پیدا کوي .
۴۰. د مخ بدرنګوالی او توروالی زیاتوي .
۴۱. د کاه او حساسیت ناروغي پیدا کوي .
۴۲. انسان باوله کوي .
۴۳. له انسان څخه لیونی جوړوي .
۴۴. له عزتمند انسان څخه ذلیل جوړوي .
۴۵. که څه خوري ؛ نو مړیږي به نه .
۴۶. که څه ورکول سي ؛ نو په هغه به قناعت نه کوي، بلکي حارص ناکه به وي.
۴۷. که خبري ورسره وسي ؛ نو سم به یې نه اوري .
۴۸. له خولور او جراره انسان څخه ګونګی جوړوي .
۴۹. له شریف انسان څخه بې شرفه جوړوي .
۵۰. له انسان څخه لعنت ویونکی جوړوي .
۵۱. د معدې خرابېدلو لامل جوړیږي، لکه : د خوراک ژر نه هضمېدل ؛ نس غتېدل ؛ په معده کي ړغ وغ پیدا کېدل او د نس درد .
۵۲. کله نا کله د سرطان (Cancer)، یعني : د کینسر ناروغي پیدا کېدلو لامل جوړیږي .
۵۳. د سینې ناروغیاني پیدا کوي .
۵۴. بلغم پیدا کوي .
۵۵. توخی پیدا کوي .
۵۶. ساه لنډي پیدا کوي .
۵۷. بدبد فکرونه او وسوسې پیدا کوي .

۵۸. طبعي رُطوبات وچوي .
۵۹. د عام عبادت اراده کمزورې کوي .
۶۰. د ښو کارونو کولو د ضایع کېدلو او توفیق سلبېدلو لامل جوړېږي .
۶۱. انسان بې همته جوړوي او څوک چي بې همته وي ؛ نو دهغه ډېر کارونه به ناکامه وي او مخ ته به یې یو کار سم نه ځي، لکه څرنګه چي په تجربو په ډاګه سوې ده .
۶۲. د انسان د ټول بدن د کمزورۍ لامل جوړېږي .
۶۳. په انسان کي د بې حساسۍ (بې پروایۍ) او لاوبالۍ ماده پیدا کوي او څوک چي لاوبالي ډېره کوي ؛ نو د هغه د کارونو انجامونه به بد او ناخوالی وي چي دی به خپله په شرمیږي او وایي به چي : دا ما اوس څه وکړله ؟! ولې زما کار داسي سو ؟! دا افسوس به کوي ؛ مګر هیڅ فایده به نه ورته کوي .
۶۴. په دُنیا کي انسان د مُبارک عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ له دیداره څخه محروموي، یعني په خوب به یې نه ویني او دا په تجربه رسېدلې ده .
۶۵. آخرِ انسان په دُنیا کي د مرګ پر وخت د شهادت له کلیمې څخه محروموي.
دا خو یې مکمله دنیاوي تاوانونه سول او اخروي تاوانونه یې په راتلونکي ډول سره دي :
۶۶. کله چي په قبر کي بېله توبې ایستلو پټ سي، حال دا چي سر یې اولا د قبلې په لوري کښېښودل سي ؛ نو سر بې له قبلې څخه واوړي، لکه څنګه چي تجربه ده او نکیر او مُنکر به په سخته ځوابونه ځني پوښتي او دی به په دې سخت زهیرېږي .
۶۷. د نشې کولو په اعتبار سره چي څومره بده نشه یې کړې وي په دنیا کي او استغفار یې نه وي پر ویلی او نه یې توبه ځني ایستلې وي ؛ نو د هغې نشې په اندازه به په قبر (برزخي ژوند) کي سزا ورکول کیږي .
۶۸. په ورځ د آخرت به له بې توبې نشیي سره داسي سخت حِساب او کِتاب

وسي څومره چي دی یې مُستحق وي .
۶۹. په آخرت کي به له الهي دیدار، ډول ډول نعمتونو او جنت څخه به محرومه وي .
۷۰. او الله تبارک وتعالی به یې دآخِرت په آخري مرحله کي له ابلیس سره دوږخ ته یوځای ولېږدوي او له داغه لعین سره به یې هلته په دُوږخ کي استوګنه وي او هیڅ مرستیال به یې نه وي .
ما ته غوږ سه ! دا هغه دُنیاوي او اُخروي تاوانونه، ناروغیاني او سزاوي دي چي لُوی ربّ ﷻ د نشه کوونکو لپاره تیاري کړي دي، هغه که هر نشه کوونکی وي، عادي نسواري وي چي پر ګناه یې نه ګڼي او همېشه یې کوي، سګرېټي وي، هیروني وي، چرسي وي او یا داسي بل ډول نشه کوونکی وي ؛ نو ودې ټولو ته دا مذکوره آفتونه، تاوانونه، ناخوالي، ناروغیاني او سزاوي تیاري سوي دي او خامخا به په آینده کي ورته جو تیږي که څه هم اوس نه وي په مبتلا ؛ ځکه الله ربّ العزت ډېر حلیم ذات دی چي څوک ژر په خپلي نافرمانۍ باندي په یو وار نه رانیسي، بلکي کرار په کراریې په خپل بد عمل آګاه کوي او په آینده کي یې په مبتلا کوي .
او اې ګرانه لوستونکې ! ته په خپل ګرېوان کي وګوره ! چي ایا ریشتیا دا نشییزه توکي دا تاوانونه لرئ ؟! ما خو په حقیقت کي دا تاوانونه ټوله په نشه کوونکو کي لیدلي دي ! نو ستا څه خیال دئ ؟ او کومه رأیه دي ده ؟ او څه فکر کوئ ؟! که یو کس د دې تاوانونو پر پېژندلو سربېره نشه استعمالوي ؛ نو ایا دا کس به ناپوه او جاهل نه وئ ؟! بیشکه دا کس به ډېر ناپوه او جاهل وي که هغه هر څوک وي او هر څومره ښه سړی وي ؛ خو چي نشه کوي او په حرامو ځان مُلوث کوي، یعني : ککړوي ؛ نو هغه ناپوه دی او الله ربّ العِزت دي وداسي ناپوه ته په خپل فضل سره هِدایت وکړي ؛ آمین .

نکته : ځیني جاهلان وایي او په متل یې ثابتوي چي : "بې نشې سر کدو دی" ؛

نو زه وایم ! دا محض بې اصله او بې حقیقته خبره ده، یقیني دغسي خبرو زموږ اسلامي دِین یې راخراب کړی او بې علمو او ګناهګارانو داسي خُرافاتي د ځانو لپاره یو دلِیل ګرځولی دی او بس په دغو دلیلو باندي ځانو ته نشه روا ګرځوي او نشه کول که هر ډول وي ؛ هغه خو جلا یو حرام کار دی او د قرآن او سنت له نظره ګناه کبیره ده او روا ګڼل یې په اتّفاق سره د علماؤ بیا یو جلا عقیدوي کفر دی او افسوس دی په ارب چنده نن زموږ ښه خلګ په دغسي نشو او عقیدوي مکفراتو باندي اخته دي او بې علمه انسانان دلیل وریاندي نیسي او دا ځای ته نه ګوري چي دا ښه سړی دغه بد کار کوي ؛ نو زه یې ولې کوم ؟! او شیطان ملعون په خپلو جالونو کي نیولي دي، هیڅ شرم نه لري، که په نسوارو کي ورسره وږغیږي ! نو تر ځان بل پوه نه ویني او وایي : بس مباح دي او ښه کار دی، فلانکی ملا یې کوي او فلانکی شیخ یې کوي او په مکروهاتو دلیل نیسي، هیڅ حقایق ځان ته نه روښانه کوي او بس د هغه خپل جهالت په تیارو کي شپې او ورځي تېروي .
او الحمدُ لله دوی هم داغسي په جنجالونو او آفتونو کي راګیر دي چي په حقیقت کي دا د دوی د عمل تاثیرات دي ؛ په ځانګړې توګه بیا نشه چي هم یې کوي او هم یې روا ګڼي صرِف دوی په پوهیږي نه په دغو آفتونو باندي او بېشکه بالکُل پکي مُبتلا دي ؛ فإلى الله المُشتكىٰ .

یادونه : د نسوارو او داسي د نورو نشیېزه توکو او موادو د زیات تفصیل لپاره زما بل کتاب (نخبة المهمّات في ذمّ الخمر والمنشيات) ته مراجعه وکړئ ! او که خدای کول په لږ وخت کي به په آینده کي چاپ سي ؛ والله وليّ التّوفيق .

او تېر سوي مذکوره اویا تاوانونه، ناخوالي، ناروغیاني او سزاوي دا هغه وې کومي چي له معقولاتو او منقولاتو څخه راټولي سوي وې او په معقولاتو او منقولاتو کي سره پاشلي وې ؛ نو بیا ما دا هڅه وکړه چي ټولي سره یو ځای کړم ! او کله چي مي ټولي سره یو ځای کړې ؛ نو شمېر یې برابر اویا ته ورسېد او

علامه مُلا علي قاري هروي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِ هم په خپله شرحه د (مِشكاة) كي[۷] او ځينو داسي نورو معتبرو عُلماؤ كِرامو رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِمۡ فرمايلي دي چي : د نشه آورو شيانو تاوانونه او ضررونه اويا دي .

الحمدُ لله ؛ نو ما هم د لايزال ذات په فضل سره په دې كتاب كي اويا سره ذكر كړله ! چي د كتونكو او مُطالعه كوونكو لپاره آسانتيا سي او په بشپړه له خپلي نشې ځخه توبه وباسي .

وروسته به د نشه آورو توكو نړيوال زيانونه او ناخوالي بيان سي .

## د نشييزو توكو نړيوالي ناخوالي او زيانونه

لاري وايټ (Lari wahite) چي د امريكا مشهور او يو وتلى نامتو طبيب دى، ده په كال ۱۹۹۳ عيسوي كي وويل : د دنيا په مختلفو سيمو كي په يوه كال كي له نشه آورو توكو ځخه پينځه ويشت كروړه انسانان وژل كيږي او داسي كال په كال پر پينځه ويشت كروړه زر مړي نور زياتيږي[۸] .

نو اې ځوانه ! اې كتونكې ! اوس چي كوم روان كال دى ځو به له نشه آورو ځخه مړه سوي وئ ؟! او ځو به لا په آينده كي ځني مړه سئ ! ته خپله فكر وكړه ! چي په ۱۹۹۳ كال كي دومره ځني مړه كېدل ؛ نو اوس په روان كال كي به ځومره ځني وژل كيږئ ؟!

د سعودي عرب يو مشهور او وتلى نامتو طبيب محمّد علي البار ويلي دي : له سگرېټو ځخه يوائي په امريكا كي په ۱۹۸۸ عيسوي كال كي ۱۵۰,۰۰۰ كسان مړه سول .

او له هيروئينو ځخه په امريكا كي په داغه ۱۹۸۸ عيسوي كي ۶,۰۰۰ كسان مړه سول .

---

[۷] مرقاة المفاتيح شرح مِشكاة المصابيح ۲ توک، ۳ مخ او ځيني داسي نور .

[۸] مجلة المجمع الفقهي الإسلامي د ۱۴۱۴ هجري كال، موافق د ۱۹۹۳ عيسوي كال، ۱۳۲ مخ، په حواله د كتاب (تُجّار الموت) چي د لاري وايټ (Lari wahite) اثر دى .

او له شرابو څخه په امریکا کي په داغه ۱۹۸۸ عیسوي کي ۱۲۵,۰۰۰ کسان مړه سول.

او په برتانیا کي په ۱۹۸۷ عیسوي کال کي له سګریټو څخه ۱۰۰,۰۰۰ کسان مړه سول[۹].

نو ګرانه لوستونکې ! راسه ته اوس فِکر پر وکړه ! چي په امریکا او برتانیا کي دومره کسان له نشییزه توکو څخه مړه سول ؛ نو زموږ په افغانستان او پاکستان کي به څومره مسلمانان ځني مړه سوي وئ ؟! ځکه د نشې له تاوانونو څخه دا هم وه چي په اتمه شمېره کي يې ذِکر سوه : د ناڅاپه مرګ لپاره یو لامل ګرځي او داسي خو نه ده چي په هغه غربي هیوادو کي نشییزه توکي استعمالیږي ؛ نو دلته په افغانستان او پاکستان کي به نه استعمالیږي ! دا امکان نه لري، پر حق ولئ سترګي پټي کړم ؟! دلته به هم تر هغو په زیاته کچه استعمالیږي او ځني کم به نه وي، هر هوښیار په دې حالا تو او کړو وړو ښه پوهیږي او ښه په خبر دی ؛ نور بحث اوږدولو ته ضرورت نسته .

او ګرانه لوستونکې ! ته فکر وکړه ! په دغه روان کال کي به له شرابو، سګریټو، بیړیو او داسي نسییزه توکو څخه څومره نارینه او ښځینه مړه سئ او څومره به ځني ناروغه سئ ؟! په دې خبرو کي هر نسواري، سګرېټي، چرسي، بنګي، هیروني او داسي بل نشیي ته یو لوی عِبرت دی ؛ باید ژر تر ژره توبه ځني وباسي، که نه نو دی به هم الله تعالی په هغو اویا تاوانو مُبتلا کړي او آخر په داغه آفتونو کي به يې پسي مړ کړي چي دُنیا به يې جلا خراپه وي او هغه لوی بې پایانه جهان چي آخِرت دی ؛ هغه به يې هم پسي خراپ سي ؛ ځکه سګرېټ،

---

[۹] مجلة المجمع الفقهي الإسلامي ۱۳۳ مخ او هل التبغ والتدخين مِن المُحرّمات ؟ د محمّدعلي البار ۲۱ - ۲۳ مخونه .

او دا ډول په نورو کتابو او ورځپاڼو کي هم دا بیانونه سته چي د نشییزو توکو عالمي تاوانونه يې یاد کړي وي، لکه : موسوعة البحوث والمقالات العِلمية، مبحث التّدخين، التّجارة الخاسرة د محمّد علي البار او المجلة الطّبية البريطانية BMG .

بېړی، نسوار، چرس، اپین او داسي نوري نشې دا ټوله هغه زهرجني توکي او مواد دي چي يهودو او نصارؤ دابليس عليه اللّعنة په امر او د هغه د شيطاني لښکر په مشوره د مسلمانانو د بربادولو لپاره جوړ کړي دي .
الله ﷻ دي دغو يهودو او نصارؤ ته په اسلامي مملکتو کي ماتي ورکړي او د دوی ټول پلانونه کوم چي د الهي دين او محمّدي شريعت د خراپولو لپاره يې تيار کړي دي ؛ هغه دي ټول په خپل ازلي قهر سره تس نس کړي او د دوی ټولي دسيسې دي ورشنډې کړي، بېشکه دی خو پر دې قادر دی؛ آمين، يا رَبّ العالَمين!.

## د نشييزو توکو پرېښودلو لپاره مختلفي طريقې او نسخې

اوس دلته مقصودي خبره دا ده چي نسواري بايد نسوار څنګه پرېږدئ ؟! سګرېټي بايد سګرېټ څنګه پرېږدئ ؟! بېړی والا بايد بېړی څنګه پرېږدئ ؟! او داسي بلي نشې والا ؛ بايد خپله نشه څنګه پرېږدئ ؟! يعني : مقصودي او مطلبي خبره د علاج ده، هر څومره چي د نشييزو توکو خبري وسي ؛ خو آخرِ انسان علاج او درملني ته مجبوره کېږي .
او لکه ځرنګه چي الله تعالی سګرېټ، بېړی، نسوار او داسي نوري نشې پيدا کړي دي ؛ نو داسي د پرېښوولو لپاره يې طريقې او نسخې هم پيدا کړي دي او هغه ټوله په راتلونکي ډول دي :

أ. هغه نشييزه توکي، لکه : اپين او چرس د دې علاج خو دا دئ چي په کوم يو کور، يا يو ځای کي هيروني، يا چرسي وي ؛ نو د کور مالک دي دا هيروني، يا چرسي نه پرېږدي، بلکي پسي وادي يې خلي چي د ژوند لپاره يې عبرت سي او دا هم يوه لويه تجربه ده چي په کوم کور کي هيروني، يا چرسي وي او د کور مالک يې نه پرېږدي ؛ نو دستي هيروني خپل اپين او چرسي خپل چرس پرېښبي دي .

ب. تېره نسخه يې يوه مُشاورتي نسخه وه، بله نسخه يې دا ده چي سخت تعزير دي ورکړي، تعزير يعني : يوه سزا دي ورکړي کوم چي هغه مالک

او مشر ته آسانه وي او که داسي وو چي په يو ځل سزا ورکولو يې پند نه اخيستی ؛ نو بيا دي پرلپسې ډول ډول سزاوي ور کړي .

ج. او که په تعزير هم پند نه اخلي، نه يې په يو ځل اخيستلو باندي اخلي او نه يې په ډېر ځله باندي اخلي او سره له دې چي خپله نشه روا هم ګڼي او توبه نه باسي ؛ نو بيا دي يې هغه مالک، يا مشر او يا بل داسي څوک چي واک لري قتل دي يې کړي ؛ ځکه قتل يې بيا په دې صُورت کي روا دی.

د. او هغه نشييزه شيان، لکه : نسوار، سګرېټ، بيړۍ او داسي بله سپکه نشه ؛ نو د ټولو يوه دا نسخه ده چي نسواري، يا سګريټي، يا بيړۍ والا او يا بل داسي سپکي نشې والا تر هر څه مخکي دي دا اراده ټينګه کړي چي : زه بله پلا نسوار، يا سګرېټ، يا بيړۍ او يا داسي بله نشه په کومه چي اخته وي نه کوم ! کله چي يې ښه دا اراده له ځانه سره پخه کړه ؛ نو بيا دي ديوې اونۍ لپاره، يعني : داوو ورځو په اندازه بوره، هېل او خواږه ولني راواخلي او ښه دي يې په هاونګ کي سره ميده کړي او په يو ډبلي، يا يوه پاکه چيښه او يا بل داسي شی کي واچوي، هر کله چي يې سګرېټو، يا نسوارو، يا بيړيو او يا داسي بلي نشې ته زړه وشکيږي او شوق يې ورته راولاړ سي ؛ نو يو سوغ قدر دي خولې ته ځني واچوي او ښه دي يې سره وژويي، او به دي يې تيري کړي، کله چي يې دا عمل وکړ ؛ نو بيا دي په اخلاص سره خپل ربّ ﷻ ته توبه وباسي او که نسواري، يا سګرېټي، يا بيړۍ څکوونکی او يا داسي بلي سپکي نشې والا دا نسخه استعمال کړه ؛ نو په يوه اونۍ (هفته) کي به دټنه خپل عادت پرېږدي ؛ ځکه دا نسخه داسي نشو والا په وار وار تجربه کړې ده او ډېره فايده يې ورته کړې ده او ما خپله په سترګو ليدلې ده او د پښتنو متل دی، وايي : "چي عيان وي، بيان ته څه ضرورت دئ ؟!" .

ه. او د شرابو پرېښودلو لپاره څو رُوحاني نسخې لر. څه مخکي د شرابو په

بیان کې تیرې سوې ؛ نو هلته یې وګوره ! او دلته یې مُکرورلو ته اړتیا نسته .

و. او کوم چې نشییزه ګولۍ او پاتونه دي د هغو طریقه د پرېښودلو او نسخه هم داسې ده، لکه کومه چې د چرسو او هېروینو پرېښودلو چې وه .

الحمد لله اوس هغه خبرې پای ته ورسېدلې چې کومې ډېرې ضروري وې او که زه هر څومره د نشییزو توکو په هکله تفصیل وکړم ! نو آخر به موږ وعلاج ته مجبوره سو ! چې دا نشییزه توکې څنګه پرېښودل کیږئ ؟! او څنګه لَه انسان څخه پاتیږئ ! نو لله الحمد ما یې علاجونه د الله ﷻ په توفیق سره هم ذکر کړله ! چې د لوستونکو او مطالعه کوونکو په تېره د هغو کسانو لپاره نارینه وي، که ښځینه چې په یو نشه مُبتلا وي ؛ د آسانۍ، ګټې او نېکمرغۍ لامل وګرځیږي . او نور نو له مهمو خبرو څخه داسې عنوانونه نه دي پاته سوي چې بیخي ضروري وي، صرف یو د عبرتناکه کیسو عنوان پاته دی ؛ هغه به هم د آخري اوومې برخې په عنوانو کې راسي ؛ إن شاء الله تعالىٰ .

الهي دغه عنوانه او مهمې خبرې د لوستونکو لپاره ګټورې وګرځوې ! او عمل کوونکی یې پر وګرځوې، بېشکه ته خو پر دې ډېر زیات قادر یې ! آمین، یا إله العالَمین ! .

یادونه : تر دې ځایه له نشییزو توکو سره اړوند مُهم بحثونه ټوله پای ته ورسېدل، هو ! د مسئلو یادونه یې پاته ده چې هغه به اوس ټوله په راتلونکي سرلیک کې بیان سي ؛ بالله التّوفیق، وبیده أزِمّة التّحقیق .

❁❁❁

## (په مکمله توګه)

## د نشییزو توکو د مسئلو او پاته نورو موضوعګانو مُهمي نتیجې

د نشییزه توکو په هکله چي کومي موضوعګاني، یا مسئلې، یا داسي نوري خبري سوي دي او په مختلفو حنفي مذهب کتابو، رسالو، ورځپاڼو، مجلو، اسلامي انټرنیټي وېب پاڼو، اونیزو او مقالو کي سره پاشل سوي دي او زما څخه یې په دې کتاب کي یادونه پاته سوې وي، که یې زه دلته راوړم ؛ نو کتاب به ډېر اوږد سي او د مقصد له دایرې څخه به ووځي او پر لوستونکو به بوج سي ؛ مګر ما له هغو ټولو څخه داسي سرټکي او نتیجې راوایستلې چي هغه ټولي دلته په څو خبرو کي حل سوي دي او هر لوستونکی کولای سي چي په پام کي یې ونیسي او د ضرورت پر مهال خپله ګټه تري واخلي او هغه ټولي په لاندي ترتیب سره دي :

أ. نشییزه توکي څکول او استعمالول د شیطان عمل دی چي کوونکی یې په غټو ګناوو کي شاملیږي او د څښتن تعالی د لعنت او د ښه زورور تعزیر موجب ګرځي .

ب. تر تناسلي ګناوو وروسته د انسان لپاره خطرناکه ګناه د نشې استعمالول دي، که څوک په اموخته سي ؛ نو دهغه لپاره یې پرېښودل ګران دي ؛ ځکه یوه عربي مقوله ده "ترك العادة أشدّ مِن ترك الفطامة"، یاني د عادت پرېښودل تر دې سخت دي چي کوچنی دي له تي څخه پرېکول سي، البته چي په خپل اراده د پرېښودلو پخه کړي ؛ نو امېد سته چي ځني پاته سي، هو ! د زړه له کومي به په آینده کي له ربه د پرېښودلو دعاوي هم کوي .

ج. د ځوان لپاره د نشې استعمالول بد دي او د سپین ږیري لپاره ډېر بد دي، لکه یو پوه چي وایي : " الذّنبُ للشاب قبيحٌ وللشيخ أقبحُ "، یعني : ګناه د ځوان لپاره بده او د سپین ږیري لپاره ډېره بده ده .

د. نن سبا نشییزه توکي د ابلیس لعین او د هغه د لښکر یوه ستره اسلحه

ګرځېدلې ده، چېرې چې نشې استعمالیږي ؛ نو هلته ابلیسي پالیسیانې په جوش او خروش رواني وي او په آساني سره د فساد آلې کار کوي .

ه. انسان به د نشییزو توکو له لاملونو څخه په بشپړه توګه خپل ځان ژغوري چې هغه ټوله پر څلورو ډولو وېشل کیږي : (۱) د نشییزه توکو لومړی لا مل کرل دي . (۲) په دویمه مرتبه کې یې جوړول دي . (۳) په درېیمه مرتبه کې یې د خرڅلاو په ځایونو کې اېښودل دي . (۴) په آخري څلورمه مرتبه کې یې پر خلکو خرڅول دي .

مطلب دا چې انسان به د نشییزو توکو له کرولو، جوړولو، د خرڅلاو په ځایونو کې له ایښودلو او خرڅولو څخه په بشپړه توګه ځان ژغوري ؛ ځکه څوک چې دغه څلور ډوله لاملونه پرېږدي ؛ نو هغه به له مطلقې نشې څخه ژغورلی وي .

و. هغه نشییزه توکي چې درنې وي، لکه : شراب، هیرویین، چرس، نشییزه ګولیانې او داسې نور ؛ نو د دې کرل، جوړول، خرڅول، رانیول، سودا کول، تجارت وربانديې کول، څکوونکي ته وروړل، پیسې وربانديې ګټل، د خرڅلاو په ځای کې اېښودل، یا پر سترخوان اېښودل او یا پر هغه سترخوان کښېنستل چې شراب یا داسې نوري درنې نشییزه توکي وربانديې پرتې وي، زړه په خوشاله کول، څکول، یا چیښل، مواد یې له شین ګیاوً څخه نشتېړل او تیارول، د درنو نشییزو توکو له ګټل سوي مال څخه زکات ایستل، حج په کول، یا بل ته ورکول، یا د غنیمت په مال کې وېشل، یا په میراثي مال کې پر بې وزلو وېشل ؛ دا ټوله حرام دي چې د هریوه کوونکی جلا جلا په غټه ګناه کې شاملیږي او که یو انسان دا ټوله کوي ؛ نو دغه انسان د څو غټو ګناوو کوونکی دی .

ز. هغه نشییزه توکي چې سپکي وي، لکه : سګرېټ، بیړی، نسوار او داسې نور ؛ نو د دې کرل، جوړول، خرڅول، رانیول، سودا کول، تجارت

وربانديي كول، څكوونكي ته وروړل، پيسې وربانديي ګټل، د خرڅلاو په ځاى كي ايښودل، زړه په خوشاله كول، څكول، يا چيښل، مواديې له شين ګياو څخه نشتېړل او تيارول، د سپكو نشييزو توكو له ګټل سوي مال څخه زكات ايستل، حج په كول، يا بل ته وركول، يا د غنيمت په مال كي وېشل، يا په ميراثي مال كي پر بې.وزلو وېشل ؛ دا ټوله مكروه دي چي د هر يوه كوونكى جلا جلا په وړه ګناه كي شامليږي، هو ! كه اصرار، يعني : همېشتوب وربانديي وكړي ؛ نو بيا دا هم په غټه ګناه كي شامليږي .

ح. كوم نشيي چي خپل عمل روا ګڼي، په ډاګه يې كوي او پر هيڅ ګناه يې نه ګڼي ؛ خوا كه هغه درنې نشې والا وي، يا سپكي نشې والا وي سره له دې چي پر خپلي نشې اصرار هم كوي ؛ نو دا كس زموږ د احنافو په نېز، په تېره د جمهورو فقهاو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِمْ په نېز كافر دى چي بې له عُذره سلام وربانديي اچول، يا لمونځ پسي كول، يا ناسته او ولاړه ورسره كول، يا مينه ورسره كول، عيادت يې كول، دعوت يې قبلول يا ورته كول، خپله لور، يا خور، يا بله داسي ښځه په نكاح وركول چي تر واك لاندي وي، مرسته يې كول يا ځني غوښتل، ګواهي يې قبلول يا ځني طلبول، د قوم مشر، يا د رعيت باچا، يا د وخت قاضي، يا د ښار او كلي مُفتي، يا د كار مزدور جوړول، په كاليو كي يې لمونځ كول، څاروى يا مُرغه په لاس وركول چي حلال يې كړي، د وفات په حالت كي غُسل وركول، د جنازې لمونځ پسي كول، دُعاء ورته كول او د مُسلمانانو په هديره كي پټول ؛ دا ټوله هريو جلا جلا حرام دى چي كوونكى يې په غټه ګناه كي شامليږي . هو ! دا خبره په ياد لرئ ! دا حُكمونه هغه مهال وربانديي اجرا كيږي چي عُذر نه وي او كه عُذر وي ؛ نو.بيا په تېرو عملونو كي كه له انسان څخه يو عمل وسي پروا نه لري، بيا هم له الله تعالى څخه به پر عُذر سرېره بخښنه غواړي .

**ط.** د نشییزو توکو په خراپولو او ماتولو کې چې د بل وي پر انسان ضمان نه لا زمیږي، بلکې د الله تعالی په نېز خراپوونکی او ماتوونکی د ښه پوره ثواب مُستحق ګرځي، هو ! که د ذمي وي ؛ نو بیا زموږ د احنافو او مالکیانو په نېز ضمان لازمیږي، د شافعیانو او حنبلیانو په نېز نه لا زمیږي.

**یوه بله مهمه مسئله :** په مسجد (جومات) کې توهکدان اېښودل چې نسوار، یا داسې نور نشییزه مواد پکې توهکل کیږي مکروه دي ؛ نو ښه دا دئ چې هغه انسان له جوماته دباندې نسوار، یا داسې نور څه توه کړي.

**ي.** داسې نشییزه توکي چې هغه بهېدونکې وي که پر یوفرش، یا نالۍ، یاغالۍ، یا کمیس او پرتوګ او هسې پر توکر توی سي ؛ نو هغه ځای دې انسان ښه پاکوي ؛ ځکه د فقهاؤ رحمهم الله علیهم په نېز یې حُکم د نجاست غلیظه دی چې صفا کول یې شرط دي .

**ک.** د داسې نشیې فرضې عبادت چې خپله نشه په ډاګه کوي، توبه نه ځني باسي که یې وکړي ؛ نو غاړې یې خلاصیږي ؛ مګر ثواب یې نه ورته رسیږي او که خپله یوه نشه روا ګڼي ؛ نو بیا یې غاړې هم نه خلاصیږي.

**ل.** په روژه کې که انسان نشه استعمال کړي ؛ خوا هغه درنه نشه وي، یا سپکه ؛ خو روژه یې ماته سوه او د دې روژې قضا او کفاره پر واووښته .

**م.** د نشې په حالت کې د شهادت کلیمه، لمونځ، زکات، روژه، حج، جهاد، طلاق، عتاق او داسې نور اعمال ؛ دا یو هم نه صحیح کیږي، بلکې په دې ټولو اعمالو کې د زړه او دماغ حاضري شرط ده چې انسان یې په کولو پوهیږي ؛ نو د نشیې کوم چې عقل (سول) او حواس (څرکبې) یې کار پرېږدي د زړه او دماغ حاضري او وېښوالی له کومه وي ؟! په دې وجه یې عبادت نه صحیح کیږي او نه ثواب وربانديې ورکول کیږي .

**ن.** که یو انسان په دښت کي را روان وي، یا په داسي ځای کي وي چي هلته پر ده لوږه، یا تنده دومره اغېزه وکړي چي مرګ ته نژدې سي او هلته شراب شتون ولري ؛ نو دغهٔ مهال وده ته له شرابو څخه دومره غوړپونه روا دي چي دی له مرګه ځان په راوګرځوي، نه دا چي دومرو وڅیښي چي دی باغي او مست کړي او د شهوت جوش وربانديي راولي او بل په دې صورت کي روا دي چي انسان د کافرانو، یا داسي د نورو له خوا څخه په زور وربانديي مجبوره سي، حال دا چي د مرګ دَمکي هم ورکړي که یې ونه څیښي ؛ نو مړ کړو دي، یا دا چي سخت یې وهي کوم چي د زخمي کېدو (ژوبلېدلو) خطره ورسره وي او په دې دوو صورتو کي ؛ ځکه د شراب څیښل روا دي چي لومړی صورت د اضطرار دی او دویم صورت د اکراه دی آه ! .

**س.** هر هغه نشییزه مواد چي د ضرورت لپاره استعمال سي، لکه : د ناروغ په دواء کي د نشې استعمال ؛ یا د آپرېشین ناروغ لره د تاریاقو د نشې استعمال ؛ یا د خوب لپاره د نشې د ګولیو استعمال ؛ یا ناروغ څاروي او ناروغه مرغه ته د نشې استعمال ؛ یا د زهرېله خزندو د وژني لپاره د نشې استعمال ؛ یا د جنګ په ډګر کي کافر ته د هغه د وژلو لپاره د نشې استعمال او یا داسي د بل سخت ضرورت لپاره د نشې استعمال ؛ نو دا بېله خلافه روا دي او کوونکی یې په هېڅ ګناه کي هم نه شاملېږي، بلکي په دې صورتو کي د نشې کارول مُباح دي .

**ع.** د نشییزو توکو استعمال د پوزي، یا د تناسلي اندام او یا د دبري له لاري څخه د ضرورت لپاره پروا نه لري، ؛ مګر له کراهته خالي عمل هم نه دی.

**ف.** په نشییزو توکو کي چي نن د نېښ عمل ترسره کیږي ؛ دا د جمهورو علماوو او فقهاوو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِمْ په نېز ناروا دی، البته د وخت په تقاضا بانديي مفتیانو د دې ضرورت لپاره چي انسان په بله طریقه داسي ژر پیسې نه سي پیدا کولای او نه حاجت په پوره کولای سي مباح کړی

دی ؛ مګر تر ټولو ښه به دا وي چي د مباح پر ځای مُستحب عمل تر سره سي او هغه دا دئ چي انسان له نیښ څخه پرته بل ښه کسب او روزګار ځان ته پیدا کړي او په هغه باندي خپله روزي او نفقه وګټي او ځان په وساتي او وروزي .

او دا خبره دي روښانه وي : چي نیښ که څینو مفتیانو مباح ګرځولی دی ؛ خو دا څیني ادبونه اوشرطونه يې هم ورسره ایښي دي : (۱) کله چي ډېر سخت مجبوره سي ؛ نو نیښ وهلو ته به ځي، هسي د وخت عبث تېرولو لپاره به نه ځي . (۲) په نیښ کي به له سرخېل سره ونډه نه معلوموي . (۳) بې ځایه باندارونه، خنداوي او بې هوده مجلسونه به نه کوي . (۴) لمونځونه به نه پکي قضا کوي . (۵) کومي پیسې چي د نیښ ده ته په لاس ورسي ؛ نو هغه به بې ځایه نه مصرفوي چي بس هسي کیمرې والا موبایل په رانیسي، یا بې ځایه محفلونه په جوړ کړي، یا د فخر او خیال لپاره لباس، یا سایکل او داسي نور مواد په رانیسي چي هغه د ده لپاره د فتنې او وبال لامل جوړیږي .

او څوک چي دغه آداب او شرطونه د نیښ وهولو نه سي پر ځای کولای ؛ نو نیښ وهل ورته حرام دی .

ص. په نشییزو توکو کي د شرابي، هیروني، چرسي او داسي د بلي درنې نشې والا حد اتیا درې دی چي د وخت قاضي به يې له ګواهانو تر ګواهۍ وروسته ور کوي .

دا هغه نتیجې وې چي د نشییزو توکو ټوله ګټور بحثونه، ښې مسئلې او مهمي خبري پکي حل سوي دي او شمېر يې اتلسو ته رسیږي ؛ والحمد لله تعالىٰ .

اوس به په کتاب کي شپږمه برخه پیل سي، چي د حرام خوردنۍ د موضوع په هکله ده ؛ باللهِ التّوفيق، وبيدِهِ أزِمّة التّحقيق .

د پینځمي برخي پای

# شپږمه برخه

## د حرام خوړلو بدوالی

مخکې په تېرو پینځو برخو کې د هغو ګناوو ذکر وسو چې هغه په عامه کچه په اوس وخت کې خپرې سوي وې، لکه : بدنظري او د لغړزنو شوق، موټ وهنه، زنا، لواطت، مساحقت، شراب چیښته او د نشییزه توکو استعمالول او خاص بیا دا ګناهونه په ځوانانو کې زیاتي تر سترګو کیږي او داسي د دې ګناوو په ډول د حرامو خوړل هم دي چې هغه په سختو او غټو ګناوو کې شمېرل کیږي او دا ټولي هغه ګناوي دي چې نن زیاتي سوي هم دي، مطلب دا چې له هغو څخه د حرامو خوردني هم ده .

حرام نن سبا په خوارا پېمخر باندي خوړل کیږي، یقیني که زه یې د خوړونکو انسانانو نومان شمېرل وغواړم ! نو امکان نه لري چې زه بې سره راټول کړم ! او د حرام خوړل هغه سخته ګناه ده چې د انسان په ټول ژوند کې تیاره خپروي، نفقه او اقتصادي مالیت ککړوي او داسي نور نور ناخوالي او تاوانونه پیدا کوي .

او د حرامو خوړلو په هکله الله تبارک وتعالی په خپل مقدس کتاب قرآن عظیم الشّان کې فرمایلي دي : ﴿وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ﴾[10] .

ژباړه : او اې [زما بندګانو !] تاسي په خپل مینځ کې مال په باطله لاره [حرامه طریقه او حرام کسب باندي] مه خورئ ! .

مطلب : دا چې په حلاله طریقه یې وګټئ ! بیا یې پسي وخورئ او د الله تعالی شکر وراندي ادا کړئ ! .

او دا معلومه خبره ده څرنګه چې الله تعالی ته حرام ناخوښ دي ؛ نو په داغه ډول

---

[10] د البقرة سورت، ۱۸۸ آیت .

همدا ډول د النّساء په ۲۹ شمېره آیت کې هم دغسي عبارت ذکر دی چې الله تعالی وایي : حرام مه خورئ ! .

حلال ورته خوښ دي او څرنګه چي پر حرامو خوړلو يې تاوانونه مرتب کړي دي ؛ نو داغه ډول پر حلالو خوړلو يې ګټي مرتب کړي دي .

غورچاڼ : لويو او نامتو مفسرينو رحمة الله عليهم د آيت په تفسير کي فرمايلي دي : يعني تاسي اې زما بندګانو ! مال او پيسې په داسي طريقه مه ګټئ ! چي هغه ما تاسو ته نه وي روا کړي او نه مي درته مشروع کړي وي، لکه : په غصب باندي مال حاصلول ؛ په ډاکه او غلا باندي حاصلول ؛ د درواغو په ګواهۍ باندي حاصلول او داسي په نورو بدو کسبو باندي پيسې ګټل، لکه : په خمار، سود، د فحاشۍ او عريانۍ په طريقه باندي او داسي نور د خيانت کسبونه او طريقې، لکه نن چي په بازارونو کي تر سره کيږي[11] .

مطلب دا چي حرام خوړل په هره طريقه وي ؛ نو حرام ؛ خو حرام دي او چي الله تعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم حرام کړي وي ؛ بس هغه حرام دي او کوم چي يې حلال کړي وي ؛ بس هغه حلال دي او د حرام توری په عامه توګه هغه مال او پيسې ته شامليږي چي هغه په بده طريقه ګټل سوي وي، لکه څرنګه چي اوس يې مخکي په غورچاڼ کي څو مثالونه تېر سول .

مخکي خو يو آيت وو چي د حرامو خوړلو د ناروا والي په هکله ثابت وو او دا په ټول قران کريم کي هغه صريح آيت وو او څو داسي آياتونه سته چي هغه بيا په مفهوم او معنا باندي دا وضاحت کوي چي حرام خوړل ناروا دي که د سود په طريقه سره وي او يا داسي په بله طريقه سره وي ؛ نو فرق په نارواوالي کي نه لري او دا ډول په حديثو، آثارو او اقوالو کي هم د دې ثبوت راغلی دی چي حرام – حرام دي ؛ د بېلګي په توګه به اوس مخ ته څو ذکر کړم ! :

(۱) په يوحديث شريف کي روايت سوی دی، چي مُبارک عليه الصلاة والسلام فرمايي : (د هغو کسانو لپاره چي د الله [تعالی] په مال کي بې له حقه تصرف

---

[11] تفسير روح الـ... ۱ توک، ۲۴۷ مخ او داسي نور .

کوي ؛ نو دهغو لپاره د قیامت په ورځ باندي [د دوږخ] اور تیار سوی دی)[١٢]، یعني : چي حرام خوري او پروا نه په کوي .

(۲) په بل مُبارک حدیث کي ذِکر دي چي مُبارک عَلَیْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام فرمایي : (یو سړی به وي چي په سفر به تللی هم وي، سر به یې بیر او سپیره وي او دی به خپل لاسونه د آسمان په لوري پورته کړي او وایي به : اې ربه ! اې ربه ! [یعني : دعاوي به کوي]، حال دا چي د ده د خوړلو [د څښلو] طریقه به حرامه وي، د چیښلو ده به یې حرامه وي، د لباس ده به یې حرامه وي او په حرامو به یې ځان موړ کړی وي [او اوبه کړی وي] ؛ نو د دې لپاره به چیرئ دعاء قبوله سي ؟!)[١٣] .
مطلب دا چي په حرامه جامه، حرامه ګوله، حرامه طریقه او حرام بدن باندي دُعاء هیڅ کله نه قبلیږي او د دُعاء د قبولتیا یو غټ شرط دا دئ چي : حرام به دغه انسان نه خوري، کنې دُعاء یې نه قبلیږي، که څه هم زر ګښته (واره) یې وکړي .

نن هم دغه وجه ده چي دا زموږ دعاوي نه قبلیږي ؛ ځکه چي پر حرامو خوړلو باک نه کؤو او نه د حلالي نفقې کوشش کؤو ! فإلى الله المُشتكىٰ .
(۳) په بل حدیث مُبارک کي ذِکر دي : (څوک چي یوه جامه په لس درهمه رانیسي، حال دا چي په هغه کي یو درهم حرام وي ؛ نو تر هغو به یې لمونځ پکي

---

[١٢] حدیث امام بُخاري په خپل الجامع الصّحیح کي روایت کړی دی، کتاب الخُمس، باب قول الله تعالى : (فَأنّ لله خُمُسَهُ وَلِلرّسُولِ)، حدیث شمېره (۲۹۵۰) او عبارت یې په داسي ډول دی :
عن خولة الأنصارية رضي الله عنها، قالت : سمعتُ النّبيّ صلى الله عليه وسلم يقول : (إنّ رجالا يتخوّضون في مال الله بغير حقّ ؛ فلهمُ النّار يوم القيامة) .

[١٣] دا حدیث امام مُسلم روایت کړی دی، کتاب الزّکاة، باب : الحث على الصّدقة ولو بشِقّ تمرة، أو كلمة طيبة وأنّها حِجَاب مِن النّار، حدیث شمېره (۲۳۹۳) او عبارت یې په داسي ډول دی :
عن أبي هُريرة رضي الله عنه، قال : حين ذَكَر النّبيّ صلى الله عليه وسلم : (الرّجلُ يُطيل السّفَر أشعَث أغبر يمد يده إلى السّماء يا ربّ ! يا ربّ ! و مطعمه حرام، و مشربه حرام، و ملبسه حرام، و غُذي بالحرام ؛ فأنّى يُستجاب لذلك ؟!) .

قبول نه سي تر څو چي په تن کي يې دا جامه وي)[۱۴].

او داسي په دې معنا څه آثار او اقوال هم راغلي دي د هغو يادونه د مفهوم له لحاظه په مکمله توګه د دې شپږمي برخي په نتيجو کي وګوره ! ځکه چي په آساني سره به ورباندي پوه سې ! وفقك اللهُ تعالىٰ.

ګرانه لوستونکې ! ډېر د فکر ځای دی چي يو درهم حرام وي، يوه روپۍ حرامه وي ؛ نو څومره وبال او عذاب يې دی ! ! او چي د انسان هر څه حرام وي ؛ نو دا به څرنګه وبال نه لرئ ؟! او څرنګه به عذاب نه ورباندي راځئ ؟! او څرنګه به د خپلي يوې دعاء د قبولتيا اُميد کوئ ؟! بايد چي موږ ټوله د خپلو کسبونو د اصلاح کوشش وکړو ! او د حلالي نفقې کوشش وکړو !.

دا څو څو حديثونه ول چي د بيلګي په توګه مي په متن کي راوړل ! او نور هم راغلي دي چي د هغو يادونه به زه ټوله د دې برخي په نتيجو کي وکړم ! په داسي توګه چي ګران لوستونکی په آساني سره ورباندي پوه سي ؛ والحمدُ لله تعالىٰ.

يادونه : تر دې ځايه د حرامو په هکله په متن د دې کتاب کي څو مهمي خبري د يو آيت او څو حديثو په توګه ذکر سوې او نوري مهمي خبرې او نکتې ؛ دا به اوس ټولي په راتلونکي عنوان کي د نتيجو په توګه ذکر سي.

## د حرامو په هکله څو مُهمي خبري، لارښووني او يادوني

أ. لومړی ؛ څو انسان بايد خپله نفقه حلاله کړي او يو ښه کسب دي ځان ته پيدا کړي، په ځانګړې توګه د لاس کسب، لکه : خياطي، بنايي،

---

[۱۴] حديث امام احمد په خپل مسند کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۵۷۳۲) او عبارت يې په داسي ډول دی:

عَنْ هَاشِمٍ، عَن إبْنِ عُمَر ﷺ، قال : (مَن إشْترى ثوبًا بعشرة دراهم، وفي ثمنه درْهم من حرام ؛ لم يقبل الله لَهُ صلاة ما دام عليه)، قَالَ : ثُمَّ أَدخَلَ أَصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ، ثُمَّ قَالَ : صَمَّتَا إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيَّ ﷺ سَمِعْتُهُ يَقُولُهُ.

کمپوزینګ (په کمپیوټر باندي لیکنه)، آهنګري، د ښو حلالو مصنوعي آلاتو مستریتوب، لکه : د موټرانو، سکوټرانو، سایکلانو او داسي نورو ساماتو، بجلي ګرتوب او داسي نور حلال کسبونه چي د لاس وي او که داسي وو چي د لاس کسب يې نه سو کولای ؛ نو بیا دي هغه مال او دولت چي دی يې لري، هغه دي داسي چا ته په مضاربت او ګټه ورکړي چي هغه يې په حلالو کسبو بندوي او ده ته خپله نفقه ورباندي تیاروي ؛ ځکه د ده لپاره به په دې وخت او زمانه کي داسي کول او ګټل خیر وي.

**یادونه** : د کسبونو د پېژندني لپاره ما په یو کتاب (د دنیا مینه) کي سل ۱۰۰ ډوله کسبونه ښودلي چي تقریبا د نړۍ مکمله کسبونه پکي راوړل سوي دي ؛ نو د تفصیل لپاره مراجعه ورته وکړه ! .

ب. دویم دي انسان د خپلو کسبو په وختونو کي د لمنځونو د ادا کولو ډېر لحاظ ساتي ؛ ځکه دا یوه داسي فریضه ده چي د شپې او ورځي مسلمان ورسره مخامخ کیږي او په ځانګړې توګه باید په جماعت سره يې ادا کړي.

ج. دریم دي انسان کوم چي په داسي مجلسونو کي کښیني چي هلته د حرامو صفت کیږي ؛ نو هلته دي دی د حرامو بد او مذمت بیانوي او که په وسه يې نه وو ؛ نو ډېره ښځه دي بیا دا کوي چي هلته له ناستي او ولاړي څخه ډډه او پرهېز وکړي.

د. څلورم دي انسان له حرام خوراک، څکاک او داسي له نورو حرامو شیانو څخه په بشپړه پرهېز کوي ؛ څومره چي د ده په وسه وي، هغه که د عقیدې په لحاظ حرام وي، لکه : د دنیا محبت کول ؛ تر الهي محبت يې مینه مخکي کول ؛ د دنیا د ډېرولو تصورات او فکرونه کول ؛ په دنیا پسي غم کول ؛ له دنیا پرستو سره مینه کول او داسي نور، یا داسي د وینا او قول په لحاظ حرام وي، لکه : بدي خبري کول ؛ د حرامي دنیا صفت

کول ؛ د دنیا پرستو صفت کول او داسي نور او یا داسي د فعل په لحاظ حرام وي، لکه : حرام کسب کول ؛ حرامه ګټه خوړل ؛ یا حرامي یو ډول اوبه چیښل ؛ په حرامو پسي سفر کول ؛ حرام په نورو باندي خوړل، یا چیښل ؛ د حرامو لپاره یو څوک راغوښتل، یا یو چا ته حرام ورلیږل او داسي نور.

**یادونه** : په دې باید هر څوک ځان پوه کړي چي حرام دومره زیات سوي دي او هیڅ څوک سم دم پرهېز نه سي ځني کولای او غالبا دنیا اوس ټوله له حرامو ډکه سوې ده ؛ نو په دې صُورت کي تیري خبري ؛ باید څنګه پر ځای سئ ؟! په ځانګړې توګه د ګټلو، خوړلو او چیښلو په صورت کي به له اوسنیو نفقو، ډوډیانو او داسي نور څه څخه څنګه پرهېز کیږئ ؟! نو د دې لپاره په دې خبره ځان پوهېدل په کار دي چي په قدر د حاجت ګټل، خوړل، چیښل او داسي نور هغه کارونه چي هیڅ چاره نه ځني کیږي ؛ دا ټول روا دي، ولئ که روا نه سي ؛ نو د انسان د ژوند نظام به هم ودرېږي او انتظام به یې هم ودرېږي، لکه د نن او تېر وختَ معتبرو مفتیانو چي دا حکم کړی دی[۱۵].

---

(۱۵) کما سُئل الإمام ابن حجر الهیتمي رَحمَةُ اللهِ عَلَیه في فتاواه :

وسُئِل نفع الله بعلومه : عن معنی قول الشیخ نجم الدین الکبیر : إنّ الذکر یقْطع لُقیمات الحرام ؟

فأجاب بقوله : هو محمُولٌ علی لُقیمات یسیرة کما أفاده التّصْغیر یأکلها الإنسان في وقت غلبة الحرام علی أهل الدّنیا، کما في زماننا هذا ؛ فإن ذلک یُباح له شرعًا، وقد قال إبن عبد السّلام وغیره : لو عمّ الحرام الدّنیا ؛ جازَ للمُسْلِم أنْ یأکل [illegible]ه قَدْر القُوت، کما یُبَاح للمُضْطرّ أکل المیتة، وفي معناه قیل : لو کانَتِ الدّنیا دمًا عَبِیطًا ؛ لکان قُوت المؤمن منها حلالا، ومع إباحته شرعًا لا یخلو عن إظلامه للقلب، فالذّکر ینوره بمحو تلک الظّلْمة کما أنّ الدواء یذهب الأخلاط المتولدة مِن الغذاء المذموم ویقطعها : (إنّ الْحَسَنَاتِ یُذْهِبْنَ السّیِّئَاتِ)، [ هود : ۱۱۴] ؛ إنتهی .

الفتاوی لإبن حجر الهیتمي ۱۱۸ او ۱۱۹ مخونه او داسي نور .

همدا ډول مي په خپلي یوې رسالې (د دُنیامُحبّت) کي په ۷۱ او ۷۲ مخونو کي دا خبره روښانه کړې ده آه!.

ه. پينځم دي انسان هغو مجلسونو، ډوډيانو او محفلونو ته ځان نه حاضروي چي هلته د حرامو استعمال کيږي، يا حرام خوړل کيږي، يا ډوډۍ داسي چا کړې وي چي د هغه مال او نفقه حرامه وي او حلاله نه وي ؛ ځکه د داسي چا دعوت قبلول که په ډوډۍ کي وي، يا په ډوډۍ ورکولو کي وي ؛ نو په دواړو صورتو کي حرام دي .

و. شپږم دي انسان کوم چي د يو شی، يا يو کار په هکله د حرامو حُکم واوري، يا د حلالو حُکم واوري ؛ نو بايد دَ هغه سم تحقيق وکړي او بيا عمل په وکړي ؛ ځکه ډېر داسي انسانان ما ليدلي دي چي ځانو ته مسلمانان هم وايي ؛ مګر کله چي د يو کار په باره کي د حلالو حُکم واوري، سره له دې چي هغه به په حقيقت کي حرام وي ؛ نو بس دی بې له تحقيقه عمل ورباندي کوي اوکه د يو کار په باره کي د حرامو حُکم واوري، سره له دې چي هغه به په حقيقت کي حلال وي ؛ نو بس دی بې له تحقيقه پرهېز ځني کوي او په دې وجه يې شُبهې او وسوسې زياتي سي چي له امله د دماغ تکليف ورولوېږي او بيا يې په علاج هم ستړی وي، مطلب دا چي په داسي شيانو کي بايد ښه تحقيق وسي، ښو علماؤ، فقهاؤ او معتمدو مفتيانو ته رجوع وسي ؛ ځکه دا ستړياوي او تکليف به بيا مخ ته نه راځي .

ز. اووم دا چي انسان دي د حرامو په هکله که څه واوري، يا يې ويني ؛ نو بايد په خپل ژوند، کور، ځای، چال او ټول چلند کي له هغه حرامه ځان وژغوري او الله ربّ العزت ته دي دا خواستونه کوي چي : الهي ! ماله هر ډول حرامو څخه وساته ! که دوينا په لحاظ حرام وي، لکه : بدي خبري او داسي نور، يا د عقيدې په لحاظ حرام وي، لکه : د دنيا مينه، د دنيا شوق او عشق، له دنيا پرستو سره مينه او داسي نور او يا د فعل او کار په لحاظ حرام وي، لکه : حرام او ناروا کسب کول چي په هغو کي د ټېويانو کاروبار، د فلمانو خرڅلاو، په بېنګونو کي د سود په ذريعه نفقه ګټل او

داسي نور ؛ نو بس له ټولو څخه مي ستا په خپل فضل سره وساته ! داسي نیکي دعاوي او زاری به ربّ العالمین ته کوي، انابت او رجوع به ورته کوي ؛ ځکه دعاء د عبادت مغز ده، لکه څرنګه چي په حدیث کي راغلي دي[۱۶] ؛ نو ښه به دا وي چي ناغه نه ځني وکړي، بلکي پر دعاء دي دي همېشتوب وکړي .

او په دې باره کي دعاء قبلېدونکې هم وي ؛ إنْ شاء اللهُ تعالیٰ .

ح. اتم دا چي انسان دي تر ضرورت بالا دنیا او نفقه نه ګټي، بلکي پر رسېدلې دُنیا به قناعت کوي او ذخیر اندوزي[۱۷] به نه کوي، لکه بني اسرایلو چي دا عمل کاوه او بس داغه عمل د دوی غټ لامل د هلاکت وګرځېد .

یادونه : او په دې لارښوونه کي د نن سبا وټولو انسانانو ته دا پیغام دی چي "پر لږ شی قناعت کول ډېر ښه عمل دی" آه ! .

ط. نهم دا چي انسان دي هغه نفقه او دنیا چي تر ضرورت بالا سي ؛ نو هغه دي د خپل وس مطابق د زړه په رضا او اخلاص سره پر غریبانو، مسکینانو او داسي نورو صدقه کوي ؛ ځکه صدقه ردِ (ایسته کوونکې د) بلا ده .

ي. او آخري لسم دا چي که دی په دُنیا کي د نصاب مالک وګرځېد، یعني : چي زکات ورباندي فرض سي ؛ نو باید دَ لومړي ځل لپاره د زکات په مسئلو ځان پوه کړي او بل دا چي په خپل وخت کي دي یې ادا کوي ؛ ځکه دا هم د اسلام یوه غټه فریضه ده .

تیري سوي خبري، لارښووني او یادوني ټولي هغه وې چي د حرام له ټولو اړخونو سره اړوندي وې ؛ ګواکي ټوله بیانونه د حرامو په هکله په

---

[۱۶] قال النّبيّ ﷺ : (الدّعاء مخّ العبادة)، رواه الترمذي في سُننه .

[۱۷] ذخیره اندوزي : شی ذخیره کول او بې له عُذره پټول د حرص له کبله چي بس ختم نه سي .

دي خبرو کي نغښتلي دي او څوک چي پر دې لارښوونو عمل وکړي ؛ ګواکي لکه پر ټولو شرعي ديني احکامو چي يې عمل وکړ ؛ ځکه دا ټوله د خلاصې او خطاب په ډول ذکر سوي دي .

لوى ربّ العالمين ﷻ دي موږ ټولو عوامو او خواصو ته په خپل سپيځلي دين پوهاوي راپه برخه کړي، د مطلق حلال شوق، ذوق او پر هغه دي د عمل کولو توفيق راپه برخه کړي او داسي له مطلق حرام څخه دي د پرهېز فکر، تصور او توفيق راپه برخه کړي، بېشکه يواځې هم دى د نيکو هيلو پوره کوونکى دى ؛ آمين، يا رَبّ العالمين ! .

**يادونه** : تر دې ځايه د حلال او حرام په اړه مهمي خبري، مقصودي نکتې، مُشاورتي لارښووني او په زړه پوري يادوني ټولي پاى ته په آسانه ترتيب سره ورسېدلې او الحمد لله بل داسي مهم بيان د حرام په اړه پاته نه سو، بيا هم که لږ څه خبري ورسره اړوند وې ؛ نو هغه به هم د الله ﷻ په امر او خوښه په راتلونکي سرليک کي د نتيجو په ترتيب سره ذکر سي

او تر هغه وروسته به آخري اوومه برخه پيل سي او کوم څو مهم عنوانونه، يا خبري چي له تېرو برخو او عنوانو څخه پاته سوي وې ؛ نو هغه به پکي ذِکر سي او وروسته به د کتاب تتمه وي، بيا به کتاب پاى ته پسي ورسيږي ؛ بالله التّوفيق، وبِيده أزِمّة التّحقيق .

❁❁❁

# (په مکمله توګه)

## د حرام خوړدنې د مسئلو او د پاته نورو موضوعګانو مهمې نتیجې

د حرامو خوړلو په هکله چې کومې موضوعګانې، یا مسئلې، یا داسې نورې خبرې سوې دي او په مختلفو حنفي مذهب کتابو، رسالو، ورځپاڼو، مجلو، اسلامي انټرنیټي ویب پاڼو، اونیزو او مقالو کې سره پاشل سوې دي او زما څخه یې په دې کتاب کې یادونه پاته سوې وي، که یې زه دلته راوړم ؛ نو کتاب به ډېر اوږد سي او د مقصد له دایرې څخه به ووځي او پر لوستونکو به بوج سي ؛ مګر ما له هغو ټولو څخه داسې نتیجې راوایستلې چې هغه ټولې دلته په څو خبرو کې حل سوي دي او هر لوستونکی کولای سي چې په پام کې یې ونیسي او د ضرورت پر مهال خپله ګټه ځنې واخلي او هغه ټولې په لاندې ترتیب سره دي :

أ. حرام خوړل غټه ګناه ده چې خوړونکی یې په دنیا کې د لعنت او په آخرت کې د سختې سزا موجب ګرځي .

ب. کوم شیان چې الله تعالی، د هغه رسول ﷺ، صحابه وو رضي الله عنهم، تابعینو، تبع تابعینو، امامانو رحمة الله علیهم او د وخت سترو علماوو، قاضیانو او مفتیانو غفر الله لهم حرام ګرځولي وي ؛ نو هغه بس حرام دي او کوم چې یې حلال ګرځولي وي ؛ هغه حلال دي .

ج. د ځینو بزرګانو رحمة الله علیهم له نظره دنیا ټوله پر درې ډوله ده : (۱) حلال چې پر هغه د قیامت په ورځ حساب کیږي . (۲) حرام چې پر هغه د قیامت په ورځ عذاب مرتب کیږي . (۳) او شُبهه چې هغه په ورځ د قیامت عتاب جوړیږي .

عتاب معنا : پیغور، مطلب دا چې دنیاوي ګټې او مالونه له دغو درو څخه وتلي نه دي ! .

د. حرام خوړل په سر کې په دوو طریقو سره دي : (۱) یو ډول په داسې

طریقه خوړل دي چي انسان یې په ظلم وګټي او ویې خوري، لکه : په غصب کولو، د زکات، یا د عُشر په نه ورکولو، په خیانت کولو، ټیکس اخیستلو، رشوت اخیستلو، سود کولو او پر سود خوړولو، یعني : د بل د سود پر خوړلو یې ګټه خوري، د یتیم د مال په اخیستلو، د درواغو د ګواهۍ پر مال اخیستلو، له یو چا څخه د یو شی خواست کول، ځني اخیتسل او بیا هغه نه ورکول، په پیمانه کي کمبودي کول، شی له عیبه سره پر بل خرڅول او د هغه عیب پټول، آزاد انسان د مریي په بهانه خرڅول، پر زنا، لواطت او داسي پر بلي ګناه مال اخیستل او خوړل، یا غلا کول، یا ډاکه اچول، یا دلالي کولو چي انسان له خرڅوونکي او رانیوونکي څخه بې له اجازې مزدوري وخوري . (۲) دویم ډول حرام خوړل په داسي طریقه دي چي انسان یې په پسخند او بازیو وګټي او هغه ګټه یې وخوري، لکه : په خمار کولو، په انځور جوړولو، په پهلواني کولو، په جادوګري، نجوم ګري او کوډګري کولو او په بازیو کولو چي انسان یوه بازي کوي، په هغه بازي کي کامیابه سي، نورو ته فخر او خیال هم وکړي او د بازۍ مشر څه ورکړي او هغه وخوري .

ه. کوم بدن چي نارینه وي، که ښځینه په حرامو وپالل سي، که څه هم مسلمان وي ؛ نو د هغه وجنت ته تلل ناممکنه دي .

و. د حرام کسب ګټل، یا خوړل، چینبل، صفت یې کول، یو چا ته یې دعوت کول، د یو چا دعوت پکي قبلول، د حرامو جوړول، خرڅول، رانیول، سودا کول، تجارت وربانديي کول، استعمالوونکي ته وروړل، پیسې وربانديي ګټل، د خرڅلاو په ځای کي ایښودل، زړه په خوشاله کول، استعمالول، یا وبل ته وراستعمالول، مواد یې تیارول، له حرامو څخه زکات ایستل، حج په کول، یا سفر پسي کول، یا بل ته ورکول، یا د غنیمت په مال کي وېشل، یا په میراثي مال کي پر بېې وزلو وېشل او یا داسي بل ډول له حرامو سره اړیکه درلودل او کول ؛ دا ټوله حرام دي چي د

هريوه کار کوونکی جلا جلا په غټه ګناه کي شامليږي .

ز. کوم د حرامو خوړلو والا چي خپل عمل روا ګڼي، په ناګه يې کوي او پر هيڅ ګناه يې نه ګڼي ؛ خوا که هغه ډير حرام خوړلو والا وي، يا لږ سره له دې چي پر حرام خوردنۍ اصرار هم کوي ؛ نو دا کس زموږ د احنافو په نيز، په تېره د جمهورو فقهاؤ په نيز کافر دی چي بېله عُذره سلام ورباندي اچول، يا لمونځ پسي کول، يا ناسته او ولاړه ورسره کول، يا مينه ورسره کول، عيادت يې کول، دعوت يې قبلول، يا ورته کول، خپله لور، يا خور، يا بله داسي ښځه په نکاح ورکول چي تر واک لاندي وي، مرسته يې کول يا ځني غوښتل، ګواهي يې قبلول يا ځني طلبول، د قوم مشر، يا د رعيت باچا، يا د وخت قاضي، يا د ښار او کلي مفتي، يا د کار مزدور جوړول، په کاليو کي يې لمونځ کول، ښاروی يا مرغه په لاس ورکول چي حلال يې کړي، د وفات په حالت کي غسل ورکول، د جنازې لمونځ پسي کول، دُعاء ورته کول او د مسلمانانو په هديره کي پټول ؛ دا ټوله هر يو جلا جلا حرام دی چي کوونکی يې په غټه ګناه کي شامليږي .

هو ! دا خبره په ياد لرئ ! دا حکمونه هغه مهال ورباندي اِجرا کيږي چي عُذر نه وي او که عذر وي چي هيڅ چاره ځني نه وي ؛ نو بيا په تېرو عملونو کي که له انسان څخه يو عمل وسي – پروا نه لري، بيا هم له الله تعالی څخه به پر عذر سربېره بخښنه غواړي .

ح. کوم انسان ته چي الله تعالی مال ورکوي سربېره پر دې چي هغه په حرامو او ګناوو اخته هم وي ؛ نو دا د دغه انسان لپاره استدراج دی، يعني : په خپله ګمراهي کي به نور هم مخ ته ولاړ سي چي په ورځ د قيامت به يې عذاب سخت وي او سزا به يې ښه ډېله وي .

ط. که يو انسان په صحرا کي راروان وي، يا په داسي ځای کي وي چي هلته پر ده لوږه، يا تنده دومره اغېزه وکړي چي مرګ ته نزدې سي او هلته

مرداره، یا حرام شتون ولري ؛ نو دغه مهال وده ته له مرداري، یا حرامو شخه دومره خوړل روا دي چې دی له مرګه ځان په راوګرځوي، نه دا چې دومره وخوري چې دی باغي او مست کړي او د شهوت جوش وربانديِ راولي او بل په دې صورت کي روا دي چي انسان د کافرانو، یا داسي د نورو له خوا په زور وربانديِ مجبوره سي، حال دا چي د مرګ دمکي هم ورکړي که يې ونه خوري ؛ نو مړ کړو دي، یا دا چي سخت يې وهي، او په دې دوو صورتو کي ؛ ځکه د حرام خوړل روا دي چي لومړی صورت د اضطرار دی او دویم صورت د اکراه دی، لکه څرنګه چي همدغسي ډول نتیجه د نشییزه توکو د نتیجو په ځانګه کي تېره سوه .

**ي.** د حرامو شیانو په خراپولو او ماتولو کي چي د بل وي پر انسان ضمان نه لا زمیږي، لکه تمي وي، ډیش، کېبل او داسي نوري د فساد آلې، بلکي د الله تعالی په نېز د ښه پوره ثواب مستحق ګرځي، هو ! که د ذمي وي ؛ نو بیا زموږ د احنافو او مالکیانو په نېز ضمان لازمیږي، د شافعیانو او حنبلیانو په نېز ضمان نه لازمیږي .

**ک.** د حرام خوړلو نښه دا ده : چي انسان به پر حلال کار وس نه لري، لکه د حلال خوړلو نښه چي پر حرام کار د نه وس درلودل دي .

**ل.** د حرام خوړلو تاوانونه دا دئ چي : انسان به پر ښو کارو وس نه لري ؛ زړه به يې اطمينان نه سي کولای ؛ د رُوحاني شیانو ادراک به په زړه کي نه سي کولای، لکه : د آخرت ثوابونه، یا عذابونه، د مسئلو فایدې او نتیجې را ایستل، په استنباطي ډګر کي له معقولاتو او منقولاتو څخه مهمي خبري ثابتول او داسي نور او د حلال خوړلو ګټي دا دئ چي : انسان به پر ښو کارو وس لري : زړه به يې په اطمينان وي : د رُوحاني شیانو ادارک به کولای سي، لکه : د آخرت ثوابونه، یا عذابونه لیدل، د مسئلو فایدې او نتیجې را ایستل او داسي نور .

**م.** د ځمکې پر مخ چي د خوړلو څه شیان دي ؛ نو ټوله په سر کي درې ډوله

دي : (۱) معدنيات دي، لکه مالګه او داسې نور . (۲) نباتات دي، لکه غله، مېوې او داسې نور . (۳) او حيوانات دي، لکه دوچې د څارويانو او مرغانو غوښې، د درياب د څارويانو او مرغانو غوښې، مطلب دا چې انسان به په درې سره ؤ کي د حلالو طلب کوي .

ن. د دومره حلالو ګټلو طلب کول چې انسان خپل قوت په ودروي، ورځ او شپه په تېره کړي او پر هغه حلالو خوړلو خپل فرضيات ادا کړي ؛ فرض دي، لکه څرنګه چې د دومره عِلم زده کول فرض دي چې فرضيات په وپېژندل سي .

س. څوک چې دومره مال وګټي چې د ده ګزاره په وسي او هغومره مال خپلو بچيانو او عياله، يا خپلوانو ته ورکړي په دې نيت چې له حرامو څخه يې په راوګرځوي ؛ نو دا د ده لپاره غټ عبادت دی او څوک چې تر ګزارې بالا د شهوتونو د پوره کولو لپاره مال ګټي او په ويې خوري ؛ نو دا د ده لپاره غټه ګناه ده .

ع. د داسې حرامي انسان فرضي عبادت، لکه : لمونځ، زکات. روژه، حج او داسې نور چې خپل عمل د حرام خوردنې په ډاګه کوي، توبه نه ځني باسي که يې وکړي ؛ نو غاړي يې خلاصيږي ؛ مګر ثواب يې نه ورته رسيږي او که حرام خوړل روا ګڼي ؛ نو بيا يې غاړي هم نه خلاصيږي، دا ډول نفلي عبادت هم ګټه نه ورته کوي، لکه : خيرات، سوغات، نفلي لمنځونه او داسې نور او نه د عبادت مغز ګټه ورته کوي چې هغه دعاء ده، مطلب دا چې له حرامو خوړلو سره هيڅ عبادت ګټه نه کوي .

او د ابليس لعين هم دا پاليسي ده چې کله دی يو ديندار بنده ويني ؛ نو خپل د فتنې لښکر ته امر وکړي : تاسې د دې انسان خوړنځای وګورئ ! که له حرامو څخه وو ؛ نو پرېږدئ ! ځکه دينداري يې له حرامو خوړلو سره ګټه نه ورته کوي .

ف. له حرامو خوړلو سره که کوم عبادت وسي ؛ نو د هغه ثواب ابته کيږي ؛

ځکه په ورځ د آخرت به داسي مسلمان والله تعالی ته پېش سي چي لمنځونه به يې هم ادا کړي وي ؛ زکاتونه به يې هم ادا کړي وي ؛ روژې به يې هم نيولي وي ؛ حجونه به يې هم کړي وي او داسي نور عبادتونه به يې هم کړي وي چي ثوابونه به يې د غرو په شان وي ؛ مګر د حرامو خوړلو په وجه به هغه ثوابونه تس نس سي او د محشر مخلوقاتو ته به رسوا سي.

ص. په روژه کي که انسان حرام، يا حلال خوړل استعمال کړي، خوا هغه ډېر وي، يا لږ ؛ خو روژه يې ماته سوه او د دې روژې قضا او کفاره دواړه پر واوښته .

ق. په حرام مال باندي حج نه قبلېږي او کله چي د حج په مراسمو کي په حرامو باندي حج تلونکی و کعبې ته ودرېږي، يا په عرفات او داسي نورو ځايو کي ودرېږي او دی ووايي چي : (لبّيك!)، يعني : اې ربه حاضر يم ! نو يو فرېشته ور ته ووايي : تا لره دي نه (لبّيك!) وي او نه دي تا لره ښه راغلاست وي او پر تا دي ستا حج مردود وي .

او دا څومره د افسوس خبره ده چي فرېشته هم پېغور ورکوي ؛ إنّا للهِ وإنّا إليه راجعُون .

ر. که يو انسان خپلي ښځي ته ووايي چي : ته پر ما حرامه يې ! يا زه پر تا حرام يم ! نو په دې صورت کي د ده ونيت ته کتل کېږي، که د حرامېدو نيت يې وو ؛ نو ور باندي طلاقېږي، کنې طلاق نه واقع کېږي او که داسي وو چي د مُغلظ طلاق نيت يې پکي کړی وو، يعني : د درو طلاقو ؛ نو بيا يې ښځه مُغلظه ګرځي چي بيا دی نزدېکت نه سي ورسره کولای او نه ور ته روا کېږي تر هغو چي هغه ښځه به بل په نکاح کوي، هغه به کوروالی ورسره کوي، بيا به هغه طلاق ورکوي، کله چي يې طلاق ورکړ ؛ نو عِده به تېروي چي درې حيضه ده او تقريبا د دريو حيضو

وخت څلور میاشتې او لس شپې جوړېږي، کله نا کله تر دې زیات، یا کم وي. وروسته به دی نوې نکاح ورسره تړي.

**ش.** که یو سړي خپلې ښځې ته وویل چې: ته پر ما حرامه یې! حال دا چې په دې وینا کې دی د ظهار نیت وکړي، ظهار معنا دا چې: پر ځان یې داسې حرامه وګڼي، لکه د ده د خپلې مور شا؛ نو بیا په دې صورت کې به دی د ظهار کفاره ورکوي چې هغه د مریي آزادول دي، کنې دوې میاشتې پرلپسې روژې دې ونیسي، یا دې شپېتو مسکینانو ته د سهار او ماښام ډوډۍ ورکړي چې دوی په ماړه سي او په دې مینځ کې ودې ویونکی لره دا روا ښت نسته چې خپلې ښځې ته ورنژدې سي، یا یې مسحه کړي، یا یې مچه کړي او یا له سري کوروالی ورسره وکړي او که تر کفارې ورکولو مخکې یې کوروالی ورسره وکړی؛ نو له الله تعالی څخه دې بخښنه وغواړي او بل شی له لومړۍ کفارې پر ته وربا ندې نسته.

دا هغه نتیجې وې چې د حرام خوردنۍ تو له ګټور بحثونه. ښې مسئلې او مهمې خبرې پکې حل سوي دي او شمېرې یې یو ویشت ته رسیږي؛ والحمدُ لله تعالیٰ.

اوس به په کتاب کې آخري اوومه برخه پیل سي. چې د تېرو برخو د پاته خبرو د موضوع په هکله ده؛ بالله التّوفیق، وبیده أزمّة التّحقیق.

د شپږمې برخې پای

❀❀❀

# اوومه برخه

## د کتاب د برخو تتمه

په کتاب کي چي کوم عنوانه پاته سوي ول او یا د تېرو برخو څو خبري پاته سوي وې ؛ نو هغه به ټوله اوس په راروانو سرلیکونو او عنوانو کي ذِکر سي ؛ والله وليّ التّوفیق، وبیده أزِمّة التّحقیق.

## عبرتناکه کیسې

### لومړی : له لواطت سره اړوند عبرتناکي کیسې

(۱) : په یو اثر کي نقل سوي دي : هغه دا چي (حضرت) عیسی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) الله تعالی دي پر ده او زموږ پر پیغمبر دُرُود او سلامتیا ولېږي په خپل سفر کي د یو بل سوي اور تر څنګ تېرېدی چي پر یو سړي بل وو، "په دې حال کي" (حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ) اوبه راواخیستې د دې لپاره چي له سړي څخه اور مړ کړي ؛ نو دستي اور یو هلک (لغړزنی) وګرځېد او سړی اور وګرځېد، دا وخت (حضرت) عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په اریانتیا کي سو او دا یې وویل : اې ربه ! ته یې بېرته خپل هغه حالت ته واپس کړه کوم چي په دنیا کي وربانديي ول ؛ ځکه چي زه د دوی له حاله پوښتنه وکړم ! نو الله تعالی ژوندي کړل ؛ که ګوري هغه یو سړی سو او بل هلک سو. (حضرت) عیسی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ورته وفرمایل الله ( تعالی ) دي پر ده او زموږ پر پیغمبر درود او سلامتیا ولېږي چي : ستاسي څه حال وو او څه کیسه وه ؟! سړي وویل : اې روح الله ! [یعني : اې د الله روحه ! چي په تا کي یې پوهکلی دی] زه په دنیا کي د دغه هلک په مینه اخته وم ! تر دې چي زه یې په شهوت کي واخیستلم او ما بدکاري (لواطت) ورسره وکړ او کله چي زه مړ سوم ! او هلک پسي مړ سو ؛ نو الله (تعالی) له هلک څخه اور جوړ کړ چي یو ځل [یعني : یوه پلا] ما سوځي او بله پلا له ما څخه اور جوړ

کړي چې دی سوځم ! دا زموږ عذاب دی تر وروځې د قیامته[۱۸] .

(۲) : امام ابن جوزي رحمة الله عليه په خپل سند سره روایت کوي چې : (حضرت) أبي عبد الله ابن الجلاء رحمة الله عليه وفرمایل : ما یو وخت نصراني هلک ته کتل چې ډېر ښایسته مخ یې وو ؛ نو په دې وخت کې زه أبو عبد الله بُلخي ولیدلم ! او راته ویې ویل: دغو هلکوانو ته مه ګوره ! قسم مې دي په خُدای (تعالی) وي چې تا ته به د دې ګناه وبال رسیږي ! (حضرت أبي عبد الله ابن الجلاء رحمة الله عليه وایي : نو) زه تر دغې خبرې وروسته د دې وبال په لټون کې سوم ! (چې څنګه به ما ته د دې کتنې وبال رسیږئ ؟!) تر څو چې څلوېښتم کال راغی ؛ زما څخه قرآن (شریف) ټوله هېر سو ! ځکه ما ته أبو عبد الله بُلخي دا ویلي وه چې : هلکوانو ته مه ګوره ! نو ما یو هلک ته (په شهوت سره) وکتل چې اوس مې دا دئ قرآن (شریف) ټوله هېر سو ![۱۹] .

**فایده :** له دې کیسې څخه دا په ډاګه څرګنده سوه چې قرآن شریف د هغه حافظ په سینه کې قرار نه نیسي چې وهلکوانو ته په شهوت سره ګوري او شوق یې کوي ؛ نو باید چې حافظ د قرآن کریم هیڅ کله داسي عمل نه وکړي چې له سینې څخه یې د خدای کلام پورته سي او یو دم یې د یو ګناه په وجه هېر سي .

(۳) : همدا ډول ابن جوزي رحمة الله عليه په خپل سند سره روایت کوي چې : (حضرت) موازیني رحمة الله عليه وفرمایل : ما ته یو حاجي دا کیسه وکړه، وایي : زه د قوم لوط له ځایه سره تېرېدم او ما یوه هغه ډبره راواخیسته کومه چې دوی په ویشتل سوي ول او بیا مې په کڅوړه کې کېښېښودله، بیا وښار ته راغلم ! نو یو کور ته له میانځنیو کورو څخه ورغلم او هلته د سرای په پای کې یو لغړزنی وو

---

[۱۸] د دې کیسې حواله مخکي په څلورمي برخې کې تېره سوې ده، اوس یې مُکررولو ته اړتیا نسته .

[۱۹] ذمّ الهوی ۱۱۰ مخ، تلبیس ابلیس ۲۹۴ مخ او مخکي هم د لومړۍ برخې په یوه فراخه حاشیه کې د دې کیسې عبارت تېر سوی دی ؛ د تفصیل لپاره رجوع ورته وکړه !

؛ نو ما ډبره له خپلې کڅوړې راوایستله او د دې کور د بام په دربچه کې مې کښېښوله ! نو هغه لغړزني دا ډبره د یو کوچني لېاره وغوښته کوم چې له ده سره په کور کې وو او له ده سره یو ځای سوی وو [یعني : لواطت یې ورسره کړی وو]، کله چې ده را اخیستله ؛ نو ډبره له دربچې څخه پر ده را ایله سوه او دی مړ سو[20].

فایده : له دې کیسې څخه دا په ډاګه کېږي چې د لواطت د عمل دومره وبال او سزا ده، که یې یو لغړزنی تر سره کړي، سره له دې چې پوخ عقل یې هم نه وي ؛ نو دی به یې په سخت کړاو کې راګیر سي او کله چې دا د کشر لپاره بدکار دی ؛ نو د مشر لپاره ډېر بد عمل دی .

(۴) : او همدا ډول ابن جوزي رحمة الله علیه په خپل سند سره روایت کوي چې : (حضرت) یونس بن عبد الأعلی رحمة الله علیه وفرمایل : زه د حج په نیت مکې (مُکرمې) ته راووتم ! کله چې د عرفات شپه سوه ؛ یو امام دغه شپه کوم چې زموږ سره په دې حج کې راسره وو خوب یې ولید او کله چې بیا موږ تر حج پوره کېدو وروسته مکې ته ولاړو ! نو موږ له یو آواز کوونکي څخه دا واورېده چې پر یو ډبره ولاړ وو او دا یې ویل : چوپ سئ اې حاجیانو ! نو خلک ټول چوپ سول او دا یې وویل : اې حاجیانو ! بېشکه ستاسو امام دا خوب ولید : الله

---

[20] دا کیسه هم ابن جوزي رحمة الله علیه په ذمّ الهوی کې روایت کړې ده، سند او عبارت یې په لاندې ډول دی :

وحُكي أبو الفرج إبن الجوزيّ، قال : أخبرتنا شهدة بنت أحمد، قالت : أخبرنا جعفر بن أحمد السّراج، قال : أخبرنا عبد العزيز بن عليّ، قال : أخبرنا عليّ بن جعفر الصّوفي، قال : سمعت الموازيني، يقول : قال لي رجُلٌ مِن الحاجّ : مرَرْتُ بدار قوم لوط، وأخذت حجرا مما رجموا به، فطرحته في مخلاة، ودخلْتُ مصر ! فنزلْتُ في بعض الدور في الطّبقة الوُسطى، وكان في سفل الدار حدثٌ ؛ فأخرجْتُ الحجر مِن خرجي، ووضعته في روزنة في البيت ! فدعا الحدث الّذي كان في البيت صبيًا إلى عنده، واجتمع معه ؛ فسقط الحجر على الحدث مِن الرّوْزنة، فقتله .

ذمّ الهوی ۲۰۵ - ۲۰۶ مخونه .

ﷺ د سر، کال وټولو حاجيانو ته بخښنه وکړه ؛ مګر نه يواځي وهغه چا ته چې له لغړزني سره يې لواطت کړی دی[۲۱] .

**فايده : له دې کيسې څخه هم دا په ډاګه کيږي چې د لواطت عمل کول په هر ځای کې وبال ګرځي ؛ په زياته بيا په هغه ځای کې ډېر ژر وبال ګرځي چې هغه پاک ځای وي او د عبادت مهال وي، الله تعالی دې مو په خپل فضل سره ځني وژغوري ؛ آمين .**

**يادونه : د ابن جوزي صاحب دغه دوې کيسې حضرت نويري رحمه الله عليه هم ذکر کړي دي او وروسته يې يلي دي : ما ته ډېرو خلګو دا بيان کړی دی چې [پخوا] دوه انسانان له يو تالاب سره تېرېدل کوم چې د قوم لوط په تالاب يې شهرت درلودی او هغه د کرک (ښار) په کښته اړخ کې وو او د هغه پر څنډه څو مځکې وې چې (صافيه) او (لاخيه) يې بللې او دا کيسه د دې ښار د خلګو تر منځ مشهوره ده چې اورېدونکی يې پر ويونکي انکار نه کوي .**
**[بيا يې دا ويلي دي :] او ليری به نه وي چې عذاب ورکول سي هغه چا ته چې د الله (ﷻ) نافرماني په ډاګه کوي [يعني : د لواطت عمل کوي] او نسبت يې**

---

[۲۱] دا هم ابن جوزي رحمه الله عليه روايت کړې ده، سند او عبارت يې په داسې ډول دی:
وقال أيضا : أخبرتنا شهدة، قالت : أخبرنا جعفر بن أحمد، قال : أخبرنا أبو الحسين محمد بن عثمان بن مكيّ، قال : أخبرني جدّي أبو الحسن أحمد بن عبد الله بن أحمد، قال : أخبرنا أبو العباس أحمد بن عيسى الوشا المقري، قال : سمعت أبا عبد الله محمد بن عبد الله بن عبد الحكم يقول : سمعت يونس بن عبد الأعلى يقول : خرجت حاجا إلى مكّة ! فلمّا كانت ليلة عرفات، رأى الإمام الّذي حجّ بنا تلك الليلة منامًا، فلما صرنا إلى مكّة بعد إنقضاء الحج ؛ سمعنا مُناديًا يُنادي فوق الحجر : أنصِتُوا يا معشر الحجيج ! فأنصت الخلق، فقال : يا معشر الحجيج ! إنّ إمامكم رأى أنّ الله عزّ وجَلّ قد غفر لكُلّ مَن وافى البيت العام ؛ إلا رجُلا واحدًا فإنّه فسق بغلام ؛ إنتهى .
ذمّ الهوى. تېره حواله او دا دواړې کيسې نويري رحمه الله عليه په خپل لوی کتاب نهاية الأرب في فنون الأدب کې د ابن الجوزي په حواله ذکر کړي دي، وګوره ! ۲ ټوک، ۲۱۹ - ۲۲۰ مخونه .
او خپله يې هم يوه کيسه ذکر کړې ده چې هغه په متن کې بيانه سوې ده .

کیږي هغه چا ته کوم چي له الله (ﷻ) څخه انکار کوي او د رسول تکذیب یې کوي دا چي الله (ﷻ) داسي عذاب ورکړی، لکه څرنګه چي هغو [قوم لوط] ته یې ورکړ او ورویې رساوه او په دې [خبرو] کي هغه چا لره عبرت دی چي پند ځني اخلي[۲۲].

**(۵)** : أبو طالب مکّي رحمة الله علیه له منصور فقیه څخه روایت کوي چي ده وفرمایل : زما یو ډېر دیندار ملګری وو چي أبو عبد الله سکري نومېدی، کله چي وفات سو، په خوب مي ولیدی او ورته ومي ویل : چي الله (تعالی) څنګه حساب درسره وکړئ ؟! سکري راته وویل : چي الله (تعالی) زه په خولو کي په داسي ډول غرق کړم ! چي د مخ باړخوګان مي (له شرمه) راولوېدله ! نو ما ورته وویل : الله (تعالی) ولئ داسي سخت حساب درسره وکړئ ؟! سکري راته وویل : ما یوه ورځ د لغړزني هلک شاومخ ته [په شهوت سره] وکتل ؛ نو ځکه الله (تعالی) داسي حساب راسره وکړ ![۲۳].

**فایده** : اې ځوانه ! اې کتونکې ! چي الله تعالی له خپل دیندار بنده سره صِرف پر کتلو داسي سخت حساب کوي ؛ نو له بې دینه بنده سره به څنګه حساب نه کوي ؟! ته خپله فکر وکړه ! .

الله تبارک وتعالی دي زموږ د معاشرې اصلاح وکړي او زموږ عملونه دي په خپل فضل سره راسم کړي : آمین، یا ربّ العالمین ! .

دا خو د لواطت په اړوند عبرتناکه کیسې وې چي په کتابو کي یې ذکر سوی دی او کومي چي اوس په مختلفو ځایو کي پیښي سوي دي ؛ نو د هغو ذکر کول دلته مناسب نه دي : ځکه هغه ټولي که بیاني هم سي ؛ مګر د لواطت د تاوان

---

[۲۲] نهایة الأرب في فنون الأدب د نویري رحمة الله علیه، تېره حواله .

[۲۳] قوت القلوب د أبو طالب مکي ۱ توک، ۳۱۲ مخ، ذمّ الهوی ۱۱۱ مخ او د دې کیسې عبارت هم مخکي تېر سوی دی، د تفصیل لپاره "د امامانو او بزرګانو د اقوالو په رڼا کي د لواطت بدوالی" سرلیک ته رجوع وکړه ! وفقک الله تعالی .

نتيجه ځني راوځي، کوم چي د هغه او داسي د نورو تاوانو بيان يې تر ډېره په خپل ځای کي تېر سوی دی ؛ نو ښه به دا وي چي تکرار را نه ولم ! او بس د کتابو په مستندو کيسو بسنه وکړم ! .
او وروسته به له زنا سره اړوند يوه عبرتناکه کيسه بيانه سي ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّة التّحقيق .

## دويم : له زنا سره اړوند يوه عبرتناکه نبوي کيسه

(۶) : په صحيح البُخاري کي په يو اوږد روايت کي له حضرت سُمرة بن جُندُب رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (ما ته په خوب کي دوه خلک راغلل [چي يو حضرت جبرايل عليه السلام وو او بل حضرت ميکايل عليه السلام وو]... او ما ته يې يو داسي تنور راښکاره کړی چي د سر خوا يې تنګه وه او د پای خوا يې فراخه وه ؛ نو په دې تنور کي [ډېري سختي] چيغي او بغاري وې، کله چي مي په تنور کي وکتل ؛ نو لوڅ پوڅ نارينه او ښځينه پکي وو او دوی ته له لاندي خوا څخه د اور شغلې راوتلې او چي کله به د اور شغلې پر لګېدلې ؛ نو سختي بغاري به يې وهلې [دا حالت چي مي وليدی !] ؛ نو جبرايل عليه السلام ته مي وويل : دا [چي په داسي سخت عذاب کي مبتلا دي] کوم کسان دئ ؟! ده وويل : زناکاران او زناکاراني دي)[۲۴] .

فايده : اې ځوانه ! اې کتونکې ! ښه دي کيسه ولوستله چي د زناکارانو او زناکارو ښځو ځای تر مرګ وروسته هغه سور تنور دی کوم چي زموږ ګران پيغمبر صلى الله عليه وسلم په خوب کي ليدلی وو او د پيغمبر خوب خو خالص وحي

---

[۲۴] حديث امام بُخاري په خپل الجامع الصّحيح کي، حديث شمېره (۶۶۴۰)، امام مُسلم په خپل الصّحيح کي، حديث شمېره (۵۸۹۶) او ترمذي په خپل السنن کي، حديث شمېره (۲۲۹۴) روايت کړی دی او دا ډول جلال الدّين سُيوطي په شرح الصّدور کي نقل کړی دی، شمېره (۷۳۴)، ۱۵۱ مخ او حديث ډېر اوږد دی چي دلته مي صرف خپل مقصد ځني رانقل کړی دی ! .

وي، هيڅ شک پکي نسته، لکه څنګه چي د أهل السّنت والجماعت والا دا رأيه ده او کوم زناکار نارينه او ښځي چي بېله توبې له دنيا څخه رخصت سي ؛ نو د دوی ځای هم دغه د اور سور تنور دی کوم چي زموږ ګران پيغمبر ﷺ ليدلی وو او د زناکارانو ځای په تنور کي تر قيامته دوام لري ؛ نو بايد چي هر زناکار او زناکاره له دې څخه په بشپړه عبرت واخلي .

**يادونه :** په تېر حديث کي د نورو ګناهګارانو ذکر هم سوی دی ؛ مګر ما په متن د کتاب کي صرف د هغه خپل مقصود بيان کړی دی .

## درېيم : له شرابو سره اړوند دوې عبرتناکي کيسې

**(۷) :** امام اصبهاني رحمة الله عليه په خپل کتاب التّرغيب والتّرهيب کي روايت کوي چي : (حضرت) عوام بن حوشب رحمة الله عليه وفرمايل : ما په هديره کي يو قبر وليدی چي يو سړی څني راووت، سر يې د خره وو او بدن يې د انسان وو، بيا يې درې ځله د خره په ډول ورېل او بېرته په قبر دننه سو، ما چي کله دغه حالت وليد ؛ نو دستي مي له خلګو څخه پوښتنه وکړه چي : دا سړی ولې په داسي عذاب اخته وو او د دې څه عمل وو ؟! نو خلګو راته وويل : دې سړي شراب چيښل او مور يې ډيري زارۍ ورته کولې چي زويه ! شراب مه چيښه ! نو ده به ورته ويل : څه ولاړه سه خرې خود يې چيښم ! نو اوس هم الله (تعالی) دی د خره په څېر وګرځاوه، هر ماځيګر له قبره راوځي او د خره په ډول رېا کوي[۲۵] .

**(۸) :** امام حافظ ذهبي رحمة الله عليه په خپل سند سره روايت کوي چي : عبد المَلک بن مروان غفر الله له وفرمايل : ما ته يو ځوان راغی چي ډېر سخت يې ژړل ؛ نو ما پوښتنه څني وکړل چي ته ولې ژاړې ؟! ده راته وويل : چي ما يو وخت قبر

[۲۵] دا کيسه امام سُيوطي په شرح الصّدور کي په حواله د اصبهاني رحمة الله عليه ۱۵۷ مخ کي او ابن الجوزي په عُيون الحکايات ۲۹۳ مخ کي نقل کړې ده .

کېندی او هلته مې يو داسې سړی وليد چې بڼه يې د سرکوزي وه او په زولنو باندې تر غاړې تړل سوی وو، کله چې زما دغه هيښتناکه حالت تر سترګو سو ؛ نو ډېر سخت وېرېدم ! او ځني را روان سوم ! که ګورم د شا له خوا يو کس راپسې نعاره کړل او ويل يې چې : اې ځوانه ! چيري روان سوې ؟! راسه له دې سړي څخه پوښتنه وکړه چې ته ولئ په دې عذاب مبتلا يې ؟! کله چې مې دا رږغ واورېد ؛ نو بېرته د قبر په لوري [يعني : طرف] راروان سوم او له سړي څخه مې پوښتنه وکړه چې ته ولئ په دې عذاب مبتلا يې ؟! دې سړي راته وويل چې : ما په دنيا کې شراب چيښل او توبه مې نه ځني ايستل ! اوس دا دئ الله جَلَّ جَلَالُهُ په دې سخت او دردناک عذاب اخته کړی يم ! [چې دغه مې حال دی ! !][۳۶] .

فايده : ګرانه لوستونکې ! الله جَلَّ جَلَالُهُ شرابي ته په قبر کې داسې دردناک عذاب ورکوي کوم چې دې په کيسه کې ولوست ؛ نو بايد ته هم د شرابو چيښلو تصور نه وکړې او نوم يې په شوق او ښه نامه وا نه خلې ! هسې خو له مطلق شرابو څخه به ستا هر وخت توبه وي .

يادونه : تر دې ځايه څو عبرتناکه کيسې پای ته ورسېدلې کوم چې تر لواطت، زنا او شرابو چيښلو تړاو درلود او داسې د موټ وهنې او حرامو خوړلو په هکله هم نقل سوي دي ؛ مګر د ټولو دا خلاصه ده چې موټ وهنه او حرام خوړل بد عواقب[۳۷] لري او هيڅ خير پکې نسته او تيري هغه عبرتناکې کيسې وې کوم چې د معتبرو کتابو مؤلفينو (ليکوالانو) راوړې وې او که هغه ټولې کيسې په دې کتاب کې ذکر کړم ! کومې چې په اوس زمانه کې پيښې سوي دي، يا په مخکې زمانه کې پيښې سوي دي ؛ نو کتاب به ډېر اوږد سي او پر لوستونکو به يو ډول تکليف سي ؛ نو له دې کبله ما هم صرف څو داسې معتبرې کيسې ذکر

[۳۶] دا کيسه امام ذهبي ډېره اوږده نقل کړې ده ؛ مګر دلته ما فيضون څه په اختصار سره ذکر کړله ! او مقصودي خبره مې ځني نقل کړله ! کتاب الکبائر د ذهبي ۹۸ - ۹۹ مخونه .

[۳۷] عواقب : نتيجې .

کړي ! چې هيڅ شک يې په ريښتياوالي کي نسته او بل اړخ ته د عربو يوه مشهوره مقوله ده چې وايي : (العَاقِلُ تكفِيهِ الْإِشَارَةُ "وَالجَاهِلُ تَكفِيهِ الإبَانَةُ")، يعني : د هوښيار لپاره صرف اشاره کافي ده "او د ناپوه لپاره تفصيل کافي دی" ؛ نو په دې عبرتناکو کيسو کي هم دغه لږ هوښيارانو لره کافي دي ؛ ځکه عاقل او پوه انسان تل په لږ شي باندي قناعت کوي او په لږ نصيحت باندي پند او عبرت اخلي .

## د کيسو غرض او مطلب

د کيسو غرض او مطلب دا دئ چې : لوستونکی يې کله ولولي ؛ نو بايد تر مرګه يې ځان ته سنجونه (عبرت) وګرځوي چې داسي نه وي که دا عمل وکړم ! نو پر ما به هم دا عذاب راځي، لکه کوم چې پر دې سړي، يا ښځي راغلی وو او له ځانه سره دي دا فکر پوخ کړي چې هله ژر کوه او تلوار کوه ! توبه وباسه ! سبا په ورځ د قيامت به دي زړه خوشاله وي او جنت ته به دي تلل وي ؛ ځکه لويه کاميابي هم هغه ده .

بله خبره دا ده : که يو انسان فکر وکړي چې علماؤ کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِمْ دومره هڅه کړې ده، لکه دوی چې داسی د محمدي اُمت لپاره په زړه پوري کتابونه وليکل او داسي مواد يې تيار کړل چې د دِين د هري خبري حل پکي کېدلای سي ؛ نو بايد زه هم داسي هڅه وکړم ! چې کوم دوی حضراتو په خپلو کتابونو کي نويشته کړي دي ؛ نو زه به پر هغو عمل کوم ! چې د دوی هم آخرت ښايسته سي د دوی د کتابو په برکت سره او زما هم آخرت ښايسته سي د عمل په برکت سره او بس دا د کيسو لوی غرض دی او هم دا يې مطلب دی .

## د لواطت تعبير

له تيري څلورمي برخي څخه دا يو سرليک پاته سوی وو چې په خوب کي د لواطت تعبير څه دئ ؟! نو د دې لپاره په دې سرليک کي د دې پوښتني ځواب

کېږي ؛ د لواطت تعبير ډېر بد دی، کومو خلکو چي په خوب کي ليدلی دی ؛ هغو په غمونو کي برخه اخيستې ده او که يوه مېرمنه په خوب کي حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ وويني ؛ نو دا ښځه به د خپل مېړه فرمانبرداري نه کوي او د خپل مېړه په حال کي به فساد خپروي او داسي نور تعبيرونه يې هم سوي دي، د تفصيل لپاره لاندي حاشيه ولوله ![۲۸].

[۲۸] او هغه نور تعبيرونه يې ټوله په لاندي عبارت کي ذکر دي:
لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ رؤيته في المنام تدلّ على الأنكاد والهموم مِن قومه وزوجته، ورُبما إنتصر الرّائي على أعدائه، ورأى فيهم المقت مِن الله تعالى . وتدلّ رؤيته على الطّمس والخسف والهلاک . وإن رأت امرأة لوط في المنام خرجت عن طاعة زوجها، وسعت في فساد حاله، وربما تهلک . وإن رآها النّاس کافّة ظهر الفساد في النّساء في تلک المنطقة . ومَن رأى لوطا عَلَيْهِ السَّلَامُ فإنه إنذار له على عمله عمل قوم لوط ؛ إنتهى .
تعطير الأنام في تعبيرالمنام ۴۲۱ او ۴۲۲ مخونه .
العلک مَن رأى في المنام أنه يمضغ علکا ؛ فإنّهُ يأتي فاحشة، وإن ذلک مِن عمل قوم لوط ؛ إنتهى .
تعطير الأنام في تعبير المنام ۲۱۷ مخ .
والمُسابقة بالحمام دليل على اللّواط بالذکور، أو الميل إلى عشرتهم ؛ لأنّ ذلک کان مِن فعل قوم لوط ؛ إنتهى .
تعطير الأنام في تعبير المنام ۲۳۵ مخ .
ومَن رأى أنه مضغ العلک ؛ فإنّهُ يُصِيب مالا فيه کلام، ويزداد حتى يصير منازعة وشکاية، ويکون أصله طمعًا، وربما لاط ؛ لأنّ مضغ العلک کان مِن فعل قوم لوط، وکُلّ ما يمضغ مِن غير أکل ؛ فإنّهُ ترداد الکلام بقدر ذلک المضغ، وکذلک قصب السّکر إلا أنّهُ کلام يستحلى ترداده ؛ إنتهى .
تعطير الأنام في تعبير المنام ۲۳۸ مخ .
ومَن رأى أنه يطوف على النّساء ويمصّ ثديهنّ، فلا يجري إليه اللّبن ؛ فإنه رجل يُحبّ اللّواط، ويعتاد الصّبيان ؛ إنتهى .
ومَن رأى أنه وجد خاتما بفصين موافقا أحدهما للآخَر ؛ فإنّهُ يدلّ على حصول شرف ونفاذ أمر وحُصُول مال ونعمة، وإن لم يکونا موافقين ؛ فإنّهُ يدل على اللّواطة والزّنا، وإنْ رأى أنّ أحدهما وقع وبقي الآخر ؛ فإنّهُ يتوب مِن أحدهما ؛ إنتهى .
وقال بعض المعبرين : مَن رأى أنه يلعب بالحمام، وکان من أهل الفساد ؛ فإنّهُ يؤول بأنّهُ لُوطِي ؛ لأنّ ذلک کان مِن شعائر قوم لوط، والآن کثير مَن يغوي ذلک الفن بلعب الحمام ؛ فليتق الله تعالى ؛ إنتهى .

مګر مطلب له دې سرليک څخه دا دئ چي : انسان دي په خوب کي هم له دې عمله په الله تعالی پناه غواړي او تر خوب مخکي دي د پرېوتلو دعاګاني وايي[۲۹] چي په خوب کي بد کارونه او بد حالتونه نه ويني ؛ ځکه دا به د ده لپاره خير وي چي خوب په هوسايي سره وکړي او ښه خوبونه ويني .

او بل غټ مطلب له دې عنوان څخه دا دئ : لکه څرنګه چي د لواطت عمل په ظاهري توګه بدرنګه او بدنمايه دی ؛ نو داسي د خوب تعبيرېې هم بد دی ؛ دا دوه غټ مطلبونه د دې عنوان دي .

يادونه : د نورو ګناوو تعبيرونه، لکه : د زنا، موټ وهني، شرابو، حرامو خوړلو دا هم پر دې قياسيږي چي بس بد او بدرنګه دي ؛ بايد چي مسلمان په خوب کي د تولو ګناوو له ليدني څخه او د شيطان له خطا ايستني څخه په خپل ربّ العالمين پناه وغواړي ؛ ځکه چي په ليدني کي يې زيان رامنځته کيږي .

بله يادونه : تر دې ځايه د تېرو برخو اړوند مهمي خبري او سرليکونه پای ته ورسېدل، وروسته به نوري پاته خبري پيل سي لکه : د ځوانۍ ارزښت، د ځوانانو لپاره خوږې خبري او داسي نور ؛ بالله التّوفيق، وبيده أزِمّةُ التّحقيق .

---

الإشارات في عِلم العبارات ۹۱، ۱۷۶ او ۲۲۰ مخ .

دا د لواطت په اړوند تولہ تعبيرونه ول چي ځيني شيخ علامه نابلسي رحمة الله عليه په تعطير الأنام في تعبير المنامْ کي او ځيني علامه ابن شاهين رحمة الله عليه په الإشارات في عِلم العبارات کي بيان کړي ول او توله يې بس هم دغه بيان کړي ول، لکه دلته چي ما ځني رانقل کړي او د تولو معناوي صحيح ختلي دي .

[۲۹] د خوب پر پوتلو دعاګاني دا دئ : (اللّهُمّ قِنِيْ عَذَابَکَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَکَ) . (أعُوْذُ بِکَلِمَاتِ اللهِ التّامّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَمِنْ شَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشّيَاطِيْنِ وأنْ يَحْضُرُوْنَ) .

او دا ډول آيت کُرسي، سورة الفاتحة، سورة الإخلاص او معوذتين به هم ورسره لولي، يعني : سورة الفلق او سورة النّاس ؛ څکه چي بيا به ښه خوب وکړي، د ګناوو له عواقبو اوليدني څخه او د شيطان له شره به خلاص وي او نږدې ده چي ښه خوب هم ويني .

## د ځوانۍ ارزښت

د ځوان د ځوانۍ پیل، یا ابتدا د زیاترو عُلماؤ کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَیْهِم په اند له پينځلسو کالو څخه پیلیږي او د پیغلي پېغلتوب بیا له دوولسو کالسو څخه پیلیږي ؛ نو د ځوان د ځوانۍ نښې دا دئ چي : ځوان ته احتلام راځي او له ښځي سره چي کله کوروالی وکړي ؛ هغه حمل نیسي او یا د شهوت له پورته کېدو سره مني، یا مذي ورته راځي، یعني : داسي سپیني اوبه رواځي چي په وتلو سره يې لږ څه خوند راځي او د پیغلي د پېغلتوب نښې دا دئ چي : حیض ورته راځي، یا احتلام ورته راځي، یا د یو چا له کوروالی سره حمل نیسي او یا په یو شهوت راپورته کېدو سره مني، یا مذي راځي او دا ټولي نښې د بلوغ (مړاندي) دي .

او که د مړاندي نښې پر ځوان، یا پیلغي ښکاره نه سي ؛ نو بس د ځوان له پينځلسو کالو څخه او د پیغلي له دوولسو کالو څخه دوی بالغان شمارل کیږي او د ځوان ځواني چي له پينځلسو، یا څوارلسو کالو څخه پیل سي ؛ نو بیا تر درو دېرش کالو دوام کوي .

او انسان چي کله بالغ سي ؛ گویا هغه نارینه وي، که ښځینه بس دوی دواړه په شریعت مُطهره کي پر احکامو د عمل کولو مکلف دي او د قیامت په ورځ به خامخا له ځوانه څخه د ځوانۍ او له پیغلي څخه د پېغلتانه پوښتنه کیږي چي اې ځوانه ! دا خپله ځواني او اې پیغلي تا خپله پېغلتانه چیري او څرنگه استعمال کړه ؟! او دغه مهال دا تلس زره قومه په مخ کي په داسي سخت ورځ کي د داسي پوښتني ځواب ورکول ډېر گران وي ! .

مطلب دا چي د نارینه لپاره ځواني او د پیغلي لپاره پېغلتوب یو ستر نعمت دی، د ځوانۍ قدر او ارزښت او د پیغلي قدر او ارزښت هغو ته معلوم سوی دی چي پر راغلي وي، کومو نارینه وو چي ځوانئ تباه کړې ده او یا کومو پیغلو چي خپله پېغلتانه تباه کړې ده ؛ نو هغو ته د دې سم ارزښت ورمعلوم سوی دی او تر اوسه افسوس ورباندي کوي . او د ځوانۍ د ارزښت په اړه په حدیثو کي ښه

تفصیل سوی او هغه حدیثونه په راتلونکي سرلیک کي ولوله !

## د ځوانۍ عبادت سره زر دي

ځیني پوهان وایي : "د ځوانۍ عبادت سره زر دي"، یعني : چي په ځواني کي کوم عبادت انسان ښه په آرمتیا او شوق سره کولای سي ؛ نو هغه په سپین ږیرتوب کي نه سي کولای او څومره چي په عبادت کي د انسان شوق او ذوق زیات وي، هغومره دااخلاص څپې د زړه په جوش کي راځي ؛ نو دا خبره یقیني ده چي وایي : د ځوانۍ عبادت سره زر دي او دا په پښتنو کي یو متل هم دی او دا ډول په ځینو حدیثو کي هم د دې بیان سوی چي د ځوانۍ عبادت ارزښتناکه دی او اوس به مخ ته په یوه فراخه حاشیه کي د هغو ټولو حدیثونو ذِکر وسي ؛ إن شاء الله تعالیٰ .

او لکه څرنګه چي عبادت د ځوانۍ ارزښتناکه دی ؛ نو داسي د ځوانۍ توبه هم ارزښتناکه ده، لکه په یو حدیث کي چي راځي، رسول الله ﷺ فرمایي : (أَحَبُّ التَّوبَةِ إِلَى اللهِ تَوْبَةُ الشَّابِ)، وفي رِوايةٍ : (إِنَّ اللهَ تَعَالَىٰ يُحِبُّ الشَّابُ التَّائِبُ)[30] .

ژباړه : هغه بهترینه توبه د ځوان توبه ده او په بل روایت کي راځي چي : الله تعالی د ځوان توبه (ایستل) خوښوي .

او دا ځکه د ځوان توبه والله ربّ العالمین ته خوښه ده چي ځوان په مستي او جره توب کي وي، شیطان یې زورور وي ؛ نو وده ته توبه ایستل دا مهال ډېره سخته وي او څومره چي انسان ښه په سختي کي عبادت کولای سي او توبه په خواري ایستلای سي ؛ نو هغومره په الهي درشل کي ارزښت پیدا کوي او ثواب یې زیاتیږي ؛ ځکه په یو روایت کي راځي : (أَفضَلُ الأَعْمَالِ أَحْمَزُهَا)، یعني :

---

[30] حدیث أبو الشّیخ په ثواب الأعمال کي روایت کړی دی .

بهترین د عبادتونو هغه سخت دی ؛ نو په ځواني کي هم توبه ایستل څه سخته وي .

**نکته :** لکه څرنګه چي په حدیثو کي د ځوان د عبادت او توبې ارزښت بیان سوی دی، همداسي پر دې قیاس هغه پېغله ښځه چي توبه ژر وباسي او خپل ربّ العالمین ته ښه متوجه سي، عابده او پرهېزګاره جوړه سي ؛ دا هم پکي شاملېږي .

**یادونه :** د ځوانۍ د ارزښت او د ځوان د توبې او عبادت د ارزښت په هکله مختلف حدیثونه راغلي دي او هغه حدیثونه ټوله په لاندي حاشیه کي ولوله ![31] .

---

[31] هغه حدیثونه ټوله علامه مُتقي هندي په کنز العُمال کي په بېلابیلو ځایونو کي ذِکر کړي دي او هغه سره له خپلو د حدیث شمېرو په راتلونکي ډول سره دي :

(۴۳۰۵۷) إنّ الله تعالی یباهی بالشاب العابد الملائكة، یقول : أنظروا إلی عبدي ! ترک شهوته مِن أجلي . "إبن السنّيْ، فر عن طلحة " .

(۴۳۰۵۸) خیر شبابکم مَن تشبّه بکهولکم، وشرّ کهولکم مَن تشبّه بشبابکم . "ع، طب عن واثلة، هب عن أنس وعن إبن عبّاس، عد عن إبن مسعود " .

(۴۳۰۵۹) فضل الشّاب العابد الّذي تعبد في صباه علی الشّیخ الّذي تعبد بعد ما کبرت سنه کفضل المُرسلین علی سائر النّاس . "أبو محمد التکریتي في معرفة النّفس، فر عن أنس " .

(۴۳۰۶۰) إنّ الله تعالی یُحب الشّاب الّذي یفني شبابه في طاعة الله تعالی . "حل عن إبن عمر " .

(۴۳۱۰۳) إنّ أحبّ الخلائق إلی الله عزّ وجَلّ شاب حدث السّن في صُورة حسنة ؛ جعل شبابه وجماله لله وفي طاعته، ذلک الّذي یُباهي به الرّحمن ملائکته یقول : هذا عبدي حقّا . "إبن عساکر عن ابن مسعود، وفیه إبراهیم الهجري ضعیف " .

(۴۳۱۰۴) أیّما ناشٍ نشأ في عبادة الله حتّی یموت أعطاه الله أجر تسعة وتسعین صدیقًا . "طب عن أبي أمامة " .

(۴۳۱۰۵) ما مِن شاب یدع لَذّة الدّنیا ولهوها، ویستقبل بشبابه طاعة الله إلا أعطاه الله أجر تسعة وتسعین صدیقًا . "طب عن أبي أمامة " .

(۴۳۱۰۶) ما مِن شاب يدع لَذّة الدّنيا ولهوها، ويستقبل بشبابه طاعة الله إلا أعطاه الله أجر إثنين وسبعين صديقًا، ثم يقول الله : أيّها الشّاب التارک شهوته فِيّ ! المُبتذل شبابه، أنت عندي كبعض ملائكتي . "الحسن بن سفيان، حل عن شريح، قال : حدثني البدريون منهم عُمَر ".

(۴۳۱۰۷) يقول الله عزّ وجَلّ : الشّاب المُؤمِن بقدري، الرّاضي بكتابي، القانع برزقي، التارک لشهوته مِن أجلي، هو عندي كبعض ملائكتي . "الدّيلمي عن عمر ".

(۴۳۱۰۸) ما مِن شيءٍ أحبّ إلى الله مِن الشّاب التائب . "الدّيلمي عن أنس ".

(۴۳۱۰۹) خير شبابكم مَن تشبّه بكهولكم، وشرّ كهولكم مَن تشبّه بشبابكم، ولو يعلم المتخلفون عن هاتين الصّلاتَين ؛ لأتوهُما ولو حَبْوًا [أي : صلاة الفجر، وصلاة العصر]، ولا تقبل صدقة مِن غلول، ولا صلاة بغير طهور . "إبن النّجّار عن أنس ".

(۱۰۲۳۳) ما مِن شيء أحبّ إلى الله تعالى مِن شاب تائب، وما مِن شيء أبغض إلى الله تعالى مِن شيخ مُقيم على معاصيه، وما في الحسنات حسنة أحبّ إلى الله تعالى مِن حسنة تعمل في ليلة جمعة، أو يوم جمعة، وما مِن الذّنوب ذنب أبغض إلى الله تعالىٰ مِن ذنب يعمل في ليلة الجمعة، أو يوم الجمعة . "أبو المظفرالسّمعاني في أماليه عن سَلمَان ".

(۱۶۰۶۱) شاب سخي حسن الخُلَق أحبّ إلى الله تعالى مِن شيخ بخيل عابد سيئ الخُلَق . "ک في تاريخه، فر عن إبن عبّاس ".

(۴۴۴۴۱) أيّما شاب تزوّج في حداثة سنه [إلا] عجّ شيطانه [يقول] : يا ويله عصم مني دِينه . "ع عن جابر "؛ إنتهى .

ما فيضون ويلي دي : او په کتاب (أنيس الواعظين) کي ځيني داسي حديثونه ذِکر دي، له هغو څخه دا دئ چي رسول الله ﷺ فرمايي :

(طوبىٰ للشّاب التّائب ثُمّ طُوبَى) . وقال أيضًا : (إنّ للشّاب التّائب عِندَ الله أجرا عَظِيما) . وقال أيضًا في حقّ الشّاب : (إرْحمُوْا ! فإنّهُ شَابّ لَمْ يَملِلْ عُمْرَهُ) . وقال أيضًا : (تَوبةُ شَابٍ وَاحدٍ أحَبّ إلى اللهِ تَعَالى مِنْ تَوبَةِ ألْفَ شَيْخٍ) . وقال أيضًا : (إنّ اللهَ يُبغِضُ الشّابُ الفَارِغْ) . وفي روايةٍ : (إنّ اللهَ يُبغِضُ الرّجُلُ الفَارِغْ) .

دغه حديثونه حضرت جعفر أستر آبادي په أنيس الواعظين کي نقل کړي دي او ما يې اصل نه دئ پيدا کړی !.

او په يو روايت کي راځي : (أشَدّ النّاسِ يَوْمِ القِيامَةِ حِسَابًا الصّحِيْحُ الفَارِغُ) .

دا حديث په دغه لفظ ابن مُبارک په کتاب الزّهد والرّقائق کي روايت کړی دی، ۴۶۷ مخ، حديث شمېره (۱۳۲۶).

او په بل روايت کي داسي راغلي دي : (أشَدّ النّاسِ عَذابًا يَوْمَ القيامَةِ المَكْفِيّ الفارغُ) .

فایده : له هغو حدیثو څخه کوم چي په حاشیه ذکر سول دا هم معلومیږي چي (۱) : ځوان دي اولا عابد او پرهیزګار جوړ سي . (۲) بیا دي که وس یې وو ؛ واده دي ژر وکړي . (۳) سخي دي جوړ سي . (۴) له سپین ږیرو سره دي په سادګي کي مشابه جوړ سي . (۵) او فارغه دي نه کښیني، بلکي په یو عبادت به ځان اخته کوي .

دا پښځه خبري له ټولو تېرو حدیثو څخه په ښه کیږي او داسي دا مبارک خطابونه پیغلي ښځي ته هم متوجه کیږي چي (۱) : پېغله دي اولا عابده او پرهېزګاره جوړه سي . (۲) بیا دي که وس یې وو ؛ واده دي ژر وکړي، یعني : خاوند دي ژر وکړي . (۳) سخاوت ناکه دي جوړه سي . (۴) له سپین سرو سره دي مشابه جوړه سي، ډېر پېشین او هوس دي نه کوي، لکه : بې کماله او بې تهذیبه ښځي چي بل کار نه لري، بلکي سادګي به خوښوي . (۵) او فارغه دي نه کښیني، بلکي په یو عبادت به ځان اخته کوي، لکه : د قرآن شریف تلاوت کول ؛ د حیض، نفاس، غُسل، لمانځه، روژې او داسي د نورو مهمو شیانو مسئلې زده کول ؛ د مور او پلار په قول کول ؛ د کور صفایي کول ؛ له غیبت، بُغض، درواغ، بُهتان، بې کاره مجلس، بې ځایه باندار او داسي ټولو بې هوده کارونو او ګناوو څخه ځان ساتل .

یادونه : تر دې ځایه د ځوانۍ او پیغلتوب دارزښت په اړه چي کومي خبري وې ؛ هغه زیاتره بیاني سوې، وروسته به د ځوانۍ او پیغلتانه د ساتني بیان وسي چي ځوان ؛ باید څنګه د خپلي ځوانۍ او پېغله به څنګه د خپل پیغلتوب ساتنه کوئ ؟ او دې سرلیک ته ؛ باید هر ځوان او پېغله ښه توجه ورایله کړي او ځان دي وربانديي پوه کړي ؛ ځکه د کتاب مقصد او هدف هم داغه دی ؛ بالله التّوفیق، وبیده أزِمّةُ التّحقیق .

---

دا حدیث دیلمي په خپل مسند الفردوس کي روایت کړی دی، ۱ ټوک، ۳۶۱ مخ، حدیث شمېره (۱۴۵۹) .

## د ځوانۍ، یا پیغلتانه ساتنه

هر هغه ځوان چې د خپلې ځوانۍ ساتنه غواړي، یا هره هغه پیغله چې د خپل پیغلتانه ساتنه غواړي ؛ نو هغه دې لاندې آداب، هدایات، لارښوونې او مشورې پر ځای کړي :

أ. لومړی : د مور او پلار لپاره، یا د هغه چا لپاره چې د یو هلک، یا یوې نجلۍ مشرې یې پر غاړه وي ؛ نو هغه دې د لومړي ځل لپاره که هلک، یا نجلۍ مراندې ته ورسېدل ؛ نو په مینځ کې دې یې بیسترې سره جلا کړي، که څه هم سره ورور او ورور وي، یا ورور او خور وي او یا داسې نور قرابت سره لري .

ب. دویم : ځوان او پیغله ؛ باید د دیني کتابو مطالعه پیل کړي او ځوان به هغه کتابونه لولي چې د ځوانۍ د ساتنې په هکله جوړ سوي وي او پیغله به هم هغه کتابونه مطالعه کوي چې د پیغلتانه د ساتنې په هکله وي، لکه همدا کتاب (د ځوانۍ ساتنه)، یا (بهشتي زېور)، یا (د مباشرت آداب) او داسې نور او په ځانګړې توګه بیا هغه کتابونه او رسالې به هم ښه په آرامه اودقت سره لولي چې د حیض، نفاس، غُسل، د لمانځه شرایط او داسې نَورو مسئلو بیان پکې سوی وي .

ج. درېیم : په تنهایي (یواځې والي) کې به نه کښیني په داسې صُورت چې هیڅ دیني، یا دُنیاوي کار نه پکې کوي ؛ ځکه له دې څخه د موټ وهنې خطره پیدا کیږي او په تېره حاشیه کې ځیني څو داسې حدیثونه ذکر سول چې مُبارک عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام فرمایي : (الله [تعالی] فارغ انسان تَه په غضب کیږي) او ځینو پوهانو هم ویلي دي : "بې کارې داسې بلا ده ؛ هم د دِین هم د دُنیا ده" او ځینو ویلي دي : "بې کارې بدترینه مشغله ده"، بلکې انسان به خامخا په یو دیني، یا دنیاوي کار ځان اخته کوي .

د. څلورم : له بدو اندېوالانو څخه دې ځان په بشپړه توګه ساتي که ځوان وي، یا پیغله ؛ خو دا عمل به پر ځای کوي .

ه. پينځم : دا ډول له بدو تصويري (انځوريزه) کتابو، رسالو، ورځپاڼو، اونيزو او داسې نورو شيانو څخه به په بشپړه خپل ځان ساتي د کومو په کتلو چې اسلامي عقيدې ته خطره پيدا کيږي، يا شهوت راپاريږي او يابل ديني، يادنياوي تاوان کتونکي ته پکي پيښيږي .

و. شپږم : همدا ډول له عشقي مېسجانو، ناولنو، نظمونو، کيسو او فلمانو څخه به خپل ځان په بشپړه ساتي .

ز. اووم : همدا ډول له سينما، سروزاوربډلو، شوقي انټرنيټي پټو، نامحرمو او داسې ټولو هغو شيانو څخه به په بشپړه ځان ساتي چې شهوت راپاروي او دبدنظرۍ صورت پکي راځي .

ح. اتم : څومره چې د ځوان وس وي ؛ له هغسې بدو خلکو، انډيوالانو، امزولانو او دوستانو سره به ملګرتيا کوي او داسې پيغله به له بدو ښځو او پخو نصيحت کوونکو سپين سرو سره به ملګرتيا کوي .

ط. نهم : ځوان انسان، يا پيغله چې هر کار کوي ؛ نو تر هغه مخکي به د هغه فکر وهي چې ايا دا د کولو دئ او که يا ؟ بيا به هغه کار کوي، کنې له هغه کار څخه به په بشپړه خپل ځان ساتي .

ي. لسم : ځوان، يا پيغلي ته که داسې فکر ورولاړ سو چې په هغه کي د موټ وهلو خطره وي، يا د زنا کولو، يا د لواطت کولو او يا داسې د بلي تناسلي ګناه تر سره کولو خطره وي ؛ نو (۱) بايد دوه رکعاته د (صلاة التّوبة)، يعني : د توبې په نيت ادا کړي . (۲) يا دي دوه رکعاته د (صلاة الحاجة) په نيت باندي ادا کړي . (۳) يا دي کليمه طيبه، يعني : (لَا إلهَ إلَّا اللهُ مُحَمَّدُ رَسُولُ الله) په داسې ډول ووايي چې د لا إله ويلو پر وخت به دا تصور کوي چې له سري هيڅ حقيقي شی نسته او إلا الله ؛ مګر يواځې الله ﷻ دی، کوم چې د اهل تصوفو په اصطلاح نفي او اثبات ورته وايي . (۴) که دا عمل هم نه سي کولای ؛ نو درې سوه ځله دي

(الله، الله) ووايي . (۵) يا دا ذکر د (الله، الله) دي صرف سل ځله ووايي په داسي ډول چي د ويلو پر وخت دا فکر له ځانه سره وهي چي زما له ويلو سره شاوخوا آسمان، مځکه، وني، ډبرې، دريابونه، مرغان او داسي شاوخوا ټولي ذرې دا کليمه د (الله، الله) وايي ؛ ځکه په دې فکر سره به د دې مبارک نوم حقيقت د ده په زړه کي ښکاره سي چي په نتيجه کي به يې د الله ﷻ له نافرمانۍ څخه زړه واوړي . (۶) يا دي د دې يو آيت د ټوټې مراقبه له ځانه سره وکړي چي الله ﷻ فرمايي : ﴿أَلَمۡ يَعۡلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ١٤﴾[۳۲]. يعني : ايا ته نه پاموې ! چي الله (تعالی) هر څه ويني، مطلب دا چي دا آيت دي په زړه کي په داسي ډول وايي چي دا فکر به پکي کوي : الله ربّ العزت دا وينا ما ته کوي او دا راته وايي : چي زه خو تا وينم ؛ نو زما نافرماني مه کوه ! . (۷) يا دا چي د خپل مرګ فکر دي له ځانه سره وکړي چي زه خو هم مرګ لرم ! دا ګناه نو زه ولې وکړم ؟! زه هم تور قبر ته ځم ! کوم چي د قبر او مرګ مراقبه ورته وايي . (۸) يا دي د حشر او نشر مراقبه وکړي . (۹) يا دي د جهنم د عذاب مراقبه وکړي . (۱۰) يا دي د الهي نعمتونو مراقبه وکړي . (۱۱) يا دي دا مراقبه وکړي چي دا حُسن او جمال د فلانکي، يا فلانکۍ دا ؛ خو فاني کيږي او دا فکر دي له ځانه سره وکړي چي الله ربّ العزت به ما ته د دې ګناه په پرېښودلو کي د آخرت باقي حُسن او جمال په برخه راکوي . (۱۲) . يا دا چي لږ ؛ خو دي دا خپل نظر په کنټرول کي راولي . (۱۳) يا دا چي د دې ګناه د تاوان په عواقبو کي دي فکر ووهي چي فلانۍ تاوان لري او فلانۍ تاوان لري . (۱۴) يا دا چي په عين هغه وخت کي دي چي د تناسلي ګناه، يا هسي د مطلقي ګناه يو فکر ورولاړ سي، يا يې د کولو يوه خطره پيدا سي

[۳۲] د العلق سورت، ۱۴ آيت .

؛ نو هغه ځای دې بدل کړي، ښه او دس دې تازه کړي او خپل ربّ ته دې مُتوجه سي. (۱۵) او بل دا چې حوقله، يعنې: (لَا حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلّا بِالله العَلِيّ العَظِيم) کليمه دې په زياتوالي سره وايي او دا دعاوي دې ډېرې وايي: (اللّٰهُمّ إِنّيْ أعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبثِ وَالخَبَائِثِ)، (اللّٰهُمّ طَهِّرْ قَلبِيْ عَن غَيرِكَ، وَنَوِّر قَلبِيْ بِنُور مَعرفَتِكَ أبَدًا)، (اللّٰهُمّ أصلِح لِي شَأنِيْ)؛ آمين.

ک. يوولسم: ځوان، يا پېغله به يو داسې کسب ځان ته پيدا کوي چې هغه د لاس وي او هغه به په دې نيت کوي چې له حرامې نفقې څخه په راوګرځېږي او حلاله نفقه په وګټل سي؛ ځکه د لاس کسب ډېر مبارک وي، لکه څرنګه چې مخکې په شپږمه برخه کې د دې تفصيل تېر سو.

ل. آخري دوولسم دا چې که يو ځوان، يا پيغلې ته د عاشقۍ فکر ورولاړ سو، يا خدا نخواسته په عاشقۍ اخته سوی وي او يا يې په آينده کې ورته اراده وي؛ نو لومړی دې له هغه معشوق، يا معشوقې څخه تعلق وشکوي، کنې د دې لپاره دې يو وخت جګړه ورسره وکړي چې د ده زړه له هغه څخه او د هغه زړه له ده څخه وشکېږي، يا دا چې په هيڅ ډول دې د هغه تصور نه کوي، هو! که فکريې بې اختياره ورولاړ سو؛ نو د چپې اوږې خوا ته دې مخ واړوي او درې ځله دې پر توه کړي؛ ځکه په دې سره د شيطان زور او وسوسې ختمېږي، يا دا چې د دنيا د عاشقۍ پای او بې وفايۍ ته دې فکر ورايله کړي چې دا فلانکی، يا فلانکۍ څومره بې وفا ده؟! او رېښتيا هم په مجازي عشق کې وفا نه راځي؛ ځکه وفا د حقيقي عشق په صُورت کې راځي او له دې سره سره دې د ټولو ښېګنو پر ځای کولو او له ټولو شکنجو څخه دې د ځان ساتلو هڅه کوي او په دې ترتيب سره به ښه پوره ساتنه د ځوان د ځوانۍ او د پيغلې د پېغلتانه راځي، همدا ډول د ځان، مال، حالاتو او کارونو ساتنه به راځي؛ وَالله علىٰ ما أقُولُ وكيلٌ، وهُو حسبي ونِعْم الوكِيلُ.

دا ټوله هغه آداب، هدايات (لارښووني) او مشورې وې چې د ژوند له ټولو غټو اړخونو سره اړوند دي او په پر ځای کولو سره يې ټول ژوند روښانه کيږي او د ټولو ساتنه پکي کيږي او دا په ډېر فکر سره رايو ځای سوي دي ؛ نو بايد هر ځوان او پيغله د دې پوره په بشپړه لحاظ وساتي .

## د ځوانانو لپاره خوږې خبري

اې ځوانه ! د خپلي ځوانۍ په قدر خو لږ فکر وکړه ! ايا دا دي نه دي اورېدلي ؟! چي وايي : "د ځوانۍ عبادت سره زر دي"، که اوس د خپلي ځوانۍ په قدر فکر وه نه کړې ! نو بيا خو يې په سپين ږيرتابه کي هم قدر نه سې کولای ! .

اې ځوانه ! تر څه وخته به غافل ګرځې ! که د خپلي ځوانۍ قدرداني وکړې ؛ نو ټل عمر به دي خپلي سترګي له ناروا کارونو څخه وساتې ! بېشکه ټوله ګناهونه له دغو سترګو څخه پيلېږي ؛ نو هله ژر کوه ! له غفلته څخه دي خپل ځان راويښ کړه ! او راتلونکو ملغلريېزو خبرو ته غېږ سه اوغوړه سه ! .

اې ځوانه ! خپل نيت دي د ربّ العالمين ﷻ په عبادت کي صفا کړه ! او له رياء څخه په خپل عمل او قول کي ځان وژغوره ! ځکه که داسي وکړې ؛ نو نيکي دعاوي به دي ټل قبليږي ! کومي چي د قطع رحمۍ، يا د يوې ګناه غوښتني لپاره نه وي .

اې ځوانه ! د خپل ګران پيغمبر ﷺ پر سنتو عمل وکړه ! ځکه که داسي وکړې ؛ نو پر خپل خدای ﷻ به ټل قدرمن يې ! او کله چي پر قدرمن او ګران سوې ؛ نو ګويا لکه پر هر شي چي قدرمن سوې ! .

اې ځوانه ! د الله تعالی له عذابه هر وخت وېرېږه ! او د رحمت يې هر وخت امېد کوه ! ځکه د ايمان دوه وزرونه دي چي يو وزر يې د الهي رحمت امېد کول دي او بل وزر يې له الهي عذابه بېرېدل دي ؛ نو کله چي يو مومن بې امېده سي ؛ هغه به

تل په نفس تنګيو کي وي او کله چي بېره نه لري، يعني : د الله تعالی له عذابه نه بيرېږي ؛ نو هغه به تل د الله تعالی په نافرمانيو او خپلو خواهشاتو کي ژوند تېروي .

**اې ځوانه** ! کوم ګناهونه چي دي کړي دي له هغو څخه اوس توبه وباسه ! ځکه که توبه نه ځني وباسې ! نو زړه به دي کرار کرار تور تکي پيدا کوي، آخر به تک تور سي چي بيا به توبه هم نه سې ايستلای او نه به يې هيڅ وس د ايستلو لرې ! .

**اې ځوانه** ! ستا لپاره په ګناوو کي تر بدنظرۍ، د لغړزنو تر شوق، موټ وهني، زنا، لواطت، نشييزو توکو او تر حرام خوړلو منحوسي ګناوي نسته ؛ نو دغه ګناهونه په بشپړه توګه پرېږده او د آينده لپاره د پرېښودلو اراده پخه کړه ! .

**اې ځوانه او ګرانه** ! تل تر تله به ستا دا فکر وي چي زما سره الله تعالی په خپل علم او قدرت وجود لري، ايا دغه آيت شريف دي نه دئ لوستلی : ﴿ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ﴾[۳۳] .

**ژباړه : بېشکه [دغه الله تبارک وتعالی] ستاسو سره دی [په عِلم او قدرت باندي] چيري چي تاسي ياست ! .**

او محمّد رسول الله ﷺ فرمايلي دي : (إِنَّ أَفْضَلَ الْإِيمَانِ أَنْ تَعْلَمَ ! أَنَّ اللَّهَ مَعَكَ حَيْثُمَا كُنْتَ !)[۳۴] .

[۳۳] د الحديد سورت، ۴ آيت او پای يې داسي دی : (وَاللَّهُ بِمَا تَعمَلُونَ بَصِيرٌ) .

[۳۴] حديث طبراني په المُعجم الأوسط ۸ توک، ۳۳۸ مخ کي، حديث شمېره (۸۷۹۶) او دا ډول يې په مُسند الشامیين ۹ توک، ۳۰۶ مخ کي، حديث شمېره (۵۳۵) او أبو نعيم په الحِلية ۶ توک، ۱۲۴ مخ کي

**ژباړه** : بېشکه بهترین ایمان دا دئ چي ته په دې پوه سې ! الله (تعالی) ستا سره هر ځای (علما او قدرتا) وجود لري . او که دې ایمان داغسې جوړ سي ؛ نو بیا به ته تل تر تله کامیابه یې ! .

**اې ځوانه** ! له کوم کار څخه چي الله تعالی منع کړی یې ؛ هغه مه کوه ! او پر کوم چي یې امر کړی یې ! نو بس هغه کوه ! .

**اې ځوانه** ! آخري خبره دا ده : داوس زمانې چي څه خوندونه او خواهشات دي ؛ وټولو ته په داسې نظر وګوره ! لکه کوم چي زموږ او ستاسو ربّ العالمین ورته کتلي دي .
او ربّ العالمین ؛ خو په داسې نظر هم نه دي ورته کتلي، لکه د غوماشي د وزر په اندازه او له حضرت عبد الله ابن عُمر ﷺ څخه روایت دی چي : رسول الله ﷺ وفرمایل : (که دې دنیا د الله [تعالی] په وړاندي د غوماشي د وزر په اندازه قدر درلودلای ؛ نو کافر به یو غوړپ اوبه هم نه وای ځني چیښلای) (۳۵) ؛ سُبحان الله ! نو دنیا د خالق په وړاندي څومره بې قدره ده .
مطلب دا چي د دنیا څه خواهشات دي دا د ربّ ﷻ په نېز د یوې غوماشي د وزر په اندازه قدر او اهمیت نه لري ؛ نو باید ګرانه وروره ! د دنیا خواهشات ټوله ستا په نظر کي هم دغه ډول وي ؛ ځکه بیا به ته تل خوشاله او قناعت لرونکی یې او له ټولو ګناوو څخه به په امن یې ! .

---

روایت کړی دی او دا ډول جلال الدین سیُوطي په الجامع الصّغیر ۱ ټوک، ۴۱ مخ کي له طبراني او أبو نعیم څخه نقل کړی دی، لکه څرنګه چي اوس دلته د دواړو د ټوک او مخ یادونه وسوه .

(۳۵) حدیث امام ترمذي په خپل جامع السّنن ۴ ټوک، ۵۶۰ مخ کي روایت کړی دی، حدیث شمېره (۲۳۲۰)، لکه څرنګه چي سیوطي رحمه الله علیه په خپل جامع الصّغیر ۲ ټوک، ۱۳۱ مخ کي ځني نقل کړی دی او دا ډول ابن أبي الدّنیا رحمه الله علیه یې یوه ټوټه په خپل کتاب ذمّ الدّنیا ۱۱ مخ کي روایت کړې ده، حدیث شمېره (۱) او عِبارت یې په داسې ډول دی :
(لَوْ كَانَتِ الدّنيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ ؛ مَا سَقَى كَافِراً مِنْهَا شُرْبَةَ مَاءٍ) ؛ إنتهی .

**اې ځوانه ! او اې ګرانه لوستونکې ! تا ته دې لوی ربّ العرش العظیم په دغو اوو سپېڅلو ویناوو او خبرو د عمل کولو توفیق درکړي ! چې دنیا او آخرت دې دواړه په خوشالي او راحت کې سي او د آخري زمانې له ټولو فتنو څخه په امن سې !.**

او پوه سه ! دغه خطابونه چې څرنګه ځوان ته ما وکړه ! نو دا ډول زما هري خور پیغلي ته مي کړي دي ؛ ځکه ځوان چې څرنګه پر شرعي کارونو مُکلف دی ؛ نو پېغله هم مُکلفه ده ؛ وصلّی الله علیٰ سیّدنا محمّدٍ ؛ سیّد الأوّلِین والآخِرین، وعلیٰ جمیع النّبیّین والمُرسَلِین .

# (مل پانه)

## د ګټورو خبرو سوغات، یا غوره ویناوي

## ځیني خلک وایي : کتابونه ورځ په ورځ زیاتیږي او ګټه یې نسته

په اوس زمانه کي ما ځیني داسي خلک ولیدل چي دا به یې ویل : نن خو کتابونه ورځ په ورځ زیاتیږي، عمل څوک نه ورباندي کوي او داسي دی، داسی دی .
نو د دغو خلکو جامع ځواب دا دئ چي موږ او تاسو ته د اسلام او ایمان ارکان او حکمونه په کوم لامل سره راغلي دئ ؟! ایا دا فکر دوی نه کوي چي اسلام او ایمان اولا په دعوت سره راغلی، بیا په توره سره راغلی دی ؛ نو که دا کتابونه نه وای، تا به د اسلام او ایمان رکنونه او د دِین سپیڅلي ویناوي په څه شی پیژندلائ ؟! باید انسان پر هیڅ یو اسلامي او دِیني کتاب وه نه لګیږي ؛ ځکه ده ته د اسلام او ایمان رکنونه او اسلامي احکام ټوله له دغو کتابونو څخه راغلي دي او بل د عربو مشهوره مقوله ده چي وایي : "وخيرُ الجليس في الزّمان كِتابٌ"، یعني : په زمانه کي غوره ملګری کِتاب دی او الحمدُ لله ما په کِتاب کتلو کي لاندي ګټي ټولي لیدلي دي ! :

۱.څوک چي یو کتاب، یا یوه رساله مطالعه کوي، که څه هم عمل نه ورباندي کوي ؛ نو د خلکو لَه غیبت کولو څخه به محفوظ وي .

۲.زړه به یې خوشاله وي .

۳.له ګپو او ملنډو څخه به ژغورلی وي .

۴. الله تعالی به ځني راضي وي.

۵ . ثوابونه به يې نوشته کيږي ؛ ځکه د يو حديث شريف مفهوم دی چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي : څوک چې د علم يو باب زده کړي ؛ نو دا به هغه لر تر دُنيا او څه چې په دُنيا کې دي غوره وي . او په يو حديث شريف کې نقل سوي دي : (د دين يوه مسئله زده کول تر زرو رکعاتو [نفلي] المنځونو غوره دي، که څه هم عمل ورباندې وکړي او که يې نه ورباندې وکړي)[۳۶] ؛ سُبحانَ الله دا څومره لوی ثواب دی ! د کتاب د يوې مسئلې، يا د يوې اسلامي او ديني خبرې زده کوونکي لره !!.

۶. پټه خوله به ناست وي او پټه خوله کښېنستل عبادت دي.
۷. او د آخري زمانې له ټولو فتنو څخه به خلاص وي او ځني ژغورلی به وي ؛ ځکه نن سبا که يو انسان په يو مجلس کې کښيني ؛ نو له درواغو او غيبتو څخه به مجلس والا خلاص نه وي، يا به د دنيا له ميني او د دنيا پرستو له صفته خلاص نه وي او که د ځينو ځوانانو سره کښيني ؛ نو د نجونو او هلکوانو له بحثونو څخه به خلاص نه وي . دغه راز که له هر ډول خلکو سره انسان کښيني ؛ نو له ګناوو څخه به خلاص نه وي ؛ مګر نه هغه چې د الله تعالی خوښه وي .
نو اوس وخت د انسان لپاره ښه او غوره دوست کتاب دی، کتاب که انسان ګوري ؛ نو له ټولو ګناهونو څخه به خلاص وي او هيڅ کله يو انسان ته دا په کار نه ده چې وايي : کتابونه ورځ په ورځ زياتيږي او يا په کتابو ؛ خو کتب خانې او ګودامونه ډک دي او عمل ؛ خو څوک نه ورباندې کوي او داسي دي ؛ نو داسي دی ؛ ځکه داسي خبري کول د شريعت مُحمّدي له رويه ګناه ده او دا تيري خبري داسي خلکو لره کافي ځواب دی .

---

[۳۶] د دې حديث حواله د کتاب د سر په مخانو کې تېره سوې ده ؛ لهذا اوس يې مکررولو ته اړتيا نسته .

## ځيني خلګ فقير او مسکين ته شی نه ورکوي

دويم ډول په اوس وخت کي داسي خلګ هم سته چي کله يو فقير اومسکين د سوال کولو لپاره ورته راسي ؛ نو ښکنځل ورته کوي، پيسې نه ورکوي او پسي وايې خلي او مسکين هم پر پيسو سرېره داسي په نرمي سوال او خواست ځني کوي چي : اې سړيه ! د خدای د رضا لپاره مرسته راسره وکړه ! او دا څوک پر پيسو سرېره، يعني : روپۍ هم ورسره وي او مسکين ته يې نه ورکوي ؛ نو پر دې خبره د رسول اکرم ﷺ د فرمان دا مفهوم راغلی دی : څوک چي د خدای د رضا په وجه يو شی درڅخه وغواړي ؛ نو وريې کړئ ! او څوک چي د خدای د رضا په وجه له يو شي څخه پناه درڅخه وغواړي ؛ نو پناه ورکړئ ! .

مطلب دا کوم څوک چي پر پيسو سرېره سايل او مسکين ته پيسې نه ورکوي، بلکي يوه روپي چي هم نه ورکوي ؛ نو دا به ډېر سخت ګناهکار وي او الله تبارک وتعالی خپل ګران پيغمبر ﷺ ته فرمايي : ﴿وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ۝١٠﴾[۳۷] .

ژباړه : او کوم چي سوالګر دی ؛ نو هغه مه ترټه ! .

يعني : څه شی چي وي ؛ وريې کړه ! يا يې په ښه خوشاله ځواب سره رد کړه ! د بيلګي په توګه ورته ووايه : معاف کړه ! يا خدای دي پرده وکړه ! يا خدای دي عزت وکړه ! يا خدای دي يې درکړي ! مطلب دا چي خپل نبي ته د الله تعالی دا خطاب دی ؛ نو ما او تا ته به يې ولې دا خطاب نه وي ؟! هو ! که يو فقير او يو مسکين يو دوکاندار او يا داسي بل سړي ته پښې ټينګي کړي او په زړو سترګو ورته ودرېږي او د چا خبري ته غوږ نه ږدي – بس پيسې، يا يو شی خامخا غواړي ؛ نو بيا يې ترټل په دې صورت کي روا دي، لکه امام آلوسي او داسي نورو معتمدو علماؤ کرامو رحمة الله عليهم چي دا خبره کړې ده .

[۳۷] د الضحی سورت ۱۰ آيت، آخري پاره .

# ځيني خلګ له الهي بيري محرومه دي او په خپلو نېکيو مغروره دي

دريېم ډول داسي خلګ هم سته چي دوی په خپلو عملونو دوکه سوي دي، ښه نېک عملونه کوي او بيا هم د الله تعالی بېره په زړه کي نه لري او الله ﷻ په خپل قرآن مجيد کي صريح دا فرمايي : ﴿أَفَأَمِنُوا۟ مَكْرَ ٱللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴿٩٩﴾﴾[۳۸].

ژباړه : نه په امن کيږي له ناڅاپه نيولو څخه د الله [تعالی] ؛ مګر داسي قوم د الله [تعالی] له ناڅاپه نيولو [او عذابه] څخه په امن کيږي چي تاوانيان [او ګناهګاران] دي .

او بل دا چي د ايمان دوه وزرونه دي، يعني : دوه غټ ښاخونه يې دي چي يو غټ ښاخ يې له الله تعالی څخه د امېد درلودل دي او بل غټ ښاخ يې له الله تعالی څخه بېره په زړه کي نيول دي، لکه مخکي چي هم پر دې څه بيان وسو او بل دا چي د الله تعالی له ناڅاپه نيولو او عذابه څخه په امن کېدل کبيره (غټه) ګناه ده، لکه د اُمت معتبرو علماؤ چي پر دې خبره ټينګار کړی دی .

او که يو مسلمان ګناهونه کوي او دا وايي چي : الله تعالی ؛ خو غفور رحيم دی، پروا نه لري، خدای به مي وبخښي او نور نو په زړه کي له خپل غفور رحيم څخه بېره نه لري ؛ ځکه که بېره يې له خپل ربّ څخه درلودلای ؛ نو ګناهونه به يې هم نه کولای او بېشکه ګناهونه ټوله د الله تعالی نافرمانياني دي او دغه مسلمان د خپل رب تعالی هغه نوم هېر کړی دی چي (قهّار) دی ؛ ځکه که بخښونکی دی ؛ نو عذاب ورکوونکی او قهر کوونکی هم دی .

بايد چي مسلمان نارينه وي او که ښځينه له الله تعالی څخه د رحمت امېد هم کوي او له عذابه او ناڅاپه نيولو څخه دې هم ويرېږي، بېشکه د الله تعالی له عذابه

---

[۳۸] د الأعراف سورت، ۹۹ آيت .

شخه نه په امن کيږي ؛ مګر زيان کاران او ګناهګاران او دا هغه کسان دي چي د ايمانو يو وزر لري چي هغه د الهي رحمت اميد کول دي، کوم چي په عربي ژبه کي (الرّجاء لرحمة الله) ورته وايي، يعني د الله د رحمت اميد ساتل او بل وزر نه لري چي هغه له الهي عذابه او ناڅاپه نيولو څخه بيريدل دي، کوم چي په عربي کي (خوف مِن الله تعالیٰ) ورته وايي، يعني : له الله تعالی څخه بيريدل .

## ځيني خلګ بېله تحقيقه حُکم کوي

څلورم ډول داسي خلګ هم سته چي کله دوی ته نور خلګ، يا يو سړی ورته ووايي چي : موږ داسي ښه شيان وليدل ! يا مو داسي ښه خلګ وليدل ! يا مو داسي ښه سړی وليد او يا داسي يو شی مو وليد ! نو دوی دستي دا ورته وايي چي : دا شيان ؛ خو بد دي ! يا دا خلګ ؛ خو بد دي ! يا دا فلانی سړی او شی ؛ خو بد دی ! ليدلي يې هم نه وي او د بدوالي حکم پر کوي، يا ؛ خو يو شی بد وي او دوی د ښه والي حکم پر کوي ؛ نو داسي په نه ليدلو او نه تحقيق کولو کي پر يو شی حکم د بدوالي، يا ښووالي کول ناروا دي او بل دا چي زموږ پيغمبر ﷺ فرمايلي دي : (لَيْسَ الخَبَرُ كَالمُعَايِنَة)[۳۹]، يعني : خبره داسي (ريشتونې) نه ده لکه کوم چي ليدل دي .

مطلب دا چي انسان کله يو څوک يې ليدلی نه وي ؛ نو هيڅ کله دي د کافر، يا منافق، يا بد حکم نه پر لګوي، يا يې يو شی ليدلی نه وي ؛ نو بايد هيڅ کله د بدوالي حکم نه پر ولګوي، هو ! چي کله يې يو شی ښه وليد، څيړنه يې وکړه چي دا بد دی ؛ نو بيا ورته روا ده چي حکم د بدوالي پر وکړي، يا يې يو انسان ښه وليدی چي دا بد دی، ښه معلومات او تحقيق يې وکړ ؛ نو بيا ورته روا ده چي

---

[۳۹] حديث امام أحمد په المُسند کي، طبراني په المُعجم الأوسط کي، حاکم په المُستدرک کي او خطيب بُغدادي په خپل تاريخ کي روايت کړی دی، لکه څرنګه چي سُيوطي په الجامع الصّغير ۲ توک، ۱۳۵ مخ کي ويلي دي .

حکم د بدوالي پر وکړي او که يې ليدلی نه وي ؛ نو تر هغه وخته ورته روا نه دي چې حکم د بدوالی پر وکړي، يا غيبت پسي وکړي، يا دروا‌غ پسي وايي ؛ ځکه دا ټول ناروا کارونه دي او سخته ګناه لري او هر يو کار له دغو کارونو څخه په خپل ځای کي غټه ګناه ده آه ! .

## پر لاره، يا سړک او يا داسي بل ځای سپين کاغذ غورځول بې ادبي ده

پينځم دا چې کله يو انسان پر يو لاره، يا کوڅه، يا سړک او يا داسي بل ځای روان وي او يو داسي کاغذ يې تر سترګو سي چې په هغه کي د الله تعالی نوم وي، يا د نبي، يا د فريشتې او يا د ښه سړي نوم وي، يا داسي وي چې شرعي يوه مسئله، يا يو حديث، يا يو آيت شريف او يا داسي بل مُبارک شی پکې وي ؛ نو بايد هغه راپورته کړي او په جيب کي يې واچوي، يا دي يې په يو پاک ځای کي ښخ کړي او يا دي يې په ښو عطرو ولړي او بيا دي يې ښخ کړي ؛ ځکه داسي کول د انسان دُنيا او آخِرت سموي او داسي نه کول، يعني : د دې سپين کاغذه بې حُرمتي کول، کوم چې يو مبارک شی پکي نويشته سوی وي ؛ نو د انسان دُنيا او آخِرت بربادوي، لکه څنګه چې په يوه معتبره کيسه کي نقل سوي دي او هغه دا ده چې : يو بزرګ حضرت بِشر الحافي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمايلي دي : (زه يوه ورځ په لاره کي راروان وم ! چې يو کاغذ مي تر سترګو سو ؛ کاغذ چې مي کله راپورته کړ د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" کليمه پکي نويشته وه ؛ نو دستي مي له ګرزو څخه صفا کړی او دوه درهمه راسره وه، عطاري ته ولاړم ! ښه عطر مي په رانيول ! بيا مي دا کاغذ په عطرو ولړی ! او د شپې بيده سوم، کله چې بيده سوم يو ويونکی دغه آواز راته وکړ چې : اې بشر حافي ! تا زما نوم له لاري څخه پورته کړی او ښه عطر دي پر ولګول ؛ نو زه به هم ستا نوم په دُنيا او آخِرت کي عطرمند

کړم !)[۴۰].
سُبحان الله ! دا څومره لوی ثواب دی چې کله یو انسان د الله تعالی د نامه قدر وکړي ؛ نو الله ربّ العزت به یې هم دغسې قدر وکړي چې کوم دي په کیسه کې ولوستله ! او باید چې هر مسلمان او مسلمانه له دې څخه په بشپړه عِبرت واخلي ؛ ځکه دا به د ده لپاره په دُنیا او آخِرت کې خیر وي .

## د ماخوستن تر لمانځه وروسته مجلس کول

شپږم دا چې نن سبا زیاتره مجلسونه د ماخوستن تر لمانځه وروسته کیږي او په عربي ژبه کې ورته (سَمَر) وايي ؛ نو په یو حدیث شریف کې د دې ممانعت راغلی دی پرته له دریو مجلسونو څخه چې د هغوی ممانعت نه دئ راغلی : ۱. یو له خپلې مېرمنې سره د ماخوستن تر لمانځه وروسته مجلس کول روا دي . ۲. بل له مېلمه سره د ماخوستن تر لمانځه وروسته مجلس روا دی چې د پرهېزګارۍ خبرې کوي او انسان عبادت ته چمتو کوي . ۳. او بل هغه مجلس کول د شپې د ماخوستن تر لمانځه وروسته روا دی بیا تر سهاره چې د علم او دِین خبرې پکې کیږي او یا دیني لیکنه پکې کیږي او نور له دې څخه پرته

---

[۴۰] دا کیسه ابن عساکر په خپل لوی کتاب تاریخ مدینة دمشق ۱۰ توک، ۱۸۱ مخ کې، ابن الجوزي په صفة الصفوة ۲ توک، ۳۲۵ مخ کې، ابن المُلقن په طبقات الأولیاء ۱ توک، ۱۷ مخ کې او ابن خلکان په وفیات الأعیان ۱ توک، ۲۷۵ مخ کې نقل کړې ده او دا ډول په دُمُوع الصّالحین ۱۳ مخ کې ذِکر ده او عبارت د کیسې په لاندې ډول دی :

وسبب توبته [أي: توبة بشر بن الحارث الحافي رحمة الله عليه] أنّه أصاب في الطّريق رقعة فيها إسم الله، وقد وطئتها الأقدام ؛ فأخذها واشترى بدرهم كان معه غالية، فطيبها وجعلها في شقّ حائط ؛ فرأى في المنام كأنّ قائلا يقول : "يا بِشر ! طيّبت اسمي ؛ لأطيبنّ اسمك في الدّنيا والآخِرة ! " .

ورُوِي أنّه ذهب به إلى النّهر فغسله، وكان لا يملك إلا دِرْهمًا ؛ فاشترى به مِسْكًا وماء ورد، وجعل يتتبع اسم الله ويطيبه، ورجع إلى منزله، فنام ؛ فأتاه آت، وقال : "يا بِشر ! كما طيّبت اسمي ؛ لأطيبنّ ذِكْرك ! وكما طهرته ؛ لأطهرنّ قلبك ! " ؛ إنتهى .

مجلسونه ټوله مکروه، یا ناروا دي[41].

[41] لکه څنګه چې أبي الليث سمرقندي په بُستان العارفين ۴۱۳ مخ کې د دې مختصر بيان کړی دی او سيوطي هم پر دې څه بيان په خپل کتاب شرح سُنن ابن ماجه کې کړی دی او عبارت يې په لاندي ډول دی:

قوله (لا سمر بعدها) هذا على سبيل الغالب، وأمّا أحيانًا؛ فكان يسمر لبعض حوائج المسلمين مع أبي بكر وعُمر كما في رِواية الترمذي. وعِلّة المنع أنّ السّمر أوائل اللّيل يمنع الرّجُل مِن صلاة التّهجد؛ لأن الإنسان رُبما يتكلم مليا، فيمنع عن صلاة اللّيل بغلبة النّوم، وأيضًا إنّ هذا الوقت تخلو عن الشّواغل؛ فكان الإهتمام بذِكر الله أولى؛ إنتهى.

شرح سنن ابن ماجه د سيوطي، باب: الإستبراء بعد البول... ۱ توک، ۱۵۱ مخ.

او دا ډول په مُحيط البُرهاني کې هم ښه بيان پر سوی دی او عبارت يې په لاندي ډول دی:

ومما يتّصل بهذا الفصل: ويكره الكلام بعد إنشقاق الفجر إلى أن يصلي الفجر إلا بخير؛ لأثر عمر وإبن مسعود، وعن إبراهيم النّخعي أنّهم كانوا يكرهون الكلام بعد طلوع الفجر إلا بخير، وقوله: هم كناية عن الصّحابة، فإذا صلى الفجر؛ فلا بأس بأنْ يتكلم في حاجته، ويمشي في حاجته المعتادة ومعاشه، والمراد مِن هذا الكلام: الكلام المباح. أمّا الفاحش؛ فحرام في جميع الأوقات. وقال بعض النّاس: يكره الكلام بعد صلاة الفجر أيضًا إلى طلُوع الشّمس. وقال بعضهم: إلى أن ترتفع الشّمس.

وعن الحسن بن علي: أنه كان لا يتكلم إلى أن ترتفع الشّمس. وذكر الفقيه أبو الليث رحمه الله في كِتاب (البستان) أنّ السمر بعد العشاء مكروهٌ عند البعض، قال: وهو الكلام لأجل المؤانسة. وفي شرح كِتاب الصّلاة لبعض المشايخ ذكر الكراهة، ولم ينسبه إلى البعض. ورُوِي عن رسول الله عليه السلام أنهُ قال: (لا سَمْرَ بَعْدَ الْعِشَاءِ)، والله أعلم؛ إنتهى.

مُحيط البُرهاني في الفقه النّعماني ۱ توک، ۳۸۹ مخ.

او دا ډول په ردّ المُحتار کې هم ښه بيان پر سوی دی او عبارت يې تول په داسي ډول دی:

(تنبيه) أشرنا إلى أنّ عِلة إستحباب التّأخير في العشاء، هي قطع السمر المنهي عنه، وهو الكلام بعدها. قال في البرهان: ويكره النّوم قبلها، والحديث بعدها؛ لنهي النّبيّ عنهما إلا حديثا في خيرٍ لقوله (لا سَمْرَ بَعْدَ الصّلاةِ)، يعني: العشاء الأخيرة (إلا لأحَدِ رَجُلَيْنِ مُصلٍ، أوْ مُسَافِرٍ)، وفي رواية (أو عرسٍ) آه!.

وقال الطّحاوي: إنّما كره النّوم قبلها لِمَن خشي عليه فوت وقتها، أو فوت الجماعة فيها. أمّا مَن وَكَل نفسه إلى مَنْ يُوقظه؛ فيُباح له النّوم آه!.

وقال الزيلعي: وإنّما كره الحديث بعدها؛ لأنهُ ربّما يُؤدي إلى اللّغو، أو إلى تفويت الصّبح، أو قيام اللّيل لِمَن له عادة به، وإذا كان لحاجة مُهمّة؛ فلا بأس، وكذا قِراءة القرآن والذّكر وحِكايات الصالحين والفقه،

ځکه په خپله دا مُشاهده وکړه ! چي کوم مجلسونه د ماخوستن تر لمنځو وروسته کيږي ؛ نو هغه به له فلم او ټې وي کتلو، يا فيسبوک (facebook) او بې ځايه انټرنيټ کارولو، يا بې ځايه راډيو اورېدلو، يا بې ځايه باندارو، يا غيبتو، يا خندا قهقه او مسخرو، يا ګپو او ملنډو څخه خالي نه وي ؛ الله تبارک وتعالی دي مو په خپل فضل سره اصلاح وکړي ؛ آمين! يا إلهُ العالمين ! .

## د ځوانانو لپاره يو جامع او ګټور نصيحت

اووم دا نن سبا چي يو ځوان، يا يو عام انسان په کوڅه، يا يو سړک، يا يوه لاره کي روان وي ؛ خامخا يې تر سترګو هلک، يا نجلۍ راځي ؛ نو دغه ځوان او انسان که دليدلو پر وخت صبر وکړي او په شهوت سره نه ورته وګوري او خپلي سترګي ځني واړوي ؛ دا به ده لره ډېر غوره وي ؛ ځکه په فتنه به نه اخته کيږي چي د موټ وهل دي، يا د زنا او يا د لواطت کول دي، يا د ښځو لپاره د مساحقت کول دي او ډېر ثواب به يې په آخرت کي هم وي او له حضرت حُذيفة ابن اليمان رضي الله عنه څخه روايت دی چي : رسول اکرم صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (وښځي [يا يو لغړزني هلک] ته [په شهوت او خوند سره] کتل د ابليس [العين] په زهرو لړلی غشی دی او چي د الله [تعالی] له بيري څخه [وبيګانه ښځي، يا لغړزني ته کتل]

---

والحديث مع الضّيف آه ! والمعنى فيه أنْ يكُون إختتَام الصّحيفة بالعبَادة كما جعل إبتداؤها بها ؛ ليمحى ما بينهما من الزّلات، ولذكْره الكلام قبل صلاة الفجر – وتمامه في الإمداد .

ويُؤخذ من كلام الزّيلعي : أنهّ لو كان لحاجة ؛ لا يكره، وإن خشي فوات الصّبح ؛ لأنهُ ليس في النّوْم تفريط، وإنّما التّفريط على مَن أخرج الصّلاة عن وقتها كما في حديث مُسْلم . نعم ! لو غلب على ظنّه تفويت الصّبْح لا يحلّ ؛ لأنه يكون تفريطًا ؛ تأمّل ! .

إنتهى ما في ردّ المُحتار، مطلب في طلوع من مغربها ۱ ټوک، ۳۶۸ مخ .

او تر دې ځايه د سمر، يعني : د شپې تر لمانځه وروسته د مجلس بيان توله پای ته ورسېد او دا د هغو کتابو عبارتونه ول چي زما په نيز په تولو کتابو کي ښه قوي او مُفصل بحثونه دي ؛ والحمدُ لله تبارک وتعالى كمايليقُ لجلال وجهه، وعظيم سُلطانه .

پرېږدي ؛ نو الله [تعالی] به په زړه کي دايمان خوند وروڅکي)(۴۲) .
سُبحانَ الله ! دا څومره لوی ثواب دی ! او په ځينو آثارو کي نقل سوي دي چي :
يو جنتي به په جنت کي روان وي او ناڅاپه به يې په لاسو کي يو انار ولوېږي،
کله چي يې د خوړلو لپاره مات کړي ؛ نو يوه دانه به پر مځکه ځني شوه سي او يو
دَم به يوه ښايسته حوره ځني جوړه سي !! جنتي چي کله دا ننداره وکړي ؛ نو
ډېر به په اريانتيا کي سي او حوري ته به ووايي چي : ته کومه حوره يې ؟! حوره
به په ځواب کي ورته ووايي : زه هغه حوره يم ! چي کله تا په دنيا کي بېگانه
ښځي [يا لغړزني هلک] ته [په شهوت سره] وكتل ؛ نو تا د خدای ﷻ لپاره
سترگي ځني واړولې او زه هم الله [تعالی] له هغې ورځي څخه په دې انار کي
پټه کړم ! چي همدا اوس يې له اناره څخه درته راويستمه !(۴۳) .
اې گرانه لوستونکې ! چي په يو وار سترگو اړولو سره چي د الله تعالی د رضا
لپاره يې ځني واړوي ؛ نو انسان ته دومره ثواب رسيږي ؛ بايد انسان هم داغسي
عمل وکړي چي کوم دي يې اوس ثواب ولوست او دا هم لېري نه ده چي کومه

---

(۴۲) حديث ابن الجوزي په ذمّ الهوی ۱۱۸ مخ کي او قُضاعي په مسند الشّهاب ۱ توک، ۱۹۶ مخ کي روايت کړی دی، حديث شمېره (۲۹۲) او عبارت يې په داسي ډول دی :
عن حُذيفة، قال : قال رسول الله ﷺ : (النّظرة سهمٌ مِن سِهام إبليس، مَنْ تَرَكَهَا خَوْفًا مِن الله ؛ آتَاهُ اللهُ إيمانًا يجِد حَلاوَتَهُ فِي قَلْبِه) .
او بل يې تر دې وروسته په دې معنا هم روايت کړی دی، حديث شمېره (۲۹۳) او هغه په لاندي ډول دی :
عن بن عُمَر، قال : قال رسول الله ﷺ : (النّظرة سَهْمٌ مَسْمُومٌ مِن سِهَام الشّيْطان، فَمَن تَرَكها مَخَافتي ؛ أعْقبته عَلَيْها إيمانًا يجِد طَعْمَهُ فِي قَلْبِه) ؛ إنتهی .
(۴۳) دغه اثر ما په خپله اورېدلی دی او قُرطبي په خپل تفسير ۱۷ توک، ۱۳۳ مخ کي مُختصر نقل کړی دی او عبارت يې تُوله په داسي ډول دی :
وقال خالد بن الوليد : سمِعتُ النّبيّ ﷺ يقول : (إنّ الرّجُل مِن أهْلِ الجَنّة لَيُمْسِک التّفاحة مِن تُفاحِ الْجَنّة، فَتَنْفلِق فِي يَدِه، فتخرجُ مِنْها حَوْراء لَوْ نَظرت للشّمس ؛ لأخجلَت الشّمس مِن حُسْنها مِنْ غَيْر أنْ يَنْقص مِنَ التّفاحَة)، فقال له رَجُلٌ : يا أبا سُلَيْمان إنّ هذا لعجب، ولا ينقص مِن التّفاحة ؟! قال : (نعم ! كالسّراج الّذِي يُوقَد مِنه سِراج آخَر وسرج ولا ينقصُ، واللهُ عَلَى ما يشاء قَدِيرٌ) ؛ إنتهی .

ښځه له بل ځوان او نامحرم کس څخه د الله تعالی د رضا لپاره سترګي واړوي ؛ نو هغې ته به هم د دې په خپل اُخروي جنت کي په یو انار کي داسي دانه پټه کړي چي کله یې په آخرت کي یوه ورځ هغه انار مات کړي ؛ نو له هغه څخه به د الله ربّ العالمین په امر باندي یو داسي غلمان راووځي چي د دې خدمت به کوي .

**یادونه :** او پوه سه ! په دې چي دا خبره پر هغه تېر اثر قیاسیږي آه ! .

مطلب دا چي نن سبا که ځوانان له فتنو څخه خپل ځانونه ساتل غواړي، له مختلفو فتنو څخه بچاوېدل غواړي او خپل ربّ تبارک وتعالی راضي کول غواړي ؛ نو هلک، یا نجلی ته دي په شهوت سره هیڅ کله نه ګوري ؛ ځکه که انسان دا خبره عملي کړي ؛ نو د موټ وهني، زنا او لواطت کولو له خطرې څخه به ژغورلی وي او د آخري زمانې له ټولو فتنو څخه به خلاص وي ؛ ځکه ټولي خواری او د تناسلي ګناوو فتنې په کتلو پوري اړوند دي، لکه څرنګه چي مخکي یې بیان ذکر سو او د یو اوږد حدیث په پای کي له حضرت ابن بُجیر رضي الله عنه څخه روایت دی چي : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (وَرُبَّ شَهْوَةَ سَاعَةٍ أَوْرَثَتْ حُزْنًا طَوِيْلًا)[1]، یعني : ډېر ځله به یو کړی اندازه خوند وي چي اوږد غم

---

[1] حدیث بیهقي په شُعب الإیمان ۳ ټوک، ۵۷ مخ کي روایت کړی دی، حدیث شمېره (۱۳۸۸) او ابن الجوزي په ذمّ الهوی ۴۹ مخ کي روایت کړی دې او دا ډول سیوطي په الجامع الصّغیر ۱ ټوک، ۲۵۱ مخ کي بیا نقل کړی دی او د حدیث ټول عبارت په لاندي ډول دی :

(ألا ! يَا رُبَّ نَفْسٍ طَاعِمَةٌ نَاعِمَةٌ فِي الدّنيَا ؛ جَائِعَةٌ عَارِيَةٌ يَوْمَ الْقِيَامَة، ألا ! يَا رُبَّ نَفْسٍ جَائِعَةٌ عَارِيَةٌ فِي الدّنيَا ؛ طَاعِمَةٌ نَاعِمَةٌ يَوْمَ الْقِيَامَة، ألا ! يَا رُبَّ مُكْرِمٍ لِنَفْسِه، وَهُوَ لَهَا مُهِينٌ، ألا ! يَا رُبَّ مُهِينٍ لِنَفْسِه، وَهُوَ لَهَا مُكْرِمٌ، ألا ! يَا رُبَّ مُتَخَوِّضٍ ومُتَنَعِّمٍ فِيمَا أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِه مَا لَهُ عِنْدَ اللهِ مِنْ خَلَاقٍ، ألا ! وإِنَّ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ حزنَةٌ بِرَبْوَةٍ، ألا ! وَإِنَّ عَمَلَ النَّارِ سَهْلَةٌ بِسَهْوَةٍ، ألا ! يَا رُبَّ شَهْوَةِ سَاعَةٍ أَوْرَثَتْ حُزْنًا طَوِيلًا) ؛ إنتهی .

او په دې معنا إبن عطاء الله اسکندري رحمة الله علیه هم ویلي دي :

(رُبَّ معصية أورثت ذُلا وإفتقارا ؛ خيرٌ من طاعة أورثت عِزا وإستكبارا). یعني : ډېر ځله به یوه ګناه وي چي ذلالت او نشتوالی به پیدا کړي ؛ نو دا تر هغه عبادت غوره ده چي لویي او کبر پیدا کوي او په دې خبره کي ډېر غټ راز پټ دی آه ! إنتهی .

غم به پیدا کړي .

او په حقیقت کي چي وګورو ! خوندونه هم یو ګړی وي، بیا ورپسې غم وي، د بیلګي په توګه یو انسان چي کله زنا، یا لواطت وکړي ؛ نو ورپسې یې زړه غمجن سي او مختلفو ناروغیو ته چمتو سي ؛ ځکه دا د نبي کریم ﷺ د هغي خبري مصداق دی چي وایي : "ډېر ځله به یو ګړی قدري خوند وي ؛ نو اوږد غم به پیدا کړي" ، له اوږد غم څخه مراد مختلف مصیبتونه او سزاوي دي، کومي چي د تناسلي ګناوو په تاوانو کي یې یادونه وسوه او زموږ د ګران پیغمبر حضرت محمّد ﷺ هري خبري مصداق پیدا کړی دی .

لوی ربّ ﷻ دي موږ ته د خپل قرآن عظیم الشّان ؛ د نبي د مبارکو سنتو او د علماؤ د ویناوو قدر راپه برخه کړي، بېشکه یواځي هم دی پر دې قادر دی او د قبلولو خاوند یې دی ؛ آمین، یا رَبّ العالَمین ! .

تر دې ځایه د دې کتاب (مل پانه) پای ته ورسېدله، کومه چي پر ګټورو خبرو او غورو ویناوو مشتمله وه، وروسته به زما وصیت نامه پیل سي، کومه چي ما نن سبا د حضرت مُحمّد ﷺ وهر اُمتي ته کړې ده او الله ربّ العِزت دي یې زما په ژوند او تر شهادته وروسته معموله وګرځوي او په آخرت کي دي یې ذخیره راته وګرځوي ؛آمین .

## څلوېښت ملغلري په ډول د وصيت نامې

لاندې سپېڅلې وصيت نامه له اُصُولو اربعه ؤ، يعني : قرآن، حديث، اجماع د امت او قياس څخه غوره سوې ده ؛ نو که انسان د دُنيا او آخرت کاميابي غواړي او داوسني دَور له ټولو غمونو او فتنو څخه خپل ځان ژغورل غواړي ؛ هغه دې په راروانو څلوېښتو خلاصييزو او ملغلريزو وينأؤ او وصيتو عمل وکړي :

۱.لومړی پر خپل حقيقي محبوب پالونکي ﷻ چې د ټولو جهانو ربّ دی ټل تر ټله ايمان لرونکي سه ! .

۲.دويم دآخرت پر ورځ ايمان لرونکی سه ! .

۳.درېيم پر فريشتو ايمان لرونکی سه ! .

۴.څلورم پر ټولو آسماني صحيفو او کتابو ايمان لرونکی سه ! .

۵.پينځم پر ټولو پېغمبرانو ايمان لرونکی سه ! .

۶.شپږم تر مرگ وروسته پر دوباره ژوند ايمان لرونکی سه ! چې همېشه بدن او روح تلپاتی ژوند دی، يعني : د انسان بدن او روح به دواړه پکې ژوندي وي .

۷.اووم ايمان او عقيده به دې دا وي چې د خير او شر تقدير (يعني : اندازه) ټوله د لوی څښتن ﷻ له لوري ده .

۸.اتم ټل تر ټله به دې دا عقيده وي چې له الله تعالی څخه پرته بل خدای او پر حق معبود نسته ! او حضرت مُحمّد ﷺ د الله تعالی پېغمبر او استازی دی ! .

۹.نهم په ښه پوره اوداسه او په خپل وخت کې په جماعت سره لمونځ ادا کوه ! .

۱۰.لسم له خپل مال څخه په اخلاص زکات باسه ! .

۱۱.يوولسم د رمضان المُبارک د مياشتي روژې هر کال نيسه ! .

۱۲.دوولسم د بيت الله شريفي حج وکړه ! که يې د ور تلو اندازه مال او دولت لرې

. !

۱۳ . دیارلسم په شپه او ورځ کي د دولسو رکعاتو (سنتو) پابندي کوه ! چي دوه رکعاته د سهار تر فرضو مخکي ادا کيږي ؛ څلور رکعاته د ماپښين تر فرضو مخکي ادا کيږي ؛ دوه يې وروسته ادا کيږي ؛ دوه رکعاته د ماښام تر فرضو وروسته ادا کيږي او دوه رکعاته بيا د ماخوستن تر فرضو وروسته ادا کيږي ؛ نو دا ټوله سنت مؤکده (يعني : ټينګ سنت) دي او د دغو ټينګو سنتو لمنځونو چي زموږ ګران پيغمبر حضرت مُحمّد ﷺ به هر وخت کول — ښه پوره اهتمام کوه ! .

۱۴ . څوارلسم د وترو لمونځ مه پريږده ! بلکي هر ماخوستن يې کوه ! .

۱۵ . پينځلسم له خپل ربّ ﷻ سره په هيڅ شي کي شريک مه نيسه ! .

۱۶ . شپاړسم د مور او پلار هيڅ کله نافرماني مه کوه ! .

۱۷ . اوولسم د خپل خدای ﷻ په لاره کي هڅه کوه ! .

۱۸ . اتلسم خلګ ښو نيکيو او ښو کارونو ته رابوله ! او له بدو څخه يې منع کوه . !

۱۹ . نولسم پر خپل ربّ ﷻ يقين (يعني : د زړه باور) مضبوط کړه ! .

۲۰ . شلم تل تر تله ريشتيا وايه ! او درواغ هيڅ کله مه وايه ! .

۲۱ . يوويشتم کِبر هيڅ کله مه کوه ! ځکه کبر او لويي يوازي له حقيقي خدای او څښتن ﷻ سره ښايي چي حال او احوال، ازل او ابد، عزت او ذلت، باچهي او ګدايي، مځکي او آسمانونه، وچي او دريابونه، مکان او زمان، عرش او کُرسي، خلاء او فضاء او داسي ټوله جهانونه يې پيدا کړي دي او يوازي همدی د لويي (کبرياء) او جلال خاوند او څښتن دی ؛ لا إله إلا هُو سُبحانه وتعالیٰ عمّا يُشرکُونَ .

۲۲ . دوويشتم غيبت مه کوه ! او بهتان (تُور) پر چا مه تړه ! .

۲۳ . درويشتم په خپل پوره واک او وس سره د حلالي روزي او ښه کسب هڅه کوه ! او له حرامو څخه تل خپل ځان، مال او اولاد ساته ! .

۲۴ . څلورويشتم په امانت کي هيڅ کله خيانت مه کوه ! او په ښه نيک کار کي

تل له مسلمانه سره وعده پوره کوه ! .

۲۵ . پینځه ویشتم له بدنظرئ څخه په بشپړه ځان ساته ! ځکه دا د ټولو تناسلي ګناوو سرچینه ده .

۲۶ . شپوږویشتم له تناسلي ګناوو څخه په بشپړ ځان ساته ! لکه : مونټ وهنه، زنا، لواطت او مساحقت .

۲۷ . اوویشتم او داسي له ټولو لوطي اعمالو څخه ځان ساته ! کوم چي ټوله په دې کتاب کي په ترتیب سره مخکي ذکر سول .

۲۸ . اته ویشم د نیکو کارو خلګو په مجلسو کي کښېنه ! او له بدو مجلسو څخه پرهېز کوه ! .

۲۹ . نهه ویشتم د الله ﷻ د هر نعمت شکر ادا کوه ! .

۳۰ . دېرشم پر هر مصیبت او غم تر خپله وسه صبر کوه ! او که یو داسي مصیبت درورسیږي چي صبر وربانديِ کول ګران وي : نو دستي الله تعالی ته وژاړه ! بیا که ژړا هم درته ګرانه وي ؛ نو یوولس ځله لاندي کلیمې وایه ! ځکه په دې سره به دي غم او مصیبت پورته سي او زړه به دي خوشاله سي ! :

أ. اللّٰهُ رَبِّيْ لَاشَرِيْكَ لَهُ .

ب. إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ .

ج. لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ .

۳۱ . یو دېرشم په هر حال کي د خپل ربّ ﷻ ذکر کوه ! .

۳۲ . دو دېرشم پر خپلو خطاوو، کوتاهیانو او ګناوو له الله تعالی څخه بخښنه او معافي غواړه ! او د راتلونکي وخت لپاره تل توبه ځني وباسه ! .

۳۳ . درو دېرشم پر خپلو قریبانو او دوستانو صله رحمي او پوښتنه کوه ! .

۳۴ . څلور دېرشم پر یتیمانو او بې وزلو تل رحم او شفقت کوه ! .

۳۵ . پینځه دېرشم خلګو ته ښه وررسوه ! او بد هیڅ کله مه وررسوه ! .

۳۶ . شپوږ دېرشم له نشییزو توکو څخه تل خپل ځان ساته ! .

۳۷. اووه دېرشم له عبث کوونکو خلکو څخه تل خپل ځان ساته ! او د خپل وخت قدر کوه چې ضایع یې نه کړې ! .
۳۸. اته دېرشم هر وخت د خپل حقیقي ربّ ﷻ د رحمت امېد کوه ! .
۳۹. نهه دېرشم تل د خپل حقیقي ربّ ﷻ له عذابه او ناڅاپه نیولو څخه بېرېږه !، په زړه کې یې بېره ساته !
۴۰. آخري څلوېښتم او څه چې کوې د الله تعالی د رضا لپاره یې کوه ! ځکه د دنیا او آخرت ټولې ښېګڼې او کامیابۍ د الله تعالی تر رضا اړوند دي، لکه څرنګه چې ټوله تاوانونه او ناخوالي د الله تعالی تر ناراضتیا اړوند دي ؛ والله وليّ التوفیق .

وصلّى الله على سيّدنا محمّد، وعلى آله وأصحابه أجمعين . إلهي ! أختِمْ لي بحُسن الخاتمة والبشارة بالإيمان واليقين .

﴿سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝١٨٠ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ۝١٨١ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝١٨٢﴾[1] .

## لاس لپه کوم !

**الهي !** په دغه کتاب کې که زما څخه هر ډول غلطي سوې وي ؛ نو ته یې را سمه کړې او زما خطا راوبخښې .
**الهي !** د دغه کتاب لوستونکي او خپروونکي ته بې شمېره نعمتونه ورکړې او د هر ځوان او لوستونکي لپاره یې د ګټې او نېکمرغۍ لامل وګرځوې، بېشکه ته ؛ خو پر دې قادر یې او د قبلېدو اهل یې ! .
**الهي !** ستا د لارې د خدمت کوونکو نصرت وکړې .
**الهي !** زه ستا له فقیرو او ګناهګارو بندګانو څخه یو بنده یم ! که ما له خپله رحمته وترټې ؛ نو پر ما به څوک رحم وکړئ ؟! .
**الهي !** ته مې سوالونه قبول کړې .

---

[1] د الصّافات سورت، ۱۸۰ - ۱۸۲ آیاتونه .

**الهي** ! ته د ټولو ماتو او زهيرو زړونو دعاوي قبولي کړې .
**الهي** ! ته موږ ټولو مسلمانانو ته ستا د دين قدر راپه برخه کړې .
**الهي** ! موږ ناپوه يو ؛ نو ته مو پوه کړې .
**الهي** ! موږ ته ستا له عذابه په زړونو کي بېره راپه برخه کړې .
**الهي** ! موږ ستا له رحمته هيڅ کله ما نا امېده کوې .
**الهي** ! پر بې وزلو ځوانانو او پېغلو ورحمېږې .
**الهي** ! د دوی په زړونو کي ګناهونه بد وايسوې چي هغه ستا نافرمانياني دي .
**الهي** ! د دوی په زړونو کي عبادتونه ښه وايسوې چي هغه ستا فرمانبرداړياني دي .
**الهي** ! پر کومو عملونو چي ته راضي کېږې ؛ نو پر هغو توفيق راکړې .
**الهي** ! پر کومو چي ناراضه کېږې ؛ نو پر هغو هيڅ کله توفيق مه راکوې .
**الهي** ! موږ په ايمان باندي ښايسته کړې او زموږ په زړونو کي کفر او خوړونه يې بد وايسوې .
**الهي** ! کوم عبادتونه چي موږ کړي دي ؛ هغه راڅخه قبول کړې .
**الهي** ! موږ د قبر له خوارېو څخه وژغورې .
**الهي** ! له قبرونو څخه مو په خوشالۍ راپورته کړې .
**الهي** ! موږ ستا په حضور کي مه شرموې .
**الهي** ! موږ ته عملنامې په ښي لاسونو کي راکړې .
**الهي** ! موږ پر پولي صِراط په آساني سره تېر کړې .
**الهي** ! ستا رضا مو په نصيب کړې ؛ آمين ثم آمين ثم آمين، يا إلهُ العالمين ! .

سُبْحانك اللّهمّ وبحمدك أشهد أنْ لا إله إلّا أنت أستغفركَ وأتوبُ إليك

# حوالې او مراجع


١ـ قرآن شريف .
٢ ـ بُخاري شريف، چاپ : دار السّلام/ سعودي عربستان .
٣ ـ مُسلم شريف مع شرحه المنهاج، چاپ : دار المعرفة/ بيروت لُبنان .
۴ ـ سُنن ترمذي مع شرحه تُحفة الأحوذي، چاپ : دار إحياء التراث العربي/ بيروت.
۵ ـ سُنن أبي داود مع شرحه منهاج السنن للخطابي، چاپ : دار الكتب العلمية/ بيروت .
٦ ـ سُنن ابن ماجه، چاپ : شركة المحدودة/ رياض .
٧ ـ سُنن نسائي، (كر ) .
يادونه : "كر" دا لفظ عربي دى او دا مخفف له كمپيوټر څخه دى، يعني : د دې كِتاب اخيستنه د كمپيوټر له مكتبې څخه سوې ده ! .
٨ ـ صحيح ابن حبان، (كر) .
٩ ـ صحيح ابن خُزيمة، (كر) .
١٠ ـ المسند لإبن حنبل، (كر) .
١١ ـ المُستدرک على الصّحيحين، (كر) .
١٢ ـ مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح مع تحقيق العلامة ناصر الدين الألباني، چاپ : المكتب الإسلامي/ بيروت .
١٣ ـ مرقاة شرح المشكاة لمُلا علي قاري، چاپ : مكتبه إمداديه/ مُلتان .
١۴ ـ المُعجم الكبير للطبراني، (كر) .
١۵ ـ المُعجم الأوسط للطبراني، (كر) .
١٦ ـ المُعجم الصّغير للطبراني، (كر) .
١٧ ـ مجمعُ الزّوائد، ومنبعُ الفوائد للهيثمي، (كر) .
١٨ ـ مسند الفردوس للديلمي، (كر) .
١٩ ـ حلية الأولياء للحافظ أبي نُعيم، (كر) .
٢٠ ـ كنزُ العُمّال للمُتّقي الهندي، (كر) .
٢١ـ الجامعُ الصّغير للسّيوطي، چاپ : دار الكُتب العلمية/ بيروت .

۲۲ ـ شُعب الإيمان للبيهقي، چاپ : دار الرّشد رياض، (كر) .
۲۳ ـ السّنن الكُبرى للبيهقي. (كر) .
۲۴ ـ الأدب المفُرد للبُخاري، چاپ : مكتبة نزار مُصطفى الباز / مكّة المُكرمة .
۲۵ ـ اللآلئ المصنوعة للسيوطي، (كر) .
۲٦ ـ مسند الشّهاب للقضاعي، (كر) .
۲۷ ـ اللّؤلؤيات للمكحول النّسفي په حواله د قرطبي .
۲۸ ـ تفسير القرطبي. چاپ : دار الكتب العلمية / بيروت .
۲۹ ـ تفسير ابن كثير، چاپ : دار الفكر / بيروت .
۳۰ ـ تفسير ابن جرير، (كر) .
۳۱ ـ تفسير ابن المُنذر، (كر) .
۳۲ ـ تفسير ابن أبي حاتم، (كر) .
۳۳ ـ تفسير دُرّ المنثور للسيوطي. (كر) .
۳۴ ـ تفسير المنار للعلامة رشيد رضا، چاپ : بيروت .
۳۵ ـ تفسير المُنير لوهبة الزّحيلي، چاپ : مكتبه رشيديه / كوټه .
۳٦ ـ تفسير الجلالين للسيوطي والمحلي، چاپ : مكتبه رشيديه / كوټه .
۳۷ ـ تفسير المُعين للواعظين والمتّعظين للهُويدي، چاپ : ايران .
۳۸ ـ تفسير بحر العُلُوم لأبي الليث السّمرقندي، چاپ : دار الكتب العلمية / بيروت .
۳۹ ـ تفسير خازن لعلاء الدّين خازن، چاپ : دار الكتب الشرعية / پېښور .
۴۰ ـ تفسير رُوح البيان للمُفسر حقي آفندي، چاپ : مكتبة دار القُدس / كوټه، (او كر) .
۴۱ ـ تفسير ثعلبي - مشهور په الكشف والبيان في تفسير القرآن، (كر) .
۴۲ ـ تفسير السّمعاني، (كر) .
۴۳ ـ تفسير رُوح المعاني للآلوسي. (كر) .
۴۴ ـ تفسير النّيسابوري، (كر) .
۴۵ ـ تفسير السّراج المُنير. (كر) .
۴٦ ـ تفسير ابن عادل، (كر) .
۴۷ ـ او تفسير كابلي. چاپ : سعودي عربستان .

۴۸ـ المعجم المفُهرس لألفاظ القرآن الكريم. چاپ : دار الحديث/ قاهره .
۴۹ـ الفهرس الموضوعي لآيات القرآن الكريم. چاپ : إدارة القرآن/ كراچي .
۵۰ـ موسوعة التّخريج، (كر) .
۵۱ـ موسوعة أطراف الحديث، (كر) .
۵۲ـ سفر التّكوين په حواله د تفسير المنار د رشيد رضا رحمه الله .
۵۳ـ تاريخ بُغداد للخطيب البُغدادي، (كر) .
۵۴ـ مُحرمات إستهان بها النّاس للشّيخ المُنجد. (كر) .
۵۵ـ المنهيات الشّرعية دا هم د شيخ المُنجد. (كر) .
۵٦ـ دُرُوس للشيخ سعيد بن مسفر، (كر) .
۵۷ـ فتاوى الشّبكة الإسلامية، (كر) .
۵۸ـ مجلة المنار، (كر) .
۵۹ـ جامع الأحاديث للسيوطي، (كر) .
٦۰ـ كشفُ الخفاء للعجلُوني، (كر) .
٦۱ـ جُزء ابن أبي عرفة، (كر) .
٦۲ـ موسوعة الشّهاب للمؤلف فيضون، [څلور توکه او مخطوط (چتل نويسه) دی] .
٦۳ـ الصّراحة بذمّ اللواطة دا هم د ليكوال فيضون، [نری توک، چتل نويس] .
٦۴ـ قوت القُلُوب لأبي طالب المكي، (كر) .
٦۵ـ حِكمة التّشريع وفلسفته للجرجاوي، چاپ : وحيدي كُتب خانه/ پېښور .
٦٦ـ بدائع الزّهور في وقائع الدّهور لإبن أبي إياس، چاپ : پېښور .
٦۷ـ نهاية الأرب في فُنُون الأدب للنويري، (كر) .
٦۸ـ إحياء علوم الدين للغزالي، چاپ : دار الكتب العلمية/ بيروت .
٦۹ـ مُكاشفة القلوب دا هم د غزالي، چاپ : دار إحياء التراث العربي/ بيروت .
۷۰ـ قصص الأنبياء لإبن كثير، چاپ : مكتبه عثمانيه/ كوټه .
۷۱ـ قصص الأ نبياء لعبد الوهاب النّجار، (نټ) .
يادونه : "نټ" دا لفظ مُخفف له انټرنېټ څخه دی، يعني : د دې كتاب حوالې د انټرنېټ له يوې وېب پاڼې څخه راخيستل سوې دي .
۷۲ـ ذمّ الهوى لإبن الجوزي، چاپ : پېښور (او كر) .

۷۳ـ عُيُون الحكايات دا هم د ابن الجوزي، چاپ : مكتبه علوم اسلاميه/ چمن .
۷۴ـ تذكرة الواعظين للقريشي الحنفي، چاپ : پيښور .
۷۵ـ موسوعة الآخرة للماهر أحمد الصوفي، (نټ) .
۷۶ـ تلبيس إبليس لإبن الجوزي، چاپ : پيښور (او كر) .
۷۷ـ التذكرة للقرطبي، چاپ : دار الحديث/ قاهره .
۷۸ـ جامع العُلُوم والحِكم [چي تقريبا د پنځوسو حديثونو په شرح کي جوړ سوی دی] للعلامة ابن رجب، چاپ : مكتبة العُلُوم والحكم/ المدينة المنورة (او كر) .
۷۹ـ المجالس الإرشادية للآفندي، چاپ : مكتبه حقانيه/ كوټه .
۸۰ـ الوسائل في معرفة الأوائل للسيوطي،چاپ : مكتبة العجائب لزاخر العلوم كوټه .
۸۱ـ انسائيكلوپيډيا برټانيكا،(نټ) .
۸۲ـ موسوعة البحوث والمقالات العلمية،(كر) .
۸۳ـ تُجّار الموت دلاري وايټ (Lari wahite) په حواله دموسوعة البحوث .
۸۴ـ المجلة البريطانية BMG دا هم په حواله دموسوعة البحوث .
۸۵ـ مبحث التّدخين داهم په حواله دموسوعة البحوث .
۸۶ـ التّجارة الخاسرة دمحمّد علي البار دا هم په حواله دموسوعة البحوث .
۸۷ـ ذم الملاهي لإبن أبي الدّنيا،(كر) .
۸۸ـ جهان ديده للمُفتي تقي عُثماني،چاپ : دار المعارف كراچي .
۸۹ـ آكام المرجان في أحكام الجان للعلامة الشّبلي،چاپ : سعيديه كتب خانه پيښور.
۹۰ـ تنبيه الغافلين لأبي الليث السمرقندي،چاپ : دا هم سعيديه كتب خانه پيښور.
۹۱ـ تنبيه الغافلين عن أعمال الجاهلين لإبن نُحاس،چاپ : دار الكتب العلمية بيروت.
۹۲ـ الزواجر عن إقتراف الكبائر للحافظ الذهبي،چاپ : پيښور .
۹۳ـ كتاب العُقُوبات لابن أبي الدّنيا، (كر) .
۹۴ـ الموسوعة الفقهية لهيئة كِبار عُلماء الإسلام، چاپ : مكتبه حقانيه/ كوټه .
۹۵ـ بحار الأ نور الجامع لدُرر البِحار مِن كلام أئمّة الأطهار للعلامة المجلسي، (نټ) .
۹۶ـ ذمّ اللِواط للآجُري، (كر) .
۹۷ـ سلوة الأحزان عن مُجالسة الأحداث والنّسوان للعلامة المشتولي، (كر) .
۹۸ـ تحريم الفواحش للطرطوشي په حواله د شبلي .

یادونه : د (سلوة الأحزان) لیکوال، یعني : علامه مشتولي دا کتاب په خپله یوه حواله کي په (تحریم اللواط) سره یاد کړی دی؛ مګر صحیح (تحریم الفواحش) دی؛ ځکه د علامه طرطوشي په تصنیفاتو کي په دا (تحریم اللّواط) نامه سره کتاب نسته آه!.

۹۹ ـ مجمعُ الأمثال للمیداني، (کر).

۱۰۰ ـ مسند الشّامیین للطبراني، (کر).

۱۰۱ ـ اللّؤلؤ المصنوع لمُلا علي قاري، (کر).

۱۰۲ ـ اللآلئ المصنوعة دا هم د ملا علي قاري، (کر).

۱۰۳ ـ الأسرار المرفوعة دا هم د ملا علي قاري، چاپ : دار السّلام/ پیښور.

۱۰۴ ـ حاشیة ابن عابدین - مشهور په ردّ المُحتار، چاپ : مکتبه رشیدیه/ کوټه (او کرّ).

۱۰۵ ـ مجمعُ الأنهُر شرح مُلتقی الأبحُر. (کر).

۱۰۶ ـ شرح فتح القدیر لإبن الهُمام، چاپ : دار الفکر/ بیروت (او کر).

۱۰۷ ـ الفقه علی المذاهب الأربعة للجزري، چاپ : سعودي عربستان (او کر).

۱۰۸ ـ غمز عُیُون البصائر شرح الأشباه والنّظائر للحموي، (کر).

۱۰۹ ـ قرّة العُیُون ومُفرح قلب کُلّ محزون لأبي اللیث السّمرقندي الحنفي، چاپ : مصر.

۱۱۰ ـ بُستان العارفین لأبي اللیث السّمرقندي په پای کي یې (تنبیه الغافلین) راوړل سوی دی چي دا هم د أبي اللیث سمرقندي صاحب تصنیف دی.

۱۱۱ ـ دُمُوع الصّالحین للشیخ محمّد عزت، چاپ : سعودي عربستان.

۱۱۲ ـ جامع بیان العِلم وفضله لإبن عبد البر، (کر).

۱۱۳ ـ شرح الصّدور بشرح حال الموتی والقبور للسیوطي، چاپ : مکتبه سعیدیه/ پیښور.

۱۱۴ ـ مجلة المجمع الفقهي الإسلامي، چاپ : سعودي عربستان.

۱۱۵ ـ هل التبغ التّدخین مِن المُحرمات ؟ د مُحمّد علي البار، چاپ : سعودي عربستان.

۱۱۶ ـ التّرغیب والتّرهیب للمُنذري، چاپ : مکتبة الحرمین/ کوټه.

١١٧ ـ كتاب الكبائر للذهبي .
١١٨ ـ خزينة الأسرار للنازلي، چاپ : مكتبه سعيديه / پيښور .
١١٩ ـ اعمال قرآني للشيخ أشرف علي تهانوي، چاپ : مكتبه حبيبه / كوټه .
١٢٠ ـ شِفاء رُوحاني وجسماني للشيخ صندلي بابا، چاپ : مكتبه حقانيه / چمن .
١٢١ ـ آينه عمليات للصُوفي عزيز الرّحمان، چاپ : مذهبي كتب خانه / كندهار .
١٢٢ ـ شمس المعارف الكُبرى للصُوفي البُوني، (نټ) .
١٢٣ ـ پښتو متلونه د محمّد دِين ژواک، چاپ : صديقي كتب خانه / كوټه .
١٢٤ ـ جواني ضائع كرنے كی نُقصانات د محمّد ارسلان، چاپ : مكتبه ارسلان / كراچي .
١٢٥ ـ هم جِنس پرستي (فِعل قوم لُوط) كی نُقصانات دا هم د مُحمد ارسلان، چاپ : مكتبه ارسلان / كراچي .
١٢٦ ـ بد نظري وعِشق مجازي كی تباه كارياں (رساله) د مولانا شيخ العرب والعجم سره حكيم محمد اختر صاحب، چاپ : كُتُب خانه مظهري / كراچي .
١٢٧ ـ د مجازي عِشق حقيقت (رساله) د محمّدعليم بسمل، چاپ : اسد دانش مطبعه كابل .
١٢٨ ـ فكري پوهنه د مولوي عبد الهادي، چاپ : پاكستان .
١٢٩ ـ فكري روزنه د نجم الرحمان پكتياوال، چاپ : پيښور .
١٣٠ ـ مجربات ديربي (پښتو) د ژباړن فضل الرحمٰن "فيضون" صاحب، كوم چي د دې اثر ليكوال دی، چاپ : مكتبه محمديه / چمن .
١٣١ ـ مجربات سنوسي (پښتو) دا هم د ژباړن "فيضون" صاحب، چاپ : دا هم مكتبه محمديه / چمن .
١٣٢ ـ د دنيا محبت دا هم د "فيضون" صاحب، چاپ : مكتبه عزيزيه / كوټه .
١٣٣ ـ كتاب الزنا (اُردو) د مولانا محمّد عابد قريشي، چاپ : دار الإشاعت / كراچي .
١٣٤ ـ بشارة الشباب بما جاء في غضّ البصر مِن الثّواب (رساله) د أبي الحسنات دمشقي، (كر) .
١٣٥ ـ ولاتقربوا الفواحش (رساله) د شيخ أبو محمّد جمال، (كر) .
١٣٦ ـ صفة الصفوة د ابن جوزي صاحب، (كر) .

۱۳۷ـ طبقاتُ الأولياء د ابن المُلقن، (کر) .
۱۳۸ـ وفيات الأعيان د ابن خلکان. (کر) .
۱۳۹ـ تاريخ مدينة دمشق د ابن عساکر، (کر) .
۱۴۰ـ أنيس الواعظين د جعفر استرآبادي، (نت) .
۱۴۱ ـ يتيمية الدهر د أبو منصور الثعالبي، (کر) .
او مختلفي د انټرنېټ (internat) وېب پاڼې .

د درېيم چاپ سمون

دوشنبه (دونۍ)، ٦/ لړم/ ۱۳۹۸ هـ ش

وَالحَمْدُ للهِ أَزَلاً وَأَبَدًا

پای

مفتي فضل الرحمن فيضان

# څو سپارښتنې!

(۱) محترمو لوستونکو! دا کتاب د هغو کسانو (پښتنو ورونو) په غوښتنه pdf پي ډي اف سو، چي په خارج (بهرني) هیوادونو کي مېشت دي او دې کتاب ته يې هيڅ لاس رسی نه کېدئ، ممکنه همدا نسخه دوی ته په ښه ورسي او له ديني فايدې بې برخمند سي.

(۲) پام به مو وي! چي pdf پي ډي اف کتابونه دومره برکت او فايده نه لري، لکه څومره چي فزيکي (کاغذي) کتاب برکت او فايدې لري؛ خو کوشش وکړئ چي په کاغذي بڼه يې رانيسئ او ولولئ!

مګر له دې سره سره د طبي څېړنو له مخي پي ډي اف کتاب کتل د سترګو دید کمزوری کوي؛ دماغ کمزوری کوي؛ خپل مطلب له پامه غورځوي؛ له ياده مطلبي ټکي هېروي او داسي ګڼ شمېر تاوانونه لري؛ خو بر عکس فزيکي کتاب فايدې لري، لکه: د سترګو نظر ته تاوان نه رسوي؛ دماغ نه کمزوری کوي؛ مطالب له پامه غورځوي؛ له ياده مطلبي ټکي نه هېروي او داسي نوري فايدې لري.

(۳) دا نسخه چي په چاپ ورا کي (درېيم چاپ) ورسره لیکلی دئ؛ په اصل کي د 2022 ل کال مطابق د يادي (صداقت) خپرندويې ټولني لخوا ۱۱ يوولسم وار چاپ سوی دئ، له همدې درېيم چاپ سره د يادي ټولني لخوا وار په وار پر همدې نسخې چاپيږي او په بازار کي پلورل کيږي.

(٤) لوستونکی بايد کوشش وکړي! کتاب بايد په فارغ (وزګار) وخت کي وګوري، لکه: د شپې چي بيديږي، يا چي کله له کاره فارغه سي، يا هم داسي بل وخت.

(٥) ټول لوستونکي دي خبر وي چي کتاب په آډيو audio بڼه په همدې (د ځواني ساتنه) په نامه په واټساپ WhatsApp کي خپور سوی دئ او د ويډيو video بڼه يې په همدې (د ځواني ساتنه) په نامه په يوټيوب YouTube کي خپور سوی دئ؛ فَـلله الْحَمْدُ وَالْمِنَّةُ.

(٦) کوشش وکړئ! چي کتاب يوائې د ساتيري په موخه نه، بلکي د عملي کولو په موخه يې ولولئ!

(۷) او په پای کي له ګرانو لوستونکو څخه هيله کيږي چي ليکوال دي يې په خپلو نيکو دعاوو کي نه هېروي؛ ځکه د کتاب د تيارولو په لړ ټولي خواري او ستړياوي پر هم ده تېري سوي دي؛ وَفَّقَكُمُ اللهُ لِمَا يُحِبُّهُ وَيَرْضَاهُ.

# Dzwani Sataneh



Writing & Investigation

i.j Fazal Ullrehman Faydoun

صداقت کتب خانه - کندهار